د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبان ها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې گڼه کې:

- پوهاند رښتين د پوهانو په هینداره کې
- ژبه او پېژندگلوي (هویت)
- په ودونو کې ناوړه دودونه
- د ادبپوهنې درې بنسټيزې څانگې
- د پښتو قاموس لیکنې بهیر ته ځغلنده کتنه
- تصويري ژبه او پر مخاطب يې اغېزې

او نور...




- دري مياشتنۍ
- دريمه دوره
- کال: ۱۴۰۲ لمريز
- د تأسيس کال: ۱۳۱۰ لمريز
- کابل - افغانستان

۲



ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله
کابل
۱۴۰۲ لمریز کال، ۲ گڼه


# Kabul
## Quartely Journal


Establishment: 1931
Research and Scientific Publication of
Afghanistan Science Academy



Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

د ۱۴۰۲ ل کال دویمه ګڼه

## یادونه

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټیلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
**مسئول مدیر:** څېړنپوه محمد نبي صلاحي
**مهتمم:** څېړندوی خالد تکل
**کتنپلاوی:**
څېړنپوه دکتور سید نظیم سیدي
څېړنپوه محمد اصف احمدزی
څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب
څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی
**چاپ ځای:** بهیر مطبعه. کابل ـ افغانستان
**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،
کابل، شهر نو، د شاه بوبو جان کوځه
**د اړیکو شمېرې:**
۰۷۸۵۳۳٤۷۷٦ -۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹
**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af
**کلنۍ ګډون بیې:**
په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ
په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ
په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر
په کابل کې د یوې ګڼې بیه:
- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | پوهاند رښتین د پوهانو په هېنداره کې | څېړنپوه سید نظیم سیدي | ۱ |
| ۲ | غزل د ختیځ فرهنګ یو ګډ نغری او ټولمنلی ... | پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون | ۱۵ |
| ۳ | ژبه او پېژندګلوي (هویت) | پوهنوال دکتور اجمل ښکلی | ۲٦ |
| ۴ | د کاوون توفاني د شعرونو منځپانګیزه څېړنه | پوهندوی سید اصغر هاشمي | ۴۳ |
| ۵ | د ادبپوهنې درې بنسټیزې څانګې | څېړنپوه محمدنبي صلاحي | ۸۲ |
| ٦ | په ودونو کې ناوړه دودونه | څېړنوال دکتور عبدالاحد منګل | ۹۳ |
| ۷ | د پښتو قاموس لیکنې بهیر ته ځغلنده کتنه | څېړنوال دکتور محمد داود عربزی | ۱۱۹ |
| ۸ | تصویري ژبه او پر مخاطب یې اغېزې | څېړندوی خالد تکل | ۱۳٦ |
| ۹ | د پوهاند فضل ولي ناګار شاعرانه موټیفونه | پوهنمل شفیع الله حبیب | ۱۴۸ |
| ۱۰ | د امان الله سیلاب ساپي د شاعرۍ منځپانګه | څېړندویه سونیا صمیم هوتک | ۱٦۸ |

څېړنپوه سید نظیم سیدي

# پوهاند رښتین د پوهانو په هېنداره کې

# Professor Rashtin in the mirror of Professors

**Prof. Sayed Nazim Sayedy**


## Abstract

It is an accepted fact that the biographies of authors and researchers are related based on their scientific, literary and research functions.

Professor Sediqullah Rashtin is one of the prolific writers, researchers and linguists whose quality and quantity are not hidden from any one.

The mentioned person has experience in various fields of writing, fortunately all of them are successful, but he has his own special skills in linguistics and literary travelogues, and it can be said that he is a famous writer.

In this article, professor Rahstin has taken these values into consideration by the professors and mentioned a little about its scientific functions.

## لنډیز

دا منلې خبره ده چې د لیکوالو او څېړونکو د ژوند حالات د هغوی د علمي، ادبي او څېړنیزو چارو د څرنګوالي او څومره والي له مخې څرګندېږي. پوهاند صدیق الله رښتین یو داسې لیکوال، څېړونکی او ژبپوه دی چې هم یې د کار څرنګوالی له چا پټ نه دی او هم یې څومره والی. ده د لیکوالۍ په بېلابېلو برخو کې تجربې کړې چې کابو ټولې یې بریالۍ هم دي، خو په ژبپوهنه او ادبي یونلیکونه کې بیا د ځانګړې لارې خاوند او په اصطلاح سرلاری دی.

په دغه مقاله کې پوهاند رښتین د همدغو ارزښتونو په پام کې نیولو سره د پوهانو په هینداره کې کتل شوی او د ده د کړو خدماتو تته غونډې انځورونه یې کړې ده.

## سریزه

هره ټولنه د پرمختګ بېلابېلې لارې چارې لري چې دغه لارې چارې ډېر ځله د ټولنې له داخلي تجربو او کله ناکله له بهرنیو تجربو څخه سرچینه اخلي، خو فرهنګي پرمختګ د ګڼو لاملونو ترڅنګ د یوې ټولنې او ولس د لیکوالو پېژندنه، په سمه توګه یې د حق اداینه او د هغوی علمي او ادبي کار ته ارزښت ورکول دي چې همدغو ارزښتونو ګڼې نړۍ والې ادبي او فرهنګي څېرې تر موږه را رسولې او اکثریت یې زموږ ایډیالې فرهنګي څېرې شوې هم دي، لکه: ګوګول، چخوف، شکسپیر، ویلیم سټایرون، ګایګر او آن ډاکټر مبارک علي، منټو، سعید نفیسـي، سرویس شمیسا، خانلري او داسې نور، چې دا هر یو په خپل هېواد کې محبوب لیکوال او منلې څېرې دي او همدغې منښتې یې د آثارو خوړلنې پر موږ هم څکلې او موږ یې هم کله ناکله د ایډیال او هنري لیکوالو په نامه پېژنو، نو که غواړو چې د خپلې ټولنې فرهنګي غنا زباته کړو، اړینه ده چې د ګڼو ارزښتونو ترڅنګ یې خپل دغه ارزښت هم په سمه توګه وپالو او را برسېره یې کړو، په دې معنا خپل لیکوال معرفي او کړي خدمات یې په درنه وتلو. له ښه مرغه زموږ د ګڼو منلو لیکوالو په ډله کې یو هم پوهاند رښتین دی چې د ژوند په چارو کې یې ډېر علمي او ادبي خدمات کړي؛ په ژبپوهنه، ادبپوهنه او آن ادبي کره کتنه کې یې د پام وړ کارونه کړي چې دغه مقاله یې د ژوند د یوې برخې را برسېرونه کوي او د نورو پوهانو له نظره یې علمي درنښت ته کتنه کوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د پوهاند رښتین د کړو خدماتو او د ژوند د حالاتو یوه تته غوندې انځورونه په کې کېږي او دا ترې په ډاگه کېږي چې که څوک خپل ولس ته د یوې کرښې هومره کار وکړي، بیا هم د کورنیو او بهرنیو پوهانو له سترگیو پټ نه پاتې کېږي او هرو مرو یې د کار څه نا څه یادونه کېږي، چې دا کار په حقیقت کې د یوې ټولنې د پرمختگ رازونه او تمدنیت هم ښیي او دا زباتوي چې افغانان له ډېر پخوا نه د لیک او فرهنگ د ډگر اتلان وو، خو دریغه چې هرې زمانې پرې د خپل جبر مېچنې گرځولې.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې د پوهاند رښتین د ژوند انځورونه د نورو پوهانو له لیده کېږي او موږ یې د ژوند هغو باریکیو او غنامندیو ته ځیر کوي، چې ښایي تر نن پورې موږ یا عادي گڼل او یا هم ورته چندانې ځیر شوي نه وو او که دغه ځیرنه مو له هغه وخته کړې وای، نو شونې وه چې موږ نن د پوهاند رښتین په څېر په لسگونو علمي او فرهنگي څېرې لرلای، خو هغه متل دی «کب چې هر وخت له اوبو ونیسې تازه وي» که اوس هم موږ د خپلو لیکوالو د ژوند دغسې حالاتو ته ځیر شو، نو لا به مو هم بیړه کړې وي او د ډېرو د ژوند لارې او موخې به مو ټاکلې وي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

✍ پوهاند رښتین ژبپوه و او که ادبپوه؟

✍ کورنیو او بهرنیو پوهانو پوهاند رښتین ته په کوم نظر کتل؟

✍ ایا د ده لاره اوس هم تعقیبېږي؟

او داسې نورې وړې او غټې پوښتنې په دې مقالې کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دغه څېړنه کې تر ډېره له تشریحي او توصیفي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## پوهاند رښتین او په اړه یې د بهرنیو او کورنیو پوهانو نظریات

یو لوی ویر مو و گور ته له ناورینه سره ولاړ
محفل د پښتو ژبې د رشتینه سره ولاړ
سرونه پرې زنگېږي لارویان د ادب ژاړي
یو ستر ویاړ رانه ولاړ خو له تحسینه سره ولاړ
خاطر یې لټاوه په کې اهونه وو دروند غم و
یو قصر د ادب له شاه نشینه سره ولاړ
(محمد معصوم هوتک)

د لیکوالو او څېړونکو د ژوند حالات د هغوی د علمي، ادبي او څېړنیزو چلند چارو د ځرنگوالي او څومره والي له مخې څرگندېږي.

په پښتنې ټولنه کې داسې وگړي او لیکوالان هم شته چې په څو کرښو او پاراگرافونو کې یې پېژندنه کېدلای شي، خو داسې کسان هم لرو چې د پې. ایچ. ډي ډېزرټېشنونه یې هم د هنر وړانگې په ټوله معنا خورولای نه شي، ته به فکر کوې چې کار مې پرې کړی، خو زما او ستا کړی کار به یوازې د هغه د ژوند د یوې برخې ترجماني کوي او پاتې ژوند به یې لا هماغسې په گردونو او د حالاتو په تورتم کې وي.

دقیقاً د دغسې پوهانو او نوموتو کسانو په ډله کې یو هم هغه ستر علمي، فرهنگي شخصیت او د خواږه نثر لیکوال دی چې پرې لیکل شوو مونوگرافونو، تیزسونو، ډېزرټېشنونو او علمي - څېړنیزو پروژو یې لا هم د ژوند ډېر تیاره اړخونه روښانه نه کړای شول، دغې سترې هستۍ خپلې خوارې او له درباره شړل شوې پښتو ته هغه وخت کار وکړ، چې ځینو خلکو لا د دې ژبې د اور پډلو او لیکلو زغم نه لاره، خو نوموړي نه یوازې پر دغې اغزنې لار مزل پیل کړ، بلکې د دې لارې سرلاری هم شو او د خپلې ژبې پر ویونکو سربېره یې په لسگونو داسې بهرنیان په دې ژبه وروزل چې لا تر اوسه یې هم د چین پښتو ویونکي پروفیسران ځانونه پلیوني بولي.

هو! پوهاند استاد صدیق الله رښتین یادوم چې هم یې په خپله خپلې ژبې ته کار وکړ او هم یې کورنۍ د ده پر پلونو پل کېښود. استاد رښتین هغه گڼ اړخیز شخصیت دی چې په خپل مثمر ژوند کې یې په علمي، فرهنگي، سیاسي، ټولنیز، ادبي او څېړنیز لحاظ پر پښتنې ټولنه داسې غوره او ارزښتناکه کړنې، برياوې، لاسته

راوړنې، وياړنې او اتلولۍ لورولي چې نه يوازې فرهنګي او ادبي کهول پرې وياړي، بلکې د نړۍ او بشريت لپاره هم د وياړ او سرلوړۍ ځای دی او پرې وياړي.

تر کومه ځايه چې زه پوهاند رښتين (۱۲۹۸- ۱۳۷۷ ش) پېژنم، تر ډېره يې د خپل خواږه ژوند کابو شپېته کاله علمي او فرهنګي کار ته ځانګړې کړي او تر اوياوو زيات ځانګړي آثار يې خپل ولس ته ډالۍ کړي، چې د ځينو آثارو بديل يې تر اوســه هم نه شــو موندلای او همدا لامل دی چې پر کورنيو پوهانو سربېره، بهرنيو پوهانو يې هم د قلم واک و ځواک جوت کړی او د ده پر فرهنګي کارونو يې تر ډېره بريده له خپله ليده رڼا اچولې ده.

دا چې زما د همدغې مقالې د ظرف مظروف هم همدا مســايل دي، نو نه غواړم چې پر فروعاتو ډېر وپېچم، راځم خپلې موضوع ته چې هغه د پوهاند رښتين په اړه د پوهانو ادبي او علمي نظريات دي: په بهرنيو پوهانو کې روسي پوه ا سلانوف ليکي: "رښتين يو مشهور ليکوال او نوميالی ژبپوهاند دی. د ده يو تازه اثر (د هند سفر) د ادب په دنيا کې يو مهم او وړ اثر ګڼل کېږي". (۱)

ښاغلي ا سلانوف د پوهاند رښتين ډېر آثار لوستي، خو کله يې چې د هند د سفرنامې يادونه کوي، نو له دې څخه يې موخه د ا ستاد هغه هنرمندي او د نثر خوږلنی دی چې تر دې وړاندې بل ليکوال په دومره هنريت نه ده وړاندې کړې، نوموړی د اســتاد په اړه ځکه له مهارت څخه کار اخلي چې په دې وخت کې د هنري نثر ليکوال زيات دي، خو دا چې دغه صنف تر ده وړاندې بل ليکوال په دومره زړه راښکون نه دی کښلی، نو ځکه خپله خبره ميره بولي.

تر ا سلانوف وروسته د "پښتو ادبيات" اثر ليکوال پروفېسور ګيرس هم د پوهاند رښتين په اړه نوې خبرې لري او ليکي: "رښتين يو ښه نثر ليکونکی او په نثر کې د بديعي آثارو خاوند دی، د ژبې او تاريخ په برخه کې زياته څېړنه لري، د ده (د هند ســفر) يو په زړه پورې منلی اثر دی او په پښتو نثر کې يو غوره او تازه اثر باله شي". (۲)

ګيرس بيا په دې تعجب کوي چې څنګه کېدلای شي يو انســان دې په يو وخت کې ژبپوه هم وي، د ادب تاريخ ليکوال هم او د هنري ادبياتو يو داسې ايجادګر هم چې په خپل وخت کې يې اکثر نومور کسان سيالي نه شي کولای، نو ځکه د ژبپوهنې او ادبپوهنې ترڅنګ د نوموړي د هند د ســفر نامې يادونه کوي. په لرغونو زمانو کې به عالم او پوه هغه چا ته ويل کېده چې د وخت مروج علوم به يې زده وو. سقراط ته يې

ځکه ا ستاد کُل وایه چې د نجوم، طب، ټولنپوهنې، منطق، فلسفې، روانپوهنې او د وخت نور مروجه علوم یې تر هر چا ښــه زده وو چې د شــاگردانو په وینا یې ان تر اوولســو ســاعتونو پورې [او په بل روایت تر نهو ســاعتونو پورې] پرله پســې لکچرونه ورکړي وو چې د وخت سوفسطایانو یې د څو ساعته ا ستدلالونو ځواب نه شو ویلای چې ښــکاره بېلگه یې د ده د نازولي او لایقه شــاگرد اپلاتون په وســیله د نوموړي د لاسوندونو او استدلالونو لس ټوکیزه ټولگه جمهوریت دی، چې د منطق، استدلال او ځیرکتیا ترڅنگ یې موږ ته مهارت او په څو علومو با ندې د هغه پوهېدل هم څرگندوي، خو کله چې منځنۍ او بیا وروستنۍ دورې ته راځو، نو گورو چې علم ډېر زیات تخصصي ـ شــوی او ان کله چې د ادبیاتو بحث هم راځي، نو یو ســړی به یا د ادب تاریخ متخصــص وي یا به د ادبپوهنې څانگه وال وي، یا به د ادب تیورۍ او یا به هم د ادبي کره کتنې، خو گیرس همدغې خبرې ته په پوره پاملرنې زموږ توجه دې ته را اړوي چې پوهاند رښــتین د څانگوالۍ په دور کې هم د پخوانیو پوهانو په څېر مهارت لري او د هرې برخې تیره یې په تول تللې او درنده اېښې ده.

خو د مصــــر د المشاء په ورځپاڼه کې د عبدالحمید له قوله لولو: "رښتین د پښتو ادب ا ستاد او یو مشهور عالم شاعر او لیکوال دی. تاسې د پښتو ادب د پراختیا په لار کې پخوا هم ډېر د قدر وړ خدمتونه کړي دي، خو باور لرم چې د پښــتو ټولنې په ریاسـت کې سـتاسـې مقرري د پښـتو ادب او کلتور دغه مرکز ته یو نوی او تازه رنگ وښیي او زمونږ د ملي ژبې انکشاف له پاره به فایده من ثابت شي...." (۳)

دا چې پوهاند رښتین د پښتو ادب او افغانستان ترڅنگ په نړۍ کې هم یو پېژندل شوی شخصیت و، نو عربانو هم ورته په درنه سترگه کتل او حتا د مصـر یوې معتبرې ورځپاڼې یې په اړه خبرې خپرې او په حقیقت کې یې خپل پیغام ده ته ور ورساوه.

د. ا. س گراسیموا د پوهاند رښتین په اړه لنډې خو جالبې خبرې کړي چې کټ مټ یې دلته را اخلم: "پوهاند رښتین هغه شخصیت و چې د افغانستان د معاصر فرهنگ په وده او پرمختگ کې یې ارزښــتناک او اوچت رول لوبولی دی، پوهاند رښــتین د افغانستان د فرهنگ له پاره نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي". (۴)

کله چې بحث د فرهنگ راځي، نو بیا خبره یو څه نوره هم پراخېږي، ځکه فرهنگ یوازې ادب ته نه ویل کېږي، بلکې فرهنگ ډېره پراخه لمن لري چې په یوه څنډه

کې يې ادب هم ځای لري او ګراسیموا وايي چې پوهاند رښتین نه یوازې ادب، بلکې افغاني په ځانګړې توګه پښتو فرهنګ ته ډېر کار کړی چې همدغه کار پوهاند رښتین له نورو جلا کړی او د ده ممتازیت هم په همدې کې دی.
حضرت صبغت الله مجددي بیا پوهاند رښتین ته له بله لیده ګوري او دی يې د علم سمندر بولي: "د رشتین صاحب تخلص د هغه د نوم ترجمه ده. څنګه چې يې نوم رشتین و، هغسې په خپله هم صادق و، پوهاند رشتین د سمندر مثال لري، د هغه خدمتونو څېړل دا معنا ورکوي، لکه سمندر چې څوک په کوزه کې بندوي، د هغه خدمتونه د لمر په شان روښانه او ښکاره دي، هغه په دې لاره کې خپل ژوند د ژبې، ادب او فرهنګ خدمت ته وقف کړی و او رشتین صاحب د پښتو ژبې او ادب دپاره ستر خدمت کړی دی...." (۵)
ګورو چې ښاغلی مجددي د استاد رښتین د تخلص باریکۍ ته ځیر شوی او دا رښتیا هم ده، له بده مرغه په اوسني پېر کې ډېر داسې ښاغلي لرو چې کارونه يې په ټوله معنا د خپل نوم او تخلص د معنا او مفهوم مخالف دي، خو استاد رښتین په رښتینې معنا رښتینی او د علم سمندر و، ده هم له هېواد سره مینه درلوده او هم له خپلې ژبې پښتو سره، چې ښېلګه يې خپله کورنۍ ده چې د ډاکټرې زرغونې رښتین زیور په ګډون د کورنۍ اکثره غړي يې د لیکوالۍ په ګاڼه سنبال او موږ د هر یوه د زړه راښکونکو لیکنو شاهدان یو.
د پوهانو او لیکوالو په سلسله کې پوهاند مجروح هم استاد رښتین ملي شخصیت او پر ژبې میئن انسان بولي او وايي: "پوهاند رښتین یو ملي انسان و، په خپله ژبه باندې عاشق و، یعنې د پښتو ژبې، پښتني کلتور، خپل وطن او ملت سره يې عشق درلود او ښه مبارز و، پوهاند رښتین د پښتو د ادیب، نویسنده او عالم په حیث د پښتنو لپاره ستر خدمتونه کړي دي او لا يې هم دا لړۍ غځېدلې ساتلې وه...." (٦)
موږ ډېر داسې لیکوال لرو چې په پښتو لیکل کوي او د پښتونولۍ دعوه کاندي، خو چې عمل ته يې وګورې نه پښتون فرهنګ پالي او نه يې پښتني دودونه ساتلي وي، خو پوهاند رښتین لکه پورته چې هم ورته نغوته وشوه تر اخره پورې نه له پښتني فرهنګه په شا شو او نه يې د دې ژبې په اړه په مینه کې کمی راغی، ورځ تر بلې يې مینه زیاتېده چې له امله يې په سلګونو فکري او شعوري شاګردان ټولنې ته وړاندې

کړل او دغه شاګردان نن هر یو د ده د لارې سرلاري دي، خو جالبه دا ده چې پوهاند رښــتین له هماغه ځوانۍ څخه د پخته ګۍ مرحلې ته رسـېدلی و او آن د وخت لوی چـارواکي يې هم اغېرمن کړي وو. د خپلې خبرې د ثبوت لپـاره بـه د ښـــاغلي عبدالغفور ویاند خبرو ته ځیر شو: "پوهاند رښتین هېڅکله د خپلو شخصــي او ذاتي ګټو دپاره د پښتو څخه نه دی تېر شوی، خپله خوښي او خپل عزت يې د پښتو ژبې په ژوندي کولو او عملي کولو کې لیده، هماغه و چې د پشـــتو ژبې د خدمت په لار کې د ډېر اوچت مقام خاوند شو. ترڅو چې پښتو وي پوهاند رشتین او پښتو ژبې ته د ده خدمتونه به ژوندي او تل به د هغو کسانو په دماغ کې چې رښتینې پښتانه او د پښتو ویونکي وي پاتې وي.

... یوه ورځ پوهاند رشـــتین او دده څو ملګري چې زه هم په کې وم د لوی پښـــتون، تاریخي شـخصـیت او د پښــتو ژبې د تعمیم علم بردار خدای بخښـلي وزیر صـاحب محمدګل مومند لیدو ته د هغه کور ته لاړو. د معمول سره سـم هلته د پښـتو ژبې په حقله خبرې پیل شـوې، یو ملګري د مرحوم وزیر صـاحب نه د یوه شي په اړه داسـې پوښتنه وکړه:

(بابا فلاني شي ته په پښـــتو کې څه وايي؟) هغه په ډېر اخلاص مخ مرحوم رشـــتین صـــاحب خوا ته واړاوه او ویې ویل: هلکو: ما دا کار هغه وخت کاوه چې صـــدیق الله خان نه و، اوس چې صدیق الله خان شته تاسې د پښتو په حقله د هر مشکل د حل دپاره د صدیق الله خان نه پوښتنه وکړئ." (۷)

وزیر بابا چې د پښتو او پښتونولۍ په برخه کې د پوره نامه خاوند شخصیت و، ګورو چې په خپل دغه پیغام کې د خپلې اوږې ټول بار پر اسـتاد رښـتین اچوي او په دې پوهېږي چې د رښـــتین اوږې د دې توان لري چې د وزیر بابا په څېر درانه او له مسـؤولیته ډک وزنونه پرې جګ کاندي او دا هغه مقام دی چې په دې ځوانۍ کې د ډېرو کمو کســـانو په برخه کېږي، نو ځکه حق يې دی چې یاد شي او نمانځغونډې ورته جوړې شي.

زما د معلوماتو له مخې پروفیســـور محمد نواز طائر هم هغه څوک دی چې د پوهاند رښتین په اړه د وزیر بابا پر خبرو ټینګار کوي او وايي: "ښاغلی رښتین صاحب صرف یو شخصیت نه و، بلکې یوه اداره وه، چې مونږ په کې خپله پښتو، پښتونولي مونډلی

شوه او پ ښتون قام ته د دې اداري نه د ا ستفادې حا صلولو دپاره د قام د قلمکارانو پوهانو د ډېر محنت ضرورت و." (۸)

يو مهال دا خبره يا مقوله مشـــهوره وه چې ويل به يې ليکوال يا عالم ســـړی ښـــې طرحې او نظريې وړاندې کولای شي، ښـه مشـاور کېدلای شي، خو ښـه مدير او آمر کېدلای نه شي، ښـايي دا خبره پر ډېرو تطبيق هم شي، خو پوهاند رښـتين بيا هغه څوک و چې په ټوله معنا يې دا مقوله نقض او په عمل کې يې زباد کړه چې دی هم ښه عالم دی، هم ښه ژبپوه دی او هم ښه مدير، ځکه د ده د مديريت کارنامې آن تر لرې ملکونو رســېدلې وې او هر چا کوښـــښ کاوه چې د ده له مديريته تقليد وکړي، ځکه هم حاضر ځوابی و او هم پُر کاره.

پروفيســـور رســـول امين بيا د اســـتاد رښـــتين د دغو ځانګړنو ترڅنګ د نوموړي هېواد پالنې او اســـتقلاليت ته هم ځير شـــوی او وايي: "پوها ند رشـــتين د هغو شخصيتونو څخه و چې هغه د چا په پښو کې ونه لوېد. د چا په پښو کې يې سر ټيټ نه شو، د افغانستان په سر يې چا سره سودا ونه کړه، د افغانستان په سر باندې د چا په خدمت کې ونه درېد...." (۹)

د افغانستان په کورني تاوتريخوالي کې موږ ګورو چې د هېواد ډېر نوموتي او نومياليي ليکوال په ځينو ډلو ټپلو او سياسي کړيو کې شامل شول، چې له بده مرغه د ځينو د ناســـمو طرحو او موخو له امله دا هېواد څلوېښـــت کاله په فقر، بې کورۍ او در په درۍ کې ســاه اخلي، خو پوهاند رښـــتين خپله بې کوري، خپله سرګرداني او د خپل وجود او قامت ماتېدل د هېواد او ولس تر ماتېدلو په کراتو مراتو اوچت وګڼل، ځان يې په سپينه ږيره زهير کړ، خو سر يې کله هم د چا پښو ته ټيټ نه کړ او نه يې د بل د غلامۍ سرود ته د خولې ازانګې وکړې، کورنۍ او بچيانو ته يې ازادي ورکړه، خو په هېوادنۍ مينه يې داسې سمبال کړل چې:

**په والله چې له جنته به شم ستون**

**چې کنځل په کې وانه ورم د پښتون**

د دې خبرې ســـپيناوی د ده مبارزه او خدمتګاره لور ډاکټر زرغونه ده چې آن تر دې ورو ستيو پورې يې په کمزورو هډونو او توږلو غوښو چې نه د حکومت ټنګې وې او نه د خدمتګارانو ترانې، لا يې هم د هېواد بچيانو ته د خدمت په موخه د کابل په

تکلیفوونکي سړه هوا او د ننګرهار په سیزونکې ګرمه هوا کې د تختې مخې ته د تباشیرو ترخو دوړو کې د پښتو سبق وایه او د پښتنو جذبې او لاشعور یې په کې را پاراوه چې دا ټول د پوهاند رښتین د خودی، هېوادنۍ لېونۍ مینې او د چا په تله کې نه غورځېدلو معنا ښندي، نو ځکه یې حق دی چې پوهان یې په اړه حقایق را وسپړي او موږ ته یې نا ویل شوې خبرې را برسېره کړي. استاد محمد آصف صمیم چې د پوهاند رښتین ډېر اخلاصمند دی او په اړه یې ډېرې خاطرې لري، د پنځو نورو ستورو په لړ کې د استاد هنرمندي داسې را سپړي: "پوهاند رشتین د پښتو ادب هغه ګلبڼ تر خپلې وروستۍ سلګۍ پورې په خپله مینه، وینه او ژمنه سمسور او ښېراز وساته چې (د ده په خپله وینا) د دې عصر- خوشال خان (محمدګل ومند بابا) د مېوه یې نیالګیو په اېښودو جوړ کړ، د پنځګونو ښوالو لومړنی او پیاوړی ښوال (علامه حبیبي) د بڼ د بنسټګر پل پسې واخیست، استاد خادم پکې د شعور او ادب کیاری او کوراړي جوړ کړل، استاد الفت ورته د خپلو مغزو له سینده د ژورو فکري، ابتکاري او فلسفي رموزو لښتي ور تېر کړل، استاد بېنوا پکې د عقل او سد د بندونو په ماتولو د رندۍ بې سدۍ او متحد د مفاهیمو ښایسته او ډولي خیابانونه وایستل او پای کې زمونږ رشتین خدمتګار یې و هرې ګلونې او هر ګلبوټي ښانګه د خپل رسا پښتون سوچ له بوختې نه د ورېښمینو ټوکو په رنګونو وګاڼله، ویې رنګوله او د هرې ښانګې او شګوفې په ښکلا کې یې د زړه د وینو رنګ ورګډ کړ او د هرې ښانګې په اغزي کې یې د نظم او نثر ګل غونچې وټومبلې او د پښتانه کول او پښتنې ټولنې د مغزو په خوږ بویۍ کې..." (۱۰)

د استاد صمیم د خبرو پخلی هله کېږي چې کله هم موږ د پوهاند رښتین هنري نثر مطالعه کړو او د هغه د نثر خوږلني په خپله وڅکو چې راته وایي: "نه پوهېږم د چا د سترګو تېز نظر د بېستون په ډېرلیک ولګېد، یوه جټکه یې وخوړه، مګر چې سترګې یې په کې خښې کړې، نو د پښتو تورو ورته په ډکه خوله وخندل. دا توري چې نږدې (دوه نیم زره) کاله پخوا د (داریوش) په وخت کې د (بېستون) په ډبرو لیکل شوي دي، د لرغونې زمانې د اشعارو په شان (یو شپږ ځپه ییز) شعر دی او (درې) کړۍ لري." (۱۱)

استاد صمیم ځکه وایي چې پوهاند رښتین هرې ښانګې او ګلبوټي ته د زړه د وینو رنګ ورکړ، نو ځکه د ګلبوټو اغزي هم پر داسې ښانګو او پاڼو بدل شوي چې د کشمالي په څېر هم پاڼه او هم ډنډر خپله خوشبویي خپروي.

د استاد رښتين د نثر خوږلنيو ته په کتلو سره ايا دا پوښتنه نه پيدا کېږي، څنګه شونې ده چې يو سړی دې له دومره هنرمندۍ سره سره بيا هم د ګرامر لوی متخصص وي، څکه ښاغلی عبدالباري جهاني وايي: "اروابناد پوهاند رشتين خپل ټول عمر د پښتو ژبې خدمت ته وقف کړی و، هغه د پښتو ژبې د ادب، ګرامر او کلتوري څېړنو او تحقيقاتو په ساحو کې برجونه درولي دي. پوهاند رشتين د پښتو ژبې د ګرامر په برخه کې خصوصاً داسې تحقيقات وکړل چې د ډېرو داخلي او خارجي پوهانو پام يې دغې په زړه پورې او ضمن کې نيمګړې پاتې موضوع ته واړولو." (۱۲)

ښاغلی جهاني وايي چې پوهاند رښتين آن د ګرامر په برخه کې هم د علم برجونه درولي چې د دغو څلو ننګونه پر داخلي پوهانو سربېره بهرنيو پوهانو ته هم ستونزمنه ده.

خو پوهاند عبدالحی حبيبي لا له ځوانيه د رښتين د وړتيا او ذکاوت په اړه معلومات او باور لري او په دې يقيني دی چې په ګانده کې به له ده څخه يو لوی علمي، فرهنګي او ادبي شخصيت جوړېږي، نو څکه خو وايي: "رښتين د تحصيل په دوره کې هم يو ليکوال و، د ده پښتو او پارسي او عربي مقالې چاپ شوې، نو څکه د تحصيل تر فراغت وروسته په پښتو ټولنه کې عضو شو او له هغه وخته تر اوسه د پښتو ټولنې يو ښه رکن دی او د ژبې په خدمتونو کې ښه برخه اخيستلی شي... پښتو مستقل آثار هم لري، يوه ډرامه يې (پښتني بيبيانې) کښلې او يوه بله مجموعه د حکايات او لطايف په نامه لري. د پښتو ادبي او اجتماعي خواوو کې ښه تتبع کولای شي. رښتين ځلمی دی، په مطالعاتو کې ورځ په ورځ پخېږي او ډېرېږي او هيله کېدای شي، چې خورا غوره ليکوال شي." (۱۳)

پوهاند حبيبي لا په ځوانۍ کې د رښتين څو اړخيز ژوند را سپړي او موږ څو خبرو ته متوجه کوي، چې مطالعه، تخصصي کېدل، په څو ژبو پوهېدل، ورځ تر بلې پخېدل او دې ته ورته مسايل. پوهاند حبيبي د رښتين د ډرامې يادونه هم کوي، چې د نورو ليکوالو له خوا موږ د استاد رښتين د ډرامو ذکر چندانې نه اورو، خو حبيبي يې په هماغه وخت کې هم ستاينه کوي، خو په زړه پورې دا ده چې نوموړی يې په هماغه وخت کې د يو داسې شخصيت چې وروسته ترې جوړېږي وړاندوينه کوي. ليکوال او پوهان په ډېره سخته د يو چا داسې وړاندوينه کوي، څکه ليکل او لوستل سره نوک او ووری دي چې لوستل نه وي، نو ليکل هم بې معنا او بې خونده وي، موږ ډېرې

داسې تجربې لرو چې ځینې کسان په ځوانۍ کې ډېر فعال وي، خو چې د وخت کړۍ پرې را تنگې شي، نو له لیکه دومره لرې او لیکنې یې بې خونده شي چې بیا په لوستلو هم نه ارزي، تخصصي کېدل خو یې لا پر ځای پرېږده، خو پوهاند حبیبي د استاد رښتین مهارتونو او ځانگړتیاوو ته په کتلو سره وړاندوینه کوي چې پوهاند رښتین نه یوازې دغه وړاندوینه زباتوي، بلکې تر هغې هم اوچت مقام ته رسېږي چې نوم یې د پوهاند حبیبي په خوا کې لیکل کېږي او د یو لیکوال لپاره تر دې بل لوی اعزاز نه شته.

خو استاد بېنوا بیا د دغو ټولو خبرو ترځنگ د پوهاند رښتین د ژوند یو بل اړخ ته هم ځیر شوی او وایي: "... د ده ژوند زیاته برخه د پشتو ژبې په ادبي څېړنو او علمي پلټنو کې تېر شوی او د پښتو او پښتونولۍ رشتین مین او صادق خدمتگار دی. په تېره بیا د پشتو ژبې په گرامر او فقه اللغه (فلالوجۍ) کې ښه لوی لاس لري او د استادۍ مرتبې ته رسیدلی دی.

د ښاغلي رښتین سره چې څوک پوره اشنا وی او د زړه یې نه پېژني، نو د ده ظاهري کړو وړو څخه به رښتین صاحب یو سخت طبیعته او بې مهره انسان ورته ښکاره شي، خو تر کومه ځایه چې زه ځیر شوی یم، ښاغلی رشتین لکه دومره چې نا اشنا خلکو ته په ظاهره بې مینې او سخت زړه غوندې سړی ښکاري. په همغه اندازه آشنایانو ته د پاک زړه خاوند دی او زړه یې ملگرو ته د مینې ځاله ده. دا بېله خبره ده که څوک د ده له مینې سره مینه ونه لري او یا د ده سپېڅلې مینه په استقبال نه کړي. البته دا خبره رشتیا ده چې ښاغلی رشتین د تظاهر طرفدار نه دی، بلکې غواړي لکه څنگه چې دی هغسې ځان وښیي." (۱۴)

استاد بېنوا د رښتین د زړه او ملگرتیا خبره هم را برسېره کوي او ترځنگ یې د ده هغه شخصي- رازونه راسپړي چې ډېر لیکوال یې نه خوښوي، یعنې نوموړی چې څنگه په باطن کې و هماغسې یې باطن هم خوښاوه، خو جالبه دا ده چې استاد بېنوا د ده په اړه په دغه بیان کې استاد رښتین یو ډول نقد کوي هم او په دې یې پوهوي چې ټولنه او خلک تا څنگه غواړي، ډېر منظم، رسمي او یو ډول تکلفي دې نه غواړي، خو په ورته وخت کې بیا دا پیغام هم رسوي، چې ځینې عادتونه همداسې وي چې هغه د رسمیتوب معنا نه لري، بلکې دغه ډول خلک د روانپوهنې له پلوه

ډېر پاک زړي، بې تکلفه او ســاده مزاجه وي، نو ځکه اســتاد رښــتین هم یو له همدغسې کسانو څخه دی او په اړه یې باید ناسم پوهاوی ونه شي.
پوهاند تړی چې د نوې ژبپوهنې په سرلارو کې راځي بیا د اســتاد رښــتین د نثر ستاینه کوي او وایي: "رښتین د خپل وخت نومیالی لیکوال او قوي نثر لیکونکی دی چې آثار یې په متفرق او مستقل ډول سره د هېواد په مطبوعاتو کې خپاره شوي دي، نظم او نثر دواړه لري، مګر د نثر خوا یې له نظم څخه ډېره قوي او برجســته ده. حتا د خپلې دورې یوازینی لیکوال دی چې د نثر خوا یې څو څو ځلـه تر نظم قوي ښکاري. د ده د نثر ډېره ستره ممیزه دا ده چې د ده الفاظ قالبي برېښي...." (۱۵)
پوهاند تړی د استاد رښتین الفاظ قالبي بولي او په دې نظر دی چې همدغه قالبي کېدل نثر ته ځانګړې خوږلني، ښــکلا او زړه راښــکون ورکوي او همدا ممیزه د دې لامل شــوې چې پوهاند رښــتین تر نورو غوره والی ومومي، نو په ټوله کې د پوهاند رښــتین په اړه ډېرو کورنیو او بهرنیو پوهانو څرګندونې کړې وې، چې ما یوازې د بېلګې په توګه څو هغو ته یې نغوتې لرلې، خو دا چې اســتاد رښــتین څومره لوی شخصیت دی او پښتو ادب ته یې کوم کارونه کړي؟ دا هغه مسایل دي چې فکر نه کوم په دا سې مقالو کې دې یې موږ بیان کړای شو او یا دې د ا ستاد حق ادا کړای شو، ځکه پوهاند رښتین یو فلالوګ، ژبپوه، علمي شخصیت، څېړنیزه هستي، ادبي شـخصـیت، فرهنګي شـتمني، ژباړن، ناقد، نقد منونکی، شـاعر، ناظم، د هنري نثر سرلاری، ادراکي ژبپوه، ډرامه لیکوال، د سفرنامې لیکوال، کیسه لیکوال، څو اړخیز شخصیت او بالاخره ادبي ستوری و، چې په موډرنې زمانې کې یې له دومره امکاناتو او اســانتیاوو سره سره بیا هم بدیل نه شي پیدا کېدلای. د ده او د ده د هممهالو لیکوالو چې هغه څلور نور ادبي ســتوري دي، برکت و چې نن موږ د ادب په دومره وېړ او پراخ ســمندر کې لامبو وهو، خو دوی یې چې له تله کومې مرغلرې را ټولې کړې، ګرانه ده چې موږ یې یوه څنډه هم را پیدا کړای شو.
دوی په نشت امکاناتو ډېر څه وکړل، خو موږ په شته وو امکاناتو لږ څه هم ونه کړای شول. زما په نظر پښتو او پښتني ادب باندې یې حق دی چې درناوی او ستاینې یې وکړي، نمانځغونډې ورته جوړې، سیمینارونه او لوی کنفرانسونه یې په اړه دایر کړي.

## مأخذونه

۱- ملاتړ، زکریا. پوهاند رښتین نظریې د هغه د مرکو په هېنداره کې، د افغانستان ملي تحریک: کابل، فرهنګي ځانګه، ۱۳۹۴ لمریز کال، ۳۲ مخ.
۲- ملاتړ، زکریا. پوهاند رښتین نظریې د هغه د مرکو په هېنداره کې، ۳۳ مخ.
۳- همدغه اثر، ۳۳مخ.
۴- پورته اثر، ۸٦ مخ.
۵- انځور، زرین. ا ستاد ر ښتین او پښتو ادبي نثر، د علامه پوهاند رښتین بابا یاد (د مقالو ټولګه): پېښور، ۱۳۸۵ لمریز کال، ۱۱۰ مخ.
٦- د علامه پوهاند رښتین بابا یاد، ۱۰۹ مخ.
۷- همدغه اثر. ۱۲۱ مخ.
۸- ملاتړ، زکریا. پوهاند رښتین نظریې د هغه د مرکو په هېنداره کې، ۱۱۲ مخ.
۹- د علامه پوهاند رښتین بابا یاد، ۱۳٦ مخ.
۱۰- پوهاند رښتین نظریې د هغه د مرکو په هېنداره کې، ۱۲۲ مخ.
۱۱- زېور، ډاکټر زېورالدین. د پښتو ادبیاتو تاریخ (اوسنۍ دوره)، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز: کویټه، ۱۳۸۵ لمریز کال، ۱٦۸ مخ.
۱۲- د علامه پوهاند رښتین بابا یاد، ۱۴٦ مخ.
۱۳- هاشمي، ډاکټر سیدمحی الدین. د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي ـ فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه (د پي، ایچ، ډي تحقیقي مقاله)، میهن خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۵ لمریز کال، ۳۹٦- ۳۹۷ مخونه.
۱۴- بېنوا، عبدالروف. اوسني لیکوال، لومړی ټوک، د مطبوعاتو مستقل ریاست: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۴۰ لمریز کال، ۴۷۳ مخ.
۱۵- توحیدمل، شهزاده. د پښتو ژبې او ادبیاتو په وده کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د خپرونو ریاست، شعیب مطبعه: کابل، ۱۳۸۸ لمریز کال، ۱۱۹ مخ.

پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون

# غزل د ختیځ فرهنګ یو ګډ نغری او ټولمنلی هنري ارزښت

# Ghazal is a common and all accepted artistic value of the eastern culture

**Prof.ph.D. Lal Pacha Azmoon**

## Abstract

Ghazal has been fostered for many centuries in the eastern culture especially in Pashto and is still fostered. This fostering became a tradition.

Ghazal is a motif as a representative of an all accepted, national and common culture. It is a common Chergey and Nagharay that unites nations in gusto. Here we want to talk about those aspects and reasons of this all accepted genre that kept this genre alive and getting younger.

## لنډیز

غزل له اوږدو پېړیو را په دېخوا په ختیځ فرهنګ په تېره پښتو کې ډېر پالل شوی او لا هم پالل کېږي. دغه پالنه په یوه دود اوښتې. غزل د یو ټولمنلي، ملي او ګډ فرهنګ د استازي په توګه یو موتیف (هنر) دی. یوه ګډه چرګی او نغری دی چې

ملتونه سره په ذوق یو ځای کوي. دلته غواړو ددغه تولمنلي صنف په هغو اړخونو او لاملونو خبرې وکړو چې دا صنف یې ژوندی ساتلی او دم په دم ځوانیږي.

## سریزه

غزل د عربی له قصیدې را بېله شوې ټوټه ده. فارسی دغه ټوټه د عربی په هماغه خم کې ورنگوله، پښتو ته د فارسی له غبرګې را والوته، له اکبر زمینداوري را نیولې د غزل تر بابا دغه صنف د منځپانگي او دودیز جوړښت له مخې د فارسی او عربی په څېر وپالل شو، خو خوشحال او حمزه په دغه مهین، له لطف او نزاکته ډک صنف کې د ملتپالنې او قومپالنی ساه هم ور پو کړه. دغه صنف په ختیځ کې د قومونو تر منځ د یو ګډ فرهنگ سېمبول دی.

د حمزه نظریاتي مبارزې د دغه صنف دودیزه پنجره ور ماته کړه، تفکر ته یې د تخیل وزرونه ورکړل، د تخیل د مرغه وزرونه ازاد شول، په الوت یې دواړو وزرونو د تفکر لوی غر وگرځاوه، د غزل هر بیت ته یې نوې ساه او رنگ ور کړ. د غزل مزل او جوړښت ته په کتلو په ختیځ هنري فرهنگ کې دغه صنف تر نورو ډېر پالل شوی دی. پر پالنې یې پېړۍ اوښتي دي، خو کال په کال او شېبه په شېبه ځوانیږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دغه صنف د پالنې، ځوانیدو، ذوق خړوبونې نوښت، ارزښت او مبرمیت راز په دې کې دی چې:

۱ ـ روان وزن، آهنگ او اغېز ښندونکی موسیقیت لري.

۲ ـ په لفظونو او کلمو کې پېیبل شوي غږونه د زړه له غږ سره د سمندر د څپو په څېر مړ مړ خو له شوره ډک حرکت کوي. دغه حرکت د وجود غړیو ته په خپله اندازه په سر، تال او لی کې د ژوند شور رسوي.

۳ ـ د غزل په چوکاټ کې انځوریزه خوږلني او کیفیت تغزل دی.

۴ ـ د شرق په فرهنگ د غږونو او کلمو تر منځ مسره ییز تړښت ښکلاییز او زړه خوږونکی حرکت او اغېز لري.

۵ ـ د غزل معنوي او لفظي جوړښت د فکر وخیال انډی برابروي.

٦ ـ د غزل په چوکاټ کې د ختیځ فرهنگ توکي د تغزل رنگ برابروي.

۷ - په غزل کې تغزل په هنري اړخونو کې تخيیلي او تصويري تجربې له ذهني او نفسياتي رنګونو خړوبوي. د طبیعت تقلید په داسې رنګونو کې وړاندې کوي چې د ولس ذهن تېرو تجربو او خپلو کولتوري ارزښتونو ته بيايي ، دغه ذهنیت لوستونکی له خپلو ارزښتونو سره انساني، ملي چلن او مينې ته رابولي.

۸ - په ختیځ فرهنګ کې د غزل ښکلاییز او معنوي اغېز په دې کې دی چې: د سیمې د خلکو درد او غم یو دی. که د غزل لغوي مفهوم ته وګورو نو یو مفهوم یې دا دی چې غزل د زخمي شوې هوسۍ له پرهرونو را وتی آه یا سوې کړیکه ده. پښتانه او په ټوله کې دختیځ لمنه له پرهرونو ډکه ده، ددوی له پرهرونو سوې کړیکې د تغزل په لړ کې ځان پېيي. پښتانه د حالاتو ستمونو او د زمانو ناکراریو دومره ځپلي او په زړه زخمیان کړي دي چې د ژورو ټپونو، ګړوب ګړوب زړه او ځیرو ځیرو پرهرونو سوې کړیکې يې د محرومیت او ناسور ژوند په لړ کې پېيلې دي. د دوی د ژوند د سویو پرهرونو کړیکو او ځړیکو دغه صنف ته پناه وړې ده، نو ځکه دغه صنف ټولو ته منلی او ښایسته دی چې په دې صنف کې د ژوند د زخمونو ځړیکې د آهونو او سویو کړیکو په رنګونو انځور شوې دي. د سیمې محرومیت او د ژوند ناخوالې د غزل لپاره لفظونه او کلمې د سويو کړيکو په تار پېيي.

## د څېړنې موخې

د دې ليکنې يوازينې موخه په ختيځ فرهنګ په تېره پښتو کې د غزل د دودېدو، ځوانېدو، د ملي صنف په توګه د رامنځته کېدو څرګندول او دا په ډاګه کول دي چې ځينې هنري ارزښتونه د قومونو او ملتونو تر منځ دمينې او انسانيت ګډه فضا برابروي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ - غزل ولې د يو ملي صنف په توګه را څرګند شو؟

۲ - په پښتو کې غزل ولې زيات دود شو؟

۳ - د غزل تغزل او خوږلني په څه کې نغښتې ده؟

۴ - غزل په ختيځ کې څنګه په ګډ فرهنګ اوښتی دی؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشريحي او روش يې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

غزل ولې زيات پالل کېږي؟

دلته غواړو چې خپله ليکنه له پوښتنې را پيل کړو، دې پوښتنې تر ځواب وړاندې د غزل په اړه ټانه، تغزل او جوړښت غږېږو: په ختيځ فرهنگ کې د غزل ميدان تر نورو صنفونو پراخ او ډېر پالل شوی دی. د منظوم ادب په کورنۍ کې غزل ځانته ځانگړې دريځ لري. په شرقي فرهنگ کې غزل د يوه ټولمنلي صنف په توگه دود شوی دی. دغه دودېدنه په فرهنگ اوښتې ده. فرهنگ د قومونو او ملتونو ترمنځ د گډو ارزښتونو ټولگه ده، اوس غزل هم په يو گډ فرهنگ اوښتی دی.

د غزل په ځېر ځينې فورمونه چې کله ډېر تکرار شي، نو هغه فرهنگ وگرځي. فرهنگ قومونه او ژبې را پېژني. گډ فرهنگ د قومونو تر منځ د يووالي نښه ده، په پښتو، دري، ازبکي او يو شمېر نورو اريايي ژبو کې د غزل صنف ډېر پالل شوی دی، دغه پالنه ددوی تر منځ په يوه گډ فرهنگ اوښتې ده، په دې گډ فرهنگ کې د گړيو ترمنځ خلاقي، انساني، عاطفي او ټولنيزې خواووې نغښتې دي، د جمال او جلال انځورگري ده. «زموږ پښتو او ازبکي دواړه ژبې د دري له فرهنگ سره ژور علايق لري. په تېرو دوو سوو کالو کې پښتو ادبيات د دري ژبې د زرو کالو ادبيات په ځان کې جذب کړي دي. اوزبکي ادبيات هم همداسې در واخلئ.» (۱: ۳۷)

په عربۍ کې غزل د قصيدي يوه ټوټه ده، غزل د قصيدي ور و، فارسۍ ته هم له عربۍ نه راغی، د عربۍ او فارسۍ د نظم وزن و آهنگ عروضي جوړښت او بيان ته ور ته دی. پر عروضي جوړښت سربېره يې معنوي او لفظي اوډون هم سره ور ته دی. فارسۍ تر دا مهاله په غزل کې د عربي ژبې په ځېر موضوعي تسلسل ساتلی دی، خو پښتو اوسني غزل دغه دود او چوکاټ مات کړی دی. د غزل سکښت او جوړښت که څه هم له عربۍ، بيا پارسۍ او له پارسۍ پښتو ته راغلی دی، خو پښتو غزل د پښتو عروضي جوړښت له مخې ځانته ځانگړې بڼې غوره کړي دي. د غزل نوم چې کله اورو نو زموږ ذهن ته يو فورم يا جوړښت راځي، لا د غزل د خوړلنۍ بحر ته نه يو ور گډ شوي، غزل د يو لفظي جوړښت په توگه په ذهن کې انځوروو، کله چې د غزل سکښت، اړانې او جوړښت ته د فکر نيلي غځوو، نو دلته په غزل کې کلمات، لفظونه، غږونه، ترکيبونه، محاورې، اصطلاحات، شاعرانه تجربې، مسرې او بالاخره بيت په دوو لړونو

کې را ځرګندېږي. د غزل په سکښت یا اډانه کې د غږونو، کلمو ترکیبونو، یو له بل سره هنري تړون او ګډون دی چې د غزل لفظي او معنوي جوړښت را برسېره کوي.

نو له یوې خوا د غزل اډانه یا فورم دی، له بلې خوا په غزل کې کیفیت او خوږلني ده، خوږلني یې د غږونو، کلمو او ترکیبونو تر منځ هنري آهنګین تړښت دی. دغه هنري آهنګین تړښت ته تغزل وایي، تغزل په مسرو کې هنري کیفیت دی، هنري کیفیت تشبه، استعاره، سېمبول، اسطوره، حسن تعلیل، مدعاالمثل، مجاز، پاراډوکس، حس امېزي، شخصیت جوړونه (Personification) هنري صفت، عیني او ذهني انځورګري ده، د تصویر او تخییل په ژبه د موضوع بیان دی.

یو: د غزل اډانه، سکښت، فورم یا جوړښت دی چې د عروضي جوړښت له مخې بنه مومي. په دې برخه کې د غزل عروضي جوړښت یا وزن و آهنګ ځپې او خچ برابروي. د ځپیز خجیز جوړښت له مخې غزل په بېلابېلو بحرونو کې را منځته کېږي. له څلورو ځپو نیولې تر شلو اوړي. په همدې بېلابېلو ځپیزو جوړښتونو کې د خجیز جوړښت له مخې بېلابېل بحرونه را منځته کېږي. دغه تخنیکي بحث د غزل اډانه یا جوړښت ښیي.

دویم: په عروضي اډانه کې د غږونو، ترکیبونو، کلمو او مسرو ګډون، یو له بل سره آهنګین هنري تړښت، د بېلابېلو تصویرونو، تخییلونو په ژبه د رنګونو یوه ګډه دنیا انځورول دي. (( تغزل د کلمو، غږونو او ترکیبونو تر منځ رنګین اوډون، د لفظي او معنوي ښکلا بیان دی. تغزل لکه په شعر کې شعریت یا په ادب کې ادبیت دی، په شعریت کې یوه برخه تخییلي او تصویري وي، یوه برخه یې هم تعقلي یا فکري وي. په تخییلي او تصویري بڼه کې پیل له تشبیه کېږي، د کلمو یا هنري ارزښتونو ( تشبیه، استعاره، سېمبول، اسطوره ... ) له مخې د کلمو تر منځ تخیلي او تصوري اړیکه ده، خو په تعقلي یا فکري برخه کې اړیکه عقلي او فکري ده. )) (۲: ناچاپ)

په تعقلی یا فکري برخه کې : (( ... هغه توکي راځي چې د عامې ژبې تخلیق دی یا عامه ولسي ژبه ده. دغه توکي چې د لومړي ځل لپاره چا را منځته کړل، هغه هنرمن ذوق او د یو کس تخیل او تصور و، خو ورو ورو چې دغه توکي یا مفاهیم عام شول، پنځګر یې هم په خلکو کې ورک شو، دغه مفاهیم په ژبه کې دومره وکارېدل او عام شول چې د تخیل له کړۍ را ووتل او د فرهنګ برخه وګرځېدل. اوس یې سپړنه

فرهنګي او دودیز بنسټونه، عقل او فکر غواړي. شعر چې د ولس او طبیعت یو انځوریز بیان دی، نو ژبه یې پر تخیيلي مصنوعي او طبیعي توکو سربېره له عقلي او فکري توکو هم پالل کېږي.)) ( ۳: ۱۴۸مخ)

په تغزل کې هم د شعریت په څېر تخیلي، تصویري، عقلي او فکري توکي شته. په عقلي او فکري اړخ کې مرسل مجاز، کنایه، ادبي دود یا سنت راځي. نو: تغزل په غزل کې په لفظي او معنوي ښکلا او جوهر کې د مضمون را نغاړل دي. د غزل کلاسیکیت فورم او د کلمو، ترکیبونو انځوریز بیان یې سټرکچرلېزم یا تغزل دی. ددغې اډانې، جوړښت او خوړلنې له مخې په پښتو کې غزل د یوه دود په توګه پالل کېږي، غزل په خپل مزل کې ستړی نه شو، سا یې واخیسته، په رنګونو کې یې خیالولی مزل وواهه. له اکبر زمینداوري را نیولې تر ننه پوري یو رنګین او له معنا ډک مزل وهلی دی.

ځای ناځای یې دمه کړې ده او په هره دمه او سا اخیستلو کې یې رنګ، خوند او کیفیت نوی کړی دی. یوازې او یوازې د غزل سکښت، اډانې او جوړښت کې په ټوله کې څه خاص بدلون نه دی راغلی، لفظي جوړښت او فورم یې ساتلی دی، هماغه بحرونه چې خوشحال، رحمان، شیدا او حمید پالللي او تر موږ یې را رسولي دي، ننني غزل هم هماغه عروضي جوړښت او بحرونه پالي. په پښتو کې د کلاسیک یا پخواني او اوسني غزل لفظي اډانې او عروضي جوړښت له مخې غزل درې بڼې (عروضي، دېواني، ولسي) لري.

عروضي ـ هغه غزل دی چې د عربي او پاړسو د عروضو په تله برابر وي. دېواني ـ هغه غزل دی چې د عربي او پاړسو د غزل د تعریف په تله برابر وي، موضوعي تسلسل او عشقي مضمون ولري. لکه د خوشحال، رحمان، حمید او ... غزلونه ولسـي ـ هغه غزل دی چې د عربي، پاړسو له عروضي وزن او نورو قیوداتو ازاد وي. یوازې عشقي نه وي، د موضوع څمکه یې پراخه وي، هر ډول مضامین پکې را نغاړل کېږي. هر بیت یې ځانته یوه موضوع او مفهوم وړاندې کوي. موضوعي تسلسل پکې شرط نه دی. د غزل دغه اډانه او تغزلي کیفیت د شلمې پېړۍ په بهیر کې را منځته شوه، ددې برخې لوی بنسټګر حمزه شینواری دی. د عروضي، دیواني او ولسي غزل په اډانه، سکښت او جوړښت کې کوم څرګند بدلون نه ښکاري، خو هرې زمانې مضمون ( لفظي ـ معنوي) د تغزل په نوې ګاڼه سینګار کړی دی.

د مضمون د سينګار دغه نوې ګاڼه په تخيل او تصور کې د هرې زمانې ارمان او فکر را نغاړل او ښکلاييز اغېز دی. د پښتو غزل مضمون او بڼې د شلمې پېړۍ په بهير کې د ښکلا او ذوق پر نوی وره پل کېښود.

روايتي خبرې او بنديزونه يې له مخې لرې کړل، د تخيل او تصور آس ته يې د ځغاستې ځمکه هواره کړه. د تغزل په رنګينو وزرونو يې الوت پيل کړ. بېلابېلو چاپيريالونو د غزل دغې ښکلې اډانې او سکښت ته د تغزل نوی رنګ ورکړ. د غزل ځمکه دومره هواره او پسته وه چې د شاعرد خيال په توړل شويو لفظونو او کلمو کې يې د غزل لفظي او معنوي اډانه د زمانې په رنګونو ښکلي او رنګينه کړه. د غزل ځمکه د شاعر تخييلي او تصويري ژبې دومره وتراشله او هواره يې کړه چې د هرې زمانې ذوق پکې خپله څېره ليدله.

د هرې زمانې شاعرانه تجربو دغه صنف ښايسته، اغېز ښندونکی او پارونکی کړ چې ځانګړي موسيقيت، اهنګ او عروضي جوړښت د ټولنې هيلو او ارمانونو ته غېږه پرانيسته. د هرې زمانې رنګونو په کلمو او مسرييز ترېښت کې د نويو تشبه ګانو، استعارو، سېمبولونو او اسطورو روح پو کړ. شاعر چې کله د تخيل او تصور وړي ذهن او زړه ته په چاپېريال کې د خوږو توکي پيدا کړي دي، په درک او ادراک يې هغه حافظې ته سپارلي، ذهني او نفسي تجربې پرې ترسره شوي دي، بيا يې د وړاندې کولو يا اظهار لپاره ورته بڼه او لاره موندلې ده. د شاعر ذهني او نفسي تجربو د غزل تصوير او تخييل دواړه نوي کړي دي، د شاعر کمال دا دی چې څنګه يې د خپل چاپېريال بهرني توکي چې ذهن او نفس يې ورته وړی تږی و، محسوس کړل، نو په حسي تجربو کې يې بېرته په نوې بڼه وړاندې کړل، په آهنګينه تخييلي او تصويري ژبه د فکر وخيال وړاندې کول تغزل دی. ننني غزل د تغزل په نوې جامه سينګار شوی دی. په غزل کې د نويو شاعرانه تجربو تغزل د زړه ستنې ځانته کږې کړې.

د هر چا پام دغه صنف ته واوښت. ددغه صنف ښېګڼې دا وې چې: د هرې زمانې شاعرانه تجربو يې لفظي او معنوي ځمکه وتوږوله، د فکر زړي يې د تخيل په ځمکه وکرل او د رنګونو په اوبو يې خړوب کړله.

قافيې، رديف او روان آهنګ د موسيقيت جامه ور واغوسته. د غزل په صنف کې د شاعر ذهن د طبيعت توکي په شاتو بدل کړل. په عربی او پاړسو کې د قصيدې ور

تغزل پرانستلو. د تغزل خوږلنی ورو ورو ځان له قصیدې را بېل کړ او د غزل په نوم یې ځان مشهور او ټولمنلی کړ. په شرقي فرهنګ کې دغه صنف دومره ټولمنلی شو چې په شاعرۍ کې په دود بدل شو. په شرقي فرهنګ کې چې اوس څوک د شعر ور پرانیزي، نو لومړی د غزل په درشل پل ږدي. په پښتو کې زیاترو شاعرانو لومړی خپله شاعرانه تجربه په غزل کې وړاندې کړې ده. د تخیل او تصور آس یې د غزل په ځمکه ځغلولی دی کله یې چې ذهن پوخ شوی او د تخیل کښت یې پوخ شوی دی، نو بیا یې نورو صنفونو ته مخه کړې ده، په نورو صنفونو کې یې هم د تغزل رنګ څرګند شوی دی. غزل زیاتې پالنې او تکرار اوس په پښتو کې په موتیف بدل کړی دی. د غزل رنګین صنف ته د شاعرانو مخه په دې را واوښته چې:

یو ـ د غزل عروضي سکښت، جوړښت او اډانه دومره توږل شوې چې نویو مفاهیمو او انځورونو ته یې غېږه خلاصه ده.

دوه ـ د غزل موسیقیت د لفظونو، کلمو او ترکیبونوپه آهنګین تړون اغېز ښندونکی او پارونکی دی.

درې ـ د غزل چوکاټ یا اډانه د تغزل لپاره پراخه ده، یوازې او یوازې په یوه عروضي جوړښت او بحر کې نه را ایسارېږي.

څلور- په غزل کې د قافیې او ردیف لفظي او معنوي پخلاینه د تغزل رنګ او خوند زیاتوي.

پنځه ـ غزل د تغزل د اس لپاره یوه وېړه سینه پرانیزي، که څه هم د وزن او د قافیې ځینې محدودیتونه د تغزل اس په مزل کې ټکنی کړي، خو دغه ټکنې کېدا یې ذهني تجربې لا پخې کړې دي.

شپږ ـ غزل په شرقي فرهنګ کې د یوه ټولمنلي صنف په توګه دود شو، ددې لامل دادی چې په شرقي فرهنګ کې د ښکلا خوښونې معیارونه سره نژدې دي، د شرقي فرهنګ خلک د چاپېریالونو د اب و هوا، د ژوند او زیست و روزګار تر منځ ګډې خواوې، اړخونه او پولې لري. غزل د شرقي فرهنګ د ښکلا د یوه استازي په توګه د نړۍ په ادبیاتو کې ځان رانښيي، د غزل په اډانه یا جوړښت کې د شرقي فرهنګ د خلکو هیلې، ارمانونه، غوښتنې او ښکلی اغېز ښندونکی فکر، د تخیل په ګاڼه سینګار شوی

دی، نو: غزل د شرقي فرهنګ د ولسونو تر منځ د فکري تړښت سېمبول او د راغونډېدو ټغر او نغری دی. غزل د يو ملت غړ او ملت جوړونې فکر دی.

بله مهمه خبره دا ده چې د غزل لغوي مفهوم ته که وګورو نو يو مفهوم يې دا دی چې غزل د زخمي شوې هوسۍ يا غرڅنۍ له پرهرونو را وتی آه يا سوې کړيکه ده. (( دا هم مشهور ده چې غزل له غزل څخه مشتق دی. غزل هغه درد ناک، له نهيلۍ څخه ډک او رحم راکښونکي اواز ته وايي چې د غرڅنۍ له خولې څخه هغه وخت راووځي چې سپيانو راګيره کړي وي او نوره يې چې د ژغور او خلاصون هيله نه وي. د کومې غرڅنۍ له خولې څخه چې دا اواز را وځي، هغې ته غزال او اواز ته يې غزل وايي او پر سپيو يې دومره اغېز وشي چې هغې ته نور څه و نه وايي، نو ځکه د سپې دغه کيفيت ته (غزل الکلب ) وايي. )) ( ۴: ۷٦مخ)

پښتانه او په ټوله کې دختيځ لمنه له پرهرونو ډکه ده، ددوی له پرهرونو سوې کړيکې د تغزل په لړ کې ځان پېيي. پښتانه د حالاتو ستمونو او د زمانو ناکراريو دومره ځپلي او په زړه زخميان کړي دي چې د ژورو ټپونو، ګړوب ګړوب زړه او ځيرو ځيرو پرهرونو سوې کړيکې يې د محروميت او ناسور ژوند په لړ کې پېيلې دي. د دوی د ژوند د سويو پرهرونو کړيکو او څړيکو دغه صنف ته پناه وړې ده. د غزل ځمکه د هرې زمانې د چاپېريال له غوښتنو سره سم رنګينه شوې ده، تغزل پکې د هرې زمانې او چاپېريال د خلکو له طبيعي استعداد او ذهني تجربو ځانګړی رنګ اخيستی دی.

د غزل په ځانګړنو کې يوه ځانګړنه دا ده چې روايتي خبرو او مسايلو ته اسطوره يي روح ببښي، پر دغه روح زړې خبرې په نوی انداز کوي، نوی انداز د غزل تغزل ته نوی روح او رنګ ببښي، د غزل د تغزل پر روح او کيفيت اساطيري روح پرونی دی خو تهذيب د نن دی. غزل ته ژوند، خوند او رنګ د سيمې فرهنګي ارزښتونه ببښي، د غزل په فورم کې فرهنګي ارزښتونه د تغزل په ژبه په ډېر ښه انداز وړاندې کېږي، ولس په غزل کې ځان او خپلې تجربې ويني، نو ځکه په ګډه ولسي فورم بدلېږي.

## پايله

غزل د تغزل په کيفيت او د زړو روايتونو په جامه کې نوی فکر او مضمون را نغاړي. غزل يوازې لفاظي او رنګيني نه ده او نه يوازې مفکوره ده. د تغزل پر رنګين لړ د فکر

و خیال عاطفي موزون او آهنګین تړون دی. غزل په ختیځ کې یو ګډ فرهنګ دی چې د قومونو تر منځ ګډ ټولنیز، سیاسي او تاریخي تفکر او ذوق را ښیي. د طبیعت د کرشمو او پېښو طبعي غبر او استازی دی. د غزل پر ځمکه د تغزل په رنګونو کې د ملتونو فرهنګي ارزښتونه بڼې مومي. په غزل کې د ولس د زړه درد او د ژوند بېلابېل اړخونه انځورېږي، ولس خپلې تجربې او د خپل ژوند بېلابېل رنګونه په کې په انځوریزه بڼه ویني. د غزل ځمکه او رنګونه د ملت د ژوند او ارزښتونو یو داسې انځوریز بیان دی چې قومونه او ملتونه سره په یوه نغري را ټولوي.

پښتانه د غزل پر ځمکه خپل ذوق او فرهنګي لیدلوری څرګندوي، د ختیځ فرهنګ شاعران زیاتره د طبیعت، اب وهوا، د وخت د تقاضا، ارمان، موخو او ذوق له مخې په یوه نغري را ټولېږي، دغه نغری د غزل دی. هغه خوړلني او ذوق خړوبونه چې دوی په غزل کې ګوري په بل کې هغه خوند نه ویني، نو اغېز یې تر بل صنف زیات دی. دغه اغېز ښندنه غزل په یو موتیف بدلوي. د ختیځ فرهنګ شاعران د نظم کور ته د غزل په روایتي جامه کې ننوځي. ددوی ذوق، غوښتنې، ارمان او ... سره ورته دي.

## وړاندیزونه

۱ ـ د غزل صنف یو ټولمنلی صنف دی، په پوهنځیو کې دې ددغه صنف په ښکلاییز اړخ محصلینو ته کورنۍ دندې وسپارل شي.

۲ ـ موږ څنګه کولای شوو چې ادبیات په ټولنه کې د ملتونو تر منځ د وصل کړۍ کړو، ددې لپاره په کار دي چې ټولمنلي لکه د غزل په څېر صنفونه تشخیص کړو او پر هغوی ورکشاپونه او سیمینارونه جوړ کړو.

۳ ـ د غزل تصویري او تخییلي برخه باید د لیکنو او بحثونو له لارې په ډاګه شي.

۴ ـ ادبیات د خلکو او ټولنې د فکري پرمختګ او ذوق خړوبونې لپاره دي، نو اړینه ده چې د ادبیات منظوم او منثور صنفونه د ذوق خړوبوني او فکري کچې د لوړولو په موخه وشنل شي، د شنلو لپاره یې د پوهنځیو استادان، محصلین او هغه کسان چې په دې برخه کې د تجربو خاوندان دي، ګډو بحثونو ته را وبلل شي.

## مأخذونه

۱ـ غني، محمد اشرف، ملي هويت، فرهنګ تاريخ، لومړنۍ بحث، اداره ارتباط عامه و استراتيژيک رياست جمهوري، (۱۳۹۹).
۲ـ ازمون، لعل پاچا. د سهيلي پښتونخوا د غزل سبکي ځانګړني، ناچاپ، ( ۱۴۰۱ل).
۳ـ ازمون، لعل پاچا. شعر پوهنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: کابل، الهام نبي زاده، ( ۱۳۹۹ل).
۴- ناګار، فضل ولي. د حمزه بابا عرفان او غزل، ناګار خپرندويه ټولنه: ننګرهار، کلاسيک کتابپلورځي، ننګرهار پوهنتون ته مخامخ، ( ۱۳۹۵ل).

پوهنوال دکتور اجمل ښکلی

# ژبه او پېژندګلوي (هویت)

# Language and identity

**Associate  Prof. Ph.D. Ajmal Khkulay**

## Abstract

Language is an important part of social identity. There is no society in the world that does not speak and does not have a language. Each community is known by its own language, the French community is known by French, the Russian community by Russian, the Spanish community by Spanish, the German community by German and the Arab community by Arabic. In this article, in addition to discussing identity of individual and society and importance of language in identifying individuals and society, it has also been investigated how an individual is identified by his character and characteristics and what the value of language can be in these characteristics.

Since a citizen is recognized by his face and behavior and distinguishes him from other people, same a society is also different from other societies based on its material and non material  culture. In this article, based on this material culture, differences and similarities have been investigated in connection with language or linguistic identity.

## لنډيز

ژبه د پېژندګلوۍ او ټولنيز شناخت مهمه برخه ده. په نړۍ کې داسې ټولنه نه پيدا کېږي، چې و نه غږېږي او ژبه و نه لري. هره ټولنه په خپله ژبه پېژندل کېږي، فرانسوي ټولنه په فرانسوي، روسي ټولنه په روسي، هسپانوي ټولنه په هسپانوي، الماني ټولنه په الماني او عربي ټولنه په عربي ژبه پېژندل کېږي. په دغه مقاله کې د فرد او ټولنې پېژندګلوي او په دغه پېژندګلوۍ کې د ژبې پر ارزښت او اړينوالي د بحث ترڅنګ دا هم څېړل شوي چې څنګه يو فرد په خوی او خواصو پېژندل کېږي او په خواصو کې د ژبې ارزښت څه کېدای شي. څرنګه چې يو وګړی په څېره او خوی پېژندل کېږي او دی له نورو افرادو بېلوي، داسې ټولنه هم د خپل مادي او معنوي فرهنګ پر بنسټ له نورو ټولنو توپيرېږي. په دې مقاله کې همدغه مادي کلتور، توپيرونه او ورته والي له ژبې يا ژبنۍ پېژندګلوۍ سره په ارتباط کې څېړل شوي دي.

## سريزه

په نړۍ کې د مليتونو، وګړو، ټولنو او نورو په پېژندګلوۍ کې چې تر ډېره په فردي او ټولنيزې پېژندګلوۍ وېشل کېږي، د ژبې ونډه بنسټيزه او خورا مهمه ګڼل کېږي. پر همدې اســـاس په دغه مقاله کې لومړی پر دې بحث راغلی دی چې پېژندګلوي څه ده؟ د پېژندګلوۍ، ژبې او فرهنګ ترمنځ څه اړيکې دي؟ له ژبې سره د فردي پېژندګلوۍ تړاو په څه کې دی؟ له ژبې سره د ټولنيزې او ملي پېژندګلوۍ يا هويت تړاو په څه کې دی؟ او په پای کې له ژبې سره د ديني پېژندګلوۍ پر تړاو هم خبرې راغلي دي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې د ژبې او هويت ترمنځ اړيکې روښانه شي او هم دا څرګنده شي چې ژبه د هويت په پېژندنه کې څومره مهمه او اغېزناکه ده. ژبه هغه وسيله ده چې موږ پرې يو فرد له بله او يوه ټولنه له بلې څخه توپيرولی شو، نو په ټوله کې د اديانو، مذاهبو، فرهنګونو او نورو ټولنو په پېژندګلوۍ کې د ژبې نقش او ارزښت مهم او د پراخې څېړنې وړ دی.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې موږ د ټولنو او وګړو په پېژندګلوۍ کې د ژبې له ارزښت څخه خبروي او هم دا را زده کوي چې انسان ولې له نورو حیواناتو څخه ډېر د ارزښت، احترام او درناوي وړ دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ پېژندګلوي څه ده؟

۲ـ د ټولنو او وګړو په پېژندګلوۍ کې د ژبې نقش او ارزښت ولې مهم دی؟

۳ـ د پېژندګلوۍ، ژبې او فرهنګ ترمنځ کومې اړیکې دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي ــ تحلیلي میتود او د څېړنې له کتابتوني ډول څخه استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

**پېژندګلوي څه ده؟** پیش قدم او ملګري یې د بېلابېلو سرچینو له مخې په دې اند دي، چې "هویت" د پېژندګلوۍ د اندډول په توګه عربي کلمه ده، چې د "څوکوالي" په معنا د "هُوَ" له درېمګړي نومځري او "یت" د جعلي مصدر د رغاند په نقش کې له خپل ذات او حقیقت سره د پیوستون معنا لري. په بله وینا، له اصلي او جوهري صفاتو سره د ستایلي یووالی ښیي. د "هویت" کلمه د انګریزي د Identity اندډول ده. اکسفورډ هویت د "د وګړیو شخصیت یا عیني وجود" په معنا راوړی. د Identity کلمه لاتیني ریښه لري او ریښه یې Identities، Idem د "ورته" او "یو شان" معنا ورکوي. (٦: ٥٢) څرنګه چې یو وګړی په څېره او خوی پېژندل کېږي او دی له نورو افرادو بېلوي، داسې ټولنه هم د خپل مادي او معنوي فرهنګ پر بنسټ له نورو ټولنو توپیربېږي. دا توپیر د فرد او ټولنې پېژندګلوي جوړوي. پېژندګلوي د څه یې او څوک یې په معنا دی او د طبیعي اړتیا په توګه له یوه شیز یا ځای سره د انسان په تړاو کې رابرسېره کېږي. د رضایي او نورو په اند، پېژندګلوي د هغو نښو، مادي، چاپېریالي، ټولنیزو، فرهنګ او رواني آثارو ټولګې ته وایي، چې یو وګړی له بل، یوه ډله له بلې او یو فرهنګ له بل څخه بېلوي. که څوک رانه پوښتنه وکړي، چې څوک یې؟ تر هر څه

مخکې مو خولې ته خپل نوم راځي. که څه هم نوم د ژبې به برخه ده؛ خو دلته خبره يوازې په نوم نه ختمېږي، بلکې د هويت يا پېژندګلوي خبره ژوره ده. دا پېژندګلوي ښايي ډېر ډولونه ولري؛ خو په عمومي وېش کې په فردي او ټوليزې هغې ويشل کېږي؛ خو په دې ټولو کې د ژبې ونډه بنسټي ده. (۱۵: ۱۹۰ـ ۱۹۱ مخونه).

قرآن کريم کې الله(ج) فرمايي: « يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ۚ» ژباړه: اى انسانانو تاسو مې له نارينه او ښځې زو کړي يئ او تاسو مې ملت ملت او قبيله قبيله کړي يئ، چې يو بل وپېژنئ. په اصل کې په تاسو کې خداى ته پرهېزګار غوره دى. بېشکه چې خداى پوه او خبر دى. (٦: ٥٠) که له يوه چا سره مخامخ شو، سملاسي يې څېړي، د وينبتانو ډول، لباس او لهجې ته متوجه کېږو او په ذهن کې يې يو هويت جوړوو، چې دا د کومې سيمې دى، قوم و قبيله يې کومه ده، عادتونه به يې څه وي او داسې نور. دا ټول شيان د د دې وګړي پېژندګلوي جوړوي، چې دى پرې د بلې سيمې او په قوم کې دننه د بلې قبيلې له يوه وګړي جلا کېږي. ټولنه هم په همدې ډول له نورو ټولنو بېلېږي، چې ببل فرهنګ، جغرافيه او ژبه لري. که په لومړي وار يوې بلې ټولنې ته مثلا روسيې ته لاړ شئ، ځان درته پردى احساسېږي او داسې خلک وينې، چې د ژبې په ګډون يې ډېر شيان له تا نه بېل دي. کوم شيان يې چې تا ته نوي ښکاري، هغه د دې ټولنې هويت دى. کيم [۱] پېژندګلوي د خپل ځان په اړه د يوه وګړي (فرد) د تصور او برداشت په مفهوم را اخلي. په دې ډول پېژندګلوی په خپل ټولي کې دننه يا د ټولنې په کچ له ځانه د وګړي ټولنيز پېژند(تعريف) ته وايي. نومورې د دووس [۲] په پيروی په دې اند دی، چې پېژندګلوي د شعوري پر ځای زياتره ناشعوري بهير دی. کراوشاو، کالن او توستينګ پيژندګلوی داسې تعريفوي: هويت په ژوند کې د يوه ځانګړي موقعيت تشخيص يا نه تشخيص دى، چې دا موقعيت او ورپورې تړلې چلن پرله پسې بدلېږي. (٦: ٥٢-٥٣ مخونه )

---

[۱] Kim, L. S.
[۲] DeVos, G.

پیش قدم مخکې لیکي: هویت راته وایي، چې وګړي یا ټولي ځان ته په کومه سترګه ګوري او نور وګړي او ټولي یې څرنګه راپېژني. د پېژندګلوۍ مفهوم ډېر اهمیت لري، ځکه چې د همدې هویت په مټ موږ په دې پوهېږو، چې د کومو لاملونو له مخې موږ د نورو وګړیو غوندې یا ترې مختلف اوسو، چې پر بنسټ یې له نورو وګړیو سره ټولنیزې اړیکې جوړې کړو. په پایله کې ویلای شو، چې پېژندګلوۍ یو اړخیزه نه، بلکې څو اړخیزه ده(٦: ٥٣).

## د پېژندګلوۍ، ژبې او فرهنګ ترمنځ اړیکې

څرنګه چې هره ټولنه په فرهنګ کې دننه خپل ارزښتونه، باورونه او تاریخ لري، نو چې بلې ټولنې ته د ګډوال په توګه لاړ شي او هلته یې هم د کوشیرېدو امکان کم، د پېژندګلوۍ له ستونزې سره مخامخېږي او په دې ډول په خپل پېژندګلوۍ د شرم او کمترۍ یا له کوربه ټولنې د پردیتوب احساس کوي، ځکه چې د ده ارزښتونه، ژبه او چلنونه په نوې ټولنه کې چلښت نه لري. افغانان د تېرو څو لسیزو کډوالیو د پېژندګلوۍ له ناورین سره مخامخ کړي او له خپلې جغرافیې یې پردي کړي، چې سیاسي ګټه یې د سیمې هېوادونو ته رسېدلې.

دا خو د پېژندګلوۍ د ستونزې خبره وه؛ خو له دې هاخوا پېژندګلوي یوه ټولنیزه پدیده ده، چې هره ټولنه او هر فرد ترې برخمن دی او د دې یو اړخ ژبه هم ده.

آزاد منش(٢: ٩٤) د کوین له خولې فرهنګ داسې تعریفوي:

د فرهنګ د تعریف لپاره لاندینیو مخانګېرنو ته پام وکړئ:

فرهنګ رغښت کل دی.

هر کل له یو لړ رغندو ټوکونو جوړ وي.

نو فرهنګ هم د توکیو یوه ټولګه ده.

د پاسنیو مخانګېرنو پر بنسټ ویلای شو، چې فرهنګ، د قواعدو، ارزښتونو، آدابو او دودونو، ژبې، ټولنیزو او دیني باورونو او نورو زده کېدونکو بېلګو ټولګه ده. د فرهنګ په پاسنیو رغندو ټوکونو کې یوه ژبه هم ده، چې نور فرهنګي موارد د اړیکې پر مهال لېږدوي، چې د اړیکې په دې لوښي کې فرهنګ راښکاره کېږي هم او ساتل کېږي هم. پر دې بنسټ ژبه د یوې ټولنې له فرهنګ سره ژوره اړیکه لري او په ګډه ورسره د یوې ټولنې پېژندګلوي جوړوي.

د ژبې او پېژندګلوۍ ترمنځ اړيکه څو اړخيزه ده. هويتونه په ډسکورونو کې جوړېږي او تفکرات او معناوې هم د ژبې په مټ بيانېږي. د ارتباط پر دنده سربېره ژبې د خپلې پيلامې(سېبموليکې) دندې له لارې هم د هويتونو په رامنځته کولو کې لوی لاس لري.

ژبه يوه وسيله ده، چې په بېلابېلو اوبونو (قراينو) کې يې وګړي د خپل احساس د تبادلې لپاره کاروي، د پيرس له قوله، هويت بيا يو فرهنګ او ټولنيز بهير دی، چې د وينا په ډولونو کې راښکاره کېږي. په دې ډول په يوه ځانګړې موقعيت کې د ژبې د کارولو ورتيا د فرهنګې پېژندګلوۍ پر روزنه اغېز لري. ژبه د پېژندګولۍ يوه مهمه نښه ده (برګمن، واتروس رادر کويز او چالکلی،). داسې ژبه د هويت يوه نه جلا کېدونکې برخه ده. (٦: ۵۴ مخ)

استاد حبيبي فرمايي:[١]

ژبه هم د انساني ژوندون يوه اجتماعي حادثه ده او د ټولنې له تاريخي ارتقا او اجتماعي روحياتو سره ټينګه اړه لري. د کلماتو د پيدا کېدو عوامل د تسميې وجوه او د ژبې د ړغو پيدايښت د ټولنې د نشو و ارتقاء د سلسلې سره تړلي دي. اجتماعي محيط او جغرافي چاپېريال او تاريخي تحولات او پېښې د ژبې پر پښويه هم اغېزې کوي او که څوک وغواړي چې د يوې ډلې، ټولنې سايکالوجي وڅېړي، نو د ژبې له پلوه ډېر غټ مواد پيدا کولای سي او د يوې انساني ټولنې اجتماعي کړه وړه او قومي کردار او دودونه او افکار او عقايد د ژبې په کلماتو او الفاظو کې خپل غير مرئي اما عميق اثرونه اچوي، مثلا د پښتنو په کليوالي او کوچې ژوند کې د مېلمه پالنه يوه خورا ټينګه او پخوانۍ عنعنه ده او دا ملي رشه هم د محيطي و جغرافي او اجتماعي عواملو څخه پيدا سوې ده. يوه پښتون به ماښام تر هغه وخته ډوډۍ نه خوړه څو به د کوم مېلمه د راتلو احتمال و، پښتون به منتظر ناست و چې مبادا کوم مېلمه راسي او چې مېلمه به وارد سو، نو ژر به يې خواړه ورته راوړه او پخپله به هم يوځای ورسره ناست و، چې ډوډۍ به ګډه وخوري.

[١] د استاد حبيبي دا اقتباس مې له سکن شوي متن رااخيستی، هلته مازې شل مقالې او مخونه راغلي، د ماخذ نور تفصيل نشته.

استاد زیاتوي: هغه ستوری چې د ماښام پر وخت به راخوت او د مېلمه د راتلو وخت به یې اعلان کاوه، پښتنو د "مېلمه سترګه" وباله او دا تسمیه د دوی په اجتماعي چاپېر او ملي خلق او قومي مزاج اړه لري او فقط له دغې یوې کلمې څخه د اقوامو د روحیاتو څېړونکي له ډېر څه په لاس ورتلای سي. د پښتو په ګرامر کې ځینې نکتې په نظر راځي د ژبې وسعت او د پښتنو پر اجتماعي محیط او احتیاجاتو انطباق ښه ځنې ښکاري او یو له دغو خصایصو څخه د پښتو ګرامر اشاري کلمات دي چې په نهایت وسعت او خورا دقت د دغه ملت پر اجتماعي مزاج دلالت کوي. استاد حبیبي تر دې وروسته د "دغې، هغې او هوغې" اشارې ټولنیز اړخ ته اشاره کوي، چې یوازې فیزیکي واټن نه ښیي، بلکې ټولنیزه فاصله هم راڅرګندوي. د کاکړ نیکه په اړه یوه ولسي کیسه رااخلي، چې یو مېلمه راغی او پلار خپل زامن په پېژندل، ویې ویل: دا مې زوی دی، هغه مې هم زوی دی. دا خبره د دوهم زوی تشخیص او ځانوالي ته چې په "هغه" مشارالیه سوی و، ګرانه ولوېده او له پلار سره یې رابطه وشلوله(۹: ۸۹-۹۰).

پښتانه په پښتو ژبه پېژندل کېږي. څوک چې پښتو نه وایي، که هر څو ځان ته پښتون وایي، خو په واقعیت کې پښتون نه دی، ځکه چې ژبه د فرهنګ اساس ده. ژبه له یوه نسل نه بل ته او په ټولنه کې له یوه فرد نه بل ته فرهنګ لېږدوي. خبرې اترې او الفاظ په اصل کې په فرهنګي توکیو لړلې وي. د ژبنیو توکیو فرهنګي او موقعیتي قرینې، له مخاطب نه د غوښتنې، پوښتنې ډول، د مقابل لوري د هڅونې، پوخلاینې، خوشحالولول، خپه کولو وسایل په ژبه کې دي. همدا دلیل دی، چې ټولنپوهان د فرهنګ په چاره کې ژبې ته ډېر اهمیت ورکوي. په دې ډول ژبه د یوې ټولنې د پېژندګلوۍ مهمه برخه ځکه ده، چې د زیاترو ټولنو او قومونو نومونه د هغوی له ژبو یا برعکس اخیستل شوي دي، مثلا هندي ټولنه په هندي، ازبکي ټولنه په ازبکي، قزاقي ټولنه په قزاقي، ترکي ټولنه په ترکي او ... پېژندل کېږي، چې لامل یې دا دی، چې د اروپا په ګډون پخوا د هېوادونو او ملتونو بنسټ پر ژبه ولاړ و(۱۵: ۲۰۰ مخ).

په پایله کې ویلای شو، چې ژبه د پېژندګلوۍ په ایجاد او بیان کې بنسټي نقش لري، چې له دې پرته د هویت په اړه دقیقې خبرې نشو کولای. که څه هم

پوهانو د ژبې آره دنده ارتباط ښودلی؛ خو د شوهامی غوندې پوهان دا هم وايي، چې د ژبې بل مهم نقش په وګړيو کې د پېژندګلوۍ پيدا کول دي. په پوستې ماډرن پېر کې د توکم غوندې هويتي نښو په پيکه کېدو سره دا ارزښت هم ژبې ورخپل کړی(٦: ٥٤).

په پاسني پاراګراف کې مو ولوستل چې ژبه يوازې هويت بيانوي نه، بلکې جوړوي يې هم او دا د ژبې هغه اړخ و، چې په پوستې ماډرنيزم او پسرغښتي تيوريو کې ورته پام شو او يو لامل دا هم، چې په پوستې ماډرنيزم کې ژبه د بحثونو په مرکز کې پاتې شوه، ځکه چې ژبه د فرهنګ د هستې په توګه مطرح شوه، چې هر څه په همدې لوښي کې رازرغونېږي. ښاغلی پيش قدم او نور ژبه د پېژندګلوۍ او فرهنګ ترمنځ د پول په توګه مطرح کوي. دا ژبه ده، چې هويت او فرهنګ سره نښلوي او له دواړو رنګ اخلي او دواړو ته رنګ ورکوي. په لاندې بڼه کې يې دا نده ليدای شو:




١ بڼه: پر فرهنګ او پېژندګلوۍ د ژبې اغېز(٦ : ٥٥)

### له ژبې سره د فردي پېژندګلوۍ تړاو

دوه کسه چې خبرې کوي، په خبرو کې چې د ژبې بالفعل بڼه ده، د دواړو سن، جنس، قوم، سيمه او نور ډېر جزئي مسايل روښانه کېږي، مثلا يو کس په خپلو خبرو کې الف په اوږدو واو او واو په "ي" اړوي، موږ پوهېږي، چې د پکتيا، خوست يا د وزيرستان شاوخوا سيمو اوسېدونکو، د خبرو پر مهال يې ان په قبيله پوهېږو. د الفاظو له انتخابه يې جنس، سن او زده کړې معلومولای شو، چې دا ټول د يوه فرد د هويت برخې دي. د فردي پېژندګلوي په رو ښانولو کې لومړی څيز د غفار ثمرپه اند، نوم دی. د هر کس نوم د هغه د فردي هويت ښکارندوی دی او دا تر معلومولای شو، چې فرد د کومې او څه ډول کورنۍ او کوم قوم او سيمې دی. په افغانستان کې

بالعموم تخلصـــونه په قبیلوي هویت، ســـیمې، پلار او کورنۍ پســـې ځي. که د یوه شـخص تخلص اڅکزی یا مومند وي، تر ډېره راته معلومېږي چې دی په قبیله څوک دی. که کامه وال یا زابلی و یا شـلگری و، ســیمه یې ځرگندېږي او که شــېرزوی یا بهرامي و، د پلار نوم یې تخلص کړی وي، چې د ده په هویت کې نقش لري. همدا راز که پلوشــه و یا نرگس و، خو ښـځینه او که بریالی یا محمود و، د جنس توپیر یې روښانه کېږي. همدا ډول په ټولنو کې نومونه د هغه فرد د کورني هویت او ایډیالوژۍ ښـکارندويي کوي. که عبدالله، زینب یا ابو هریره، نو کورنۍ یې دیني تمایل لري او که کنشـــکا یا یما او میرویس یا بریالی، خوږه او نور و؛ نو په غالب گومان په کورنۍ کې یې ملتپالنې او پر خپل ملي تاریخ د ویاړ رنگ ډېر دی. د غفار ثمر په وینا، د یوه د چا د راپېژندنې(معرفۍ) په ډول کې هم د مخاطب فردي پېژندگلوي رابرســـېره کېږي، چې د امریکایي ټولنپوه سـکس( (Sacksپه اند، معرفي د متقارن او نامتقارن دوه ډوله لري، مثلا لاندې د یوه نفر معرفي په دوو بېلو بڼو لولو، خو دواړه د معرفي کېدونکي کس دوه مختلف هویتونه را ښیي. په لومړۍ جمله کې د برابرۍ یا ملگرتیا او همغږۍ تصـــور او په دویمه کې د معرفي کوونکي او پېژندل کېدونکي کس ترمنځ د توپیر پروت دی:

بریالیه! دا زما همکار زرین دی.

بریالیه! دا زما همکار دوکتور زرین دی.

په ژبو کې نومځري هم د فردي هویت ښکارندوی کوي. د یوه چا ته د "ته" یا "تاسو" یا "ده" "دوی" کارونه د دویم کس حیثیت او ټولنز مقام ښــیي. همدا راز چا ته په ټوکه یا جدیت "څوک" ویل د هغه د فردي هویت ښـــودانه کوي. په ژبه کې د فردي هویت د ښــکاره کولو لپاره گڼ ســاده او پېچلي توکي شــته او دا مو په ټوله کې دې پایلې ته رســـوي، چې ژبه له فردي هویته جلا کېدونکې نه ده او که د ورف، چې ژبه د تفکر سرچینه بولي، وگورو؛ نو ویلای شو، چې له فردي او ټولنیزې پېژندگلوۍ سره ژبه ژورې اړیکې لري.

## له ژبې سره د ټولنيزې پېژندګلوۍ تړاو

ژبه د يوې ټولنې د پېژندګلوۍ ښــکارندويي کوي، بلکې د يوې ژبې فرهنګ چې دا ټولنه پرې له نورو بېلېږي، د ژبې په لوښي کې خوندي وي؛ نو هر کس چې غږېږي، هغه د خپلې ټولنې انځور مخاطب ته په لاس ورکوي، چې د کومې او څه ډول ټولنې غړی دی؛ خو موږ پوهېږو، چې ټولنه تر ځان له وړو واحدونو جوړه وي، چې هغه هم ټولنيز اهميت لري. همدا سې هره ژبه له ګړدودونو جوړه وي. ژبه په بېلابېلو جغرافي محدودو کې په وينګ(تلفظ)، کلمو او آن اســتفاده کې توپيرونه لري، چې دا هر توپير يوه بېله بڼه پيدا کوي، چې ګړدود ورته وايي، ګړدودونه د نازنځيري واحدونو او غړونو له پلوه او د څه نا څه وييزې او ډېر کم ګرامري ځانګړنو له مخې وبله توپير لري او دا توپير د لهجې د ويونکو ټولنيز او لهجوي پېژندګلوي راښيي. (۱۸: ۱٦).

دا د ژبې په مټ د ټولنيزې پېژندګلوۍ يوه بله لار ده، چې د يوې ټولنې د وګړيو د اســتفادې ډول ښــيي او د ژرنبارو په اند په ډله کې دننه او بهر د وګړيو هويت څرګنــدوي. دا وګړي، چې څومره خپلې هســتې تــه ورنږدې وي، هغومره يې پېژندګلوي اسانه وي؛ خو چې کله له خپلې هستې لرې کېږي، ګړدودي او ډله ييزه پېژندګلوي يې کمرنګه کېږي او ځای يې بل هويت نيسي ـــ، ممکن دا نوی هويت د ښـــاري معياري ګړدود زېږنده وي يا يوه بله ځانګړې ډله جوړه کړي، مثلا که له يوه ولايت يا قبيلې نه څوک د کابل د علی اباد په روغتون کې ډاکټر وي، دی له ټولنيز پلوه څو هويته لري، چې په ژبه کې راښــکاره کېږي، يو د ده قبيلوي شــناخت دی، چې په لهجه کې راښکاره کېږي، دويم د ده مسلکي شناخت دی، چې د ډاکټر په توګه له نورو ډاکټرانو سره ګډ دی او يو بېل هويتي واحد جوړوي. بل د ده فردي هويت دی، چې د ټولنيز هويت په مرســته او توپير راڅرګندېږي؛ خو يو بل هويت د معياري لهجې د کارونې هم دی، چې دی د ټولو سـيمو له ناروغانو او همکارانو سره تړلی ساتي او په دې ډول هڅه کوي، چې لږ وخت ته خپل ګړدودي هويت پرېږدي؛ خو څرنګه چې ګړدود د ده د ذهن په ژورو کې پروت دی؛ نو ناشــعوري ترې په معياري ګړدود کې هم راښکاره کېدای شي. (۲۴: ۱۴۳)

د پښتو گړدودونو په توپیر کې دوه اړخه ډېر اهمیت لري، چې یوه سیمه او بله قبیله ده. دا دواړه د گړدودونو په بېلتون کې ټاکلی نقش لري او د هره یوه په له پا مه غورځولو کې د گړدودونو څېړنه بې معنا کوي. د ټولنیز هویت په اړه مو یوه خبره هېره نشي-، چې هره ټولنه خپل فرهنگ په ژبه کې راښکاره کوي. په پښتو کې موږ گڼې گړنې او متلونه لرو، چې د قوم په توگه زموږ د ټولنې د باورونو او ذهنیتونو ښکارندوی کوي او متلونه ژبني توکي دي، ځینې به یې لاندې راوړو:

ښځه یا د کور ده یا د گور.

لوخې د قام بد غوښتل، سر یې په اوبو کې وچ شو.

له کلي وځه، له نرخه مه وځه.

دا متلونه او داسې نور په زرگونه متلونه او گړنې که په یوه ځای کې ووایو، زموږ مخاطب ته تعریفوي، چې په کومه او څه ډول ټولنه او قوم کې ژوند کوو. د گیدنز او بردسالپه اند، قومیت ببخي یو ټولنیز مفهوم دی، چې د یوې ټولنې د وگړیو هغو کارونو او فرهنگي چلندونو ته وایي، چې دا پرې له نورو بېلېږي. د یوه قوم افرادو په ټولنه کې له نورو وگړیو ځان بېل گڼي او نور هم ورته بېل نظر کوي. (۱۸: ۳۵۹)

د قوم تعریف داسې هم کولای شو، چې د افرادو، قبیلو هغه ټولگه چې خویونه، کړه وړه یې سره ورته او زیاتره په گډه سیمه کې اوسي او په یوه ژبه خبرې کوي. په دې تعریف کې د ژبې یادونه مهمه ده. که څه هم داسې قومونه شته، چې په یوه ژبه خبرې کوي؛ خو یو قوم دی، ځکه نژاد او فرهنگ یې توپیر لري، خو بیا هم د نړۍ زیاتره قومونه په یوه ژبه خبرې کوي. همدا لامل دی، چې له ټولنیز سره سره ژبه د قومي هویت ښکارندوی هم ده. پښتو د پښتنو قومي پېژندگلوي ده. یو څوک چې په پښتو غږېږي، که په گرامر او د کلمو په انتخاب کې یې ستونزه و نه وینو، د ژبې پر بنسټ یې په اړه پرېکړه کوو، چې پښتون دی او کله په دې تېروځو هم، ځکه ځینې کسان چې له پښتنو سره له وړوکوالي اوسېدلي وي، په پښتو ډېر ښه غږېږي. دا

ښيي، چې د قوميت د شناخت يوه مهمه وسيله ژبه ده او همدا ژبه ده، چې تر ډېره په يوه ملت کې دننه د قومونو ترمنځ د "موږ" او "نورو" توپير وضع کوي.

### له ژبې سره د ملي پېژندګلوۍ تړاو

ملت د بېلابېلو قومونو ټولګه ده، چې په يوه ټاکلې جغرافيه کې د ګډو اقتصـادي او سـياسي موخو پر بنسـټ سره راټول وي او ګډ فرهنګي اړخونه ولري. يو ملت له فرهنګي همرنګيو پرته د ژبې په کچ هم سره ورته والي لري او دا ورته والی په ملي ټرمينالوژۍ، د قومونو په ګډ ژوند ژواک او په يوه هېواد کې د کار بېدونکو ژبو په خپلمنځي اغېز کې راڅرګندېږي، مثلا که موږ په افغانسـتان کې له هر چا سره ګړېږو، د صلاحيت، مکتوب، پوهنتون، پوهنځی، نصاب او داسې نورې کلمې کاروو، چې زموږ د ګډې ملي جغرافيې زېږنده دي او که په اروپا کې هم سره مخامخ شو، د دې کلمو په کارونه يو بل پېژنو. په ملي ټرمينالوژۍ کې د يوې جغرافيې د بېلابېلو ژبو او ان له جغرافيې د بهر ژبو ونډه هم وي، چې دا په يوه هېواد کې د دې قومونو شتون او هويت ښيي؛ خو د دې کارونه دومره ډېره شي، چې بيا د قومي پېژندګلوۍ پر ځای د ملي پېژندګلوۍ کچ ته ورلوړ شي او د ټول ملت په خوله جاري شي، چې يوه بېلګه يې لويه څارنوالي ده، چې که څه هم د پښـتو کلمه ده؛ خو اوس ورسره د افغانستان ټول وګړي اشنا دي.

په يوه جغرافيه کې د ملي او رسـمي شـتون د ژبې د ټولنپوهنې له مخې بله هغه موضوع ده، چې د ملي هويت سبب کېږي. د نړۍ په زياترو هېوادونو کې د اکثريت ژبه ملي ژبه ده. د افغانستان د ۱۳۴۳ په اساسي قانون کې هم پښتو د افغانستان ملي او پښـتو او دري رسـمي ژبې وې. د اکثريت په توګه د يوه قوم د ملي ژبې ټاکل که له يوه پلوه په هغه هېواد کې د هغه قومي هويت تثبيتوي او د وياړ احسـاس ورکوي، د ملت په راټولولو کې هم نقش لري او د خلکو ترمنځ د ارتباط يوه وسـيله پيدا کوي. همد راز رسـمي ژبه هم چې په رسـمياتو کې کارېږي، د ملي هويت په جوړولو کې مهمه وي، چې بيا دواړه ژبې د يوه هېواد د وګړي په ملي هويت بدلېږي او په نورو نړۍ کې يې خلکو ته ورپېژني، ځکه خو کرول وايي، چې ژبه

داســـې ځواک دی، چې هم سره خلک راټولوي او هم يې بېلوي؛ او په پايله کې په ژبنۍ ژمنتيا او ملتپالنه اوړي. نوموړی مخکې وايي: " د ملي ژبې ویاړ په دې کې دی، چې په حسا سو کورنیو شرایطو کې د یوه ملت د پا شلتیا مخه نیسي او یو ملت راټول ســاتي. ګډه ژبه د یوه ملت د متحدولو پیاوړې وســيله ده، چې له هېواد سره د خلکو د عاطفي او افادي تړاو پیدا کوي او پیاوړی کوي. ملي ژبه د پولو په ټاکلو او د پېژندګلوۍ او پیوستون د حس په پیاوړي کولو کې د یوه ملت په یووالي، پېژندګلوي او پیاوړتیا کې مرسته کوي. (۱۵ : ۲۰۰).

په ژبه کې د ملي پېژندګلوۍ د رابرسېره کېدو یوه بله وسـیله ژبه ده. ملي سرود چې عاطفي بار لري، له یوه هېواد سره د خپلو وګړیو مینه پیدا کوي او په نړۍ کې د هغه هېواد ملي هویت ښيي. ښاغلی غفار ثمر د رضایي او نورو له خولې نور توکي هم د ملي هویت په توګه څرګندوي، لکه ملي لوبې، لباس، خواړه، باورونه، اداب، اخلاقي ځانګړنې، لرغوني آثار او ځایونه، ملي نکلونه، بیرغ، ملي اقتصــاد، هنر، ژبه(نومونې، کنـايې، متلونـه، کليز، نومونـه، پور کلمې، لیـک)، ادبیـات، تـاریخ او تمـدن، ملي مشـــاهير او نور هم یادوي، چې په دې کې یوه د هغه هېواد تذکره او پاســـپورت هم دي، چې د هغه ملت هویت ترې څرګندېږي، چې دا هم په ملي پېژندګلوۍ کې د ژبې ونډه ښيي. غفار ثمر د قمري او حسن زاده په ا ستناد وايي، چې ملي هویت او ملي ژبه پر یو بل اغېز لري. د ایران پر خلاف د افغانســـتان ملي هویت تر ډېره په تاریخ ولاړ دی، چې په شـلمه پېړۍ کې د ژبې توک هم ورداخل شـو او هڅه وشـوه، چې د جغرافيې د متحد ســـاتلو لپاره په خلکو کې د ژبې د یووالي روحیه پیدا کړي. د یوه هېواد ملي ژبه د هغه هېواد د پېژندنې کیلي وي او که څوک غواړي، چې د هغه هېواد وګړی شي، اړ دی، چې ملي ژبه يې زده کړي. د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې چې بهرنی تابعیت اخلي یا زده کړې کوي، لومړی باید د هغوی ملي یا رســـمي ژبه زده کړي، هله ورته د پوهنتون او ټولنې دروازې پرانيزي او دا ځکه چې د هویت په مورد کې ملي ژبه د یوه ملت د پیوســتون ســبب وي او د هغه ملت روح او فرهنګ پکې پروت وي؛ نو چې څوک تابعیت اخلي، باید د هغه ملت روح پکې حلول وکړي او فرهنګ یې په اســـانه ورخپل کړي، چې ســـبا د پردیتوب د احســـاس له امله ورته

ستونزې پیدا نه کړي. همدا رازپه پوهنتونونو کې زده کړې په ملي او رسمي ژبو وي؛ نو که څوک یې په ژبه پوه نشي، د تحصیل چاره نیمګړې پاتې کېږي.

## له ژبې سره د دیني پېژندګلوۍ تړاو

که د نړۍ تاریخ ته وګورو، هر دین په یوه ځانګړې ژبه راغلی یا لکه د مســیحیت غوندې وروســته په یوه داســې ژبه ژباړل شــوی، چې د ده د دیني هویت لامل ګرځېدلی. د ژبې او دین تړاو دومره پېچلی او اســاسي دی، چې ان په ځینو دینونو لکه په مســیحیت کې له لاتیني څخه نورو ســیمه ییزو ژبو ته په منځنیو پېړیو کې د بایبل پر ژباړه بندیز و، ممکن د دې تر شــا به د انحصــار لامل هم وي؛ خو ورسره دا باور هم حاکم و، چې له اصــلي ژبې په بله ژبه د نصــوصــو ترجمه د دین د تحریف ســبب کېږي او آن اغېز یې کمېږي. دا دویم ډول یې موږ په اســلامي نړۍ کې هم وینو. مســلمعنان په مختلفو ژبو خبرې کوي؛ خو لمونځ، ځینې دعاوې او نور دیني مناسـک په عربي ژبه ادا کوي او باور دا دی، چې دا باید همداسـې وویل شي، ځکه چې د خدای کلام په عربي ژبه رانازل شـوی دی او دیني مراسـم باید په همدې ژبه ادا شي. مفسرــانو چې د قرآن کریم تفســیرونه کړي، د عربي ژبې د وییز، مانیز او ګرامري نظام خیال یې پکې هرومرو ســاتلی او آن د تفســیر او ترجمې لپاره صرف و نحوه او آرپوهنه د یوه اصـل په توګه مطرح دي. د تفســیرونو ترمنځ د توپیرونو یو لوی لامل همدا د عربي ژبې نظام دی او دا ښــیي، چې دین له ژبې سره څومره پېچلی تړاو لري. څرنګه چې دین د یوې ټولنې د هویت برخه دی، داســې د دین ژبه د یوې ټولنې د دیني هویت ښــکارندوی دی. که د اروپا په یوه هېواد کې د یوه کس له خولې د "الســلام علیکم" لفظ واورو، له واره پوهېږو، چې مســلمان دی او که څوک راته نمســتې ووایي، د هغه د هندوتو هویت پکې رابرســېره کېږي. د یوې ټولنې ژبه که هر څه وي؛ خو دیني مناســک او دیني وییزېرمه یې د دیني هویت ښــکارندویي کوي. په پښــتو ژبه کې د لمونځ، روژه، زکات، حج، ســلام، یوه چا ته دعا او ښــېرا او داســې ګڼې کلمې او جملې دي، چې زموږ دیني هویت ښــیي او دا له ژبې سره د دیني پېژندګلوۍ تړاو څرګندوي. همدا راز د افرادو او نورو په نومونو د دین اغېز د افرادو د دیني هویت ښکارندویي کوي، لکه عبدالله، فرید احمد او داسې نور نومونه.

په تولـه کې ديني هويـت لـه تولنيز، قومي او ملي هويت د يوه فرد د هويـت پـه څرگنـدولو کې سره لاس ورکوي او د هغـه د سـيمې، قوم، قبيلې، ملـت او دين ښـکارندويي کوي. په نړۍ کې يې يوه بله بېلگه اسراييل دي، چې عبري يې ديني او ملي ژبه ده. هغه مهال چې اسرايېل د نړۍ په لر و بر کې سر وهلي بر وهلي گرځېدل هم يې دين وساته او د دين په ساتلو کې ورسره عبري مرسـته وکړه. اوس عبري د اسراييلو د ديني هويت اساسي برخه ده، چې راژوندۍ کړې يې ده. ښاغلی غفار ثمرد آنتوني کمپل له خولې ليکي، چې په توله کې دينونه روايي ډسـکورسـونه دي، چې له ژبې سره ژوره اړيکه لري او د ژبې له منځگړيتوب يې امکان نشـته او آن د ژبې او دين اړيکه دومره پخه بولي، چې وايي، د دين او ژبې ريښه د بشر په تاريخ کې ښايي يو شان او هممهالې وي. (۱۵: ۲۰۶)

## پايله

له شک پرته ژبه د انسانانو ترمنځ د اړيکو هغه وسيله ده چې موږ پرې د نړۍ گوټ گوټ کې ميشت انسانان، د دوی فرهنگ، ارزښتونه او مذاهب پېژندلی شو او ژبه ده چې دوی را پېژني. په دې مقاله کې پر دې وپوهېدو چې د ژبې او پېژندگلوۍ ترمنځ ژوره اړيکه ده او پر دغو اړيکو سربېره ژبه په سمبوليکه توگه د هويتونو په په ايجاد کې لوی لاس لري. په پايله کې ويلای شو، چې ژبه د پېژندگلوۍ په ايجاد او بيان کې بنسټي نقش لري، چې له دې پرته د هويت په اړه دقيقې خبرې نه شو کولای. که څه هم پوهانو د ژبې آره دنده ارتباط ښودلی؛ خو د پوهان دا هم وايي، چې د ژبې بل مهم نقش په وگړيو کې د پېژندگلوۍ پيدا کول دي.

## مأخذونه


۱. ارغند، ذبيح الله. معناپوهنه، پکتوس خپرندويه ټولنه: کابل ، ۱۳۹٦ل کال.

۲. ازادمنش، محمد رضا. مبانی جامعه شناسی، چاپ چهارم: کابل، انتشارات سعيد، سال ۱۳۹۸.

۳. باطنی، محمد رضا. مسائل زبان شناسی نوين: تهران، آگاه، سال، ۱۳۵۴.

٤. باطنی، محمد رضا. جامعه شناسی زبان، بخار(مجله)، شماره ۱۲۱، آذر-دی: تهران، سال، ۱۳۹٦.

٥. پښتو لهجوي قاموس، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو ژبې او ادبیاتو مرکز، پښتو انستیتیوت: کابل، ۱۳۹۵ل کال.
٦. پیش قدم، رضا؛ دکتر الهام ناجی میدانی؛ دکتر آیدا فیروزیان پور اصفهانی. رویکردی آموزشی به جامعه شناسی زبان، دانشگاه فردوسی، مشهد: سال ۱۳۹۹.
۷. ترادگیل، پیتر. زبان شناسی اجتماعی، ترجمهٔ محمد طباطبایی: تهران، نشر آگاه، سال، ۱۳۷٦.
۸. جبارخېل، عزیزالله. ګړدودپوهنه، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱٤۰۱ل کال.
۹. حبیبي، عبدالحی. د پښتو لغاتو د تحقیق لارې، کابل مجله، ۲ ګڼه. پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۲۳ل کال.
۱۰. حبیبي، عبدالحی. د پښتو لغوي تطور، کابل مجله، پرله پسې ۲۷۹ او ۲۸۱ ګڼې، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۲۷ل کال.
۱۱. حمیدزی، راحله. نظریه های زبان شناسی، انتشارت سمون:کابل، سال ۱۴۰۲ .
۱۲. زیار، مجاور احمد. پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹٤ ل کال .
۱۳. زیار، مجاور احمد. لیکلارښود (یوه پښتو کره پښتو)، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸٦ل کال.
۱٤. عبدالکریمی، سپیده. فرهنگ توصیفی زبان شناسی اجتماعی، نشر علمی: تهران، سال ۱۳۹۲.
۱۵. غفار ثمر، رضا. مبانی جامعه شناسی زبان، انتشارات دانشگاه تربیت مدرس: تهران، ۱۳۹٦ .
۱٦. گیدنز، آنتونی و بردسال، کارن. جامعه شناسی. مترجم: حسن چاوشیان. نشرنی: تهران، سال ۱۳۹۸ .
۱۷. لودین، دولت محمد. ژبه او ټولنه، ختیځ ادبي بهیر: جلال اباد، ۱۳۹۵ ل کال.

۱۸. مجید، عظیمه. لهجه شناسی، کابل: انتشارات امیری: کابل، سال ۱۳۹۸ .

۱۹. مدرسی، یحیی. درامدی بر جامعه شناسی زبان، پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی: تهران، ۱۳۹۹سال.

۲۰. میلانیان، هرمز. آزادی و بند در زبان و مقالات دیگر، هرمس: تهران، سال،١٣٩٦.

۲۱. همای، یحیی. پرتلیزه- تاریخي ژبپوهنه، پکتوس خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۴۰۱ کال .

۲۲. یول، جارج. نگاهی به زبان (یک بررسی زبان شناختی)، ترجمۀ نسرین حیدری: تهران، سال، ۱۳۷۴ .

٢٣. Holmes, J. ٢٠١٣. An introduction to soiciolinguistcs (٤th ed.). Edinburgh, UK: Pearson Education

٢٤. Hudson. R. A. (١٩٩٩). Sociolinguistics. London: Cambridge University Press.

٢٥. Lyons, John. ٢٠٠٩. Language and Linguistics. London: Cambridge University Press.

٢٦. Rasool, Syed Hanif. ٢٠١٦. Comprehensive Notes on Introduction to Linguistics. Peshawar: Ijaz Printers and Publishers

٢٧. Wardhaugh, R. (٢٠٠٧). An Introduction to Sociolinguistics. London: Basil Blackwell Ltd

٢٨. Yule, George. ٢٠١٠. The Study of Language. UK: Cambridge University Press.

پوهندوی سید اصغر هاشمي

# د کاوون توفاني د شعرونو منځپانگیزه څېړنه

# Analysis of the content of Kawan Tofani's poems

**Assistant Prof. Sayed Asghar Hashami**


## Abstract

In this article, it has been discussed about the importance of Kawon Tofani's poems in terms of lyricism and artistry, and what issues are seen in the poet's poems in terms of content. Kawan is a great poet of Pashto language. There are some verses in his poems, but they are of high value in terms of content. In the poet's poems, there are new words in terms of content, and we have proved that the poet's poems have new words in terms of meaning.

## لنډیز

په دې مقاله کې په دې اړه خبرې شوې دي چې د کاوون توفاني شعرونه د شعریت او هنریت له مخې کوم ارزښت لري، د شاعر په شعرونو کې د منځپانگې له مخې کوم مسایل ډېر لیدل کېږي. کاوون د پښتو ژبې لوړ شاعر دی. په شعرونو کې یې ځینې منظومې هم شته، خو د محتوا له مخې لوړ ارزښت لري. د شاعر په شعرونو کې د منځپانگې له مخې نوې خبرې شته او دا مو ثابت کړل چې د شاعر شعرونه د معنا له مخې نوې خبرې لري.

## سریزه

په دغه مقاله کې د کاوون توفاني د شعرونو ځینې معنوي اړخونه څېړل شوي دي او په راتلونکې کې په هره برخه یې نوی کار کېدلای شي. د شاعر په شعرونو کې ترانې، شعر د هنر او ژوند لپاره، اروایوهنیز ځرکونه، د کډوالۍ ځرکونه، له هېواد سره مینه، انسان دوستي او داسې نورې خواوې شته. د دې موضوع ارزښت په دې کې دی چې کاوون خورا ښه شاعر دی او ځینې نظمونه یې هم لوړ ارزښت لري او پښتو ژبې کې د ځینو سیاسي او نورو لاملونو پر بنسټ په کافي ډول څېړنې پرې شوې نه دي او دا کار به د پخوانیو کارونو په پام کې نیولو سره یوه بله نوې څېړنه شي چې د لیکوال د شعر او هنریت افاقیت به په کې ځرګند شي او د شعرونو هغه منځپانګیزه خوا به یې ښکاره شي چې د شاعر په شعرونو کې ډېر لیدل کېږي. په پښتو ژبه کې هر علمي کار ارزښت لري او د هر ښه علمي کار اړتیا لیدل کېږي. په نورې نړۍ کې د کاوون پر کچه شاعر باندې په لسګونو آثار لیکل کېږي، خو پښتو ژبه کې لا تر اوسه په دې لوی شاعر باندې یو مستقل اثر لیکل شوی نه دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

کاوون د پښتو ژبې ښه شاعر دی چې لس شعري ټولګې یې په دوو ټوکونو (د سیندونو سردونه) اثر کې چاپ شول. د یو شاعر چې لس ټولګې چاپ شوي وي او شاعري یې د یو ځانګړي سبک له مخې ویل شوي وي او بیا هم پرې کار دورمره شوی وي چې په نشت حساب وي، نو اړتیا لیدل کېږي چې پښتانه لیکوال، څېړونکي او عالمان په داسې کسانو باندې علمي کار وکړي او هغه پټې خواوې چې د شاعر په شعرونو کې وي، خلکو ته ښکاره شي، چې همدغه کار موږ کړی دی او د دې مقالې ارزښت په همدې کې دی.

## د څېړنې موخې

د څېړنې موخه دا ده چې د کاوون توفاني د شعرونو منځپانګیزه شننه او څېړنه وشي. پخوا تر دې د کاوون په شاعرۍ او ژوند ځینې خبرې شوې وې، خو د دغه موضوع نوښت به دې کې دی چې کاوون له نوي لیده کتل شوې او د شعرونو په منځپانګه یې ژور بحث ترسره شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د کاوون توفاني په شعرونو کې د منځپانګې له مخې کومې برخې ډېرې ليدل کېږي؟
۲ـ د کاوون د شاعرۍ په منځپانګه کې کومه برخه غني ده؟
۳ـ د کاوون شاعرۍ د خپلې ټولنې د ټولنيز شعور په وده کې کوم نقش لرلی دی؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تحليلي ـ تشريحي ميتود او د څېړنې له کتابتوني ډول څخه کار اخېستل شوی دی.

## د مقالې متن

د پنځګر شخصيت، چاپيريال، وراثت او داسې نورو سکالو په پوهاوي سره د پنځګر د پنځونې په لاملونو پوهيدلی شو. د ليکوال د زېږېدنې ځای، دندې، سياسي موقف، اقتصادي ژوند، د چاپيريال علمي کچه او د داسې نورو مسايلو په اړه پوهاوی، د متن په څېړنې او د هر شعر، بيت، کلمې، ژبې او سېمبول په شننې او سپړنې کې مرسته کوي. کاوون شاعر دی؛ د ښه شعر د ټولو لوازماتو په پام کې نيولو سره يې په شعرونو کې نوښت ليدل کېږي. که چېرې د شاعر په شعرونو کې نوښت او ابتکار وي، د شاعر شعرونه او افکار به تلپاتې وي. د شعر د تيورۍ پېژندنې له مخې د کاوون شعرونه نوې خبرې او افکار لري چې وروسته به پرې خبرې وکړو. موږ په دې مقاله کې کوښښ کوو چې د شاعر د شعرونو معنوي اړخ باندې خبرې وکړو چې د شاعر په شعرونو کې کومې خبرې او مسـأيل ډېر ليدل کېږي. کاوون ډېر ښـه شـاعر دی، د شـعر خلاقيت يې په شـعرونو کې ښـکاري، موږ يې احساسـات، له هېواد سره مينه، انسـان دوسـتي، نړيوالتوب، له بشر سره همدردي، د بدو کړنو غندنه او په لسګونو داسې نور موضوعات يې په شخصيت کې موندلای شو.

### د کاوون په شعرونو کې ترانې

د ترانو مخينې او پېژندنې په پام کې نيولو سره د کاوون په شعرونو کې ترانې ليدل کېږي. ترانې ځانګړی ريتم او موزيکال جوړښت لري چې په انفرادي او ډله ييز ډول د يوې ځانګړې موخې لپاره ويل کېږي. ډېر وخت ترانې په ارادي ډول ليکل کېږي چې په داسې ليکنو کې شعريت نه وي، خو د کاوون ترانې په غير ارادي ډول ليکل شوې دي او له شعريت او هنريت څخه مالامال دي.

د کاوون د موقف په پام کې نيولو سره ويلای شـو چې ډېرې ترانې يې د ځانګړو خلکو لپاره ويلي دي. د ځوانانو شـور او ولولې پاڅوي، خلک ويښـوي، خلک هڅوي، خلکو ته پېغور ورکوي او داسـې نور مسـأيل وړاندې کوي. ډېر وخت په شـعرونو کې شـعريت ته ارزښـت ورکول کېږي، خو ترانو کې شـعريت ته ډېر پام نه کېږي، خو د کاوون شـعرونه ترانې دي او ترانې يې شـعرونه دي؛ ترانې يې د شـعر په ډول شـعريت لري او د شعر ځانګړنې لري او شعرونه يې د شعري ځانګړنو په پام کې نيولو سره ښې ترانې دي. په شـعرونو کې له پېچلې ژبې څخه کار اخېسـتل کېږي او ښـه شـعرونه ځانګړې ژبه، ترکيبونه او جوړښـتونه لري. ترانې مخاطب ته په سـاده او روانه ژبه ليکل کېږي او له شعر څخه يې ژبه او د ژبې کارونه توپير لري، خو د شاعر ترانې د شعرونو او د ترانو د ژبې يوه ګډوله ده چې دا يې د شـعرونو يو بل کمال او خلاقيت دی. په شـعرونو کې قافيه، وزن، عروض، انسـجام، تخيل او د شـعر نور توکي راوړل کېږي، په ترانو کې دغه برخه لږه ليدل کېږي، خو د شاعر ترانې د وزن او عروضو په برخه کې له شـعرونو سره سـمون لري او د شـعر د نورو خواوو په پام کې نيولو سره ښـې ترانې ورته ويلای شو.

د ترانو په محتوا کې ټولنيز مسـايل او د رياليزم نظريات ليدل کېږي، بيتونه يې لنډ وي، تکراري وي او په يو ځانګړي سـبک ليکل کېږي. شـعرونه په ځانګړي فورمونو کې ويل کېږي، يا به عروضي شـعري کالبونه وي (غزل، قصـيده، مثنوي، رباعي، مسمطونه او داسې نور)، يا به ولسـي شعري کالبونه وي او يا به ازاد شعري ډولونه وي او همدارنګه زموږ په لرغونې دورې کې يوه بله برخه هم شـته چې نه ورته عروضي شعرونه ويلای شو او نه هم ورته ولسـي او ازاد شعرونه، بلکې دا هغه شعري ډولونه دي چې کوم ځانګړی کالب نه لري، د ريګويدا او اوسـتا د ګاڅونو او سـندرو په وزن او منځپانګې ويل شـوي دي، خو ترانې کوم ځانګړی فورم نه لري او موږ نه شـو ويلای چې ترانې يوازې او يوازې په يو کالب کې ويل کېږي او يا په کوم مشـخص کالب کې ويل کېږي. کېدای شي ترانې په هر کالب کې وويل شي. په پښـتو ژبه کې په ترانو بايد نوي او ښې څېړنې وشي، دا بايد څرګنده شي چې ترانې څه ته وايي؟ شاعر ولې ترانې ويلي دي؟ له شـعرونو سره د ترانو توپير په کومو خواوو کې ليدل کېږي؟ شـاعر

څومره ترانې ويلي دي؟ او په لسګونو داسې نورو پوښتنو ته ځواب ويلای شو او د کاوون په شعرونو کې د ترانو څېړنه يوه اړينه موضوع ده.

## د کاوون شعرونه د (هنر د هنر لپاره) او که (هنر د ژوند لپاره)؟

د کاوون په شعرونو کې يوه بله موضوع چې بايد وڅېړل شي، هغه (هنر د هنر لپاره) نظريه ده. د انسان له پيدايښت سره يې د ښکلا خوښونې ذوق په دننني نړۍ کې وي، د طبيعت له منظرو څخه خوند اخيستل، مينه کول، ذوق او شوق پالل او داسې نور هغه مسايل دي چې د هنر د هنر لپاره د نظريې تر سرليک لاندې پرې بحث کېدلای شي. د کاوون د شعرونو کمال دا دی چې له طبيعت سره خبرې کوي، د طبيعت ښکلا انځوروي، د لوستونکي ذهن يوه بله نړۍ ته بيايي او د ښکلا په سمندر کې يې لاهو کوي. همدارنګه په ډېرې پټې ژبې د رياليزم موضوعات يادوي؛ يعنې شعرونه يې د ژوند د ښېګڼې په اړه ډېرې لارښوونې لري. فساد غندي، د انسانيت ستاينه کوي، د ښځو د حقونو پلوی دی او په لسګونو داسې نورې خبرې لري چې د ژوند د ښېګڼې په اړه نظريات دي. شعرونه يې د هنريت پر ګانه هغه سمباله وينا ده چې د ټولنې د ښېګڼې خبرې لري. يوه ډله پوهان په دې اند دي چې هنر بايد د هنر لپاره وقف شي، بله ډله وايي چې هنر د ژوند لپاره وي، خو حقيقت دا دی چې په هنر کې دا دواړه برخې وي او د انسان او چاپېريال لپاره دا دواړه خواوې اړينې دي چې ښه بېلګه يې د کاوون شاعري ده چې دا دواړه خواوې لري او زموږ څېړونکي يې په دې خوا هم څېړنه کولای شي. د غوره شوي شاعر له شعرونو پرته د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم دغه خواوې شته او بايد وڅېړل شي او آن تر دې چې د يو شاعر په شعرونو کې په پرتليز ډول دغه دوه خواوې پيدا کولای شو. دغه دوې نظريې خپلې تيوريګانې لري او د هرې تيورۍ په پام کې نيولو سره کولای شو چې د پښتو ژبې د ډېرو شاعرانو په شعرونو کې دغه برخه ولټوو او پرې څېړنې وکړو.

## د کډوال کاوون په شعرونو کې ارواپوهنيز ځرکونه

کاوون د کډوال او مهاجر شاعر په ډول شعرونه او شخصيت يې د څېړنې يوه ښه موضوع ده. د کډوالۍ ادبياتو ته په دري کې د مهاجرت ادبيات وايي، پر دې سربېره ځينې پوهان ورته د تبعيد او مسافرت ادبيات هم وايي چې په حقيقت کې داخلي توپيرونه لري. په انګليسي کې ورته ډياسپورا وايي چې ريښه يې ډېره پخوانۍ ده. په

نړۍ کې د انسـانانو له پیدایښـت سره مهاجرتونه پیل شـول، خو کله چې په نړۍ کې فرهنګي پرمختګونه او توپیرونه را منځته شول، ټولنې ډېرې شوې او سره جلا شوې، نو د انسـانانو تر منځ را کړه ور کړه، سـیاسي سـتونزې، اقتصـادي کړکېچونه، د یو هېواد اقتصـاد د بل هېواد له اقتصـاد څخه لوړتیا او په لسـګونو داسـې نور لاملونه وو چې په اختیاري او جبري ډول انسانانو خپلې ټولنې پرېښودې او له یو ځای څخه بل ځای ته ولاړل. کاوون هم یو له هغو شـاعرانو څخه وو چې د جبري سـتونزو له امله یې هېواد پرېښـود، نو ځکه یې په شـعرونو کې د کډوال کېدو اغېزې لیدل کېږي. کډوال کېدل او ګډوالي د جبر او ستونزو یو پړاو دی چې انسان یې تېروي. په ځینو خلکو دغه وخت سـتونزمن تېرېږي، ځکه چې هر انسـان یو ډول داخلي جوړښـت نه لري او د انسـاني توپیرونو په پام کې نیولو سره دغه حالت په چا ډېر سـخت تېرېږي او داسـې خلک به هم وي چې ورته ډېر سـتونزمن نه وي. کله چې خلک له خپل هېواد څخه په ارادي او جبري ډول بل هېواد ته ځي، هلته له ځینو ستونزو سره مخامخېږي، د دغو ستونزو له امله انسانانو ته یو ډول نه یو ډول رواني ستونزې پیدا کېږي چې لاملونه به یې وروسته وڅېړل شي. کله چې موږ له خپل هېواد سره د مینې یادونه کوو، لامل یې دا دی چې موږ په کې پیدا شـوي یو، زموږ د بدن څلور عنصـــــرونه له هېواد سره اړیکه لري، د بېلګې په ډول خاوره، اوبه، هوا او اور هغه توکي دي چې زموږ د هېواد یوه برخه ده او موږ هلته پیدا شوي، لوی شوي او شوني ده په کې مړه شو. په رواني ډول زموږ په روح او روان کې له هېواد سره مینه له همدغو لاملونو سره تړاو لري، نو ځکه کارل ګوســتاو یونګ په خپلو څېړنو کې وایي چې د انسـان په ټولنیز لاشـعور کې یوه موضـوع چې د یادونې وړ ده او موږ ورته زړبېلګه/ ارکي ټایپ وایو، د هېواد په نوم یادېږي چې همدغه هېواد ته مور او خاوره ویل کېږي، نو له هېواد سره د مینې یو لامل دا دی چې په ټولنیز لاشـعور کې ور سره اړیکه لرو او مور ورته ځکه ویل کېږي چې انسـانان په خپل هېواد کې پیدا کېږي، د مور او پلار په وسـیله چې کومه نطفه ټاکل کېږي، دغه نطفه له یو ځاځکي اوبو څخه جوړېږي او دغه اوبه له بېلابېلو غَلو، دانو او مېوو څخه لاســته راځي، نو یو نه یو ډول انسانان له هېواد او ا صلي ټاټوبي سره اړیکه لري، نو ځکه ورته په ډېرو هېوادونو کې مورنی هېواد ویل کېږي.

د همدغو لاملونو پر بنسټ په نړۍ کې کډوال که هر څومره ښه ژوند ولري، ارامه وي، خو بیا هم د خپل هېواد ارمان کوي او په ارادي او غیر ارادي ډول هېواد هېرولای نه شي. کله چې د کډوالۍ د ادبیاتو بېلګې ولوستل شي، که دا هنري نثرونه وي او که شعرونه وي، په یو نه یو ډول یې ویناوې له هېواد سره اړیکه لري، یا به د هېواد ارمان کوي، یا به په هېواد کې د تېر ژوند، کوچنیوالي، کورنۍ، ملګرو، چاپېریال او د هېوادنۍ جغرافیې د کایناتو د هرې برخې یادونه کوي، نو ځکه د کډوالۍ په ادبیاتو کې له هېواد سره مینه لیدل کېږي.

د کاوون په شعرونو کې د ارمانونو یوه لویه برخه شته، د ماشومتوب ارمان، د هېواد او په هېواد کې د خلکو ارمان او دا سې نور ارمانونو کوي. د افغانستان په تاریخ کې د کډوالۍ سلسله او کډوال کېدل په وروستیو لسیزو کې ډېره وه، لاملونه یې جنګونه، سیاسي ستونزې، فقر، خراب اقتصادي حالت، غربت، نا امني او داسې نور دي. د افغانستان خلک بېلابېلو هېوادونو ته مهاجر شول چې په دوی کې که پر پوهانو، روښانفکرو او لیکوالو باندې خبرې کوو، ډېر یې اروپایي او غربي هېوادونو ته کډوال شوي دي. په دوی کې ډېر لږ به په خپلې خوښې له هېواد څخه بهر ته تللي وي، په دوی کې ډېر/ ټول د ځینو ستونزو پر بنسټ له هېواد څخه کډوال شول چې په دې کې سیاسي بد حالت، فقر، بې عدالتي، ناامني او په لسګونو نور ټولنیز خراب حالات یې ښې بېلګې دي. «د مهاجرت/ کډوالۍ او د ډیاسپورا ادبیات له دوو پخوانیو یوناني کلمو (dia) او (speirein) څخه اخېستل شوی دی، د (تیت، شیندل شوي او مسافر) په معنا دی. په لومړیو کې دغه اصطلاح (Diaspora) ټاکلی او محدود پېژند درلود چې د یهودانو غربت، مسافرت او شیندلو ته ویل کېده. د فلسطین له فتحې څخه وروسته بابلیانو او رومیانو دغه اصطلاح وکاروله، له دوی وروسته د کډوالو یونانیانو او ارمنیانو لپاره ترې کار اخېستل کېده، خو په وروستیو پېړیو (د شلمې پېړۍ) په پای کې دغه اصطلاح لویه، پېچلې او هر اړخیزه معنا خپله کړه او څېړونکو پرې څېړنې او پلټنې وکړې.» (۱: ۱۱۹)

«د مسافرت/ ډیاسپورا ادبیاتو اصطلاح له استعمارونو څخه وروسته یې ریښه څېړل کېږي چې د نړۍ په تاریخ کې د افغانستان لپاره په لسګونو وروستي کلونه د مهاجرت لپاره یو بوګنوونکی پړاو دی. ډیاسپورا/ د کډوالۍ ادبیاتو تاریخ په یوناني فرهنګ کې

ریښــه درلوده. د دې اصــطلاح لومړنۍ بېلګې د کروندګرو لپاره اســتعمالېدې، چې د تخم شیندل او تیت اچولو په معنا دی. وروسته دغه ا صطلاح په جهان کې د کډوالو یونانیانو او یهودانو ته وکارېده. د اســتعمار معقوله د کډوالۍ له حرکت او جوهر سره اړیکه لري. اســتعمارګران د خپل هېواد د ابادۍ لپاره د خپلو ځمکو او هېوادونو د ابادولو لپاره دهقانانو ته په لږ لګښــت اړتیا درلوده، دغه بېکاري پر یو تجارت باندې بدله شوه او ډېر خلک نورو هېوادونو ته د تګ لپاره اماده شول. په دهقانۍ کې د ګڼو حا صلاتو لاسته راوړلو او په ځمکوالۍ کې د امریکا او اروپا د اقتصادي پرمختګ لپاره ارزانه بشري فزیکي سرمایي ته اړتیا درلوده، له همدې امله د مستعمره هېوادونو څخه یې مریان او غریب خلک راوړل او له دوی څخه یې فزیکي ګټه اخیســته، دغه کســان ډېر وخت د جنوبي او غربي افریقا وو. په نولســمې پېړۍ کې د مریيتوب د قانون له منځه تللو وروســته د ارزانه کارګرو لپاره د تور رنګو له نژاد پر ځای بېلابېلو نورو نژادونو او رنګونو دغه ځای ونیو چې له دوی څخه هندیان، مالیزیایان، چینایان او داســې نور د یادونې وړ دي.» (۱۴: ۲۱۵)

د کډوالۍ په ادبیاتو کې یوه اړینه موضــوع د نژاد ده. اروپایان ســپین نژاده دي، دوی خپل نژاد او رنګ ته په نورو نژادونو او رنګونو غوره والی ورکوي؛ یعنې کله چې د دوو فرهنګونو د تقا بل خبرې کوو او یا د کډوالۍ په ادبیاتو خبرې کوو، یوه اړینه موضوع په کې د شرق او غرب د هویت او ټولنو تقابل دی چې نژاد په کې د یادونې وړ دی. په غرب کې سپین نژاد ته د متمدن فرهنګ او تور نژادو ته ورو سته پاتې فرهنګ خطاب کوي، په دې ډول د تورو وېښــتانو خاوند تور سر او تور زړه لري او داســې یې یادوي، لکه تورې سترګې، تور وېښتان، تور فکر، تور موبایل او دا سې نور تور شیان د شرق د نژاد استازیتوب کوي او غرب سپین رنګ خپل غوره والی بولي.

### د کاوون پر شعرونو رواني اغېزې

د افغانستان فرهنګي، علمي او روښانفکره قشـر چې کله نورې نړۍ ته کډوال شو، نو هلته یې نثرونه او شـعرونه ولیکل، دا خبره د یادونې وړ ده چې د افغانسـتان کډوال شــاعران او لیکوال په زوره د ډېرو ســتونزو له امله له هېواده تللي دي، نو ځکه د نورو هېوادونو د شــاعرانو او لیکوالو په نســبت د دوی په ویناوو او افکارو کې د کډوالۍ

اغېزې ډېرې ليدل کېږي او د کډوالۍ د ادبياتو د تيورۍ په پام کې نيولو سره ښـــو څېړنو ته اړتيا لري. د کډوالۍ په ادبياتو کې د انســان داخلي نړۍ او روان دی چې شــاعر دې ته مجبوروي چې پنځونه وکړي. د پورته خبرې په تاييد، رواني افکار د داخلي او بهرنيو عواملو يوه ګډه او مشترکه خزانه ده چې د داسې افکارو اصلي منبع يادې دوه خواوې لري. کله چې يو شاعر له بهرنيو حواسو په وسيله له داخلي حواسو سره اړيکه پيدا کوي، په دنننۍ نړۍ کې يې خوځښت پيدا کېږي او کله کله د کډوالۍ په ادبياتو کې له داسې ښېلګو سره مخامخ کېږو. هر انســـان د راتلونکي هيله لري، خو کله چې له خپل هېواد څخه کډوال شي، هيلې يې نيمګړې شي، نو ځکه په داســې مواردو کې يې افکار له رواني اړخه خبرې لري. په داسې ادبياتو کې انسـان له خپلې داخلي نړۍ سره اړيکه نيســـــي او د داســې ادبياتو اصلي ځان خپله انسان وي، د انسان ماضي وي او د انسان هغه تېر وي چې د ده له لاشعور او ټولنيز لاشعور سره تړاو لري. په وروستيو وختونو کې نړۍ له پرمختګ سره سره له يو ډول ســـتونزو سره هم مخامخ ده، دغه ســـتونزې له چاپېريال سره تړاو لري، د نړۍ ټولې وحشتناکې پېښې د انسان په داخلي نړۍ کې ځای لري او د ځينو عملونو په وسيله د شعور سطحې ته راځي. شعور له لاشعور څخه ځان خلاصولی نه شي، لاشعور د شعور په کارونو کې لا سوهنه کوي او انسان په خپلې ارادې کې په ا سانۍ بريالی کېدلی نه شي، لامل يې دا دی چې ډېر شيان د لاشعور تر جبر لاندې د شعور په دايره کې پېښېږي، چې کاوون ورته داسې نغوته کوي:

زه د وطن د جګو غرو بوټی يم
دلته پردي چمن کې نه شين کېږم
په لمر خاته کې مې ريښه ښخه ده
دلته غربي ګلشن کې نه شين کېږم

***

دلته پردی يم، څوک مې نه پېژني
زما عزت او زما پت هلته دی
دلته پردي جنت کې نه ځايېږم
زما دوزخ، زما جنت هلته دی

(۷: ۸۴ ـ ۸۵)

کاوون ځان پردی ګڼي، د کمترۍ احســـاس کوي، نه یې ځوک پېژني او نه دی ځوک پېژني. نه ځان د نورو سیال ګڼي او نه یې نور خپل سیال ګڼي. شاعر خپل شعر په کډوالۍ کې ویلی دی، په دې شان په سلګونو او زرګونو لیکوال شته چې په همدې ډول ســـتونزو سره مخامخ دي. لیکوال کډوال دی، نه خاندي او نه د نورو په محفلونو کې شرکت کوي، نه یې د خندا ملګري شته او نه یې د ژړا، نه د چا خو ښې ته ځي او نه د چا په خپګان کې برخه اخلي. دی له خپل هېواد څخه جلا شـوی دی، د زمان او مکان ســـیاسي، جګړه‌ییز، فرهنګي او نورو ســـتونزو له هېواد څخه کډوالۍ ته مجبور کړی دی. هر ډول ستونزې ورته کډوالۍ پیدا کړې دي.

د پنځګر په افکارو کې رواني مســـایل په ډاګه ښـکاري. شـاعر په خپل هېواد کې خوښ او ازاد انســـان دی، ښــه ژوند لري، قدر او عزت لري، خو په پردي هېواد کې یې خیرات‌خور ګڼي، د پردي په ســـترګو ورته ګوري. د شـــاعر په دې بیتونو کې د خپل هېواد او د کډوال شوي هېواد تر منځ ټکر لیدل کېږي، له سرو سکروټو تښتېدلی دی، خو د پردي په هېواد کې له تومتونو څخه ځان خلاصـــولی نه شي. په خپل هېواد کې یې یو ډول ســـتونزې درلودې، په دې هېواد کې بل ډول ســـتونزې لري، د حال او د ماضي له ستونزو څخه شکایت کوي.

په کډوالۍ کې یوه لویه ستونزه د فرهنګونو توپیر دی، د حال او ماضي له فرهنګي ټکرونو څخه یو بل نوی فرهنګ منځ ته راځي چې له دې تقابل څخه انســـان ته رواني ســـتونزې پیدا کېږي او شـعرونه د روانپوهنې له اړخه څېړنو ته اړتیا لري. د کډوالۍ په ادبیاتو کې دا ســـتونزه ډېره ده، کډوال له یوه داســـې هېواد څخه ځي چې هلته یې یو عمر تېر کړی دی، له خپل هېواد سره هر اړخیزه اړیکه لري، کوم هېواد ته چې راغلی دی، هر څه ورته پردي دي، دی پردی دی، هېواد پردی دی، خلک پردي دي، نو ځکه په ارادي ډول یې افکار له تېر سره اړیکه نیســـــي او خپلې تېرې خاطرې په حال کې ځرګندوي.  لیکوال له پردي هېواد څخه شـــکایت کوي، د کډوالۍ په ادبیاتو کې د خپل هېواد غندنه لږه وي، خو بیا هم کله کله د خپل هېواد نیمګړتیاوې او ستونزې په ګوته کوي. شاعر د شرق هېوادونه د مینې ځای ګڼي. دا څرګنده خبره ده چې د شرق په هېوادونو کې فرهنګي مسایل له غرب سره توپیر لري. که د غرب ژوند هر څومره ښه

وي، بیا هم د خپل هېواد ډېر شیان، دودونه، فرهنګي مسایل او نور ټولنیز موضوعات په غرب کې نشــته، نو ځکه د زمان له دغې تقابل څخه یو بل فکر پیدا کېږي. شــاعر شــکایت کوي چې پردي هېواد کې اوســېدلی نه شي، هېواد پردی ګڼي، ځان خپل هېواد کې هست ګڼي او د پردي په هېواد کې ځان نیست ګڼي.

**د کاوون په شعرونو کې د تېر ارمان (نوستالیژیا) شننه**

انســان په حال کې د تېر تر اغېزو لاندې وي. د شــاعر په شــعرونو کې د تېر ارمان لیدل کېږي، دغه ارمان یوه اروایي موضــوع ده. د تېر ارمان کول د هغو لیکوالو په ویناوو کې هم شته چې په خپل هېواد کې ژوند کوي، خو له دوی څخه د هغو لیکوالو په افکارو کې ډېر لیدل کېږي چې په کډوالۍ کې ژوند تېروي. وايي:

تورې خاورې به یې پورې کړم په سترګو
که قسمت یو ځلي بیا وطن ته بوتلم
تودې اوښکې به یې پرخه کړم د ګلو
که کوم باد هغه ښایسته چمن ته بوتلم

* * *

دا څو کرښې چې لیکمه کله کله
هسې ځان در یادومه کله کله
فاصلې زموږ تر منځ نورې کلونه
په خپل خیال یې لنډومه کله کله
تا خو یو ځل زما نوم په خوله وا نه خیست
زه دې هم اوس هېرومه کله کله
تورې شپې دې ستا یادونه دي او زه یم
په ژړا یې تېرومه کله کله
ستا تصویر مې د خاطر پر پاڼه ناست دی
خاطرې مې پرې لیکمه کله کله
ستا د مینې ګل مې شین د زړه پر سر دی
د زړه وینې ورکومه، کله کله
(۷: ۱۲۲)

نوستالیژیا یوه رواني موضوع ده چې د ادبیاتو او ارواپوهنې د دوه اړخیزو خبرو له مخې بحث ته اړتیا لري. کله چې یو انسان له خپل هېواد څخه لرې شي، د خپل هېواد ارمان ورته راځي. « پابلو نودا په خپلو خاطرو کې یادونه کوي: (چې زما له زړه نه عقیده دا ده چې انسان باید د خپلې زېږېدنې په ټاټوبي کې ژوند وکړي او هم په دې باور یم چې د انسان بې ریښې کېدل له هغه ځایه چې په کې زېږېدلی او را لوی شوی وي، د هغه په خنثی کېدو او شنډېدو پای ته رسي، د هغه غوړېدا، ځلا او روښانتیا کوي. زه یواځې په خپل هېواد کې داسې احساس کوم چې ژوندی یم او ژوند کوم، همدا سې ده تر هغه چې احساس ونه کړم چې پښې او لاسونه مې د خپل هېواد په خاوره ټینګ نه وي ایښي او غوږونه مې د هستوګنې او زېږنځای کې حرکت وکړي، د پارچاوونو اواز او د ځنګلونو او ونو فریاد ته غوږ نه وي ایښی او خپلې ریښې مې د هغه له خاورین وجود سره اړیکه لري او د مورنۍ سینې نه تغذیه ونه کړم، نه شم کولی ژوند ته دوام ورکړم او د ژوند له خوند او د ژوندي پاتې کېدو نه خړوب شم.» (توفاني۸: ۱۵)

## د کډوالۍ په وخت کې د کاوون اروا‌پوهنیزه ژبه

د کډوالۍ په ادبیاتو کې د هرې کټګورۍ لیکوال او پنځګر شته، په دوی کې ډېر دا سې کسان شته چې له پټې او سېمبولیکې ژبې څخه کار اخلي. له دې ژبې څخه ګټه اخېستل خپل لاملونه لري. که نړیوال ادب په مقیاس کې ګورو، پر مارسل پروست باندې د سېمبولیستانو اغېز ډېر و. دلیل یې دا و چې هغه خپله د سېمبولیستانو محافلو ته تګ راتګ کاوه او بې له شکه چې د غیر ارادي حافظې سیستم د هماغه یاد راوړلو ځانګړنې تر اغېز او له «ادګار الن پو» نه را هیسې سېمبولیستانو ترې کار اخېسته. د پروست عطر، مزه او منظره لو ستونکی ناخاپه تېر مهال ته ورستنوي. هغه هڅه کوي چې خپلې لرې ماضي کې ځان په حال زمانه کې درك کړي؛ نو پر دې اساس باید ووایو چې له بهرنۍ نړۍ څخه ذهن ناځاپه د چمتووالي حالت ته را اوړي، چې د عادت له مخې حافظه شاته پرېږدي او له ارادې پرته د تېر زمان په پوهېدو کې په حال زمان کې ډوبېږي.) (۱۲: ۱۲۲)

د کډوالۍ د ادبیاتو تخلیقي ژبه له هغو ادبیاتو سره توپیر لري چې په هېواد کې

ویل کېږي. دغه ژبه خپلې ځانګړنې لري او لاملونه یې ښکاره دي. د کډوالۍ په وخت کې د یو ویل شوي شعر درې نیم بیتي راوړم او د هغو کلماتو یادونه کوم چې په ټولیز ډول د کډوالۍ ادبیات او په ځانګړي ډول د کډوالۍ په ادبیاتو کې د رواني ژبې په برخه کې له کومو مسایلو څخه کار اخېستل کېږي. (۸: ۷)

میکدې ته یې محشر په اوږو راوړ
څه تأثیر دی د ډېوې په سره لمبه کې
(۸: ۱۲)

د (خوب لیدل، محشر او لمبې) د انسان له ذهن او روان سره تړاو لري او شاعر په داسې وخت کې ویلي دي چې له بېلابېلو رواني ستونزو سره مخامخ دی. په همدې ډول په سلګونو داسې نورې کلمې شته چې د رواني‌وهنې له اړخه که وڅېړل شي، هغه کلمې دي چې د انسان په مغز او فکر کې جوړې شوې دي او کډوالي، درد او په بل هېواد کې ستونزې یې ثابتوي. د بېلګې په ډول څو هغه کلمې راوړم چې د شاعر په شعرونو کې ډېرې لیدل کېږي، لکه:

پتنګ، ډیوه، اوښکې، اور، تور، شپه، زخمي، خاموشي، مسافرت، بېګانه، ماضي، سپېره، پېغور، ګناه، ماتم، جنازه او په سلګونو داسې نورې بېلګې شته چې د شاعر احساسات او درد ثابتوي. یوازې په همدې یوې شعري ټولګې کې له سلو څخه ډېر به د (شپې) له کلمې څخه کار اخېستل شوی وي چې په حقیقت کې دغه لفظ د شاعر له لاشعور او ټولنیز لاشعور سره تړاو لري او د هېواد د پرېښودلو له امله د کډوالۍ په ادبیاتو کې دغه برخه ډېره لیدل کېږي. که چېرې د کډوالۍ په ادبیاتو کې په سبکي ژبې کار کېږي، دې پایلې ته رسېږو چې د کډوالۍ د ادبیاتو ژبه او په ځانګړي ډول اروا‌پوهنیزه ژبه یې په تکراري ډول داسې کلمې لري چې د لیکوال له ماضي او حالاتو سره اشنا کېدلای شو. د کاوون د شعرونو ژبه، د شاعر رواني ژبه، د شاعر هنري ژبه، د شاعر توفاني او باغي ژبه او په داسې نورو خواوو یې څېړنه تر سره کېدلای شي. هر محتوایي خوا خپله ژبه لري چې د شاعر په شعرونو کې دغه ټولې خواوې شته.

## د کاوون په شعرونو کې د خوبونو یادونه

د کاوون په شعرونو کې د خوبونو او تور رنګ ډېره یادونه کېږي، خوبونه په توره شپه کې لېدل کېږي. د خوب، شپې او تور رنګ درې اړخیزې اړیکې د څېړنې وړ دي. د

شـــپې په راتګ سره تور رنګ پيدا کېږي، د بېلابېلو ســـتونزو له امله د ليکوال خوب تښتي. د رنګونو په څېړنه کې د رنګ ارواپوهنه پر بېلابېلو رنګونو بحث کوي او د انسان پر شخصيت او روان باندې د هر رنګ اغېز ښيي. د رنګونو استعمال له پخوا زمانو څخه په مصـــر، هند او نورو ځايونو کې موجود وو، د مصـــر په لرغونو عبادتخانو کې به له داســـې رنګونو کار اخېســـتل کېده چې د انســـان روح او نفس ته به يې ګټه درلوده او ناروغان به يې دغو عبادت ځايونو ته د درملنې لپاره راوړل. د مصـر ملايان په دې نظر وو چې رنګونه ژوند ژغوري او بې له رنګه ژوند بې رنګه وي، همدا رنګونه دي چې د روغتيا قدرت او جادو لري. په چين او هند کې د انسان درملنه د (کروماتراپي) په څېر رواج وه. ځينې پوهان لا په دې باور دي چې د انســـان د بدن هره داخلي او بهرنۍ عضوه له يو ډول رنګ سره اړيکه لري او د همدې رنګ په وسيله هماغه غړی فعاليږي او که همدا رنګ ورته ونه رســـېږي، فعاليت يې کمېږي. تور د خپګان رنګ دی، متل دی (زړه مې ور څخه تور دی). تور رنګ ډيپريشن پيدا کوي چې لوی لامل يې دا دی چې د دې رنګ په اســـتعمالولو سره رواني انرژي له لاســـه ورکول کېږي او په شـــاعرۍ کې د سېمبولونو په ډول له رنګونو کار اخېستل کېږي چې تور رنګ د مړينې سېمبول هم دی. د بېلګې په توګه سره او شـــنه رنګونه د خوښـــۍ رنګونه دي، زيړ، خړ او تور رنګونه ساړه او بې روحه رنګونه دي چې غم او خپګان تداعي کوي. څېړنو ښودلې چې ناروې شـمالي قطب ته نږدې ده، په ژمي کې شـمالي ناروې ډېرې اوږدې شـپې لري، هلته د خپګان ســـلنه له جنوبي ناروې زياته ده چې لامل يې په جنوبي کوريا کې د شپو لنډوالی او په شمالي کوريا کې د شپو اوږدوالی ښودل شوی دی.د خوبونو په اړه ويل کېږي چې يو ډول يې اهورايي (خير) خوبونه دي او بل ډول يې اهريمني (شر) خوبونه دي، د انســـان تېر ژوند او شـخصـيت په خوبونو کې ښـکاره کېدلای شي، هغه خلک چې شرارتي دي، په تېر ژوند کې يې د خير پر ځای د شر کارونه ډېر کړي وي، خراب خوبونه ګوري، ځکه چې لاشـــعور يې له همدغو خرابو حوادثو څخه ډک وي او هغه څوک چې ښه خوبونه ګوري، تېر ژوند يې د انسانيت او اسلاميت پر ګاڼه سمبال

وي. د خوبونو موضـوع د ارواپوهنې یوه برخه ده چې د کډوالۍ په وخت کې د کډوالو شاعرانو په شعرونو کې ښکاره کېږي. مخکې مې يادونه وکړه چې د کډوالۍ د ادبياتو په رواني ښېلگو کې له داسې کلمو سره مخامخېږو چې د انسان د روان او روح تر اغېزو لاندې را منځته کېږي. کاوون وايي:

هره شپه چې خيال کې لاړ شم د آشنا د ياد کوڅو ته
ځلوم د اوښکو ستوري، تورو شپو تورو تيارو ته
هره شپه د يار تصوير وي او ښيښې زما د سترگو
هره شپه زخمي يادونه، خوب مې نه پرېږدي لېمو ته
که زما د زړه په وينو ستا گلونه تازه کېږي
هره ورځ به يې ډالۍ کړم، ياره ستا مړاوو غونچو ته
د آشنا د ياد تصويره، چېرته لاړې نه دې وينم
زړه مې هره شپه تخنيږي، ستا خوږو خوږو قصو ته
که زما په تباهۍ دې، شرط ترلی وي رقيبه
نيت دې بيا له سره وکړه، خوب دې ووايه اوبو ته
يوه ورځ به درنه واخلم، انتقام د سرو غوټيو
يوه ورځ به سلامي شې، زموږ خړو دېوالو ته
څه بې خونده شولې مينې، څه بې رنگه شولې وينې
څه بې ميو شولې پينې، اور يې نه راځي پيالو ته
گلان ووتل له باغه، وينې څاڅي له اياغه
رڼا لاړه له څراغه، سترگې سرې شوې ژړېدو ته
څه چې ووځو جانانه، د غمونو له ټاپو نه
دا بدنامه کوڅه پرېږدو، څو بدمستو لېونو ته

(۷: ۲۲)

په پورته شعر کې د شاعر سياسي موقف، کډوالي، د کډوالۍ رواني ژبه، په رواني ژبه کې يې ســـېمبولونه، د خوب ليدل، د متحرک ذهن په پام کې نيولو سره د (تور)

کلمې ډېره کارونه او داســې نور مســایل په دې دلالت کوي، چې د شــاعر شــعرونه د کډوالۍ په وخت کې ویل شوي دي.

## د کاوون په شعرونو کې د هېواد زړه بېلګه

د کډوالۍ په ادبیاتو کې له خپل هېواد سره اړیکه ډېره ژوره وي. له ماضي سره د پنځګر اړیکه له لاشعور سره ارتباط لري، چې په دې اړه فروید ډېرې څېړنې کړې دي. په کډوالۍ کې د ځینو بهرنیو حواســو په وســیله انســان د داخلي حواســو تر اغېزې لاندې راځي او د خپل هېواد ســتاینه کوي، ارمان یې کوي. لاشــعور په شــعور غالب برلاسی کېږي او په لاشعور کې پراته ګودام شوي مسایل ځان ښکاره کوي. د یونګ د نظریې له مخې انســان له ټولنیز لاشــعور څخه ځان خلاصــولی نه شي؛ ډېرې داســې زړې بېلګې او ارکي ټایپونه شته چې انسانانو ته له نسلونو نسلونو را پاتې دي.

پښتو کې زړېبېلګې، پارسي/ دري کې کهن الګو او صورت مثالي، په انګلیســي کې ارکي ټایپ، له یوناني ژبې څخه اخېستل شوی دی چې (ارکي) د «ا صیل او پخواني» په معنا او (ټایپ) کالب او بېلګې ته وایي؛ یعنې د خلکو هغه پخواني نظرونه چې په یو چوکاټ کې وړاندې شــوي دي. خلکو ته حقیقت نه ښــکاري؛ خو دا هغه تاریخي کیســې دي چې په شــفاهي ډول شــتون لري او له اســطورو څخه لاســته راځي. ځینې شیان له پېړیو پېړیو د بشـــر په ټولنیز لاشعور کې پاتې دي. د بېلګې په ډول له مرګ څخه وېره او د تلپاتې ژوند هیله له زړو ارکي ټایپونو څخه دي چې د نړۍ لومړنیو انسانانو یې په اړه فکر کاوه او تر نن ورځې پورې د نړۍ ډېر انسانان دا هیله لري چې تلپاتې ژوند ولري.

د مور کلمه د نړۍ په ټولو فرهنګونو کې شـــته او کله چې مور یادېږي، د نوم په اورېدلو سره یې په ذهن کې یو تصـــویر پیدا کېږي چې د دې تصـــویر ځای زموږ په لاشــعور او ټولنیز لاشــعور کې شــته او له نســلونو نســلونو او یا د نړۍ له پیدایښــت سره میندې موجودې وې، د بېلګې په ډول د نړۍ د لومړنیو انســـانانو هابیل او قابیل مور بي بي حوا په ټولو اسلامي فرهنګونو کې د لومړنۍ مور په نوم یادېږي. په حقیقت کې دا یوه زړه بېلګه او ارکي ټایپ دی. کارل ګوســتاو یونګ د لومړي ځل لپاره د اســاطیرو پر بنیاد ټولنیز لاشعور ته ا شاره کوي، یونګ د (زړېبېلګو/ ارکي ټایپ) ا صطلاح د بدوي

انځورونو لپاره چې په هر بشـــري، قومي او ټولنیز لاشعور کې ځای لري کاروي، هغه وایي: «دا انځورونه د ا سطورې، مذهب، خوبونو، شخصي اوهامو په بڼه او په پایله کې په ادبي اثارو کې د سېمبولونو په توګه انعکاس کوي.

د کاوون په شــعرونو کې له هېواد سره مینه، هېواد ته د مور ځای ورکول، له هېواد سره رواني او روحي اړیکې او داسې نور مسایل د ارواپوهنې د زړو بېلګو/ صورت مثالي د موضوع لاندې بحث ته اړتیا لري. وایي:

ما ته یاد شي ځومره سخته او ترخه وه
هغه ورځ چې مور له یو بل نه جلا شو
ته په خپلې لارې ولاړې، زه په خپلې
د ژوندون په لویه دښته کې تنها شو

***

ستا له سترګو څڅېده غمې د اوښکو
خو په شونډو دې ترخه موسکا خوره وه
نه خو تا را ته څه وویل نه ما څه
پوهېدو چې د وصال وروستۍ شېبه وه

***

ما دې سترګو کې لوستلې تور قسمت و
ما دې زلفو کې لیدلې تورې شپې وې
ما لیدل چې تورتمونه وو په مخ کې
ما لیدل چې را خورې تورې تیارې وې

***

اوس چې ګورمه د وخت غرو له شانه
لا تر اوسه مور هماغسې تنها یو
نه مو لارې بېرته بیا یو بل ته رسي
نه د مینې ناوه کې منزل ته بیایو
(۷: ۱۴۷)

***

پردېسه چېرته ځې، د چا په هيله
د کوم ارمان په لوري لاره وهې
منزل دې کوم دی، دمه ځای دې چېرته؟
له کومه راغلې او په کومه درومې،
په دې اوږده،
کږه وږه لاره،
تنهاکې پښې.
(۷: ۱۵۰)

د هېواد ارمان کول، په هېواد کې له پيدايښــت او په هېواد کې د ژوند تېرولو سره تړاو لري. د کـاوون پـه شــعرونو کې د هېواد ارمـان کول، هېواد جوړول، د هېواد پرېښـودل، پر هېواد باندې د ظالمانو غندنه او داسې نورې خبرې په دې دلالت کوي چې شاعر په يو نه يو ډول له هېواد سره اړيکه لري.

کلونه وشول چې له تا نه جلا شوی يمه
کلونه وشول چې په تا مې سترگې نه خوږېږي
کلونه وشول چې دنيا لکه زندان ده راته
کلونه وشول چې د سا وزر مې نه غوړېږي
اوس مې يادېږي هغه تللي هغه تېرې شپې
هغه د گلو غوندې ښکلې او رنگين وختونه
هغه د مينې د رڼا په مېوو مستې ورځې
هغه ساده هغه سپېڅلي نازنين وختونه

په پورته ټولو بېلگو کې شـــاعر د هېواد يادونه کوي، هېواد د مور حيثيت لري. کله چې انســـان پيدا شي، له هېواد سره يې مينه په روح او روان کې د بېلابېلو لاملونو پر بنسـټ پيدا کېږي، له هېواد سره يې مينه داســې وي، لکه له مور سره يې اړيکه، يا له خاورې سره يې ارتباط، نو ځکه هېواد د مور او خاورې په نوم يادېږي. شـــاعر له هېواد سره مينه لري، له خاورې سره مينه لري، ده ته هېواد او خاوره يې د مور حيثيت لري، لامل يې دا دی چې له موره پيدا دی، هېواد کې لوی شـوی دی، له موره تغذيه شـوی

دی، د هېواد له خاورې يې غلې دانې تر لاسه کړې او خوړلي دي، نطفه يې له همدې خاورو پيدا شوې ده او دا سې نور مسايل دي چې انسان له خاورې او هېواد سره ژوره اړيکه لري. د کاوون شـــعرونه د اروابوهنې له اړخه څېړل کېدلی شي چې بېلگې يې پورته څرگندې شوې. د اروابوهنې له اړخه چې کومو خبرو ته اړتيا وه، پورته يې يادونه وشــوه، خو نور ډېر رواني موضوعات هم شــته چې د شــاعر په شــعرونو کې لټولی او څېړلی شــو. له څېړونکو غوښــتنه کوم چې د کاوون او د نورو شــاعرانو په شــعرونو او داستاني ليکنو کې د اروابوهنې بېلابېلې خواوې وڅېړي.

## د کاوون په شعرونو کې د عقلانيت په اړه خبرې

د کاوون په شعرونو کې يوه بله مو ضوع د عقل يادونه ده. دی هغه شاعر دی چې شعر يې روان او په ساده توب کې پېچلي مسـايل وړاندې کوي. د عقل کلمه يې په شـعرونو کې شته، خو هر چېرته يې عقل د عقلانيت او ښوونې او روزنې په معنا کارولی نه دی.

وطنه سر به مې لوگی کړم درنه
ته مې د عقل او ايمان نښه يې
(۳: ۵۰)

شـــاعر هېواد ته د ايمان او عقل امتياز ورکوي. عقل ته د ايمان په نظر کتل په حقيقت کې د عقل لوړتيا ښيي او عقل او عقلانيت ته ارزښـت ورکول دي. شـاعر د يو روښــانفکره په ډوله په ښــوونې او روزنې ټينگار کوي او عقل د ښــوونې او روزنې لپاره اړين گڼي.

د عشق جنون راته د عقل تدبير ونړاوه
ځکه مې بيا درپسې سوي فريادونه خيژي
(۳: ۷۰)

دلته د کاوون په شـعرونو کې د عشــق او عقل جگړه ليدل کېږي. د عقل بحث له تصوف او عرفان سره تړاو لري. د شاعر په شعرونو کې د تصوف او عرفان په اړه خبرې د څېړنې وړ دي. صوفيان او عارفان عشق ته لوړ مقام ورکوي، خو کله کله عقل دومره لوړو مرتبو ته رســوي، چې له عشــق سره يې برابروي او ان له عشــق څخه يې هم لوړ گڼي او کله کله عقل د عشق په ځای کاروي او ځينې دا سې شاعران هم شته چې د عشــق او عقل تر منځ يې په فکر کې تضـاد موجود وي او د عشــق او عقل تر منځ يې

ويناوو کې جګړه ليدل کېږي. د عشـــق او عقل تر منځ متقابلې خواوې ډېره پخوانۍ ســـابقه لري. د نړۍ له پرمختګ سره عقل او عقلانيت ته پاملرنه زياته شـــوې ده او د نړۍ فيلسـوفانو د عقل په ارزښـت غږېدلي دي. د نړۍ د فيلسـوفانو خبرې له عقل او تفکر سره سره له عشق سره تړاو لري. که اپلاتون د عقل پلوی دی، خو په همدې حال کې د مُثل نظريه يې له عـشق سره اړيکه لري. د پښتو ژبې شاعرانو په شعرونو کې د عشق او عقل جګړه په حقيقت کې د عرفان او فلسفې تقابل دی، خو که فلسفه دقيقه ولوســـتل شي، ډېر نظريات يې له عرفاوو سره ګډې خواوې لري. د عشـــق او عقل (د شهودي معرفت او علمي معرفت) تر منځ تقابل ډېره پخوانۍ سابقه لري. دغه موضوع د عارفانو او فلاسـفه وو تر منځ د بحث وړ موضـوع ده. عارفان په سـير او سـلوک کې د بصـيرت او قلبي معرفت خبرې کوي او په دغه بيان کې يې د عشـــق د کلمې معنا د زړه، ذوق او په نورو معنا وو اخېســـتی دی. له قلبي بصـــيرت څخه موخه د معرفت يو ډول دی. عارفان دغه معرفت د حســـي او شهودي تجربو په وسيله تر لاسه کوي. دغه تجربې د داخلي نړۍ په ژورو او د روح په ريښـــو کې ځای لري او ســـالک (عارف) د حقيقت په طرف رهبري کوي، خو د ظاهري علومو پوهان د نړۍ په اړه خپل نظريات لري، د عارفانو سره متفاوت افکار لري. په ځمکني مذهبونو کې د عارفانو نظريات له فلاسفه وو سره توپير لري، خو په ځينو موادو کې سره يو شان دي.

(د عقل او عشـق يو تر بله اړيکې او اهميت د يادونې وړ دی. هغه هم د (ناتمام عقل) چې مولانای بلخي يې (دانش ناقص) بولي، غندنه کوي. عشـق په عقل ښـايسـته او عقل او عشق بې عشقه هېڅ ګڼې.) (۹: ۱۴)

د تصوف په دنيا کې د ناتمام عقل يادونه کېږي، فردي عقل د تعقل دا توانايي نه لري چې هر شی ثابت کړي، خو يو کُلي عقل شته چې دا عقلونه يې پيدا کړي دي. فردي عقل ناتمام عقل دی چې د هڅو او هاند په و سيله کو ښښ کوي چې حقايق تر لا سه کړي. مولانا رومي ورته ناقص عقل او پوهه وايي. عقل د عشـــق په وســـيله د پياوړتيا مرحلې ته رسېدلی شي. عقل هغه وخت سم تعقل کوي او د تفکر پايله يې د حقيقت لاسته راوړلو لپاره وي چې زړه د عشق له انوارو ډک وي. عقل او فکر د زړه له جوړوالي پرته نيمګړی وي.

د عارفانو په نظر تعقل او استدال د هغې خلاف چې مشهور شوی دی، په هر ځای کې نا معقول نه دی. د نجم الدین رازي په نظر د عشق او عقل تر منځ باید متضاد فکر له منځه ولاړ شي، چې وکولای شو په دې اړه سم قضاوت وکړو. هغه د عقل په اړه داسې نظر لري، چې د عقل سیر د عالم په بقا کې دی او د اوبو صفت لري چې هر ځای ته رسیدلی شي، ابادي راوړي خو د عشق سیر عالم فنا کې دی او د اور صفت لري. عقل د جسماني او روحي عالمونو قهرمان دی خو عشق د دې دوو عالمونو سوزند حالت دی. د دې په فلسفي مطالعاتو کې عقل ته لوړ ارزښت ورکول شوی دی او د عشق په مقابل کې ورته ارزښت قایل دی. عقل باید خپل موقف وپېژني او د سالکانو لپاره باید رهنما وي، خو عقل د عشق له نظره وړوند دی او په داخلي نړۍ کې یو بل سلطان شته چې حکمراني کوي. د کاوون په شعر کې عقل دلته له بېلې زاویې څېړنې ته اړتیا لري او دا خبره هم وا ضبح شوه چې د کاوون شعرونه تصوفي او عرفاني څرکونه هم لري.

د نجات په خاتمه کې
د خام عقل څپو یوړه
د رڼا شغله شوه ډوبه
د خیرنې شپې په کام کې
د جنون وچه بیدیا وه
عقل بند په ځنځیرونو
زمری ووت له قفسه
(۲: ۱۱۰)

دلته یې د (خام عقل) یادونه کړې ده، عقل له پوخوالي پرته خاموالی هم لري، د عقل خام والی او پوخوالی د دیني مطالعاتو له مخې له زړه سره تړاو لري او د فلسفې له مخې د پوهې، منطق او استدال سره اړیکه لري. په دینې او فلسفي توګه عقل یو له بله ګډې خواوې لري، دین که عقل ته ارزښت ورکوي، فلسفه هم د عقل په کمال او لوړتیا ټینګار کوي. کاوون وایي چې عقل په ځنځیرونو تړل شوی دی، د عقل تړل کېدل د ناپوهی په معنا دی، د عقل بندي کېدل د بیان او فکر د ازادۍ له منځه تلل دي. دلته له عقل څخه موخه څو اړخیزو خبرو ته اړتیا لري.

**د کاوون په شعرونو کې نشت اباد او درد اباد**

د فروید د نظریاتو له مخې انسان د لاشعور تابع وي، په شعوري او ارادي چارو کې لاشعور لاس لري او کله کله انسان بې اختیاره کېږي، نو ځکه له هېواد سره مینه، په هېواد کې له خلکو سره مینه، په هېواد کې ستونزې او په لسګونو داسې نور لاملونه دي چې انسان په یو نه یو ډول له هېواد سره اړیکه پیدا کوي او اړیکه لري. د هېواد ډېر شیان موږ ته په میراث کې پاتې دي؛ هېواد هغه زړه ببلګه ده چې د انسان په روح، روان، وینه او داخلي نړۍ کې ځای لري. د کاوون شعرونه د هېواد د درد په اړه خبرې لري، کله هېواد ته د ستونزو او ځینو نورو لاملونو پر بنسټ نشت اباد وایي او کله کله ورته درد اباد وایي.

په نشت اباد کې مې د چا د مخ شغله ولیده
په کنډوالو کې، د لالونو کان ته ورسېدم

***

د نشت اباد ګرېوان ته وڅځېده
د ژوندانه له کرښې پورې وته
او د خپل سوال ځواب ته ورسېده

***

ساعت نښتی، په دېواله کې
زمان خوځېږي، تر نشت اباده
یو سیوری ناست دی، ثانیې شماري
چې ته به راشې، د اشنا یاده

***

له دې لویه درد اباده، له دې کوزه، له دې پاسه
کومه پایله به وا نخلې، له ثبوته له قیاسه

***

د مینې درد اباد کې فریادونه لا ژوندي دي
د سترګو په چینو کې، دریابونه لا ژوندي دي

***

کلونه تېر شول د دې باغ غوټۍ ونه غوړېدې
د وچې دښتې د اغزو باغوانه ومې بخښه
نور درنه ځم، په درد اباد کې دې یوازې پرېدم
زما زړګیه، د غمونو خانه ومې بخښه

***

پر زړه غمونه باروم له دې بلاده وځم
زما له ښکلي، غم لړلي درد اباده وځم

***

یو ځل خو راشه، تر درد اباده
که یو ځل بیا مې، ګوتو ته راغلې

***

په منډو واوړي، له درد اباده
ساعت ټکېږي، سکون یې نشته
(۴: ۳٦، ۳۸، ۵۰، ۸۰)

ټوله نړۍ د ښـــې ټولنې ارمان کوي، دغه ارمانګرایي یا ارمانپالنه له ډېرې پخوا زمانې څخه د انســان په داخلي نړۍ کې شــته، د جنت ارمان کول او پر جنت باندې باور د دې لامل شوی دی چې په نړۍ کې د ښو ټولنو ارمان وکړو. کاوون د یو فکرمند او ښه شاعر په ډول د یوې ښې ټولنې ارمان کوي، نو ځکه یې په شعرونو کې د نشت اباد او درد اباد په اړه داسې نظریات لیدل کېږي، چې د مدینه فاضـله، ارمانښـار او د لمر له ښار سره متضاده خوا لري. شاعر د ارمانښار په هیله د ښې ټولنې ارمان کوي. مدینه فاضله، مدینه کرامیه، ارمانښار، د عدالت، انسانیت او د ښو کړنو ښار ته وایي. دا هغه خیالي ځای دی چې هر ډول ښې کړنې پکې تر سره کېږي، د عدالت له مخې یې ســـاری نه لیدل کېږي. په حقیقت کې د هرې ســـتونزې جرړه بې عدالتۍ ته رسېږي. کله چې اپلاتون په جمهوریت کې د ارمانښار او د مدینه فاضله نظریه وړاندې کوي، یو اساسي لامل یې د یونانیانو په وخت کې له سوکرات سره د بې عدالتۍ قضیه ده. د ناســمې ټولنې او غېر عادلانه قضـاوت او ناســمې ټولنې پر بنسـټ ســوکرات پر

مرگ محکوم شـــو او د زهرو جام یې په سر واړاوه. د کاوون په شــعرونو کې درد اباد او نشت اباد د ارمانښار د ادبیاتو برعکس نظر وړاندې کوي. شاعر د ښې ټولنې په ارمان اوس هم ارماني دی. زموږ هېواد څلویښــت کاله مخکې چې کومې ســتونزې درلودې، اوس یې هم لري، نو د نړۍ په تاریخ کې هره ټولنه او په ټولنې کې هر انســان د ښــې ټولنې ارمان کوي چې په داســې کســانو کې کاوون توفاني هم د یادونې وړ دی؛ زموږ نور څېړونکي یې په شعرونو کې د ارمانښار نظریه هم موندلای شي.

د ارمانښار ادبیات هغه ادبیات دي چې ارماني ټولنه ترسیموي او د دا سې ټولنې غوښتونکي وي چې هېڅ ډول ستونزې په کې نه وي. په ادبیاتو کې دغه مفکوره ډېره پخوانۍ ده او د بشـــر له تاریخ سره اړیکه لري. د بین النهرین د سومریانو په لومړنیو نظریاتو کې دا مفکوره لیدل کېږي. د ســومر یانو د گلگمېش په حماســـه کې د گلگمېش نږدې ملگرۍ مړ کېږي. ســومریانو پر مرگ باور نه درلود، خو د انکېدو له مرگ وروســـته گلگمېش سره د مرگ فکر پیدا کېږي او د تلپاتې ژوند هڅه پیلوي، په همدې لټه د انکېدو له مرگ وروســـته بلې نړۍ ته ځي، هلته د هوایي مرغانو غږونه نشته، حیوانات نشته، شر او شور نشته، زمریانو ظلم نه کوي، کونډې او یتیمان پکې نه وي، مریضـــي گانې نه وي، زړښت نه وي او داسې نورې خبرې د ارمانښار بېلگې دي. بېلا بېلو لیکوالو ارمانښار له خپلې زاویې ترسیم کړی دی. د تامس مور (اتوپیا)، د اناکارســیس کلوتس (جمهوري جهاني)، د ویکتور هوگو (روزگاران اینده او رویای والا)، د توما سو کامپانلا ( شهر افتاب)، د فرانسیس بیکن (اتلانتیس نوین) او دا سې نور آثار او لیکوال د یادونې وړ دي. ابو نصـــر فارابي د یوناني فلسـفي پر پیروۍ او د اپلاتون د نظریې پر ا ساس ارمانښار ترسیموي او د ښې ټولنې بحث پیلوي. د ده اثر (اندیشه‌های اهل مدینه ی فا ضله) د منځپانگې له مخې د ارمانښار مو ضوع وړاندې کوي او په سیاسي برخه کې یې ډېرې خبرې د اپلاتون له جموریت سره اړیکې لري.) (١٦: ١٢٣)

شــاعر په هېواد کې د ســولې ارمان کوي، دغه ارمان په کلونو کلونو زموږ د هېواد د خلکو ارمان دی. شــاعر په ډېرې خواشــینۍ سره هېواد پرېږدي، په هېواد کې یې ډېر دردونه لیدلي دي، په دې جغرافیه کې د کایناتو هر توکی خپه دی، درد زغمي، نو

ځکه ورته درد اباد وي؛ يعنې هغه ځای چې د دردونو تجربه لري او پر دردونو باندې جوړ شــوی دی، د دردونو ا بادي ده، د دردونو کور او کلي دي او ټول هېواد درد او ستونزې دي.

**کاوون او انسان دوستي**

شاعري د هر چا کار نه دی، شاعر ډېر حساس انسان وي، په داخلي نړۍ کې يې درد، د نړۍ د انسانانو په اړه فکر، د هېواد د انسانانو خير ښېګڼه غوښتل، تعصب نه کول، مذهبي تضـاد په پام کې نه نيول او په ټوله کې ښـه شـاعر ښـه انســان وي او د يوې ښې نړۍ ليد خاوند وي. د کاوون په شعرونو کې داسې شعرونه نشته چې په هغه کې د يو قوم او ژبې خلکو ته په نورو غوره والی ورکړل شـــوی وي، د يو مذهب خلک ستايل شوي وي او د بل مذهب غندل شوي وي، تور ته په سپين او سپين ته په تور غوره والی ورکړل شـــوی نه دی، د يو ځای خلک غوره او د بل ځای خلک بد ښـــودل شـوي نه دي. ما يو ډېر ښـه شـاعر ولوسـته، يو ښـه شـاعر مو د کار لپاره غوره کړ، د يو لوی انســان او شـاعر شـعرونه مو ټولنې ته وړاندې کړل. زه يې په جرأت سره وايم چې کاوون خورا ښه شاعر دی. د شاعر شعرونه د انساني همدردۍ او انسان دوستۍ په اړه ډېرې خبرې لري، چې په راتلونکي کې نورو څېړونکو ته لارښوونه کوم چې د کاوون په شعرونو کې په انسان دوستۍ علمي څېړنې تر سره کړي. په شعرونو کې يې د انسان دوستۍ خبرې له بېلابېلو زاويو څېړنې ته اړتيا لري:

ستا انسان

ستا زوريدلی انسان

دا زيار ايستونکی، رنځيدلی درديدلی انسان

دا د شاهانو اميرانو د ستم له لاسه

را پرزيدلی انسان

په خپلو وينو کې سور شوی لمبيدلی انسان

دا زوريدلی انسان

ماته له هر څه ګران دی

***

دا هم انسانه ده د نورو غوندې

دا ربړیدلې او دردمنه ښځه

***

زه له انسان سره د مینې په تور
د خپلو وینو ډنډ کې ولمبیدم

***

زه هم انسان یم، مینه پېژنمه
او زړه مې هم له غوښو جوړ دی، د ډبرو نه دی
خو لا تر اوسه مې خندلي نه دي
او پسرلی مې په رڼو سترګو لیدلی نه دی

***

راځئ چې د ټوپک ژبه د تل له پاره پرې کړو
راځئ چې په رښتیا سره ملګري د انسان شو

***

یه د انسان دښمنه!
توپک دې واچوه پر ځمکه باندې
د ژوندانه غوټۍ په اور مه وله
پرېږده چې پاکه شي هوا له دوده
(٦: ٥٠، ٥٥، ٥٨)

په فیوډالي نظامونو کې په غریبو ډېر ظلم کېږي او انساني همدردي پکې لږه وي. شـــاعر په دې فکر کې دی چې کارګرې طبقې ته فکر وکړي چې خپل حق وغواړي او کار وکړي او همدارنګه سرمایه داره پرې رحم وکړي. په شعرونو کې یې یوه لویه برخه د ښځو د حقونو په اړه غږ پورته کول دي. ښځو ته یې حق غواړي او باید ورکړل شي.

په هغو ټولنو کې چې جنګ، سیاسي ستونزې او په لسګونو داسې نور مشکلات وي، هلته د انســـان دوســـتۍ فکر لږ وي، نو ځکه شـــاعر د جنګ غندنه کوي او د جنګ کوونکو دواړو خواوو ته وایي چې ټوپک کېږدي او سوله وکړي.

### د کاوون په شعرونو کې ځان پېژندنه (خودي)

د کاوون په شعرونو کې خودي/ خود شناسي د ارواپوهنې او ا سلام له اړخه خبرې لري. د دې دواړو خواوو تر منځ توپير کول اړين دي. د اسلام له اړخه خودي د ځان په اړه فکر کول، د ځان پېژندل، په ځان کې فکر کول، په ځان څېړنه کول او د خود کشفول دي. په دې برخه کې انسان د ځان پېژندنې په وسيله د ځان په اړه فکر کوي او هغه ا ستعدادونه چې په خود کې شته، کشفوي. دري ادبياتو او په ا سلامي تصوف کې خودي تر ډېره حده متعارف مفهوم دی. منصـــور چې د خودۍ خبره کوي وايي: اناالحق، ســـنايي يې ځان غوښـــتنې او خود پرســـتۍ ته وايي، مولانا وايي: «انچه اندر وهم نيايد ان شـــوم». د کاوون په شـــعرونو کې خودي«من عرفه نفســـه فقد عرفه ربه» مفهوم لېدل کېږي او په همدې وخت کې د ارواپوهنې له اړخه نظريه هم وړاندې کوي. علي کرم الله وجه وايي«له ټولو خورا ښــه پېژندنه د نفس پېژندل دي.» د شــاعر په شــعرونو کې د دوو خواوو له مخې د خودۍ بحث د يادونې وړ دی. د نفس جګړه د ارواپوهنې له اړخه څېړنې ته اړتيا لري. له نفس سره مجادله د لاشعور او ټولنيز لاشعور سره اړيکه لري. وايي:

ځان مې لټوه جانان مې ومونده
ورک شومه له ځانه ځان مې ومونده
لاړم د تقوا غونډۍ ته وختم
ورک مې کړ يقين، گمان مې ومونده
(۲: ۱۱)

شـــاعر په ځان کې جانان پيدا کوي، په ځان کې د يار پيدا کول لټول غواړي، د هستۍ کمال همدا دی چې د انسان هره عضوه په توازن او برابر ډول پيدا شوې ده. (ورک شـــومه له ځانه ځان مې ومونده) په بيت کې د شـــاعر فکر او نظر د دويم ژوند او معنوي زېږېدنې له نظريې سره تړاو لري. په تصوف، عرفان، خدای پېژندنې او فلسفه کې د انسان په دوه گونو خواوو بحثونه کېږي چې دغه دوه خواوې د انسان له ظاهري او باطني جوړښت او رغښت څخه عبارت دی. ډېر اديان، پوهان او فرهنگونه د انسان د دنننې جوړښـــت يادونه کوي چې کله کله دغه بحث زړه او اروا سره تړاو پيدا کوي. که ابن عربي په باطنيت او دنننې ځواک ټينگار کوي، افلاطون هم ورته نظر لري او

انسان د لوړتیا پوړۍ ته د رسېدو لپاره د دنني نظام یادونه کوي. د کامل انسان او په انګریزي ادبیاتو کې د سوپر مین ځانګړنې په انساني ښو ځانګړنو کې دي چې د انسان د دنننۍ نړۍ سره تړاو لري. د معنوي زېږېدنې نظریه د انسان له دننه سره اړه لري، په دنني نظام کې بدلون راځي او انسان یو نوی ژوند پیلوي. د عارفانو له لیده انسان درې ډوله ژوند لري، درې ډوله مرګ لري او له درې ډوله قیامت سره مخامخېږي. د درې ډوله ژوند په برخه کې یو طبیعي ژوند دی، دې ته ذاتي ژوند هم وایي چې د نړۍ انسانانو ته ورکول کېږي، په دې برخه کې انسانان سره یو شان دي، خو په کسبي ډول انسان کولای شي چې خپل برخلیک وټاکي او خپله اړیکه له خالق سره جوړه کړي، دې ډول پیدا کېدلو ته جسمي پیدایښت وایي چې د مور او پلار له خوا تر سره کېږي او د کرموزومونو د یو ځایوالي په وسیله تر سره کېږي. په دې پیدایښت کې د نارینه وو او ښځینه وو جنسیت ټاکلو دنده د پلار ده او دا امتیاز خالق تعالی انسان «نارینه» ته ورکړی دی. له دې پیدا کېدلو څخه سربېره بل ډول پیدایښت ته معنوي او غیر ارادي زېږون وایي. په دې ډول پیدایښت کې منکرات او ناسم کارونه پرېښودل کېږي او درېیم ژوندون له جسماني مرګ څخه وروسته په بلې نړۍ «اخرت» کې تلپاتې ژوند دی. یو طبیعي او غیر ارادي مرګ دی چې د خالق تعالی له خوا انسان ته په تقدیر کې مقرر شوی وي. دویم مرګ د منکراتو او له ناسمو کارونو پرېښودلو سره پیلېږي چې دا هم د الله پاک له خوا په لوح محفوظ کې لیکل شوی وي. له نفس سره مبارزه، د شهواني او غیر انساني کارونو پرېښودل دي. دې ډول مړینې ته اختیاري مړینه وایي. د غیر ارادي او ذاتي مرګ په برخه کې د دې یادونه اړینه ده چې انسان په دغه برخه کې بې اختیاره دی، خو د اختیار سلبېدل یې د انسان په ګټه دی او په ازل کې ده ته د هر شي لیکل یې په ګټه دي. د انسان جنسیت ټاکل له پیدایښت څخه وروسته یو غیر ارادي کار دی، دوی ته غذا رسېدل د دوی په خوښه نه وي، په دوی چې کومې خوښې او خپګانونه تېرېږي، د دوی په لاس کې نه دي، د دوی پیدا کېدل غیر ارادي دي، د کروموزومونو دنده د دوی په خوښه نه ده، ژینونه د دوی په خوښه کار نه کوي؛ یعنې «ډي این ای» د بل چا په لاس کې دي. په حقیقت کې جسمي زېږون د معنوي زېږون لپاره وي. که چېرې یو انسان

دويم زېږون ونه کړي، نو جسمي پيدايښت به يې تر پوښتنې لاندې وي. که انسان پيدا شي او ځانګړنې يې د انسان نه وي او انساني ستونزې ولري، نو له دې څخه څرګندېږي چې پيدايښت يې کومه معنا نه لري.

«د عمر په اړه له يو عالم څخه پوښتنه کېږي:

ـ څو کلن يې؟

ـ ويې ويل: څلور کلن يم.

دا څنګه کېدلی شي؟ ويې ويل: اويا کاله کېږي چې د دونيا په حجاب کې يم؛ يعنې له دونيا سره اړيکه لرم او دنيوي انسان يم. د اخرت په اړه بې پروا وم، خو څلور کاله کېږي، چې هغه وينم، نو ځکه زما اصلي عمر همدا «څلور» کاله دی.» (۱٦: ۵٦)

د کاوون په شعرونو کې ډېر داسې بيتونه شته چې د خودي/ ځان پېژندنې له اړخه خبرې د اسلام له خواو خبرو ته اړتيا لري.

## د کاوون په شعرونو کې د عشق پلټنه

(د غرونو او سيندونو سرودونه) اثر کې د مجازي او حقيقي عشق بېلګې شته. دلته د کاوون عشق فردي نه دی، انساني دی. سرښندنه او قرباني ده. له انسان سره عشق دی. د ټولو انسانانو لپاره، د تور او سپين لپاره بې تفاوتي نه ده، د تُرک، تاجک او د داسې نورو تر منځ تعصب او تبعيض نه دی، د کافر او مسلمان برابري ده. تصوفي عشق د ټولو انسانانو د زړونو يو ځای کول او پيوندول دي. د انسان له برخليک سره مينه ده. د تصوف عشق لوړو پوړيو ته رسېږي چې د نړۍ انسانانو ته تلپاتې ژوند غواړي. عشق لويه مرتبه لري، د عشق او مينې ځای زړه دی، له همدې امله زړه لوړ مقام لري او د عشق ارزښت په همدې کې دی چې ځای يې په زړه کې دی او د زړه کمال او جمال دا دی چې عشق پالل شي.

مينه د انسان له اړينو ځانګړنو څخه ده، په قرآن کريم کې د مينې لپاره (حُب)، په ادبياتو او اسلامي عرفان کې د (عشق) معنا کاريدلې ده. کله چې په انسان کې دا ځانګړنه پيدا شي، په انسان کې جوش او جذبه پيدا کېږي. الله تعالی په قرآن کريم کې په خپلې مينې او مهربانۍ ټينګار کوي، خپل ځان ته رب العالمين وايي، رحمان او مهربان وايي. ډېر سورتونه د الله تعالی په مينې پيلېږي. الله تعالی څلويښت مرتبې له بندګانو سره د مينې يادونه کړې ده او د محبت کلمه د اسم او فعل په ډول ۷۴

ځلې کاريدلې ده. عشـق له خلکو څخه نه زده کېږي، بلکې د الله تعالی له بخښـنو او ډاليو څخه دي، يا ځينې ليکي چې عشــق د اروا يوه ســتاينه او منصــب دی. شــاعر وايي:

**د رازونو جهان**

له خپله ځانه وتښتېدم، سيوری د جانان شوم
په تا کې مې ځان وليده، خپل ځان ته مې حيران شوم
ځنځير مې خپلې غاړې ته د سر په بيه واخېست
خپل ځان مې زنداني کړ او خپل ته ځان مې زندان شوم
عاشق د الوتو شوم د اسمان تر پولو ولاړم
بيا تا پسې راکښته شومه څاڅکې د باران شوم
په مخ کې دې ولاړ يمه خو سر مې نه ټيټېږي
همدا توره مې وکړه چې لايق د امتحان شوم
ټوټې ټوټې را پرېوتمه ستا په کنډوالو کې
را شين شومه له ځمکې ستا په ورانو کې ودان شوم
نه اور وم، نه اوبه ومه، نه باد ومه، نه خاوره
چې تا ته مخامخ شوم، د رازونو يو جهان شوم
چمن مې تا ته پرېښووده، ما خپله کړله شاړه
له باغه دې را ووتم، غاټول د بيابان شوم
له ما نه وروسته راغلې، خو زما ځنې ړومبی شوې
ته وختلې پورته، خو زه پاتې شوم انسان شوم
(توفاني، ۱۳٦۲، ۸۰)

د تصـوف د علم له مخې حسـونو او عقل څخه برسـېره عشـق هم د پوهې تر لاسـه کولو يوه لاره ده چې سم او حقيقي پوهه د عشق په وسيله تر لاسه کېږي. د حسونو تر لاسـه کېدل او علمي چارې د عقل په وسـيله تر لاسـه کېږي، په همدغې ډول د عقل پوره کېدل او لاربښوونې عشق کوي. که چيرې له عقل سره عشق ملگری نه وي، عقل له ســتونزو سره مخامخېږي، نو ځکه عقل بايد د ځان د بشــپړولو لپاره د حقيقت په

پلټلو کې عشـــق د ځان ملګری کړي. حقيقي عشـــق (له خالق تعالی سره مينه) او مجازي عشق (له انسانانو سره مينه) ده. د خدای او انسان اړيکې نژدې دي، نو ځکه د الله تعالی حقونه او د انســـانانو حقونه يو په بل کې ننوتي (تداخل) لري او يو له بل سره نژدې اړيکې لري. که يو انســـان له خالق سره مينه ولري، کټ مټ له مخلوق سره مينه کوي، ځکه چې خالق تعالی ويلي دي چې له مخلوقاتو او تخليق شوو شيانو سره دوســـتي او خواخوږي په کار ده. عشـــق يو ســـوز او ســـاز دی چې د انســـان په داخلي جذباتو کې پيدا کېږي او د عشق په وسيله د انسان او الله اړيکې جوړېږي. په حقيقي عشـــق کې مينه له خالق سره وي، د خالق اوامر مني او د انســـان پالنې مينه ور سره پيدا کېږي.

## د کاوون په شعرونو کې د طبيعت ځرکونه

کاوون په خپلو شعرونو کې طبيعت او کايناتو ته ژبه ورکوي، خبرې ورسره کوي، په خبرو يې راوړي او حقيقتونه پرې وايي. شـــاعر د حواســـو په وســـيله له بهرنۍ نړۍ څخه ډېر شيان اخلي او له داخلي تاثراتو سره يې ګډوي او د هنر او شعر په ژبه يې وړاندې کوي. شـــاعر د طبيعت له هر توکي سره د زړه خبرې کوي او د خپلو خلکو او انســـانانو ستونزې ور سره شريکوي. ځينې انسانان د مشاهدې پياوړی قوت لري. کله چې دغه قوت تر لاســـه شي، شـــاعر کولای شي له طبيعت سره خبرې وکړي. د کايناتو له توکو سره اړيکه نيول په حقيقت کې کاينات تســـخيرول دي. له کايناتو سره اړيکه نيول د مشـــاهدې په وســـيله تر سره کېږي. پر مشـــاهده کوونکي داســـې وخت هم راځي چې تېرې، ګلان، واښـــه، ځاروي، الوتونکي، هوا، اوبه او په کايناتو کې شـــته هر يو شـــی ورسره خبرې کوي، خپل هر څه ورته سپړي او مخې ته يې ږدي. کله چې نفس سم او پاک وي، نو دا وړ موجودات ترې هېڅ پرده نه کوي، بلکې خپل ټول حقيقتونه او رازونه ورته مخې ته ږدي چې د ډېر ستر قسمت او نصيب خبره ده. که تا سې غواړئ چې هغه څه ووينئ، کوم چې نور خلک يې نشـــــي ليدلای، نو د دې کار لپاره پکار ده چې خپل ديد او نظر لوړ کړئ. د درک ځواک پياوړی کړئ. دا هغه د درک او ليدلو ځواک نه دی، د څه شي په وســـيله چې موږ دې نړۍ ته ګورو، دا د ســـترګو د درک او ليدلو ځواک نه دی، دې ته د زړه د درک او ليدلو ځواک په کار دی. د زړه ســـترګې د علم په ليدلو سره ګوري او پر دې مســـألې رښـــتينې پوهان ښـــه پوهېږي. کله چې د زړه

ســترګو ته د علم په مرســته لیدل او درک ورکړل شي، نو د انســان په نفس او ذهن کې ســـتر بدلون را منځته کېږي. په ذهن کې ډېر بدلونونه پیدا کېږي. دا کټ مټ داســـې وي، لکه له موره پیدا شوي ړوند سړي ته چې ناڅاپه نظر او سترګې ورکړل شي. انسان ته هر څه بدل ښــکاري. کله چې د زړه ســترګې خلاصــې شي، حســونه ورسره زر برابره چټک شي او تر لامحدود حالته لاړ شي. په دې وخت کې نفس خپلواک شي او دا خپلواکي د دې نړۍ تر ټولو ســـتر نعمت وي. طبیعت او کایناتو ته دغســـې هنري او شــعري ژبه ورکول د کاوون په شــعرونو کې ډېر لیدل کېږي چې په نورو شــاعرانو کې دغه خوا د کاوون د شعرونو په نسبت لږه لیدل کېږي. شاعر کله کله ځان په طبیعت کې ویني. وایي:

طبیعت څومره رنګین دی
دنیا څومره ښایسته ده
ژوندون راز دی د رازونو
د فصلونو سلسله ده

***

کله پانې رژېدلي
کله موج وي د ګلونو
کله ټوله دنیا خړه
کله شور وي د رنګونو

***

شپه لا که هر څومره اوږده هم شي تلپاتې نه ده
وریځه که هر څومره تیارې وي جاوداني نه وي
د ساړه ژمي یخ وهلي او سړې سیلۍ به
تل د باغونو په رګونو کې رواني نه وي

***

باران به پاخوي له خوبه دا ډاګونو بوټي
وږمه به بیا سوو، سپېرو لښتو ته سا ورکړي

شبنم به پرېمنځي په مینه د غوټیو سترګې
لمر به د ګلو اننګیو ته ځلا ورکړي
***
بیا به ګلان پر اوربل کېږدي کلیوالې نجونې
بیا به باغونو ته ستنې شي مسافرې مرغۍ
بیا به په غرونو کې غرڅې د مشکو سا وکړي
بیا به په ځالو را خورې شي مهاجرې مرغۍ
***
بیا به د ګلو په سین ولامبي شډلې دښتې
بیا به خړوب شي په شینلیو دا سپېره ډاګونه
بیا به د باغ په زړه کې وټوکې زرغونې هیلې
بیا به د تېرو ذهن ونازوي سره یادونه
(٦: ٨٩، ٩١، ١١٠)

## د کاوون په شعرونو کې د اختیار او جبر شننه

په پښــتو ژبې کې د (جبر او اختیار ډیالکټیک) د اثر په سرلیک کې جبر مخکې راغلی دی او اختیار وروســې راغلی دی. دري کې هم د جبر یادونه مخکې کېږي او د اختیار یادونه وروسته کېږي، فکر کوم چې انسان بې اختیاره پیدا کېږي، نو ځکه به د جبر یادونه مخکې کېږي، خو زما په اند باید د اختیار یادونه مخکې وشي، ځکه چې انسان په ډېرو مواردو کې د اختیار خاوند دی او آن تر دې چې جبر د اختیار په وسیله تابع کېدلی شي، نو ځکه ما اختیار له جبر څخه مخکې راوړ. د کاوون په شـعرونو کې د اختیار او جبر بېلګې شــته. که څېړونکي وغواړي د شــاعر په دې برخه هم څېړنه تر سره کولی شي او همدارنګه د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم دغه برخه پیدا کولای او څېړلای شـو. د دین او علم له اړخه پرې بحث کولای شـو، په علم کې بېلابېلې خواوې پرې خبرې لري او هر عالم او فیلســوف پرې خپل نظریات ورکوي چې د دغو علمي او فردي نظریو له مخې کولی شــو چې نوي علمي کارونه تر سره کړو. د جبر او اختیار فلســفي مفاهیم د لومړنیو خلکو له پیدا کېدو سره اړیکه لري؛ یعنې کله چې لومړنی بشــر پیدا شو، دوی ته اختیار ورکړل شوی وو، خو د دوی د اختیار درجه له عقل سره

اړیکه درلوده؛ یعنې د عقلانیت لوړه پوړۍ د ښـــو اختیاري کارونو لپاره اړینه موضـــوع ده. د لومړني بشـــر د عقل درجه ځېړل غواړي، نو ځکه يې د اختیار خبره هم یو څه د بحث وړ ده. کله چې ساینس، اسلام او نور دینونونه په لومړني بشـــري ځواک خبرې کوي، دوی ټول د اختیار درلودونکي وو او له جبر څخه يې خلاصـــون نه درلود، خو په پرمختللي ډول پرې بحثونه له میلاد څخه مخکې په یوناني، مصـري، سومري او داسې نورو مدنیتونو کې تر سره شـــول. زموږ لومړني پلار ادم علیه الســـلام ته اختیار ورکړل شوی و چې په جنت کې د غنمو دانې ونه خوري، خو بل خوا د جبر له زوره هم خلاص نه و، نو ځکه يې د غنمو دانه وخوړه، خو په اســـلامي تعلیماتو کې دا خبره یقیني ده چې په اختیاري کړنو او جبري معاملاتو کې د انســـان خیر دی او دا هر څه ورته په تقدیر کې ټاکل شوي دي. دغه مفاهیم په فلسفه، ارواپوهنه، ټولنپوهنه، دین، مذهب او داسې نورو برخو کې د یادونې وړ موضوع ده.

جبر ته په انګلیـــــــسي کې (Determinism) ورته وایي. د جبر د څېړنې په برخه کې دې پایلې ته رسېږو چې جبر ډېر ډولونه لري. دا هغه فلسفي نظریه ده چې د دې له مخې هره کړنه او پېښـه (پدېده) چې واقع کېږي او یا انسـاني رفتار او کړنې د علت (علِي) په ډول، د علت او معلول په ډول او یا د عمل او عکس العمل په ډول د یو زنځیر په شان له مخکې څخه تعین او ثابت شوی وي. په بل عبارت په جبري فلسفه کې د نړۍ سیستم د علت (علي) د جبر تر قانون لاندې وخت تېروي. جبر د اختیار برعکس او مقابل کې قرار لري. اختیار ته (Fatalism) وایي. د جبر یادونه په لومړنیو ادیانو کې شـــوې ده چې له هغې جملې د بودا دین د یادونې وړ دی. دوی وایي چې هره پدېده له بلې پدېدې سره تړاو لري. کله چې موږ هره معلوله پدېده تر بحث لاندې نیســـو، نو ډېرې علتیزې پدیدې شـــته چې معلول يې را منځته کړی دی. یوه پدېده او عمل د بلې پدېدې او عمل په و سیله واقع کېږي؛ یعنې هره معلوله پدېده د جبر ښکار کېږي او د بهرني عکس العمل په وســـیله واقع کېږي. په هندویزم کې(karma) کرما په تصوف، عرفان او انساني لارښوونې کې د یادونې وړ موضوع ده. کرما هغه انساني ښې او بدې کړنې دي چې د انسان په وسیله تر سره کېږي، د دوی په دین کې چې انسان مړ شي، روح يې ژوندی وي او جسم يې له منځه ځي، د وخت په تېرېدلو سره روح يې

د ښــو کړنو په پایله کې په یو ښــه موجود کې او د بدو کړنو په پایله کې په بد موجود کې دویم ژوند پیلوي؛ یعنې بیا ژوندی کېږي. د کرما په وسیله د انسان برخلیک ټاکل کېږي چې په حقیقت کې دا یو ډول جبري موضــوع ده. په دري ادبیاتو کې د مولانا مثنوي معنوي او نور اثار یې او همدارنګه په لســګونو نور عارفان داســې افکار یې په خپلو بیتونو کې وړاندې کړي دي چې په ظاهري ډول د اختیار په ضــد دي، چې ډېر لوستونکي په تشویش کې اچوي چې اوس د جبر نظر سم دی او که د اختیار موضوع ســمه ده. موږ د جبر تابع یو او که د اختیار له مخې کړنې سرته رسـوو. د مولانا او نورو نظر داســې دی چې موږ نه د اختیار واک لرو او نه د جبر، له یوې مخې موږ د اختیار احسـاس کوو او نه شـو کولی چې له اختیار څخه منکر شـو او له بلې خوا پوهیږو چې هر څه د یو علت او یا څو علتونو په وسیله پېښېږي. د دې تضادونو د پرېښودلو لپاره اړتیا ده چې موږ باید له یو بل سره په اړیکو کې ځان مختار وګڼو او د هغې له مخې عمل وکړو. مګر په همدې حال کې د درک په عالم کې پوه اوســېږو چې نه موږ او نه نور خلک د کړنو (افعالو) کې مستقلانه عمل کولی نه شو، بلکې موږ د خالق تعالی د فرمان تابعدار یو، چې په خپل اختیار عمل تر سره کړو. د جبریه لارویان په مطلق ډول په جبر باور لري، په مقابل کې د قدریه ډله د بشـــــر په ازادۍ او اختیار باور لري. د پوهانو تر منځ اختلاف شته چې مسلمعنا نو د اختیار په اړه نظرونه له یهودي ډلو څخه اخیســتي دي او د تاریخي څېړنو ځینې پوهان دغه نظریه له مسـیحي لاهوتي عقایدو څخه اخېســتل شــوې ګڼي او داســې هم ویل کېږي چې مســلمعنا نو دغه فکر له یونانیانو څخه اخېستی دی، یو بل نظر دا سې دی چې د اختیار نظریه د مسلمعنا نو د خپلو متونو ده. د جبر او اختیار په اړه هره ټولنه، هر تمدن، هر دین او ډېر پوهان خپل نظرونه وړاندې کوي، څوک د اختیار پلویان دي، ځینې ټولنې او انســانان د جبر پلویان دي او یوه بله ډله انســـان د جبر او اختیار تر اغېزو لاندې ښــیي. په تاریخي یونان کې هم دا دوه نظریې وې چې د ډېرو څېړونکو په اند دا دوه نظریې ډېرو ټولنو له یونان څخه اخیســتي دي. اپلاتون په جمهوریت کې انســاني ازادي، د فکر او بیان ازادي او په داســې نورو مســایلو خبرې کوي چې په حقیقت کې دا د اختیار له مخې څېړنې ته اړتیا لري. یونانیانو د جبر نظریه له بین النهرین څخه اخیســـتې ده. د ســومریانو د ګلګمېش حماســه د جبر او اختیار څرګونه لري. په یوناني افکارو او نظریو

کې د تقدیر الهي او د جبر موضـوع د لاکزیس، کلوتو او اتروپوس په نوم شـته چې د انسانانو برخلیک یې ټاکه. په فلسفي ښوونځیو کې رواقي ښوونځی هم د یادونې وړ دی، دوی د جبر پلویان وو. له یوناني فلاسفه وو څخه پخوانی فیلسوف هراکلیتوس د مطلق جبر په هستۍ باور درلود، خو په همدې حال کې د یونان د مشهورو فلاسفه وو په نظر ازادي او اختیار د انسان برخلیک ټاکي او دا برخلیک خپله ټاکي.

د اګزیستانسیالیست فلسفې پلویان انسان ازاد او خودمختار ګڼي او په دې باور دي چې انسان هغه وخت حقیقي انسان دی چې د اختیار په غوراوي کې د فکر له مخې پرېکړه وکړي او اګاهانه رفتار وکړي. ازادي او اختیار د انسـان ذاتي اصـل دی چې په دې پوهیدل د شریعت کار نه دی. د جبر ډېر پلویان اختیار او ازادي په رسـمیت پېژني، دغه ټول بحثونه، افکار او جدل یوازې او یوازې علمي خوا لري. الله تعالی انســان داســې پیدا کړی دی چې په ذاتي ډول کولی شي، د کار (فعل) کوونکی (فاعل) وي. د ارادې او اختیار صــفت د نفس له ذاتي لوازماتو څخه دی. کله چې د انسان غړي کار تر سره کوي، همدا ذات او د نفس واقعیت په اسلامي چارو کې د قضا او قدر موضـــوع له اختیار او جبر سره اړیکه لري. که انســان د اختیار خاوند وي او یا پرې په جبر ځینې کړنې تپل کېږي. په دې برخه کې قضــا او قدر په دې معنا دی چې ټولې کړنې د علیت د قانون پر بنسټ تر سره کېږي او له دې څخه انکار کول، له علیت څخه منکرېدل دي. د ازادۍ او اختیار مفهوم ډېره پخوانۍ ســابقه لري، خو په رېنســانس کې دغه مفکوره ډېره پیاوړې شــوه، خو د دوی د ازادۍ تعبیر له اســلامي ازادۍ سره توپیر لري. دوی ویل چې انساني ازادي باید دا سې وي چې دین انساني وي؛ دین د انسان تابع وي، خو ادیان او اسلام وایي چې انسان باید دیني وي؛ انسان د دین تابع وي. کاوون یوازې د اختیار پلوی نه دی او نه یوازې د جبر پلوی دی. په شعرونو کې یې د اختیار او جبر څرکونه شته. وایي:

قصه زما د ژوندانه، قلم یې تا سره دی
زخم زما پر سینه پروت، مرهم یې تا سره دی
زه خو تر اوسه د هستۍ په راز ونه پوهېدم
وجود یې ته را پنځوې، عدم یې تا سره دی

زه مې د وچې بنده گی جوغه پر سر گرځوم
د خپل کاږه قسمت غلام يم، سم يې تاسره دی
وچه بيديا ده د محشـر او زه له تندې مرمه
کوثر د تا په اجاره، زمزم يې تا سره دی
دا څه شډله بنده گي، دا څه نا پايه درواغ
جام دې زما پر شونډو ايښی، جم يې تاسره دی
زما زړگيه! د زاړه کابل غم کش حسنه
هر ځای چې اور د ستم بل شي، غم يې تا سره دی
(۸: ۳۸)

د شاعر په غوره شوي شعر کې د جبر ځرک ليدل کېږي، خو دا معنا نه لري چې د جبريه نظريې پلوی دی، مخکې يادونه وشـوه چې د کاوون په شـعرونو کې د اختيار او جبر يادونه شـــته. کله چې انســـان له ډېرو ســـترنزو سره مخامخ شي، نو کله کله له خدای سره خبرې کوي او د خپل پيدايښت او د دا سې نورو خواوو په اړه ورسره خبرې کوي. کاوون خورا ښـه شـاعر دی، شـعرونه يې د منځپانگې له مخې نوو ځېړنو ته اړتيا لري او بېلابېلې نظريې پکې ليدل کېږي چې د بېلگې په ډول د ځينو موضـــوعاتو يادونه وشوه.

## پايله

کاوون توفاني د پښتو ژبې د دريېمې دورې ډېر ښه شاعر او د ښو منظومو ويناوال دی. د منځپانگې له مخې يې شعرونه هر ډول مضامين لري، خو موږ کوښښ وکړ چې هغه برخې يې په شعرونو کې وڅېړو چې د شاعر په شعرونو کې ډېرې ليدل کېږي. د بېلگې په ډول د شاعر په شعرونو کې ترانې ډېرې دي، شعرونه يې د هنريت او شعريت له مخې د ستاينې وړ دي او په ځينو شعرونو کې يې هنر د هنر د وړاندې کولو لپاره استخدام کړی دی او ډېر داسې شعرونه هم لري چې شعرونه يې د ژوند په اړه لارښوونې لري. شعرونه يې له رواپوهنې سره اړيکې لري او د روانپوهنې ډېر مسايل يې په شعرونو کې ليدل کېږي، لکه (رواني ژبه، د هېواد ارمان کول، نوستاليژيا، ارکي ټايپونه، ځان پردی گڼل، رواني اضطراب او داسې نورې) يې د يادونې وړ دي. له هېواد سره مينه، انسان دوستي، بغاوت، ستاينې او غندنې او داسې نور مسايل يې په نظرياتو کې شته چې په مقالې کې ښودل شوي دي او همدا مو لاسته راوړنه ده.

## مأخذونه


١. پرهام، فاطمه. دایاسپورای حقیقی و دایاسپورای مجازی متون دورگه تألیف و ترجمه، فصلنامه مطالعات زبان و ترجمه، شماره یکم، سال (١٣٩٠) خورشیدی.

٢. توفاني، کاوون. سپرغی، وزارت اطلاعات او کلتور: کابل، (١٣٦٢) لمریز کال.

٣. توفاني، کاوون. د تیرو په ذهن کې، گوندي مطبعه: کابل، (١٣٦٣) لمریز کال.

٤. توفاني، کاوون. شگې او گلونه، دولتي مطبعه: کابل، (١٣٦٦) لمریز کال.

٥. توفاني، کاوون. وروستۍ ټکی، د افغانستان د لیکوالو انجمن: کابل، (١٣٦٧) لمریز کال.

٦. توفاني، کاوون. کله چې ونې مري، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو ریاست: (١٣٧٠) لمریز کال.

٧. توفاني، کاوون. د باد په کنډوالو کې، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، (١٣٨١) لمریز کال

٨. توفاني، کاوون. مرثیې د چنارونو، کتاب خپرندویه ټولنه: پېښور، (٢٠٢١) سپوږمیز کال.

٩. خلیل، همېش. مرزا خان انصاري او د هغه شاعري، یونیورسټي بک ایجنسي: پېښور، (٢٠٠٢) سپوږمیز کال.

١٠. سعیدی، مهدی. تبیین جریان شناختی ادبیات سیاسی در ایران معاصر (مطالعه موردی: داستانی سیاستی در مهاجرت)، در فصلنامه علمی، شماره بیست و هفتم، (١٣٩٩) خورشیدی.

١١. قربان پور، حسین و نویستگان دیگر. جریان شناسی ادبیات داستانی محاجرت ایران، در فصلنامه علمی، شماره چهارم و نهم، (١٣٩٧) .

۱۲. کرگر، محمد اکبر کرگر. سیندونه او اندونه (دويم ټوک)، هاشمي خپرندويه ټولنه: جلال اباد، (۱۴۰۰) لمريز کال.

۱۳. کرگر، محمد اکبر. داستاني کليات (د محمد اکبر کرگر په قلم)، هاشمي خپرندويه ټولنه: جلال اباد، (۱۳۹۸) لمريز کال.

۱٤. مطلق، ليلا تفرشی. مطالعات پسا استعماری در ادبيات مهاجرت، فصلنامه تخصصی، شماره دهم، (۱۳۹۹) خورشيدی.

۱٥. موسوی، ام فروه، حسينی، مريم. فضای پسا استعماری در ادبيات مهاجرت افغانستان، در فصل نامه علمی، سال دهم، شماره دوم، (۱۳۹۹) خورشيدی.

۱٦. هاشمي، سيد اصغر. ادبيات، انسان او فلسفه، هاشمي خپرندويه ټولنه: جلال اباد، (۱۴۰۱) لمريز کال.

څېړنپوه محمدنبي صلاحي

# د ادبپوهنې درې بنسټيزې څانگې

# Three basic branches of literary science

**Prof. Mohammad Nabi Salahi**

**Abstract**

Literary science is the scientific interpretation of artistic literature. There are three main branches; Literary history, literary criticism and literary theory. These three basic branches of literature are very important because they include knowledge about the artistic literature of one or more languages from different perspectives. Any scientific and artistic elements that are shared in the structure of a literary and poetic work have been discussed. In fact, every branch of literature has a special importance and value in its own place. Literary science, basically, is the science of judging the shape and content, quantity and quality (quantity and quality), structure and overall judgment of each poetic and literary work, each of which has its own principles, principles, and theories. , has concepts and methodology. In this article, these topics have been discussed and researched under different headings.

## لنډيز

ادبپوهنه په علمي بڼه د هنري ادبياتو د تشريح علم دی. درې اساسي څانګې لري؛ ادبي تاريخ، ادبي کره کتنه او ادبي تيوري. د ادبپوهنې دا درې بنسټيزې څانګې په دې ډېرې مهمې دي، چې په هغو کې له بېلابېلو ليد لورو څخه، د يوې او يا څو ژبو د هنري ادبياتو په اړه پوهه را نغښتل شوې ده. کوم علمي او هنري عناصر چې د يوه ادبي او شعري اثر په جوړښت کې شريک دي، پر هغو بحث شوی دی. په حقيقت کې، د ادبپوهنې هره څانګه پهخپل خپل ځای کې ځانګړې اهميت او ارزښت لري. ادبپوهنه ، په ا صل کې د هر شعري او ادبي اثر د شکل او مضمون، څومره والي او څرنګوالي (کميت او کيفيت)، جوړښت او په ټوله کې د قضاوت کولو علم دی، چې هره يوه څانګه يې، ځانته ځانګړي اصول، پرنسيپونه، تيوري، مقولې او ميتودولوژي لري. په دې ليکنه کې په همدې موضوعاتو باندې تر جلاجلا سرليکونو لاندې خبرې او څېړنه شوې ده.

## سريزه

ادبپوهان په دې نظر دي چې ادبپوهنه د ادبياتو د څرنګوالي په اړه پوهه ده چې ګڼ شمېر اصلي او فرعي څانګې لري، خو د ادبپوهنې درې څانګې يې بېخي بنسټيزې او عمده بللې دي. د ادبپوهنې دا درې واړه څانګې ځانګړې تيوري او د سپړنې خاص څېړندود لري. په دې مقاله کې، د ادبپوهنې د اصلي څانګو په اړه بحث او څېړنه تر سره شوې ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

په دغه مقاله کې، د ادبپوهنې د درېيو اساسي څانګو په هغو لارو چارو باندې خبرې شوې دي، چې د هغو په تشريح او سپړنه کې ډېرې اغېزمنې دي. هره څانګه او هر څه چې دلته بيان شوي دي، کوښښ شوی چې هره يوه په همغه خپل حد او حدود کې شرح شي.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې د ليکلو موخه دا ده، چې د ادبپوهنې د هرې څانګې په اړه دې زموږ څېړنې نورې هم پراخې او هر اړخيزې شي. ځوان څېړونکي دې د ادبياتو د نويو ادبي

ژانرونو په اړه تیوري او پوهه، د تېرو پوهانو له نظرونو، تیوریو او معلوماتو سره داسې یو ځای او پیوند کړي، چې په هره برخه کې نوي استنتاجونه رامنځته کړي.

## د څېړنې میتود

د دې مقالې د لیکلو څېړندود تشریحي او تحلیلي دی.

## د مقالې متن

**لومړی - ادبي تاریخ:** «د ادب تاریخ د پېړیو په پوړیو کې ادبي آثار تر بحث لاندې نیسي. د ادب تاریخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبیاتو د پیدایښت او ودې پروسه له تاریخي شرایطو سره د ارتباط په ترڅ کې څېړي.» (۱)

په اوس وخت کې د ادبي تاریخ همدا پېژند (تعریف) چې د کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي له خوا شوی دی، د ډېرو ادبي تاریخ څېړونکو له خوا منل شوی او تأیید شوی دی. نن سبا د ادبیاتو تاریخ همدا مسلکي او اختصاصي پېژند بلل کېږي او د یو شمېر پخوانیو پوهانو په څېرعام مفهوم نه لري چې د یوې ژبې د ټولو آثارو بېلابېل لیکلي مطالب او مفاهیم په کې راونغښتل شي، بلکې په ځانګړې معنا خاص تعریف او دقیق پېژند دی. په دې تړاو کاندید اکاډمیسین محمد انور نومیالی «د ادبیاتو د تاریخ مسئله» مقاله کې لیکي چې: «د ادبیاتو کلمه دومره پراخه استعمالېږي چې موږ دې ته اړ باسي چې مفهومي ساحه یې د خپل مطلب د پاره را محدوده کړو، نو ځکه ادبیات دلته د یوې مشخصې مقولې په توګه د ژبې هغه آثار بولو چې لفظي هنرونه پکښې تمثیل شوي وي، یعنې د ښکلا هغه پدیده یې ګڼو چې د ژوندانه د ضرورت پر بنا د ژبې په سطح کې منځ ته راځي...د ادبیاتو تاریخ ترکیبي مفهوم چې له «ادبیات» او «تاریخ» څخه رامنځته شوی دی، باید ادبیات د ژبې د هنري پدیدو په توګه زموږ په نظر کې وي، نو هرومرو هغه انکشاف چې ژبه یې له کلتور سره کوي، هم د کمیت له پلوه او هم د کیفیت له مخې پر یوه حال نه پاتېږي، بلکې یوه بهانده او متحوله مجتمع منځ ته راوړي. همدا مجتمع چې د تېر وخت توښې پکښې زېرمه شوې دي او د راتلونکي وخت د رشد د پاره مایه تشکیلوي، په حاضره شېبه کې د ادبیاتو تاریخ بلل کېږي.» (۲)

استاد روهي په دې اړه داسې نظر لري:

«د ادبي تاريخ په ليکنه کې څو ډوله تمايلات ليدل کېږي: ځينې د ادب د تاريخ په څېړنه کې د تاريخ پر کلمه باندې زور اچوي او ادبيات د هيســـټوريزم د پرنســـيپ لاندې څېړي. د هيســـټوريزم پلويان هڅه کوي چې د ادبي جريانونو پيدايښـــت او انکشـــاف د تاريخي شرايطو د محصـــول په توگه تحليل او تفســـير کړي... په ادبي تاريخ کې يو بل تمايل دا سې دی چې د ادبي پديدو په تشريح کې يوازې د ادب پر کلمه باندې فشـــار اچوي او تاريخي شرايطو ته پاملرنه نه کوي. دا ډول تمايل هم له نيمگړتياوو څخه خالي نه دی چې ادبيات په يوه يا بله بڼه د ټولنيز ژوند انعکاس دی. د ادبي تاريخ په ليکنه کې تر ټولو مهم تمايل دا دی چې ادبيات له تاريخي شرايطو سره په ارتباط کې څېړي، مگر په عين زمان کې د ادبياتو نســـبي خپلواکي هم په پام کې نيسي.» (۳)

د ادبي تاريخ ليکنې لپاره د تيوري کارول او د ادبي تاريخ ميتودولوژي په پام کې نيول ضرور دي؛ ځکه د هرې څېړنې لپاره د تيوري ټاکنه لازمي ده. د ادبي تاريخ ميتودپوهنه، د ادبياتو تاريخ په اړه څېړنه پياوړې کوي، نو ځکه بايد په پام کې وي. د يوې ژبې پر ادبياتو باندې د علم راوســـتلو لپاره، د هغه وخت او حالاتو تاريخي زمينې پلټل او څېړل اړين دي. دا کار د نويو ادبي انواعو د کيفيت او کميت په پام کې ساتلو سره په ډېره ښه توگه ممکن دی. د هرې ژبې د ادبياتو تاريخ د هغې ژبې د ادبي ښکارندو د کيفيت او نوعيت پربنسټ خبرې کېدی شي. په دې ډول د هرې ژبې د ادبي تاريخ ليکنه، دبلې ژبې د ادبي تاريخ پرپيروي اوتقليد نه شي ليکل کېدی. « د هرې ژبې د ادبياتو تاريخي تصـــنيف هم بايد د هغې ژبې په محتوا کې تثبيت شي.» (۴)

استاد سعدالدين شپون د ادبي مؤرخ او د هغه د څېړنيزو فعاليتونو په اړه داسې نظر لري: « ادبي مؤرخ که له يوې خوا ليکوال دی، له بلې خوا محقق او پلټونکی دی. دوه ډوله تحقيقي فعاليتونه لري:

الف) تاريخي تحقيق.

ب) تاريخي نقد.

په لومړني مورد کې د ده وظيفه د احصائيو او موادو را غونډونه او پرتلنه کوونه ده. دا کار دی د يوه ساينسپوه په دود کوي. په دويم مورد کې د ده هدف د دغو شواهدو او

اســـنادو تنظیم او تعبیر دی. دلته د ده کړنلار د یوه ادبي هنرمن د میتود رنګ اخلي.
تاریخي تحقیق: ا فاقي او تحلیلي لار تعقیبوي. هدف یې د تېرې زمانې د ادبي پېښــو کشــف دی. ادبي محقق هم د طبیعي علومو د محقق په څېر مجبور دی چې پخوا د تحقیق له پیل څخه د یوه پرابلم د حل لپاره یوه فرضـــیه ولري. په خپله د ادبیاتو تاریخ له یو لړ ډېرو پرابلمونو څخه عبارت دی. مؤرخ دا پرابلمونه، په ځانګړي ډول یو یو حل کړي دي. ځینې پرابلمونه واړه او بې اهمیته وي، ځینې یې مهم. مثلاً کېدای شي چې د یوه مهم اثر د منبع د تشریح لپاره لازمه وي چې د یوه بل لیکوال اثر (چې ډېر خام او په خپل نفس کې بې ارزښــــته وي) پیدا شي او د هغې د لیکل کېدو نېټه څرګنده شي چې د یوه لیکوال د زېږېدو نېټه په یوه مورد کې اهمیت پیدا کړي او د همدې لیکوال د ادبي آثارو د پیدایښت نېټه دې مهمه نه وي.
خو په عمومي صــورت ویلای شــو، هر څومره چې لیکوال لوی او آثار یې شــهکار وي، په همغه اندازه د ده په باره کې ډېر واړه واړه معلومات هم د اهمیت وړ دي. تر کومه ځایه چې ممکنه وي، ادبي محقق باید اصـل ته مراجعه وکړي، یعنې د دویم او درېیم لاس معلومات کافي نه دي. د ده بهترینه چینه په خپله متن او که ممکنه وي، اصــلي نســخه ده چې ادیب لیکلې ده. تر دې وروســته د ادیب د زېږېدنې د نېټې د شــخصي– ملګرو لیکونو او ارتباطونو پلټنه راځي. دا دویم قلم، د ده خاص قلمرو دی او لومړی یعني د صــحیح متن لا سته راو ستنه، د متن پېژندونکي په مر سته کېږي. د دویم لاس په معلوماتو او د خلکو په روایتونو اتکا صرف هغه وخت جایزه ده چې د لومړني لاس معلومات میسر نه وي» (۵)
د پښــتو ادبیاتو تاریخ ارزښــت هم په دې کې دی چې، که له یوې خوا موږ د پښــتو ادبیاتو د لیکلیو هنري آثارو په ادبي، هنري او تاریخي ارزښت باندې پوه کوي، نو له بله پلوه مو د پښــتنو شــاعرانو او ادیبانو په شــعري او ادبي ذوق او هنري اســتعداد باندې هم خبروي.
**دویم- ادبي کره کتنه:** د کره کتنې په برخه کې د مختلفو پوهانو له خوا ډول ډول تعریفونه شــوي دي. یو نســبتاً منل شــوی تعریف یې په دې ډول دی: «کره کتنه په لغت کې محاکمه کولو ته وایي او په ادبي ا صطلاح کې هغه پوهه ده چې د یوه متن یا اثر ښــېګڼې او بدګڼې په بې طرفه توګه را برســېره کړي او د منځپانګې څرنګوالی یې جوت کړي» (٦)

د کره کتنې اصــطلاح، پـه عمومي توگـه د ټولو آثـارو لپـاره راتلاى شي، خو دلتـه زموږ منظورادبي کره کتنه ده. دا اصـطلاح په ځانگړې توگه د ادبي او شـعري آثارو د ښـېگڼو او بدگڼو د څرگندولو په برخه کې اســتعمالېږي. له دې امله دغه ادبي نومونه، د اســتعمال خپل خاص لورى او اســتقامت لري. د ادبي آثارو د صـيقل کولو، سـکښـت، پرمختيا او پراختيا په برخه کې، د ســالمې ادبي کره کتنې له مثبت اغېز نه هېڅوک انکار نه شي کولاى. له دې امله دا ډېره لازمي ده چې په يوه مثبته روحيه او ښه نيت باندې ترسره شي.
سالم ادبي کره کتونکى، په ا صل کې د ادبي اثر د خاوند نژدې همکار او مرستندوى وي.
په پښــتو ادبياتو کې د ادبي کره کتنې د تاريخي بهيرڅرنگوالي څخه داســې معلومېږي چې ادبي کره کتـنه د ادبي او شــعري آثارو همځولې ده. په دې اړه(د ادبي کره کتنې مشـال) اثرليکوال ليکي چې: «کره کتنه تر ادبي اثر وروســته رامنځته کېږي، بايد يو ادبي اثر موجود وي او بيا کره کتنه ورباندې وشي.» (۷)
ادبي کره کتنه، په لومړي سر کې د خپل وخت او زمان د پوهانو د لومړنيو نيوکو تر بريده پورې محدوده حسابېږي او دې حالت، د نظري ادبي کره کتنې ښه خپله کړې ده، خو نن سـبا چې د ادبي کره کتونکو له لوري ، پر کوم شـعري - ادبي اثر باندې عملي کره کتنه تر سره کېږي، هغه علمي اصــول او پرنســيپونه لري. په دې توگه د لومړنيو وختونو ابتدايي نظري کره کتنې، د اوس وخت د معاصرې او موډرنې عملي کره کتنې د اوچتو معيارونو بڼې ته تکامل کړى دى. کره کتنه نور ډولونه هم لري، لکه ســايکالوجيکي ادبي کره کتنه او ... خو تر ټولو جامع ادبي کره کتنه هغه ده، چې په يوه شـعري او ادبي اثر باندې د بڼې او معنا (شـکل او مضـمون) له مخې تر سره شي. که څوک داســې پوښــتنه وکړي چې ايا ادبي - شعري آثار مهم دي او که ادبي کره کتنه؟ له شک پرته يې ځواب دا دى چې: ادبي او شــعري آثار. لومړى بايد شـعري – ادبي آثار رامنځته شي او بيا بايد ادبي کره کتنه پرې وشي. په حقيقت کې د ادبي کره کتنې بنسټ، پر شعري – ادبي آثارو باندې ولاړ دى، که هغه نه وي، ادبي کره کتنه نشته.

ښه به دا وي چې، د ادبپوهنې دغه څانگه نوره هم پياوړې شي. نن سبا چې د ادبي کتابونو کومې مخکتنې ترسره کېږي، په ختيځه او لو يديځه نړۍ کې دغو ادبي ناســتو، د ادبي کره کتنې د ادبي غونډو ښه خپله کړې او دا په واقعيت کې يو ډېر ښه پرمختگ دى. دا ډول ادبي غونډې او د ادبي کره کتنې بهيرونه او جريانونه، چې

نن سبا په پښتنو کې باب شوي دي، باید نور هم ژور او پراخ شي او هرې خوا ته د سالمې ادبي کره کتنې وزرونه وغوړېږي. نن سبا چې د یو شمېر ادبي او علمي آثارو د چاپ په برخه کې کومه ګډوډي او انارشیزم لیدل کېږي، د دې یو اساسي علت دا کېدی شي، چې ځینې داسې آثاریا په خپلسر-چاپ شوي او یا که د کوم فرهنګي بنسټ له خوا چاپ شوي هم دي، په لیکنه او څېړنه کې یې لازم غوراو دقت نه تر سترګو کېږي، یو ډول بې پروایي او غفلت په کې لیدل کېږي او دا کومه ښه خبره نه ده، بلکې بې خونده کار یې بللای شو. په دې تړاو «د ادبي څېړنې میتودولوژي» اثر کې، د ادبي کره کتنې د حیاتي اړتیا په اړه داسې لیکل شوي دي:

«نن سبا چې د ادبي آثارو د چاپ بهیر ډېر ګړندی شوی او د کتابونو د چاپ وسیلې هم زیاتې شوې دي او ځینې آثار بې له دې چې علمي او اکاډمیک بنسټونه او اداري په جریان کې وي، په شخصي- توګه هم خپاره شوي، نو د ادبي آثارو د چاپ په برخه کې یو ډول ګډوډي او انارشیزم هم رامنځته شوی دی. د دې لپاره چې د دغې ګډوډي او انارشیزم مخه مو په ښه توګه نیولې وي او بیا هم د دې لپاره چې روان ادبي بهیر د ابتذال لورته ولاړ نه شي، د شهکارو او نیمګړو آثارو، ښو او نیمګړو، ګټورو او بې ګټې آثارو تر منځ مو په ښه وجه توپیر کړی وي، باید د ادبي کره کتنې بهیر چټک او نور هم پیاوړی شي.» (۸)

د ادبي کره کتنې له تاریخي اهمیت نه هېڅوک انکار نه شي کولای او دا کره کتنه هم باید د کره کتنې تیوري او د ادبي کره کتنې میتودولوژي په رڼا کې تر سره شي، چې په دغسې حالت کې د علم بڼه خپلوي. ادبي کره کتنه د مختلفو پوهانو له خوا ارزول شوي او په دې اړه دوه ډوله نظرونه رامنځ ته شوي، چې یوې ته یې د نسبي کره کتنې نوم اخیستل کېږي او بل ډول یې د مطلقې علمي کره کتنې په نامه یادوي. «په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر» اثر کې په دې اړه دا سې ویل شوي دي چې: «د کره کتنې مطلق اصول او معیارونه هغو معیارونو ته ویل کېږي، چې هغه پر هر ځای او هر وخت کې د یوه ادبي اثر په ارزونه کې د تطبیق وړ وي او د یوه ادبي اثر د ارزونې او شننې په وخت کې له هغو څخه کار اخیستل کېږي.»(۹)

د نوموړي اثر لیکوال زیاتوي: «د هغو پوهانو تر څنګ چې د کره کتنې لپاره د مطلقو اصولو او معیارونو په شتوالي باندې ټینګار کوي، ځینې داسې پوهان هم شته چې

وايي د کره کتنې اصول او معيارونه مطلق نه دي، بلکې نسبي دي. دوی وايي چې: يو کره کتونکی يوه اثر ته له يوې زاويې گوري او بل ورته له بلې زاويې او ليد  لوري چې په دې توگه هېڅ مطلق معيار او اصول نشته او دا ځکه چې د يو اثر وخت، زمان او چاپېريال د بل ليکوال له وخت، زمان او چاپېريال سره توپير کوي او هېڅ وخت موږ د مختلفو وختونو او چاپېريالونو آثار د مطلقو معيارونو په تله نه شو تللی او يا هم د هغو لپاره يو ډول معيارونه او اصول په پام کې نه شو نيولی.» (۱۰)

پورته ځرگندونو ته په پام سره ويلای شو چې، ادبي کره کتنه خپل علمي منطق ا واستدلال او د څېړنې خاص اصول او پرنسيپونه لري چې د دغې علمي څانگې معيارونه يې بللای شو، لکه: هنري انځور، پيغام، اخلاقي ارزښتونه او ... هغه څه دي چې د هغو پر بنسټ، په هر وخت او هر ځای کې يو شعري او ادبي اثر ارزول کېدی شي. د ادبي کره کتنې علمي اړخ  پرهغو پرنسيپونو باندې را څرخي، لکه چې يو بل علم  يې لري. دغه اصول او پرنسيپونه، زمان او مکان نه پېژني، په هر وخت او ځای کې د هرې ژبې پر شعري او ادبي آثارو باندې د تطبيق وړ دي، په دې توگه، دغو اصولو د مطلقو پرنسيپونو، معيارونو او سټنډرډونو نړيواله بڼه خپله کړې ده او جهانشموله شوي دي.

**درېيم - ادبي تيوري:** ادبي تيوري د ادبپوهنې بنسټيزه څانگه ده.«د ژبني هنر (بديعي ادب) پر مضمون او شکل باندې خبرې کوي، د هغوی رښتينی ماهيت څېړي، د تحليل قوانين او ميتود يې تر مطالعې لاندې نيسي.» (۱۱)

څېړنپوه معتمد شينواری  د ادبي تيوري  پېژند او تفسير داسې کوي: «د ادب تيوري د ادبپوهنې يوه څانگه ده چې د هنري ادبياتو ماهيت او گاڼه ور باندې معلومېږي او دغه شی تشکيلوي. ادب ته دا قوت ورکوي چې په سم او واقعي ډول سره ژوند ترسيم او درک کړي. دغه څانگه او فن د ټولنې په انکشاف کې د ادب رول او ارزښت د ادبياتو نوعه په گوته کوي او د تصوير د وسايلو شکل بيانوي. د ادب تيوري د هنري آثارو د تحقيق او څېړنې ميتودونه تهيه، چمتو او تياروي او د دغو ادبياتو د تحليل او تجزيې پرنسيپونه ټاکي او ارزښت يې تعيينوي او هغه قواعد او اسلوب را زده کوي چې د بديعي ادبياتو انکشافورباندې منځ ته راځي» (۱۲)

ادبي تیوري ځانته د څېړنې میتود، تیوریک بنسټونه او مقولې لري. یو شمېر پوهان، ادبي تیوري د ادبي آثارو په باب د نظرونو او تیوریو مجموعه ګڼي او ځینې نور یې د علم په توګه مطرح کوي. د (ادبي تیوري) اثر لیکوال، د ادبي تیوري تعریف داســـې کوي: «ادب تیوري هغه علم دی چې د ادب په تړاو نظریات په کې وي.» (۱۳)

د( ادب تیوري) اثریو بل لیکوال، ادبي تیوري داســـې راپېژني: «په عمومي توګه په ادبي تیوري کې د ټولنپوهنې د علمي قوانینو له مخې د ادب او ټولنې تر منځ د اړیکو، د ادبیاتو د پیدایښـــت د عواملو، د ادبي مکتبونو، مېتودونو او ســـبکونو، په ادبیاتو کې د شکل او مضمون...او د بېلابېلو ادبي ډولونو او ژانرونو په هکله بحث او څېړنه کوي.» (۱۴) د پښتو په ادبیاتو کې د ادبي تیوري په اړه ډېر لږ کار شوی دی. ا ستاد محمد صدیق روهي، ا ستاد محمد رحیم الهام اونورو پوهانو د مقالو په بڼه په دې اړه ښــې ژورې څېړنې کړې دي او د مضــمونونو په بڼه د دوی په آثارو کې راوړل شوې دي، خو د نورو پوهانو له خوا په دې اړه مستقل آثار لیکل شوي دي.

## پایله

په ادبپوهنه کې دا لاندې درې ټکي ډېر د بحث وړ دي: لومړی: دا چې د یوې ژبې د ویونکو ادبي تاریخ، باید د هغې ژبې په هنري آثارو باندې را وڅرخېږي. دویم: دا چې، د یوې ژبې ادبي تاریخ، باید د ادبي تاریخ تیوري او میتودولوژي په رڼا کې ولیکـل شي. درېیم: دا چې، ادبي تـاریخ، ادبي کره کتنـه او ادبي تیوري هره یوه ځانګه خپله خپله تیوري او میتودولوژي لري او یوه د بلې پر ځای باندې نه شي کارول کېدای. هره ځانګه د ادبیاتو په تشـریح، بیانولو، صیقل کولو او د بڼې او معنا له مخې د ادبیاتو په پرمختیا او پراختیا کې ځانګړی اغېز لري.

## وړاندیزونه

۱) په ادبپوهنه کې تر ټولو پېچلې بحث د یوې ژبې د ادبي تاریخ د دورو وېش دی، چې په دې برخه کې بېلابېلو پوهانو له مختلفو معیارونو او سټنډرډونو څخه کار اخیسـتی دی. د هغو روښانه کول او ښودل ضرور دي.

۲) د اوسنیو ادبي څېړنو علمي غوښتنه دا ده، چې د پښتو ادبیاتو تاریخ د دورو او پړاوونو وېش په اړه دې د تېرو، پخو او معتبرو پوهانو د وېش د طرحو ښـېګڼې او نیمګړتیاوې، په

کلکه سره د خپل ناپېيلي دربځ په ساتلو سره د علمي دلايلو پر بنسټ روښانه شي او د ادبي دورو او پړاوونو د نوي وېش په اړه دې نوې طرحه وړاندې شي.

۴) د پښتو ادبياتو د نور انکشاف او پراختيا په منظور دې، د ادبي آثارو د مخکتنې په غونډو کې د نويو چاپ شويو ادبي آثارو ادبي کره کتنې ته ډېر وخت ورکړل شي.

۵) د پښتو ادبياتو نوي ادبي ژانرونه دې، د ادبي تيوريسنانو او ادبي کره کتونکو له بېلابېلو نظرونو او ليدلورو نه وڅېړل شي او په دې توگه دې، ادبي مؤرخان د پښتو ادبياتو تاريخ په اوسني( معاصره) او نوې دوره کې د هغو ځای ځايگی او مقام وټاکي.

## مأخذونه

۱. روهي، محمد صديق. «د پښتو د ادبي تاريخ دورې څنگه ټاکل کېدای شي؟». د ادبي تاريخ ميتودولوژي (د ادبي تاريخ ليکنې ميتودولوژي د نړيوال سيمپوزيم د مقالو مجموعه).د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: گوندي مطبعه، ۱۳٦۷ل کال، ۱۵مخ.

۲. نوميالی، محمد انور. «د ادبياتود تاريخ مسئله»، د ادبي تاريخ ميتودولوژي (د ادبي تاريخ ليکنې ميتودولوژي د نړيوال سيمپوزيم د مقالو مجموعه)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: گوندي مطبعه، ۱۳٦۷ل کال، ۸۸ مخ.

۳. روهي، محمد صديق. «د پښتو د ادبي تاريخ دورې څنگه ټاکل کېدای شي؟». د ادبي تاريخ ميتودولوژي(د ادبي تاريخ ليکنې ميتودولوژي د نړيوال سيمپوزيم د مقالو مجموعه)، ۱۷مخ.

۴. نوميالی، محمد انور.«د ادبياتود تاريخ مسئله»، د ادبي تاريخ ميتودولوژي(د ادبي تاريخ ليکنې ميتودولوژي د نړيوال سيمپوزيم د مقالو مجموعه)، ۸۹مخ.

۵. س. ش. «د ادب تاريخ». د ادبي تاريخ ميتودولوژي (د ادبي تاريخ ليکنې ميتودولوژي د نړيوال سيمپوزيم د مقالو مجموعه)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: گوندي مطبعه، ۱۳٦۷ل کال، ٦۱مخ.

٦. عليزی، فضل الرحمن. په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاريخي بهير. د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو انستيتوت، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: لايف ستار مطبعه،۱۴۰۱ل کال، ۱مخ.

۷.رحماني، گل رحمن. د ادبي کره کتنې مشال. سـمون خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۱ل کال، ۴۳مخ.

۸. صـلاحي، محمد نبي. د ادبي څېړنې میتودولوژي. د افغانسـتان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاسـت، لایف سـتار مطبعه، ۱۴۰۱هــــ. ل کال،۱۴۰مخ.

۹. علیزی، فضل الرحمن. په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر، ٦٦مخ.

۱۰. علیزی، فضل الرحمن. په پښتو کې د ادبي کره کتنې تاریخي بهیر، ٦۹مخ.

۱۱.صـلاحي، محمدنبي. نوې ادبي تیوري، د افغانسـتان د علومو اکاډمي،د ژبو او ادبیاتو مرکز، دولتي مطبعه، ۱۳٦۸لمریز کال، ۱مخ.

۱۲. معتمد شـینواری. « ادبیات باید د تیوري په رڼا کې وڅېړل شي»، د ادبي تاریخ میتودولوژي (د ادبي تاریخ لیکنې میتودولوژي د نړیوال سـیمپوزیم د مقالو مجموعه)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: گوندي مطبعه، ۱۳٦۷ل کال، ۱۰۴مخ.

۱۳.هاشـمي، سـید محی الدین. ادب تیوري. پېښـور، میهن خپرندویه ټولنه،۱۳۹۵ لمریز کال، ۸۸ مخ.

۱۴.رشیدي، جمشید. ادب تیوري. د ښوونې او روزنې پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، د( انتشارات نامي چاپ) ، ۱۳۹۱لمریز کال،۵ مخ.

څېړنوال دکتور عبدالاحد منګل

# په ودونو کې ناوړه دودونه

# Bad Traditions in Weddings

**Associate Prof. Ph.D. Abdul Ahad Mangal**

## Abstract

This paper explores various conventions of marriages such as Walwar, marriage ceremony in Hotels, Henna night, Takht Jami, beauty Stage, Decore, Filming, Singers, Garments Fashion, Renting Dish and so on. The research has been carried out through interviews and observations in the view of figures that are, explained and compared. The paper highlights the real culture and tradition of the country which has been affected in the recent four decades, particularly in the past two decades. It has two reasons; first, foreign invasions and domestic political and military differences caused public refugees that impacted culture, second, the emergence of independent media such as Tv networks, cables, and FM channels that promoted foreign culture and tradition via opera, drama serials. And, it all paved the way for negative races amongst the families in Afghan society

## لنډیز

په دې مقال کې د ودونو په بېلابېلو دودونو لکه: ولور، خواړه اوبه، په هوټلونو کې د واده مراسم، د نکریزو شپه، تخت جمعي، سینګار، ستېژ، ډېکور، فلمي یونیټونو کرایه کول، د لباسونو نمایش، کرایي ظروف... او نور موضوعات د لسګونو (مصاحبو، مرکو او مشاهدو) په

نتیجه کې د سروې له لارې د ارقامو په رڼا کې تشریح او مقایسه شوي، چې (۱۱) مرکې د ریفرنس لپاره ټاکل شوي. د دې مقالې د لیکلو اړتیا دا ده، چې په وروستیو څلوېښتو کالونو کې او په خاص ډول د دوو لسیزو را په دېخوا د هېواد اصیل عنعنات له هره اړخه اغیزمن شول، دغه اغیزمنتیا دوه علته لري، لومړی د بهرنیو ځواکونو یرغلونه، داخلي سیاسي او نظامي اختلافونه وو، چې په نتیجه کې یې ډلیز مهاجرتونه رامنځته شول، دویم لامل یې ازادې رسنۍ، لکه: تلویزیونونه، کېبل چینلونو، FM راډویو ګانې وې چې بهرني ناوړه فرهنګ ته د ډرامو او سریالونو له لارې ترویج ورکړ او په ټولنه کې یې عملي کولو ته د کورنیو تر منځ د منفي رقابت لاره هواره کړه.

## سریزه

نکاح یو الهي امر دی، هره ټولنه او هر دین د خپلې عقیدې په چوکاټ کې ښځه او نر له یو بل سره واده کوي، په اسلامي ټولنو کې واده د اسلام دین د یوه سپېڅلي عمل په توګه تر سره کېږي، که د بشریت تاریخ ته اوګورو هره ټولنه خپل تاریخ، کلتور، فولکلور، دیني، مذهبي، ملي او په ټوله کې ثقافتي ارزښتونه لري، د نړۍ په کچه ټولنې ځینې داسې تعمولاتي کودونه لري چې ژوند – ژواک یې پرې ترلی، لکه څنګه چې ټولنې مختلفې او ډېرې دي همداسې یې طبقاتي، سیاسي او ټولنیز جوړښتونه له یو بله سره توپیر لري، همداشان افغاني ټولنه چې کثیرالقومي ټولنه ده او له مختلفو پرګنو نه جوړه شوې؛ خپل تاریخ، کلتوري او اسلامي ارزښتونه لري، چې بیا دغه ارزښتونه او تعمولاتي کودونه په عام او خاص ویشل شوي، چې ښه بېلګه یې د واده په مراسمو کې بېلابېل دودونه دي، افغاني ټولنه په ټوله کې سره ورته کلتور او عنعنات لري، چې ډېر دودونه یې په ټولو قامونو کې یوشان ارزښت او اهمیت لري، د افغاني ټولنې د هر قوم د واده مراسم څه نا څه توپیرونه لري، خو په ټوله کې یې عمومي مراسم سره ورته دي، دا چې په دې وروستیو څلوېښتو کالونو کې او په خاص ډول د دوو لسیزو را په دېخوا د هېواد اصیل عنعنات له هره اړخه اغیزمن شول، د دې اغېزمنتیا لاملونه په افغانستان باندې د بهرنیو زبر ځواکونو یرغلونه او په داخل کې د سیاسي ډلو خپلمنځي سیاسي او نظامي اختلافونه وه چې په نتیجه کې یې افغانان په کور د ننه او بهر هېوادونو ته مهاجر شول، کله چې بیا ځلي له هرې سیمې او هېواده افغان مهاجر را ستانه شوي د ځانه سره یې د هم هغې سیمې رواجونه راوړي دي، دویم لامل یې ازادې رسنۍ دي، چې په دې تېرو شلو کلونو

کې په لسګونو تلویزونونو، کېبل چینلونو، په سلګونو FM راډیو ګانو بهرني ناوړه فرهنګ ته د ډرامو او سریالونو له لارې ترویج ورکړ او په ټولنه کې یې عملي کولو ته د کورنیو تر منځ منفي رقابت لاره هواره کړې ده. د دغه منفي فرهنګ یا ناوړه دودونو یوه بېلګه د واده په دود کې بې ساری افراط او تفریط دی، چې زموږ ټولنه په خاص ډول ځوانان یې له سترې ستونزې سره مخامخ کړي دي، په دې څېړنه کې د واده دوه ډوله دودونه او مراسم څېړل شوي، لومړی کلیوالي دودونه چې ډېرې بېلګې یې د لویې پکتیا دودونه دي، دویم: په عام ډول په لویو ښارونو کې دودونه تر څېړنې لاندې نیول شوي، دا چې د څېړنې وخت کم و او په کابل کې ارقامو را ټولولوته زر لاسرسی کېده نو پر همدې دلیل کابل د یادو دودونو د څېړنې د مرکز په توګه ټاکل شوی دی. دغه څېړنه دوې برخې لري، یوه برخه د کوژدن په اوږدو کې او بله برخه د واده په نمانځنو پورې متمرکزه ده چې د سروې او ارقامو په رڼا کې  پرې بحث شوی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دا څېړنه په داسې وخت کې تر سره کېږي، چې له یوې خوا افغاني ټولنه د جګړې په اور کې سوځي او له بلې خوا د پردیو غیر متوازنو فرهنګي دودونو له یرغل سره مخامخ شوې ده، د دې څېړنې مبرمیت په دې کې دی چې ټولو دردوونکو ناخوالو سره تر ډېره غریب او مجبور ملت د مصارفو د روند بار لاندې نور هم په ملا ماتېږي.

## د څېړنې موخې

د څېړنې موخه په افغاني ټولنه کې د ناوړه دودونو په نښه کول او د منفي پایلو ارزول دي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- دود څه ته وایي او په ودونو کې ناوړه دودونو کومې ستونزې را ولاړې کړې دي؟

۲- د افغاني ټولنې اصلي دودونه څه ارزښت لري؟

۳- په هوټلونو کې د ودونو لوړ مصارف په کورني ژوند باندې کومې منفي اغزې لرلی شي؟

۴- په دې وروستیو دوو لسیزو کې افغاني ټولنه له کومو منفي دودونو ښکار شوې او د دې دودونو د مخنیوي لارې چارې څه دي؟

## د څېړنې میتود

په ودونو کې ناوړه دودونه څېړنه د تشریحي میتود په رڼا کې تر سره شوې چې مواد یې د سروې له لارې د مشاهدو، مصاحبو او ارقامو را ټولولو په نتیجه کې تر لاسه شوي دي.

## د مقالې متن

د دود، رواج، عنعنې او عرف لغوي معنا پېژندل دي، په اصطلاح کې هغه پېژندل شوې او مشهوره چاره ده چې د عامو خلکو تر منځ د یو قرارداد په توګه منل شوې او پر بنسټ یې معاملات تر سره کوي، دودونه د هرې ټولنې د کلتور او په ځانګړې توګه د فولکلور یوه لویه برخه ده، چې دوه اړخه لري، مثبت او منفي، ځینې دودونه په انساني ژوند کې لوی حیثیت او مقام لري، همدغه دودونه دي چې د هرې ټولنې ټولنیز ارزښتونه پکې خوندي دي، چې د یوې ټولنې د وګړو تر منځ د تعاملي قوانینو په شان د اجراء وړ دي، ډېر وخت د یوې ټولنې د وګړو ترمنځ شخړې د هغې ټولنې د دودونو په رڼا کې هوارېږي، دودونه په اصل کې د یوې ټولنې د وګړو ترمنځ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره منل شوې لارې چارې او قراردادونه دي چې د انساني ټولنو له بقا سره نه بېلېدونکې اړیکې لري، غوره دودونه د اسلام په مقدس دین کې هم جواز لري، ځکه چې اسلام دین د خپل وخت له ټولو دودونو او رواجونو سره ټکر و نه کړ، هغه دودونه چې د انساني ټولنې بقا پکې نغښتې وه تائید کړل او پر عملي کولو یې ټینګار وکړ، چې په دې اساس ((د اسلام په حقوقي نظام کې د تشریع څلورم مصدر یا سرچینه عرف دی)) (۱)

دویم ډول دودونه ناوړه یا منفي دودونه دي، منفي دودونه همېشه په یوه ټولنه کې د ځینو انسانانو له خوا را منځته کېږي او ټول منلي نه وي، سالم عقل یې نه مني په عام ذهنیت کې مردود وي او د اړونده ټولنې له خوا تحریم شوي وي، ځکه چې پایله یې ډېره ناوړه او تبا کوونکي وي، لکه: ((په محفلونو او بنداړونو کې د نارینه وو او ښځینه وو ګډول، ... د ښځو په بدو کې ورکول، د ښځو محرومول له میراث نه...)) (۲) د عدلیې وزارت د واده د قانون اساسي موخې هم د ناوړه دودونو له منځه وړل دي، د همدې قانون د لومړي فصل په دویمه ماده کې لیکل شوي: د دغه قانون موخې عبارت دي له: ۱- د اسلام د سپېڅلي دین د حکمونو د مغایرو رسومو او عنعنو له منځه وړل. ۲- د اصیلو فرهنګي ارزښتونو ساتنه او غوره سنتونو ته درناوی. ۳- د زیاتو لګښتونو مخنیوی او د محفلونو په

تر سره کولو کې د آسانتیاوو برابرول. ۴- د اسلامي ارزښتونو ساتنه او له اخلاقي انحرافاتو څخه مخنیوی. ۵- د ټولو لپاره د سالمې کورنۍ د جوړولو د زمینې برابرول. ٦- د کورنۍ د شیرازې ساتل او د کورني تاوتریخوالي مخنیوی. ۷- د زوج او زوجې او د دوی د کورنیو ترمنځ د ښو او پائیدونکو اړیکو تأمینول. (۳) د دې لنډې مقدمې په رڼا کې به د دې څېړنې موضوع چې (په ودونو کې ناوړه دودونه) تر سرلیک لاندې څېړل کېږي په جامع ډول و ارزول شي او د واده په سپېڅلي دود او په دې دود کې د منفي دودونو د منځته راتلو په اړه به مفصل بحث وړاندې شي.

دا څرګنده ده چې واده کول طبیعي امر دی او د نورو موخو تر څنګ یې اصلي هدف د آدم زاد د نسل بقا ده، لکه څنګه چې د انسانانو تر منځ د مال-مطع د ملکیت قرار داد موجود دی همداشان د انسانانو او جندر تر منځ هم دا قرارداد د انسان له پیدایښت او پایښت سره تړلی دی، د هرې ښځې لپاره د هغه خاوند او د خاوند لپاره یې ښځه حقوقي ملکیت دی، د دې ملکیت جواز آسماني دینونو هم ورکړی، دنیاوي ادیانو هم ، مدني قوانینو خپل جواز ورکړی او د ټولنیزو تعاملاتي کودونو په توګه خپل ارزښت او مقام لري، بحث پر همدې دی چې په ډېرو ټولنو کې په ځانګړې توګه په افغاني ټولنه کې ځینې ناوړه دودونه پر واده او په ځانګړې توګه د نکاح پر سپېڅلي مقام مسلط شوي دي، د دې مقام ټول هغه ارزښتونه چې په مینه، اخلاص، اخلاقو او انسانیت ولاړ دي تر سیوري لاندې را وستلي او د انسانانو په ټولنیز ژوند کې یې بېلابېلې ستونځې را پیدا کړي دي، ډېر یې اسلامي شریعت سره په ټکر کې واقع شوي، شریعت هغه څه خوښوي چې د انسانانو ښېګړه پکې وي، په دې دودونو کې له یوې خوا خیر ښېګړه نشته او له بلې خوا یې د کورنیو، ښځې او خاوند ترمنځ نفرتونه زېږولي.

بل بحث د فولکلور په تصنیف بندۍ کې د واده او په هغه کې د شاملو دودونو دی، فولکلورستانو واده د ولسي ادب ډلبندۍ په یوه لړ کې را وړی او په واده کې شامل دودونه په بل او په دودونو کې سندرې په بله برخه کې را وړي، چې دغه مقاله د دې بحث د اوږدولو حوصله نه لري، خو که سړی د پښتني فولکلور د فولکلور څېړونکو ډلبندۍ په دقیق ډول مطالعه او مقایسه کړي، دغه تکرار له ورایه معلومېږي. د واده دودونه د فولکلور څېړنې له مخې د خلکو په هنرونو کې شامل دي، چې دوه اړخه لري یو اړخ یې ولسي ادب دی او بل اړخ یې مادي فولکلور، څکه چې د خلکو هنرونه په لفظي، نیمه لفظي او

غیر لفظي هنرونو باندې هم وېشل شوي دي (په لفظي هنر کې سندرې، متلونه، نکلونه، اړې یا ټکي (چیستانونه) ډول ډول ولسي کیسې او نور راځي، چې دغې برخې ته معمولاً شفاهي ادبیات، فولکلوري ادبیات یا د ځینو لیکوالو په اصطلاح ولسي ادبیات هم ویل کېږي.

په نیمه لفظي هنر کې د خلکو ډرامې اتڼونه او شبرۍ (چې نڅا او سندرې دواړه په کې راځي) د لوبو، ټوټکو او جادو ځینې شکلونه اونور. په غیر لفظي هنر کې د خلکو مستظرفه صنایع، خوراکونه، نڅاوې، موسیقي او داسې نور راځي.) (۴) په پورته ډلبندۍ کې ځیني توکي په یو بل کې سره تداخل لري، لکه په نیمه لفظي هنر کې (ډرامې، شبرۍ او سندرې) په لفظي هنر کې شامل دي او (نڅاوې) په غیر لفظي هنر کې، دا او دې ته ورته ډېر شمېر ستونځې د فولکلوري موضوعاتو په ډلبندۍ کې شته. دا چې د بحث لمنه مو را ټوله کړې وي را گرځم آرې موضوع ته، چې له خپل هدف او مبرمیت سره سمه و څېړل شي او لومړۍ پیل یې د انجلۍ له غوښتنې څخه په ولور پیل کېږي.

**ولور**: ولور د ناوې قیمت ته ویل کېږي او هغه پیسې دي چې د ناوې پلار، وروڼه او یا کورنۍ یې د زوم له کورنۍ اخلي، په دې باب (د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس) لیکي: ((په قبیلوي اصطلاح کې ولور هغه حق دی چې پلار یې د لور یا ورور یې د خور یا تربور یې د ترلې په ورکړه کې لري. ولور د ښځې د خپلوانو له خوا ټاکل کېږي او د زوم له خوا تادیه کېږي.)(۵)

د واده قانون د دریمې مادې دریم بند، د ولور اصطلاح په دې ډول تشریح کوي: طویانه: هغه وجوه دي چې د ناوې ولي یا خپلوان یې د دغه پیوند د منلو او د ناوې د پالنې د پاداش یا د جهیز د برابرولو لپاره له زوم او یا یې له خپلوانو څخه د (شیربها، ولور، قلین، گله او پېشکش) په نامه غواړي.(٦)

د همدې قانون د دویم فصل په شپږمه ماده کې راغلي:

((د ناوې له اولیاء او خپلوانو څخه هېڅ یو نه شي کولای، د نجلۍ د ازدواج یا واده په مناسبت د طویانې(شیربها، ولور، قلین، گله، پېشکش او جهیزیه او یا دې ته ورته) په نامه پیسې یا بله امتعه په اجباري توگه تحمیل کړي او له زوم یا د هغه له اولیاء او خپلوانو څخه یې وغواړي او هغه د واده او نکاح د عقد د محفل د انعقاد مخکې شرط کړي.(۷) دې ناوړه دود شرعي نکاح ته هم ستونځه جوړه کړې، ځکه چې هر زلمی نشي کولای

واده وکړي او له بلې خوا په هر مناسبت کې، لکه اخترونه، نوی کال، براتي، روژه ماتی او نورو وختونو کې هلک دې ته جبراً اړ کېږي چې د جلۍ کور ته (کالي، طلا، وچه او تازه میوه، پالوده، شیریخ... او نور(۸) توکي د برخې په نامه وروړي. د افغاني ټولنې په ځینو سیمو او خلکو کې جلۍ د پلار سپین چک دی، چې کلونه کلونه یې انتظار باسي، کله یې چې څوک خپل زوی ته ترې غواړي نو لومړی د یو جنس په توګه پرې بیع بازي کوي، ښه لوړ قیمت پرې ږدي، د بیع بازۍ په وخت کې چې کله جګړه ګرمه شي نو پلار یې د نورو مثالونه ورکوي چې زما لور له پلاني له لوره څه کمی لري، هغه په (لس یا دولس) لکه واده شوې، زما د مشاهدې له مخې چې د کوژدنو په ځینو دا ډول جرګو - مرکو کې مې ګډون کړی، که ګورم چې ډېر ځله د جلۍ له پلار څخه دا هېرېږي چې آیا زه د خپل اولاد د کوم برخلیک په اړه خبرې کوم، آیا د اولاد په نوم څوک را باندې حق لري؟ او یا زه د کوم چا وکیل یم؟ دومره تونډ، تور او تریو شي چې یواځې له پیسو پرته هرڅه یې له یاده ووځي، په پای کې له (شپږو تر لسو لکو) افغانیو په ولور راضي شي.

**خواږه اوبه:** د ولور له ټاکلو وروسته د زوم په کورنۍ باندې دوه ډوله توکي ایښودل کېږي، لومړی د ناوې پوښ، چې بېلابېل توکي په کې شامل دي، دویم (خواږه اوبه) په خوږو اوبو کې هغه توکي شامل دي چې یوه برخه یې د واده په مراسمو کې مصرفېږي، د واده د مراسمو په قانون کې یوه نیمګړتیا داده چې یواځې د مرکزي او شمالي سیمو د واده دودونه په کې راغلي، (خواږه اوبه) ډېر ملاماتونکی دود دی چې په دې قانون کې نه دی درج شوی، یواځې د (جهیز) تشریح شوې، د (خوږو اوبو) دود په توکو باندې دواړه کورنۍ هوکړې ته سره رسېږي چې په لاندې جدولونو کې ترتیب شوي دي:

| ګڼه | د جنس نوم | اوسط اندازه | د یوه قیمت | ټول قیمت په افغانیو | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | [illegible] | [illegible] |
| ۱ | ولور | اوسط له ٦ تر ۱۰ لکوپورې | ۱۱ | ۱۰۰۰۰۰۰ یوملیون افغانۍ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | د طلاسیټ | اوسط سل تر یونیم سل زرو | ۱۱ | ۱۵۰۰۰۰ |
| ۳ | د ناوې قیمتي کمیسونه | پنځه جوړه | ۵۰۰۰ | ۲۵۰۰۰ |
| ۴ | د ناوې متوسط کمیسونه | لس جوړه | ۳۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ |
| ۵ | د ناوې بوټونه | شپږ جوړه | جوړه ۱۵۰۰ | ۹۰۰۰ |
| ٦ | د سینګارتوکي | د هرې برخې یو سیټ او یوه بسته | بېلابیل توکي | ۴۰۰۰۰ |
| ۷ | د ښځینه (دود) کالي | ۱۰۰ تر ۲۰۰ جوړه | ۵۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۸ | د نرینه (دود) کالیو | ۱۰۰ تر ۲۰۰ جوړه | ۵۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۹ | دود لونګۍ | ۱۰۰ تر ۲۰۰ جوړه | ۵۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۱۰ | سپله وریژې | یو خروار تر سلو منو، یوه بوجۍ ۳منه ده، یو خروار، ۲٦،٦٦ بوجۍ کېږي | ۲۴۰۰ | ٦۴۰۰۰ |
| ۱۱ | غوښه | ۱۵ تر ۳۰ منو | ۲۵۰۰ | ۷۵۰۰۰ |
| ۱۲ | غوړي | لس پیپه | ۱۵۰۰ | ۱۵۰۰۰ |
| ۱۳ | لرګي | یوخروار | ۸۰۰۰ | ۸۰۰۰ |
| ۱۴ | بوره | یوه بورۍ | ۲۳۵۰ | ۲۳۵۰ |
| ۱۵ | خوانی (وچه میوه) | لس منه | ۱۵۰۰ | ۱۵۰۰۰ |
| ۱٦ | کچالو | لس منه | ۱۰۰ | ۱۰۰۰ |
| ۱۷ | پیاز | لس منه | ۱۵۰ | ۱۵۰۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | مالگه | پنځه بستې | ۵۰ | ۲۵۰ |
| ۱۹ | رومیان | پنځه منه | ۱۰۰ | ۵۰۰ |
| ۲۰ | پالک | لس منه | ۱۶۰ | ۱۶۰۰ |
| ۲۱ | اشپزمصرف | ۳۰ منو وریژو پخول | ۴۰۰ | ۱۲۰۰۰ |
| ۲۲ | د ماما کبو یا کبا | ۲۰ تر ۱۰۰ زرو پورې | \\ | ۶۰۰۰۰ |
| ۲۳ | د تره کبا | ۲۰ تر ۱۰۰ زرو پورې | | (۹)۳۰۰۰۰ |
| جمله | | ۱۶۹۰۲۰۰افغانۍ | | |

په پورتني لست کې عمومي ارقام ډلبندي شوي چې ځينې وخت د ځينو کورنيو تر منځ يې د مصـرف گراف ټيټ او په ځينو کورنيو کې تر دې لوړ وي، همداشان د لويې پکتيا د بېلابېلو قبيلو تر منځ هم لږ ډېر توپير سره لري، په ځينو کې يې د مصرف گراف پورته او په ځينو کې متوسط حالت لري، ځينې دودونه په ځينو قبيلو کې شته او په ځينو کې نشته لکه (کبو يا کبا) چې ډېر ناوړه دود دی. پورتنی لست د لويې پکيتا، (لوگر، پکتيا، خوست او پکتيکا) د واده له دودونو څخه رغيدلی چې د دوو کورنيو ترمنځ پرې توافق شوی، د هېواد په ځينو سيمو کې دا لست تو پير لري په ځينو سيمو کې ښايي مساوي وي يا ډېر وي او يا تر دې ډېر لږ وي.

**دويم په لويو ښارونو کې د واده د مراسمو دودونه:** په لويو ښارونو کې د واده ناوړه دودونه زياتې بېلگې لري، هغه که په کورونو کې تر سره کېږي او که په هوټلونو کې، خو کوم مراسم چې په هوټلونو کې تر سره کېږي، د ډېرو ملاماتونکو ناوړه دودونو څخه تېرېږي او پايلې يې ډېرې خطرناکې او گوابنوونکي وي چې دلته به پرې په تفصيل سره بحث وشي.

**۱ - په هوټلونو کې د واده مراسمو نمانځل:** کوم عيب او ناوړه کار نه دی، خو دا چې د واده مراسم په کومه بڼه اجراء کېږي د پوښتنې وړ دي، ډېرې کورنۍ داسې دي چې کله يو څوک خور او لور ترې غواړي، يو شرط يې په هوټل کې د واده کول دي، ځينې د جلې کورنۍ دا هم ورته مشخصوي چې واده به په پلان او پلان هوټل کې کوي، زموږ د مېلمنو شمېر به (څو سوه) نفره يا تر دې پورته وي، د نامزدۍ (کژدن) په دوره کې به

(جوړې، طلا، مېوې... او نور) شیان را وړې د غذامینو به (فوق العاده یا کومه بله) درجه وي، په دې ځېړنه کې چې د کابل د بېلابېلو هوټلونو څخه (کوټشنونه) نرخ اخیستل شوی، د نامتو هوټلونو د لومړۍ درجې غذا یو خوراک په (۱۳۰۰) افغانۍ دی، که چېرې تعداد د مېلمنو (۱۰۰۰) تنه شي او د لومړۍ درجې یو خوراک پیسو کې یې ضرب کړو ټول (۱۳۰۰۰۰۰=۱۳۰۰x۱۰۰۰) یو ملیون درې سوه زره افغانۍ کېږي او ټیټه درجه یو خوراک په (۳۰۰) افغانۍ دی، که (۶۳۰۰۰۰ = ۶۳۰x۱۰۰۰) شپږ سوه دېرش زره افغانۍ کېږي، دا خورا کونه نمایشي دي، یو نورمال کس دومره ډېره ډوډۍ، سلاد، فریني، میوه، څښاکونه او نور شیان په یوه وخت کې نشي خوړلی، په دې اړه د یوه مشهور هوټل د ډوډۍ تقسیمولو مدیر راته وویل: (په اوړي کې د دې ډوډۍ یوه برخه خوړل کېږي دوې برخې هسې تلا ترغه شي، خو په مني او ژمي کې بیا دوې برخې خوړل کېږي او یوه برخه کثافاتو ته غورځول کېږي)(۱۰)، د همدغو زیاتو مصارفو په موخه عدلیې وزارت (د واده د مراسمو قانون) جوړ کړ، د همدې قانون په اوولسمه ماده کې راغلي: ((ښاروالۍ او د کسبگرو اتحادیه مکلف دي چې په هوټلونو، سالونونو او رسټورانټونو کې د واده محفلونو خوراکي مینو کنټرول کړي او د في تن لپاره له دریو سوو افغانیو د زیاتې مینو ګانو له برابرولو او د الکولي مشروباتو له څښلو څخه مخنیوی و کړي.(۱۱)، خو تر اوسه پورې دا قانون نه دی پلی شوی، کله چې د دې څېړنې په موخه د کابل ښار د بېلابېلو هوټلونو او د ودونو په مراسمو کې د نورو کارېدونکو توکو نرخ اخیستل شوی، هلته واضح معلومېږي، چې نوموړی قانون په دې نرخونو هیڅ اثر نه لري او د بېلا بېلو نرخ ورکوونکو له مصاحبې څخه معلومېده چې قانون یعنی څه؟ بل دا چې د حکومت له خوا قوانین وضعه شوي خو د تطبیق ساحه یې په هېڅ حساب ده، په هر صورت که چېرې د حکومت له خوا دا مصارف و سنجول شي او د طبي اصولو له نظره د هر کس لپاره د ډوډۍ اندازه تعین شي او بیا د ټاکلې نرخنامې له خوا پلي شي دا به ډېره غوره وي، هم به دولت ته ګټه وي او هم به ملت د ازاد بازار د لوړو قیمتونو له خپل سریو په آمن کې وي، چې په دې اړوند په حللارو کې طرحه وړاندې شوې.

د دودونو د ناوړه پدیدې منفي تاثیرات تر ډېره وخته د جلۍ، هلک او د هلک د کورنۍ په ژوند پربوځي، پایله یې د هلک په اوږد مهاله مسافرۍ، خطرناکو او درندو چارو، پور اخیستلو، ذهني او رواني ستونځو، معتادۍ او حتی غلا ته په مجبورۍ تمامېږي، د جلۍ

ژوند هم په تدریجي ډول ورسره تریخ شي، همدغه منفي تاثیرات یې اولادونه هم اغیزمن کړي، په نورمال ډول نشي کولای سالم اولادونه ټولنې ته وړاندې کړي.

**لومړی- د نکریزو شپه:** د هوټل په کارتونو کې لیکل شوي وي چې (د نکریزو شپه د مراسمو په پیل او تخت جمعي د مراسمو په پای کې تر سره کېږي)، په دې جمله کې درې دودونه تړل شوي دي، (د نکریزوشپه، د واده مراسم او تخت جمعي)، ځیني خلک دا درې واړه ځانته ځانته په هوټلونو کې نمانځي چې ډېر زیات مصارف پکې کېږي، چې د ودونو قانون په څلورمه ماده کې د واده له مراسمو پرته نور ټول مراسم ممنوع بلل شوي، لکه: ((د لوظ اخیستنې، نامزادۍ او یا شیریني خورۍ، خویش خورۍ، د نکریزو د شپې، تخت جمعی، پایوازۍ، شپږمې شپې، کلیزه، په ماشوم د نوم ایښودنې، کاکل گیرۍ، سنتۍ، له حج او سفره د راگرځېدو او له زده کړو د فراغت د جشن د نمانځلو محفلونه په هوټلونو، سالونونو او رسټورانټونو کې نه شي تر سره کېدای.(۱۲) په افغاني فرهنگ کې د نکریزو شپه ډېره په زړه پورې او خپلې ځانگړنې لري، د کلي نجونې د ناوې کور ته د نکریزو په شپه را ټولېږي، د وراځیو (ورابانړو) سره یو ځای د ناوې لاس په نکریزو سور کوي، پېغلې سندرې وایي، ځانپېښې او اتڼ کوي، چې بې له ستړیا او مصارفو ښایسته پروگرام تر سره کوي، خو بل خوا په هوټلونو کې د نکریزو شپې لپاره د ناوې سنگار په سینگارتون (آرایشگاه) کې چې له څلورو څخه تر شپږو پورې نورې ښځې ورسره سینگارېږي(۱۳)، چې په لویو ښارونو کې د واده د دودونو یو له لوړ مصرفه دود څخه گڼل کېږي چې په خپل ځای کې به پرې بحث وشي.

**دویم- د واده مراسم:** د واده په مراسمو کې د نکریزو شپې په خلاف درې یا څلور برابره زیات مصرف کېږي، ځکه چې زیات خلک دعوت کېږي په یادو مراسمو کې د مېلمنو تعداد څو سوو او یا څو زرو ته رسېږي، د ودونو د مراسمو په قانون کې د مېلمنو شمېر زیاتو نه زیات (۵۰۰)(۱۴) تنه ښودل شوي، همداشان د واده په مراسمو کې مصرفي توکي لږ ډېر توپیر کوي او د غذا ترځنگ په هوټل کې د واده مصارف ډېر پورته بیایي، چې په جدولونو کې په نښه شوي دي.

**درېیم تخت جمعي:** دا دود د نکریزو او د واده د دود په شان تر سره کېږي، خو د دې دود بنه د ځینو توکو د کارولو له مخې ځانگړې بڼه لري، لکه د پلار د کور له خوا د ځینو تیارو خوراکونو راوړل او نور.

**سینګارتون (آریشګاه):** په لویو ښارونو کې یو تر ټولو مهم شرط په آرایشګاه (سینګارځای) کې سینګار کول دي، د سینګار کولو طریقه یې داسې ده چې لومړی به یوه ورځ مخکې ناوې سره د څو تنو ښځو سینګارځای ته ځي، مخونه یې مساژوي، د مخ او لاسونو ویښتان یې نخ وي همداشان نور د اړتیا وړ کارونه پرې تر سره کوي او د دویمې ورځې سینګار ته یې برابروي، سبا بیاځلې ورځي په بېلابېلو رنګونو یې سینګاروي چې هېڅ نه پېژندل کېږي، د آرایشګاه (سینګارځای) لپاره د دري ژبې یوه اصطلاح مشهوره ده، چې وایي: (انسان درآید، ببو برآید)، خو سینګاروونکي یې ښایسته رنګ امیزي کوي په هر صورت، دا دود بد دود نه دی او په حقیقت کې ډېر مصرف هم نه لري، خو اوس یې ناوړه رقابت او زیاتې تقاضا د یوې ناوې د سینګار مصرف څو برابره لوړ کړی، په دې څېړنه کې چې د کابل ښار د بېلا بېلو آرایشګاوو (سینګارځایونو) نرخ اخیستل شوی، هغه سینکارځایونه چې ډېر مشهور شوي او د (برنډ) حیثیت یې خپل کړی له (۲۰۰۰۰څخه تر ۴۰۰۰۰) زرو افغانیو پورې یوه ناوې سینګاروي او د ناوې سره څلورو یا شپږو پورې ښځې هم وي چې د یوې تنې په سینګار (۱۰۰۰)(۱۵) زر افغانۍ اخلي.

**د ستېژ جوړول:** د هوټلونو په وادونو کې یو تر ټولو ناوړه او ډېر مصرفه دود د ستېج ډېکورېشن دی، چې د نکریزو واده او کله کله د تخت جمعۍ د مراسمو لپاره هم جوړېږي، د دې ستېج په ډېکور کې، بېلابېل توکي کارېږي، د کابل ښار د مشهورو هوټلونو د یوه ستېج پر جوړولو په اوسط ډول له (۵۰۰۰۰)پنځوسو زرو څخه تر (۵۵۰۰۰۰)پنځه سوه پنځوس زرو افغانیو پورې اخلي، چې په دې څېړنه کې د هر ستېج او اړوند توکو نرخ اخیستل شوی او په جدولونو کې ترتیب شوی، خو هغه هوټلونه چې ډېر مشهور نه دي د هغوی د ستېژ (دریځ) جوړونکي یوه دریځ (۱۰۰۰۰)لس زره افغانۍ جوړوي.

**د فلم او عکسونو اخیستل:** په ودونو کې بل جنجالي دود د فلم او عکسونو اخیستل دي، افغاني ټولنه چې له یوې خوا اسلامي ټولنه ده او له بلې خوا، پر ناموس ننګ د دوی لپاره د مرګ او ژوند سره تړلې عقیده ده، د ډېرو درنو کورنیو د واده مراسمو فلمونه او عکسونه، خپاره شوي او کېږي، د خپرولو لارې چارې اوس خورا اسانې او ارزانې دي، تلیفون، کمپیوټر، فلش، میموري، بالاخره انټرنیټ هغه وسیلې دي، چې په څو ثانیو کې د ډېرو شریفو خلکو او کورنیو عزت او شرف د خاورو سره خاورې کړي، د دې څېړنې په ترڅ کې داسې شواهد لاس ته راغلل چې په ودونو کې د ځینو ښځو له خوا په پټه د

تلیفون له لارې فلم او عکسونه اخیستل شوي وو، چې وروسته سهواً یا قصداً خپرېږي، د واده کورنۍ د خپل واده فلم ګوري چې په دې فلم کې یوه ښځه د ډوډۍ خوړلو د میز لاندې په پټه د موبایل په کمره فلم اخلي، د واده کورنۍ په دې عمل سخته غوسه کېږي، چې بالاخره د څو خپلوانو کورنیو ترمنځ د بېګناه انسانانو د قتلولو سبب کېږي. بل دا چې په خپله هغه فلم اخیستونکي ډاډمن خلک وي، کیدای شي، کمره یې ورکه شي د بل چا لاس ته ورشي او یا کومه بله پېښه پرې وشي، په هر ډول چې وي دا فلم یوه ورځ خپرېږي او د کورنیو تر منځ تلپاتې ستونځې او مشکلات په ځای پرېږدي. په دې څېړنه کې د کابل ښار د بېلابېلو فلم پروډکشن له یونیټونو څخه د مصاحبې، مشاهدې او ارقامو اخیستلو له لارې مواد او مدارک را ټول کړل شوي، چې د نرخ سره سم په جدول کې ډلبندي شوي دي، خو په او سط ډول په یوه واده کې د فلم او عکاسۍ مصرف له (٦٠٠٠٠) شپېتو زرو نه تر (۴۰۰۰۰۰) څلورسوه زرو پروې کېږي، تر دې ټیټ او لوړ نرخونه هم اخیستل شوي دي، خو په دې څېړنه کې د اوسط قیمت ارقام وړاندې شوي دي.

**۲- د هوټل لپاره د هنر مند ټاکل:** ډېرځله د جلۍ کورنۍ په لست کې سندرغاړی هم په نخښه شوی وي، چې د دوو یا دریو ساعتونو په اوږدو کې د څو غیر اخلاقي سندرو په ویلو له (سل زرو څخه تر څو سووزرو) پورې پیسې اخلي، که د هلک کورنۍ د سندرغاړي او یا د هوټل موقعیت د بدلولو وړاندیز وکړي د جلۍ کورنۍ له خوا په بېلابېل ډوله ناندریو سره بدرګه شي، لکه: داځه ګوشنه خلک دي، داسې بې سیاله خلک په دوستي نه ارزي، دا څومره بې سلیقې دي، هېڅ فرهنګ نه لري... او نور.

| د جنس نوم | د یوه وخت لپاره د کرایې قیمت په افغانیو |
|---|---|
| قرآن کریم سبد | ۵۰۰ |
| د ناوې لاس تازه او مصنوعي ګل | ۱۵۰۰ |
| مالیده داني | ۵۰۰ |
| منګی | ۱۰۰۰ |
| د نکریزو لپاره د ستیج ډیکور | ۵۰۰۰۰ |
| زېورات داني | ۱۵۰۰ |
| شربت څښلو سیټ | ۲۵۰۰ |
| شمع او شمعدان | ۵۰۰ |

| | |
|---|---|
| د نکریزو سبد | ۴۵۰۰ |
| د نکریزو پتنۍ سبد (خینه پیچ) | ۵۰۰ |
| گل پاشان سبد | ۳۰۰۰ |
| په مختلف ډوله ډیزاین ستېج جوړول | ۵۰ نمبر ستېج ۱٦۰۰۰۰ |
| د کیک ترتیبولو میز ډیزاین | ۲۵۰۰ |
| د میز د سر تازه او مصنوعي گلدانونه | ۱۵۰۰ |
| د استقبالیې پایې | ۴۰۰۰ |
| د هوټل فرش د تازه گلونو سره | ۲۵۰۰ |
| د ناوې سر تاج | ۱۰۰۰ |
| د زوم د جیب گل | تحفه ورکول کېږي |
| چله داني | ۱۵۰۰ |
| د نکاح نقلو بسته بندي | قطی په ۱۰۰، ۵۰ تنو لپاره ۵۰۰۰ |
| د چوب جنگۍ لکړې | ۵ جوړې ۱۰۰۰ |
| د ناوې کمربند فیته | ۵۰۰ |
| د مخ کتو هنداره | ۱۰۰۰ |
| نکاح خط | ۱۰۰۰ |
| کیک پرې کولو شمشیر | ۵۰۰ |
| د کیک پطنوس | ۱۵۰۰ |
| ټرالۍ(کراچۍ) | ۲۵۰۰ |
| د اتڼ لپاره منگي | ۳۰۰۰ |
| د نکاح میز ډیزاین | ٦۰۰۰۰ |
| د چوکیو او میزونو د سر بوه گانې (پتنې) | پتنۍ په ۴۰ |
| سفنجي خامه يي کیک | کیلو ۴۰۰، اوسط ۳۵ کیلو، ۱۴۰۰۰ |
| مالیده | ۲ کیلو ۱۰۰۰ |
| کرايي موټر | کمارو ۵۰۰۰ |

| | |
|---|---|
| د موټر ګلپوش | کمارو ۲۰ نمبر موټر ۱۵۰۰۰ |
| ډول او سرنۍ | ۵۰۰۰ |
| باجه خانه (باجه چیان) | ۱۳۰۰۰ |
| ډي – جي(D-J) | ۴ لاوډسپیکره ۸۰۰۰ (۱٦) |
| فلمبرداري یونټ(Full HD) | له ٦۰۰ ډالرو تر ۱۵۰۰ډالرو پورې |
| ثبت سیستم (چیپ او کست) | // |
| د کمرو تعداد | // |
| د کمرو ډیجیټل کول | // |
| لایټنګ | // |
| د اور غورځولو ماشین | // |
| ډانس فلور | // |
| لایټنګ سره فرم(Truss) | // |
| ښځینه کمره مین | // |
| کوچنی آلبوم | // |
| لوی البوم | // |
| مجله یي کرسټال آلبوم | // |
| مجله یي کرسټال (۳D) آلبوم | // |
| ډي وي ډي (DVD) | // |
| بلوري (Blue ray) | // |
| هارډیسک (Hard Disc) | //(۱۷) |
| سندرغاړی | ۲۰۰۰۰ افغانیو څخه تر ۳۹۲۰۰۰افغانیو پورې(۱۸) |
| ډوډۍ | یو خوراک له ۲۸۰ څخه تر ۱۳۰۰۰ افغانیو پورې(۱۹) |

په جدول کې را ټول شـوي ارقام د کابل ښــار له مشــهورو هوټلونو څخه د جګړو (نرخ) اخیســتو له لارې را ټول شـوي، د هوټلونو، ګلفروشـانو او فلمي پروډکشـنونو له چلوونکو سره د دې توکو د کارونې په اړه مصاحبې شوي، دوی هر یوه خپل کار د مشاهدې لپاره

هم عملي را و ښود او هم يې د لوی سکرين پر پرده ويډيويي او تصويري را و ښود (فلې) کړ، له دې ښاغلو سره د پوښتنو او مباحثې په ترڅ کې معلومه شوه چې ځينې خلک د پورتني لست ټول مواد په خپلو ودونو کې کاروي او ځينې خلک يو شمېر توکي له دې لست څخه حذفوي، د دوی په وينا داسې خلک هم شته چې د دې لست نه هاخوا نور توکي او شيان هم غواړي، لکه: د اتڼ لپاره د هلکانو ټيم را وستل، ځينې خلک بازاري نڅاګر هلکان او جينکۍ هم غواړي، چې د واده مصرف دوه برابره لوړېږي، دا او داسې نور ناوړه دودونه شته چې د نوي کول (نسل) په وړاندې يې ډېرې ستونځې را ولاړې کړې دي، موږ وينو چې که څه هم دا هر يو توکی ځانته خپل خپل قيمت لري، خو د ناوې پرته نور ټول توکي د څو ساعتونو لپاره ننداره ته وړاندې کېږي، د څو ساعتونو وروسته يواځې ناوې زوم کورته را وړي او نور ټول شيان د خوب او خيال په شان پاتې کېږي. د دې څېړنې د استناد لپاره د هر دود د تشريح په لړ کې د هغه دود مصارفاتي توکي او ارقام په جدولونو کې وړاندې کېږي، لکه د غذا ټيټه او لوړه مينو په ترتيب سره په ځانګړو جدولونو کې وړاندې شوې دي.

| گڼه | مخکې له غذا سرويس |
|---|---|
| ۱ | لس دانې ريډبال انرژی |
| ۲ | لس دانې معدني اوبه |
| ۳ | ښه بادام |
| ۴ | ښه مالګينه پسته |
| ۵ | ښه شنه مميز |
| ٦ | ښه بريان شوي ناخود |
| ۷ | اعلی سيميان |
| ۸ | بهرنۍ مېوه يي سلاد |
| ۹ | اعلی سمبوسه |
| **د غذا مينو** | |

| گڼه | مخکې له غذا سرويس |
|---|---|
| ۱ | اعلی سمبوسه |
| ۲ | معدني اوبه يو لوی بوتل |
| ۳ | شنه اعلی مميز |
| ۴ | اعلی نخود |
| ۵ | کاکاوي نخود |
| ٦ | اعلی مالګينه پسته |
| ۷ | اعلی سيميان |
| **د غذا مينو** | |
| ۸ | ازبکي قابلي له زړو، پستې او يخني غوښې سره، دوه غوري |
| ۹ | نارنج پلو له زړو، پستې او يخنيغوښې سره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | ازبکي قابلي له زړو، پستې او یخني غوښې سره، دوه غوري | ۱۰ | زمرد پلو له یخني غوښې سره |
| ۱۱ | نارنج پلو له زړو، پستې او یخني غوښې سره | ۱۱ | سرطبقي وریژې د اړتیا په اندازه |
| ۱۲ | بریاني وریژې د چرگ له غوښې سره | ۱۲ | د پسه غوښې دوپیازه کباب |
| ۱۳ | سرطبقي وریژې د اړتیا په اندازه | ۱۳ | د پسه غوښې لمپ کباب |
| ۱۴ | د دوه میزو لپاره د پسه بسته(تندوري) کباب | ۱۴ | دوه دانې سالم چرگان کباب شوي |
| ۱۵ | دوه دانې له زړو، پستې او ممیزو ډکې چرگې | ۱۵ | د چرگ سینې کړایي |
| ۱٦ | چوپان کباب | ۱٦ | سالند فصل دوه ډوله |
| ۱۷ | د پسه غوښې، (مالگین) روش کباب | ۱۷ | چپس |
| ۱۸ | د پسه دوپیازه کباب | ۱۸ | سلاد |
| ۱۹ | د پسه غوښې دیگي کباب | ۱۹ | فرني |
| ۲۰ | د چرگ سینې کړایي | ۲۰ | پودینه |
| ۲۱ | غټې غوښې سیخي کباب | ۲۱ | جلي |
| ۲۲ | لس قطیه اعلی مستې | ۲۲ | پسته |
| ۲۳ | د پسه غوښې او پاشان کفتې منتو | ۲۳ | یو نفري نوشابه |
| ۲۴ | فصلي سالنډ دوه ډوله | ۲۴ | لس واړه بوتله معدني اوبه |
| ۲۵ | فرني | ۲۵ | دوه نوع تازه مېوه |
| ۲٦ | پودین | ۲٦ | وچه ډوډۍ |
| ۲۷ | جلي | | **وروسته له ډوډۍ سرویس** |
| ۲۸ | پسته | ۲۷ | شین چای |
| ۲۹ | سلاد مکس | ۲۸ | تور چای |
| ۳۰ | چپس | ۲۹ | بادامي نقل |
| ۳۱ | یو نفري نوشابه | ۳۰ | اعلی چاکلیټ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | لس بوتله معدني اوبه | | | |
| ۳۳ | درې ډوله تازه میوه | | | |
| ۳۴ | وچه ډوډۍ | | | |
| | **وروسته له ډوډۍ سرویس** | | | |
| ۲۷ | اعلی شین چای | | | |
| ۲۸ | اعلی تور چای | | | |
| ۲۹ | اعلی بادامي نقل | | | |
| ۳۰ | اعلی چاکلیټ | | | |
| ۳۱ | اعلی شیرپیره | | | |
| **یو میز (۱۰) تنه** | **یو خوراک (۱۲۵۰) افغانۍ** | | | |

**په واده کې د څو جوړو کمیسونو بدلولو دود:** دا دود په دې وروستیو کې رامنځته شوی، د دې دود طریقه داسې ده چې کله وراباڼې د کوم چا واده ته ځي مخکې له مخکې دوه، درې یا څلور جوړه قیمتي کالي، بوټونه، د طلاوو او سپینو څو- څو سیټه له ځانه سره اخلي او خپل (وراځي یا وراباڼ) ته یې ور په شا کوي، کله چې ناوې هر ځل خپل کالي بدلوي دوی هم خپل کالي بدلوي، کله کله خو د ناوې په کیسه کې نه وي، ښځې سخت رقابت په سر اخیستي وي کوښښ کوي، هر څو ساعته وروسته خپل کالي بدل کړي. د دې دود ناوړه خواوې دادي چې، خاوند، پلار او کوم بل د کور مشر مکلف دی، که په پور وي او یا په نغدو واده ته د تلونکو ښځو لپاره کالي تیار کړي، دویم داچې د ډېرو ښځو طلا او نور توکي یا ورک شي او یا د کوم چا له خوا غلا شي، هم یې تاوان وشي او هم په کور کې له بدو ردو سره مخامخ شي، که د چا په واده کې د تلاشۍ او پلټلو هڅه وشي، د واده والا پرې خواشینی کېږي، خپلوان او دوستان یې هم او وراباڼې هم خفه شي، د دې عمل ناوړه تاثیرات تر ډېره پورې د کورنیو تر منځ د دوستۍ او خپلولۍ اعتماد ګډجن کړي(۲۰)

کرایي کمیسونه او کالي: په ودونو کې بل نوی رواج د کمیسونو کرایه کول دي، دا رواج په دې وروستیو دوو لسیزو کې رامنځته شوی، په ډېرو مناسبتونو کې ښځې د ځانګړو

مغازو نه د لوړ قیمت کمیسونه د (۲۴) ساعتونو لپاره کرایه کوي، خو په واده کې دا رواج ډېر زیات دی، د یوې عامې ښځې د یوه کمیس کرایه له (۲۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰) زرو پورې ده، خو د یوې ناوې کمیس د (۲۴) ساعتونو لپاره په اوسط ډول له ( ۱۰۰۰۰ څخه تر ٦۰۰۰۰) زرو پورې کرایه کېږي(۲۱)

کرایي ظروف: په کلیوالو سیمو کې، د کلي خان د خیرات او واده لپاره ټول شیان اخلي او خلکوته یې وړیا ورکوي او یا د کلي خلک پیسې ټولوي د اړتیا وړ شیان اخلي او له جومات سره څېرمه په ځانگړې خونه کې یې ساتي او د اړتیا پر وخت ترې گټه اخلي، که د کوم چا په مراسمو کې کوم لوښی مات شي هغه پوره کوي، خو په ښارونو کې د اړتیا وړ کرایي ظروف له ځانگړو دوکانونو څخه په کرایه اخیستل کېږي، چې هر لوښی د کرایې ټاکلی نرخ لري، په دې څېړنه کې د کوټېشنونو له مخې په لاندې جدولونو کې په نښه شوي.

| گڼه | د جنس نوم | تعداد | دیوه لوښي قیمت | جمله | گڼه | د جنس نوم | تعداد | د یوه لوښي قیمت | ټول قیمت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ۷مني چودني دیگونه | ۴ | ۲۵۰ | | ۳۵ | لوی دسترخوان | | | |
| ۲ | ۵مني /// | ۳ | ۲۵۰ | | ۳٦ | صافۍ | | | |
| ۳ | ۳ مني/// | ٦ | ۲۰۰ | | ۳۷ | پلاستیک پوښ | | | |
| ۴ | ۵مني دیگونه | ٦ | ۵۰ | | ۳۸ | ماستو کاسې | | | |
| ۵ | ۴مني // | ٦ | ۵۰ | | ۳۹ | شیرداني | | | |
| ٦ | ۳مني // | ٦ | ۵۰ | | ۴۰ | چودني دیگدانونه | ٦ | ۵۰ | |
| ۷ | ۲ مني | ۵ | ۵۰ | | ۴۱ | لوی دیگدانونه | ۳ | ۵۰ | |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱مني// | ۴ | ۴۰ | | ۴۲ | متوسط دیگدانونه | ۳ | ۴۰ | |
| ۹ | ناشکن لوی غوري | ۳۰۰ | ۲ | | ۴۳ | واړه دیگدانونه | ۴ | ۴۰ | |
| ۱۰ | واړه ناشکن // | ۳۰۰ | ۲ | | ۴۴ | یونفري کوچ له میز سره | | | |
| ۱۱ | سالند قاب | ۳۰۰ | ۱ | | ۴۵ | چوکۍ | ۲۰۰ | ۱۰ | |
| ۱۲ | سلات قاب | ۳۰۰ | ۱ | | ۴٦ | میز | | | |
| ۱۳ | فرني قاب | ۳۰۰ | ۱ | | ۴۷ | سرمیزي | | | |
| ۱۴ | مېوي قاب | ۳۰۰ | ۱ | | ۴۸ | ترپال | | | |
| ۱۵ | مېوي چاقو | ۳۰۰ | ۱ | | ۴۹ | تجیر۱۵/۱۵ | ۱ | ۳۰۰ | |
| ۱٦ | سالندلپاره قاشق | ۳۰۰ | ۱ | | ۵۰ | تجیر ۱۰/۱۰ | ۱ | ۲۰۰ | |
| ۱۷ | فرني // // | ۳۰۰ | ۱ | | ۵۱ | وړوکی تجیر | ۱ | | |
| ۱۸ | پنجه | ۳۰۰ | ۱ | | ۵۲ | در پرده | ۱تخته | ۵۰ | |
| ۱۹ | سرطبقي لوښی | ۱۰ | ۵۰ | | ۵۳ | نیکلي پطنوس | | | |
| ۲۰ | نیکلي چای جوش | ۲۰ | ۲۰ | | ۵۴ | آبدان | ۱ | ۱۰۰ | |
| ۲۱ | جگ سره له گیلاسونو | ۲۰ | ۲۰ | | ۵۵ | لوی سموار | ۱ | ۱۰۰ | |
| ۲۲ | مجمه | ۵ | ۲۰ | | ۵٦ | قالین | ۱ | ۵۰ | |
| ۲۳ | چلو صاف | ۵ | ۲۰ | | ٦۷ | پلاستیکي فرش | | | |
| ۲۴ | لوی تشت | ۴ | ۵۰ | | ٦۸ | دوشک | ۲۰ | | |
| ۲۵ | آب گردان | ۲ | ۲۰ | | ٦۹ | پروجیکټور | | | |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲٦ | کف گير | ۲ | ۲۰ | | ۷۰ | لين | ۱بسته | ۱۵۰ | |
| ۲۷ | ډوډۍ تقسيمونکی | ۲ | ۲۰ | | ۷۱ | ستيج | | | |
| ۲۸ | وړوکی کف گير | ۲ | ۲۰ | | ۷۲ | جنراتور | ۱ | ۵۰۰ | |
| ۲۹ | چپس صاف | ۲ | ۲۰ | | ۷۳ | ريسمان | | | |
| ۳۰ | گيلاسونه | ۵۰۰ | ۱ | | ۷۴ | ميخونه | | | |
| ۳۱ | کوزه چلمچي | ۵ | ۲۰ | | ۷۵ | کمپلې | ۱ | ۳۰ | |
| ۳۲ | لاس لوني | ۳ | ۱۰۰ | | ۷٦ | پايې | | | |
| ۳۳ | لاس پاک | ۱۰بستې | ۱٦۰ | | ۷۷ | | | | |
| ۳۴ | دسترخوان | ۱۰ | ۱۸۰ | | ۷۸ | | | | |

دا څرگنده ده چې د نويو سياسي، ټولنيزو، اقتصادي او ټکنالوژيکو بدلونونو په بهير کې پر افغاني فرهنگ له هرې خوا لوی يرغل راغی، چې د دې ټولنې د اصلي بومي فرهنگ د نورو اړخونو په ترڅ کې يې د واده دودونه هم تر سيوري لاندې را وستل، د دغو ناوړو دودونو په را تگ کې تر ډېره د بېلابېلو هېوادونو تلويزيوني سريالونه، ډرامې او مهاجرتونه ستره ونډه لري. افغانستان چې له گڼو قامونو جوړ هېواد دی، هره قبيله يې د ودونو خپل ځانگړې ښايسته دودونه لري، چې اوس هم په عام ډول د ولس په منځ کې تر سره کېږي، خو دود چې يوه ټولنيزه پديده ده د وخت په تېرېدو په تدريجي ډول بدلون مومي، نو د دې ويره شته چې د نويو فرهنگي يرغلونو په نتيجه کې به د افغاني ټولنې اصيل دودونه له محوې سره مخامخ شي، کوم دودونه چې په ښارونو کې تر سره کېږي، په دوه علتونو ورته د ناوړه کلمه کارولی شو: لومړی دا چې د دې دودونو ځينې برخې د اسلام سره په ټکر کې واقع دي، دويم: هغه دودونه چې د دې خلکو او هېواد د کلتور، فولکلور، تاريخ او په ټوله کې د فرهنگ ښکارندوی دي او د دې ټولنې ډېر ارزښتونه پکې نغښتي زيان من کړي، چې د څېړنې په لړ کې پرې بحث و شو، د دا ډول دودونو منع هم په اسلامي شريعت کې شوې او هم د هېواد نافذه قوانينو کې.

د واده د مراسمو قانون دریېم فصل کې ستره محکمه، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د ښاروالیو او کسبګرو اتحادیې او د هوټلونو، سالونونو او رسټورانټونو ادارو ته د ناوړه دودونو د مخنیوي او عامه پوهوي مکلفیت ور سپارل شوی، خو هېڅ یوې ادارې دغه مکلفیت په قاتع ډول نه دی تر سره کړی، په دې برخه کې هره اداره خپل خپل مکلفیت لري، دغه ستونځه تر ډېره د ښځینه قشر له خوا د منفي رقابتونو د پایلو د نه سنجش په نتیجه کې را منځته کېږي تر اوسه پورې یې د مخنیوي لپاره واضح او مؤثرې لارې چارې نه دي وړاندې شوي، په دې اړوند د واده د مراسمو قانو (۱۵) ماده صراحت لري چې:

((د ښځو چارو وزارت مکلف دی، د عامه په ځانګړې توګه د میندو او نجونو د ذهنونو د روښانولو په منظور، د دې قانون د حکمونو د رعایتولو په اړوند پروګرامونه طرح او د ټولنیزو رسنیو او نورو ممکنه لارو څخه دې خپاره کړي.))

(۲۲)، دغه مقاله په خپل وخت چاپ نه شوه نو اوس چې د افغانستان اسلامي امارت له خوا چاپېږي د ښځو چارو وزارت پر ځای «د دعوت او ارشاد، امربالمعرف او نهی عن المنکر» وزارت ته دغه مسؤلیت متوجه کېږي، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون په (۲۴) ماده کې راغلي دي، که چېرې کوم څوک یوه ښځه د واده په پلمه خرڅه کړي یا یې واخلي او یا د پېرونکي او پلورونکي له خوا هوکړه رامنځته کړي، تر لسو کالو پورې دې په اږده بند، بندي شي، همدا ډول د کورنۍ قانون د (۲۲) مادې په لومړي بند کې راغلي: هغه دودونه، چې په واده کې د مادي ګټې په موخه کارول کېږي، لکه ولور، بدل، ... په بدو او په پور کې ورکړه د اسلامي شریعت پر اساس منع بلل شوي، په (۲یم) بند کې یې راغلي چې د نجلۍ د خپلو خپلوانو په شمول هیڅوک نشي کولی چې د واده په مناسبت د هلک یا د هغه له کورنۍ پیسې او یا جنس واخلي او هر څوک که د دې قانون نه سر غړونه کوي باید تعقیب شي او جزا ورکړل شي. (۲۳)

## پایله

په دې څېړنه کې په عمومي ډول په ترتیب سره د دود پر اصـــطلاح، مثبت دودونه، منفي دودونه په ا سلام کې د دودونو حکم، په فولکلور کې د دود ارزښت باندې لنډه رڼا اچول شـــوې ده، په متن کې د څېړنې د اصـــلي موضـــوع په توګه د واده دودونه، لکه د نکریزو شپه، د واده مراسم، تخت جمعي، آرایشګاه (سینګارځای)، ستېج جوړول، د فلم

او عکس اخیستل، د واده او نورو محفلونو لپاره په کرایه د کمیسونو او کالیو اخیستل په ټوله کې هغه موارد چې د ودونو په دودونو کې زیان اوښــتونکي او ملاماتونکي دي، لکه: ډېر مصرفه، غیر اخلاقي، حرام او بې ارزښته کارونه، یو په بل پسې د ساحوي څېړنې په لړکې څېړل شــوي دي، چې تطبیق کوونکي یې ډلبندي شــوي دي. که څه هم دا دودونه ډېر عام نه دي تر سره کوونکي یې اکثریت نه جوړوي، خو بیاهم رواجیدل یې مخ په زیاتېدو دي، د دغو دودونو تر سره کوونکي درې ډوله خلک دي، لومړی ډله بډای یا شتمن، دویمه، ډله منفي رقابت کوونکي، دریېمه ډله، کم شعوره او بې سنجشه خلک دي. د ناوړه دودونو تر سره کوونکي په ټوله کې د ټولنې څلومه او پنځمه برخه خلک دي، په لویو ښارونو کې په هرو لسو تنو کې شپږ کسه په هوټلونو کې واده کوي، د دې دود زیات تر سره کوونکي هغه څوک دي چې یوازې په هوټل کې د واده لپاره له هرې ممکنه لارې پیسې پیدا کولای شي، د دې دود زیات پالونکی ښځینه قشر دی، او زیات زیانمن نېدونکي لږ شتمن خلک دي، په ډېر شتمن باندې کوم اثر نه لري او د غریب له جیبه به څه لاړ شي، ټول زور او ناوړه اغیز یې په متوســط او لږ شــتمن ځکه دی چې د ګټې وټې پیسې یې په یوه واده کې خراج تراج شي.

## وړاندیزونه

افغاني ټولنه چې یوه اسلامي ټولنه ده، عرف او دودونه یې تر ډېره د اسلامي احکامو سره په ټکر کې نه واقع کېږي، نو پرهمدې اساس ویلای شو، چې:

۱- خپلو اصیلو دودونو ته دې له هرې ممکنه لارې ټولنه و هڅول شي.

۲- منبر چې په نړۍ کې د ژورنالېزم او غږ رسولو لومړۍ او با قدرته رسنۍ ده، امامان او خطیبان دې څو جمعې پرله پسې د دیني احکامو او پندونو په رڼا کې د دودونو ناوړه پایلې خلکو ته بیان کړي.

۳- د مدني ټولنو استازي دې په دې برخه کې خپل غږ اوچت کړي او د نورو موضوعاتو په شان دې د ناوړه دودونو په وړاندې په ټول هېواد کې پراخ کمپاین و چلوي.

۴- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په همغږۍ دې تصویري رسنۍ د ناوړه دودونو په اړه، ډرامې، تیاترونه او تمثیلي ټوټې وړاندې کړي او ورسره دې د دیني عالمانو، مدني ټولنو استازو، د ټولنې روښانفکره ځوانانو سره دې ګډې خپرونې جوړې کړي، همداشان لیکوالان او شاعران دې په دې اړه په یوه وخت لیکنې وګړي.

۵- تر ټولو مهم دا چې د دولت ټولې اداري دې خپلو کار کوونکو ته په خواله رسنیو یا سوشیل میډیا کې د ناوړه دودونو د مخنیوي په موخه د خپرونو او مقالو لیکنو سپارښتنه وکړي او ناوړه دودونو ته دې ((نه)) وویل شي.

٦- د امر بالمعروف وزارت د مسؤلې اداري په توگه، په دې اړوند دې د ښځو لپاره د ښځو په ژبه دغه ناوړه پدیده و غندي، ځکه چې د دې دودونو ترویج او رقابت زیاته برخه ښځینه قشر سره تړلې ده.

۷- د موقت وخت لپاره دې د رئیس الوزرا په حکم د دې ټولو برخو د انسجام او همغږۍ په موخه یوه با صلاحیته کمېټه و ټاکل شي، تر څو د یادو برخو استازو سره د خپرونو په موخه مشورې او نظارت چارې پر مخ یوسي.

۸- د دولت په چوکاټ کې دې د هوټلونو لپار یوه اداره جوړه شي، هغه هوټلونه، رسټورنټونه او سالونونه چې خلک واده او یا نور مراسم پکې نمانځي په یاده اداره کې ثبت شي او د لویو مصرفونو د مخنیویو په موخه دې لاندې چارې تر سره کړي:

لومړۍ: د هوټلونو لپاره دې د واده د مراسمو قانون گټې او زیانونه و ښودل شي.

دویم: که څوک په هوټل کې واده کوي، نو له یادې اداري سره دې معامله تر سره کړي، د هوټلونو څخه دې د معاملاتو داجراء واک واخیستل شي.

درېیم: د محفلونو او د واده مراسمو لپاره دې په مناسب قیمت له یوې تر دریو پورې د غذا مینو وټاکل شي، که څوک غواړي د مینو په توکو کې زیات والی راولي، په هغه زیاتوالي دې دولت ټکس هم زیات کړي.

دا کار درې گټې لري، یوه گټه یې د ازاد بازار د خپل سریو مخنیوی دی، بل دا چې د دولت بودجې ته به زیاتې پیسې ځي، درېیمه گټه یې داده چې د ډېر ټکس په وضعه کولو خلک له ډېر مصرفه لاس په سر کېږي.

## مأخذونه

۱ - نذیر، دادمحمد. د ا سلامي حقوقو ا سا سات، دویم ټوک، ژباړن: عبدالحمید وردگ، انتشارات حامد رسالت، د الفاروق چاپخونه، ۱۳۹۵لمریزکال، ۹۷ مخ.

۲ - نذیر، دادمحمد. د ا سلامي حقوقو ا سا سات، دویم ټوک، ژباړن: عبدالحمید وردگ، ۱۰۰مخ.

۳ - رسمي جریده، د عدلیې وزارت، د نشراتو او عامه اړیکو ریاست: کابل، پرویز مطبعه، ۱۲۸۰ گڼه، ۱۳۹٦کال، ۲۳ مخ.

۴ ـ روهي، محمد صدیق. فولکلور پېژندنه، د افغانستان دعلومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳٦۵ لمریز کال، ۱۹ مخ .

۵ ــ عطایي، محمدابراهیم. د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس، دویم چاپ، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، ۱۳۹۴کال، ۲۷۰ مخ.

٦ـ رسمي جریده، ۱۲۸۰ گڼه، ۱۳۹٦کال، ۲۵ مخ.

۷ - رسمي جریده، ۱۲۸۰ گڼه، ۱۳۹٦کال، ۲۹ مخ.

۸ - هنگامه، ظاهره. ۵۸ کلنه، لوستې، کابل- نوی ښار، مصاحبه کوونکی، عبدالاحدمنگل، ۱۳۹۸/۱۰/۷لمریزکال.

۹ - شېرمحمد، ۴۵ کلن، دولس پاس، خوست، موسی خیل ولسوالي، سیدگي کلی، مصاحبه کوونکی، عبدالاحدمنگل، کابل، خوشحال مېنه، ۱۳۹۸/۱۰/۵لمریزکال.

۱۰ - علي جان، ۳۸ کالن، لوستی، د ستاره افشار د ودونو تالار منیجر، کابل، بنځمه ناحیه، مصاحبه کوونکی: عبدالاحدمنگل، ۱۳۹۸/۱۰/۴کال.

۱۱ - رسمي جریده، ۱۲۸۰ گڼه، ۱۳۹٦کال، ۳٦ مخ.

۱۲ -رسمي جریده، ۱۲۸۰ گڼه، ۱۳۹٦کال، ۲۷، ۲۸ مخونه.

۱۳ - بي بي شاگل، ٦۵کالنه، نالوستې، د هوټل گارسونه، کابل، دریمه ناحیه، مصاحبه کوونکی: عبدالاحدمنگل، ۱۳۹۸/۱۰/۴لمریزکال.

۱۴ -رسمي جریده، ۱۲۸۰ گڼه، ۱۳۹٦کال، ۳۰ مخ.

۱۵- آریشگاه حمیرا، شهرنو، چهارراهي حاجي یعقوب، جگړه پاڼه (نرخ)، ۱۳۹۸لمریزکال.

۱٦ -گلسازي قصرـ عروسی اورانوس، سلطان محمود غزنوي واټ، کابل – افغانستان، جگړه پاڼه، ۱۳۹۸/۱۰/۴.

۱۷ - فیصل پروډکشن، کابل نړیوال هوایي ډگر، د هوایي ډگر څلور لارې، جگړه پاڼه، ۱۳۹۸/۱۰/۴.

۱۸ -جوهر، پغمانی، ستاره افشارهوټل، خوشحال خان مېنه، ۱۳۹۸/۱۰/۵لمریز کال.

۱۹ -قصر-عروسي ستاره ها، سلطان محمود غزنوي واټ، غذا مینو، ۱۰/۴/ ۱۳۹۸لمریزکال.

۲۰ -فوزیه، ۴۰ کالنه، سابقه، گارسونه، کابل، پنځمه ناحیه، مصاحبه کوونکی: عبدالاحدمنگل، ۱۳۹۸/۱۰/۸کال.

۲۱ - مدینه بازار، بېلابېل دوکانداران، قلعه فتح الله، کابل، مصاحبه کوونکی: عبدالاحدمنگل، ۱۳۹۸/۱۰/٦کال.

۲۲ -رسمي جریده، ۱۲۸۰ گڼه، ۱۳۹٦کال، ۲۵ مخ.

۲۳ - شفق، نورگل، تاندې څانگې، ازادي راډيو، لیندی، ۱۳۹۱،۲۵ نېټه، www.google.com. Pa.azadiradio.com.

څېړنوال دکتور محمد داود عربزی

# د پښتو قاموس لیکنې بهیر ته ځغلنده کتنه

# A brief look at the trend of dictionary writing in Pashto language

**Associate Prof.Ph. D. Mohammad Daud Arabzai**

## Abstract

The efforts of scholars in the field of dictionary writing in Pashto language are praiseworthy, in this field the efforts have progressed gradually. This trend has sometimes progressed as a group and sometimes as an individual. A large number of writers have tried their best in this field. They have tried to collect first all the original Pashto words and later those words that are popular in Pashto language and colloquialism.

At the beginning, these efforts started in a very basic way, and then over time, sometimes it accelerated, and sometimes it progressed considering the conditions and possibilities.

The trend of dictionary writing in Pashto language begins in the nineteenth century, but it must be said that this process was started in the eighteenth century by other foreign scholars, but this beginning was incomplete and can only be mentioned in the field of an innovative effort.

## لنډیز

په پښتو ژبه د قاموس لیکنې بهیر په برخه کې د پوهانو هڅې د ستاینې او قدر وړ دي، په دې برخه کې په تدریجي ډول هڅې شوي، ځینې وخت د یو ډله پوهانو له خوا او ځینې وخت په ځانګړي او فردي ډول دا بهیر پالل شوی، په دې برخه کې ډېرو لیکوالو خپل قلم ازمایلی، کوښښ یې کړی چې تر ټولو لومړی د پښتو سوچه لغات او بیا ورپسې هغه لغات را ټول کړي چې په پښتو ژبه او محاورو کې دود دي. دا راټولونې او هڅې لومړی په ډېر ابتدایي ډول پیل شوې او بیا د وخت په تېرېدو سره ځینې وخت ګړندی او ځینې وخت حالاتو او امکاناتو ته په کتو ترسره شوې. په پښتو ژبه کې د قاموس لیکنې بهیر له نولسمې پېړۍ را پیل کېږي، خو که تر دې ورهاخوا وګورو، نو دا زیار د بهرنیو پوهانو له لوري په اتلسمه پېړۍ کې پیل شوی، خو دا پیل له پوره نیمګړتیاوو سره مل دی او د یو ابداعي کوښښ په برخه کې د یادونې ځای لري.

## سریزه

کله چې د پښتو قاموس لیکنې بهیر پیل شوی، کوښښ په کې دا شوی چې هر لیکوال له خپل فکر سره مناسب او وړ قاموس وړاندې کړي، دا کوښښ لومړی بهرنیو او بیا تر هغه وروسته زموږ کورنیو پوهانو په ښه ډول تر سره کړی، ممکن ځینې تېروتنې او نیمګړتیاوې په کې وي، خو دا به د وخت په تېرېدو سره په پام کې نیول کېږي او د لړۍ به د کره والي پر لور درومي، دا قاموسونه د ارزښت له مخې د ډېرې ستاینې او شننې وړ دي، په دې لیکنه کې ورته لنډه کره کتنه هم شوې او په دې توګه د هر قاموس په برخه کې کوټلی نظر وړاندې شوی دی. کوښښ مې کړی چې په دې مقاله کې د قاموس د تاریخي بهیر په برخه کې پخوانۍ تېروتنې په پام کې ونیسم او هغو ته په کتو دا بهیر په ښه توګه روښانه کړم، په دې برخه کې مې بېلابېل آثار کتلي او مطالعه کړي او په پایله کې مې باوري سند او نېټه ترې راخیستې او هم مې دا روښانه کړې چې د تېرو هغو تېروتنو یادونه هم وکړم، کومې چې په دې برخه کې په چاپي بڼه تر اوسه دود دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

زما د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې تر ټولو لومړی دا روښانه شي، چې بهرنیو قاموس پوهانو د پښتو ژبې د قاموس لیکنې په برخه کې کوم کوښښونه کړي، د هغوی

کوښښونه ارزول شوي او په نیمګړتیاوو یې هم تر یوې اندازې پورې بحث شته، همدا ډول د دې لړۍ تر پایه د خپلو داخلي پوهانو د کوښښونو یادونه هم شوې او د قاموس لیکنې په برخه کې د هغوی د کړې کار شننه او کتنه شوې، همدا ډول په دې برخه کې د پرمختګ او لاسته راوړنو یادونه هم شوې ده.

## د څېړنې موخې

په دې څېړنیزه مقاله کې مې تر ټولو مهمه موخه دا ده چې لوستونکي د سمو معلوماتو له مطالعې سره بلد شي او په څرګند ډول ورته د قاموس لیکنې د تاریخي بهیر په برخه کې معلومات وړاندې شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- په پښتو کې د قاموس لیکنې بهیر له کله پیل کېږي؟

۲- کوم قاموس، د څه ډول ځانګړنو له مخې لیکل شوی؟

۳- په پښتو کې د قاموس لیکنې کره بهیر څه ډول روښانه کولای شو؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي او تحلیلي او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

په لویه کې موږ دوه ډوله قاموسونه لرو، چې یو ته یې د مفاهیمو او بل ته یې د لغاتو قاموسونه ویل کېږي، په دې توګه دا هر ډول بیا په خپلو کې په څو ډولونو وېشل کېږي، د مفاهیمو قاموسونه یا دایرة المعارفونه یو عمومي دي او بل تخصصي یا مسلکي، په عمومي کې د ټولنیزو علمي موضوعاتو په اړه پراخ معلومات راوړل کېږي او په خصوصي کې بیا د یوې ځانګړې برخې یا د ځانګړي مسلک په برخه کې معلومات ځای کېږي، دا کېدای شي چې د یوې خاصې موضوع په اړه بحث وکړي، دا ډول قاموسونه، د بېلګې په ډول: ادبي قاموسونه، تاریخي، طبي او نور وي، چې دې ته په عام ډول دایرةالمعارفونه هم وایي. بله برخه یې هغه لغوي قاموسونه دي، دا ډول بیا په لویه کې دوه برخې لري، چې په کې د یوې ژبې قاموس او د دوو ژبو او د څو ژبو ګډ قاموسونه شامل دي. د یوې ژبې په قاموس کې د هماغې مشخصې ژبې د لغاتو معناوې او نورې اړینې څرګندونې راوړل کېږي، خو بیا د دوو ژبو په قاموسونو

کې د یوې ژبې لغات په بله ژبه معنا او ژباړل کېږي، په دې کې دا هم ممکن ده چې یو قاموس دې په مشترک ډول د څو ژبو قاموس هم وي.

د یوې ژبې قاموسونه ډېر ډولونه لري، لکه تشریحي قاموس، تاریخي قاموس، لنډ قاموس، ادبي قاموس، املایي، احصایوي او نور ډولونه په کې ممکن دي، چې د نړۍ په پرمختللو ژبو کې په دغو ټولو برخو کې قاموسونه لیکل شوي او د پوهانو له خوا ارزول شوي دي. دلته موږ د پښتو ژبې د برخې په قاموسونو تاریخي بحث کوو، چې نږدې په پورته لغوي او مفهومي دواړو برخو کې قاموسونه په کې لیکل شوي او لا هم دا لړۍ کړۍ په کړۍ د کره کېدو پر لور درومي. دلته اړتیا لیدل کېږي چې د قاموس پېژندنې په برخه کې هم په لنډ ډول معلومات وړاندې شي، چې قاموس څه ته وايي، لغوي معنا او مفهوم یې څه دی؟ ارزښت یې څه دی، دا لغت اوس په کوم مفهوم کارېږي او په دې اړه به نورې یادونې هم وکړو.

**د قاموس لغوي پېژندنه**

پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس کې د قاموس د معنا په اړه راغلي چې: ((قاموسونه، قوامیس(جمع)، بحر، سمندر، د بحر منځ؛ د امیر تیمور د معاصر(فیروز ابادي) دلغاتو د کتاب نوم ـ نن د لغاتو هر کتاب ته قاموس وايي؛ رازداره.)) (۱) په اصل بڼه پورته معنا په فرهنګ فارسي عمید کې هم ده، چې د سمندر تل، د سمندر ژوره برخه، د ډېرو اوبو لرونکی سیند او منځنی سیند راوړل شوې ده چې وضعي یا دویمه معنا یې د لغاتو پانګه، د لغاتو ټولګه، د لغاتو هر کتاب ته قاموس ویلی شو، هغه ټولګه چې د یوې ژبې او یا څو ژبو د لغاتو تشریح او بېلابېلې معناګانې په کې د الفبې په ترتیب راوړل شوې وي. قاموس خپله عربي کلمه ده، چې په پښتو کې یې ویېپانګه، په پاړسي کې یې فرهنګ او په انګلیسي کې یې ډکشنري یا ویکیبلري په نومونو پېژندلی شوو.

**په پښتو کې د قاموس لیکنې بهیر:** پښتو ژبه کې که د قاموس لیکنې تاریخي بهیر ته وکتل شي نو دومره لرغونې نه دی او تر نولسمې پېړۍ دمخه په کې څه نه لیدل کېږي، تر دې راوروسته شلمه پېړۍ کې په افغانستان کې د پښتو ټولنې په رامنځته کېدو سره هم یولړ د پښتو د ژوندیو او مروجو لغتونو قاموسونه رامنځته شول چې په خپل وخت کې د پوره ارزښت وړ دي، نو ځکه ویلی شوو چې، بهرنیو لیکوالو

ترمور د مخه د پښتو ژبې دقاموس ليکنې په نوم لومړني مواد په لږ و ډېر ډول برابر کړي دي. که څه هم په پښتو قاموس ليکنه کې د بهرنيو ليکوالو کوښښونه په اتلسمه پېړۍ کې پيل شوي، تريوه بريده د دوی دا کار د ژبنيو ارونو سره برابر نه دی او په اکاډميک ډول د نيمګړتيا وړ بلل کېږي، خو له دې سره سره بياهم د پوره ستاينې او يادونې وړ ځای لري، دلته په لنډه توګه د يو شمېر بهرنيو ليکوالو د کوښښونو يادونه اړينه بولم او په دويم پړاو کې به په پښتو کې د قاموس ليکنې په پيل هم راوڅرخم.

**د نړۍ د ټولو ژبو او لهجو قاموس:** په دغه پېر کې تر ټولو لومړی د ګيولډن هڅې د ستاينې او ياد وړ دي: ((په روسيه کې اکاډميک،ا، ګيولدن ښتيد په يوقاموس پيل وکړو، دا قاموس نومورې په ۱۷۴۵- ۱۷۸۱ م کال کې ليکلی، ګيولډن د لومړي ځل لپاره د پښتو ځينې مواد د علمي تحقيقاتو په موخه راټول کړل، چې وروسته يې دا مواد (د نړۍ د ټولو ژبو او لهجو قاموس) کې خپاره کړل او د دې قاموس په لومړي ټوک کې يې د۷۸نمرې لاندې پښتو کلمې راوړل شوې))[۲] د پښتو قاموس ليکنې تاريخچه اثر ليکوال د ختيځپوهانو د کوښښونو په برخه کې ليکي چې: ((دا قاموس په دويم ځل په ۱۳۵٦ لمريز کال کې د پوهاند رشاد په سريزه د (ګيولډن شتيت پښتو فرهنګ) په نامه له چاپه راوتلی، د دې فرهنګ په پښتو برخه کې پښتو لغات په الماني معنا شوي دي.))[۳] په دغه قاموس کې لومړی روسي کلمې او وروسته يې د هرې ژبې معادل معنا ورسره راوړل شوې ده. په نولسمه پېړۍ کې اروپايانو هم دې لور ته پام راوګرځاوه چې په دې ترخ کې د هغه ځای ليکوالو يولړ ښه او لوی قاموسونه وليکل چې په کې د اکاډميک، ب، ا، ډورن، ميجر راورټي او والټر بليو کوښښونه يادولی شوو.

**انګليسي – پښتو:** ډورن دا قاموس په ۱۸۴۷ م کال کې وليکه او په پيټر بورک کې چاپ شوو، دا قاموس د قاموس ليکنې له پرنسيپونو سره برابر دی او لغات يې د الفبا په ترتيب راوړل شوي دي. دا اثر دوه برخې لري چې ((لومړۍ برخه ۳۸٦مخه يې د پښتو منتخبې تاريخي، مذهبي، ادبي پارچې او ځينې کيسې دي، دويمه برخه يې تر٦۱۷مخه پورې پښتو- انګليسي قاموس دی.))[۴] په دغه قاموس کې ځينې تېروتنې شته، خو بيا هم د ډېر ارزښت وړ دی، په دې قاموس کې د رياض المحبت نه هم ګټه اخيستل شوې ده.

**پښتو لینگویچ اف افگان:** په کال ۱۸٦۰ م – ۱۲۳۹ لمریز شاوخوا کې کپټن راورټي یو قاموس ولیکه چې په کې را وړي پښتو لغات په مشرح ډول په انگلیسي معنا شوي. دوکتور هلالي د دې قاموس د لومړي چاپ نېټه د (م، گ، اسلانوف) د مقالې په استناد ۱۸٦۷م راوړې، خو کومه نسخه چې مالېدلې په هغې کې یې همدا پورته(( ۱۸٦۰م د لومړي چاپ نېټه ښودل شوې.))[۵] په ۱۸۷۰ م کال کې هم د هنري والټر بلیو په قلم او زیار(ډکشنري اف دی پښتو- پښتو لینگویچ) په نوم قاموس ولیکله.

**ډکشنري اف دي پښتو - پښتو لینگویچ:** په دې قاموس کې هم د پښتو لغات په انگلیسي ژبه په مشرحه بڼه راوړل شوي، دا قاموس دوې برخې لري چې ((لومړۍ برخه یې پښتو- انگلیسي او دویمه یې انگلیسي- پښتو سیستم باندې ترتیب شوې.)[۷] څېړنپوه نصرالله ناصر د هانري والټربلیو د دې قاموس په اړه لیکي چې: ((دغه اثر په ۱۸٦۷م کال په لندن کې چاپ شوی دی، د دې قاموس په سریزه کې په مشهورو شاعرانو او د پښتو ژبې د ځینو مؤلفینو په آثارو هم لنډې تبصرې شوي دي)[۸]

**د پښتو ترجمان:** دا وړوکی قاموس چې ایغیموف لیکلی او راټول کړی، ټول شپږسوه لغات او څلور سوه پنځوس محاورې لري اوپه ۱۹۰۷م – ۱۲۸٦ هـ ش کال کې په تاشکند کې چاپ شوی[۹]

**د پښتو لنډگرامر او قاموس:** د روسي ختیځ پوه تامانوویچ لیکلی اثر دی ((چې ۲۲مخه یې قاموس اوپاتې پنځه مخه یې گرامر دی، دا قاموس روسي– پښتو دی او په ۱۹۰۸ م کال کې په تاشکند کې چاپ شوی.)[۱۰] د دې قاموس دچاپ کال دوکتور هلالي د خپل اثر(پښتو قاموس لیکنه لسم مخ) کې ۱۸٦۷م هم ښودلی دی. د پورته قاموسونو تر لیکلو وروسته هم په بهرنۍ نړۍ کې پښتو قاموس ته ځانگړې پاملرنه وشوه او په مختلفو ژبو کې دپخوا په پرتله یو شمېر لوی او د منځپانگې له پلوه یو څه ښه قاموسونه رامنځته شول، چې په دغه برخه کې د روسي پوهانو هڅې د پوره ستاینې وړ دي.

تر دې را وروسته د کلونو په تېرېدو سره ځینې نور قاموسونه، لکه: د تامانویچ پښتو ـ روسي قاموس، پښتو- روسي، جیبي قاموس، ۱۹٦۲م کې په مسکو کې خپور شوی، د لیبیدیف روسي ـ پښتو قاموس، همدا ډول د اسلانوف پښتو روسي قاموس چې په

۱۹٦٦م کال کې خپور شو او دا لړۍ بيا تر ډېره غځېدلې ده. په پښتو ژبه کې د قاموس ليکنې څرکونه هم د نولسمې پېړۍ نه پيل کېږي، په دې دوره کې يو لړ قاموسونه ليکل شوي چې دلته يې يادونه کوو.

**رياض المحبت:** په نستعليق خط، په دوه ټوکو کې د نواب حافظ رحمت خان د زوی، نواب محبت خان تأليف دی، چې په کې د پښتو ژبې گرامر او لغات په پارسي ژبه راوړل شوي او په لاسته راغلو لومړنيو آثارو کې يې گڼلی شوو، ((دا اثر په ۱۲۲۱ هـ ق ۱۸۰٦ کال کې په لکنهو کې تأليف شوی، لومړی او دويم ټوک يې ټول ۵۹۵- ۷۲۴مخونه لري، د دې قاموس په دواړو برخو کې د پښتو لغات په پارسي معنا سره ليکل شوي دي، د دې اثرڅو نسخې په مختلفو بهرنيو کتابتونونو کې خوندي دي.)[۱۱]

**عجايب اللغات:** د دې اثرليکوال د نواب محبت خان کشر ورور الله يار خان دی، د دې قاموس د نسخې په سر کې د گرامر په باب يوه مقدمه هم شته، په نستعليق خط ((دغه قاموس په ۱۲۳۴هـ ق کال پای ته رسېدلی دی، د پاڼو شمېر يې ۳۳۹دی او ليکوال يې نواب الله يار خان دی، چې د ژوند موده يې ۱۱۵۷- ۱۲۸۴ده، دا د څلورو ژبو قاموس د هند په رامپور کې د رضا کتابخانې د پارسي څانگې په ۲۵۵۴نمره قيده دی.) [۱۲] د رضا په لايبررۍ کې يې چې کومه نسخه شته، ټول ۲۸بابونه لري او په پيل کې د پښتو گرامر په اړه لنډ معلومات هم لري. ((دلغاتو په دې کتاب کې لومړی هندستاني کلمو ته ځای ورکړل شوی دی او وروسته تر هغه د پښتو لغات د پارسي او عربي له مرادفو لغاتو سره يو ځای قيد شوي دي، په دې ډکشنري کې د (ع، ف، پ او هـ ) توري د پښتو، پارسي، هندي او عربي ژبو د پاره په ترتيب استعمال شوي.))[۱۳]

**فرهنگ ارتضايي:** په درې ژبو پښتو، پارسي او هندي؛ د محمد ارتضا خان ليکلی قاموس دی چې ټول ۱٦٦مخونه لري. ((د دې اثر د تأليف کال ۱۲۲۵هـ ق دی، خط يې نسخ نستعليق او ليکدود يې اردو ډوله دی، د پاڼو شمېريې ۴۰۵، ...په خدابخش پبليک لايبررۍ کې په ۷۸۳ نومره خوندي ده.))[۱۴]په دې اثر کې لومړی پښتو لغت، بيا يې پارسي او ورپسې يې هندي معنا راوړل شوې، د فرهنگ په پيل کې د ليکوال له خوا په پارسي ژبه يوه سريزه هم کښل شوې.

**اتالیق پښتو (پښتو ښوونکی):** د دې اثر په پېژندنه کې سره له دې چې اروانښاد رازمحمد وېښ یې د لیکلو نېټه ۱۸۹۶م  راوړې، خو زما په اند په دې ښودنه کې له تېروتنې سره مخ شوی او سمه یې۱۸۸٦ م – ۱۲٦۵ هـ ش ده چې استاد نصرالله ناصر د پوهاند مجاور احمد زیار د(ویي پوهنه) په استناد په خپل اثر(د پښتو قاموس لیکنې تاریخچه، ۱۲۷مخ) کې راوړې ده.  دا قاموس په پنځو ژبو پښتو، پاړسي، اردو، انګلیسي او رومن لیکل شوی، مصنف یې مولوي محمد اسماعیل مرحوم  او چاپ ځای یې پنجاب فرینټرفورس ایبټ اباد دی. داکتاب ټول ۱۱۳مخه لري او په برابره قطعه، ښه کاغذ او ښه خط د پښتو (خود اموز) په ډول لیکل شوی. ((لومړی یې پښتو الفبا، ورلاندې ترې لاتین بیا وړې وړې جملې چې په یوه ستون کې پښتو جملات ضبط شوي او په مقابل کې یې دوه ستونه جوړشوي چې په یو کې انګلیسي او په بل کې یې رومن ترجمه راوړل شوې.) [۱۵]

**انګلیسي – پښتو قاموس:** د میرزا سید محمد تألیف، چې ((په ۱۹۰۵ م/ ۱۲۸۴هـ ش کال په راولپینډۍ کې خپور شوی، چې په کې د مؤلف سریزه، د ګرامر مخففات او په مردف ډول لومړی انګریزي لغت اوبیا ورپسې د هغه پښتو معنا او هم د پښتو دراوړي لغت لاتیني تلفظ راوړل شوی، دا قاموس ټول ۵۱۰ مخه لري.) [۱٦] ځینولیکوالو بیا دا قاموس د(لغت میرزا سیدمحمد) په نوم هم یاد کړی، خو زما په اند چې دغه معلومات کره نه دي[۱۷]

په ۱۹۵۰م - ۱۳۲۹ لمریز کال په شوروي اتحاد کې هم د قاموس لیکنې لړۍ پیل کېږي، په دې دوره کې د (پ، ب، زودین په نوم  لیکوال (**پښتو – روسي قاموس**) لیکي چې په کې دولس زره لغات ځای شوي دي، تر ده وروسته همدالیکوال خپل بل قاموس (**روسي– پښتو قاموس**) په ۱۹۵۵م کې خپروي او په دې توګه په روسیه او په ځانګړي ډول روسي ژبه کې د پښتو قاموس لیکنې لړۍ پیل کېږي. تر دې وروسته د شلمې  پېړۍ په اوږدو کې د پښتو قاموس لیکنې تاریخ روښانه دی، په دې پېر کې له یادو قاموسونو پرته ځینې نور هم ولیکل شول، چې د نمونې په ډول، **آمد نامه افغاني، پښتو زاړه لغات ، ضابطه افغاني، نصاب شش لغت به شش زبان، خیالات زماني، افریدي نامه (فرهنګ افریدي)، لغات قاضي رحیم الله** او یو شمېر نور د یادولو وړ دي. په دغو قاموسونو کې څېړونکو ته لویه ستونزه داده چې د

ځینو یې د لیکلو کال، د ځینو یې لیکوال او د لیکلو ځای نه دی څرګند، نو ځکه یې ماهم دلته پرته له مهال ټاکلو نه یادونه وکړه، دا ډول قاموسونه یو شمېر نور هم شته، خو د موضوع د نه اوږدېدو په پلمه په همدې بسنه کوم. داپېړۍ په پښتو ژبه کې د قاموس لیکنې د بډایه پېړۍ په نوم هم یادولی شوو، د دې پېړۍ په اوږدو کې قاموس لیکنې ته دپام وړ زیار شوی، دا مهال په لره او بره پښتونخوا کې یو شمېر قاموسونه رامنځته شول چې په دې لړ کې:

**کتاب خیراللغات:** دا د قاضي خیرالله، پښتو - اردو قاموس دی چې ((نږدې ۹۰۰۰ (نهه زره) لغات لري او په ۱۹۰۶ م - ۱۲۸۵ لمریز کال کې د۱۹۷ مخونو په لړلو سره د لاهور په نولکشورګیس پرېنټنګ ورکس کې چاپ شوی، چې د کتاب په پیل کې د لیکوال په قلم شپږ مخه د (مافی الضمیر) ترسرلیک لاندې سریزه هم لیکل شوې، په دې قاموس کې یواځې هغه لغات چې دپښتو ژبې خپل ګڼل شوي ځای شوي دي)) [18]په دې اثر کې لومړی پښتو لغت اوبیایې په اردو ژبه لنډه معنا راوړل شوې.

**یوازینۍ پښتو:** د دې قاموس لیکوال عبدالوهاب کامه یي او لالازمان خان دی ((په ۱۳۰۱لمریز کال کې د پوهنې وزارت له خوا چاپ شوی، د قاموس لغات د موضوع په تړاو راوړل شوي نه دردیف په بڼه، د بېلګې په ډول: د شاهي کورنۍ القاب، مسلکي او پوځي القاب، په حیواناتو پورې تړلي نومونه، د لیک او لوست وسایل، د رنګونو ډولونه، د قمري او شمسي میاشتو نومونه، د کور اسباب او نور.) [19]

**پښتو ـ دري خطي قاموس او دري ـ پښتو خطي قاموس:** په ۱۳۰۲ شاوخوا کې د عبدالرحمان لودین دوه قاموسونه دیادولو وړ دي، که څه هم دا دواړه قاموسونه اروانباد هغه مهال چې (د پښتو مرکې) مشر وټاکل شو، لیکلي وو، خو هماغه وخت ورک شول او په لوی لاس چا غلا کړل چې د چاپ په بڼه خپاره نه شول، خو موږ یې په پښتو کې د داخلي پوهانو د قاموس لیکنې په لومړنیو کوښښونو کې د یادولو وړ بولو.

**کتاب افغاني**( پښتو ـ اردو لغت): دا د راحت زاخېلي پښتو ـ اردو قاموس دی، چې اووه زره لغات لري او په۲۳۴مخونو کې ترتیب شوی او په پېښور کې چاپ شوی دی، خو د چاپ نېټه یې نه ده معلومه، ځکه یې مهال نه شو په ګوته کولای، خو د لیکنې سبک او د لغاتو ترتیب یې د قاضي خیرالله د خیرالغات د کلمو او لغوي اډانې سره مشابهت لري او داسې برېښي چې د هغه قاموس نه یې په تقلید او کتنه یې دا

کوښښ کړی، نو ځکه یې د هغه مهال سره نږدې بللی شوو، د نوموړي دا اثر په لغات افغاني هم مشهور دی [۲۰]

**پښتو سیند:** په ۱۳۱٦ لمریز کال کې وزیر محمد گل خان مومند، په پښتو ـ دري یو قاموس ولیکلو او د دوه زره نسخو په شمېر د پوهنې وزارت له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوو، دواړه ټوکونه یې ۷٦۵ مخونه لري. دغه قاموس په هېواد کې دننه د دې لړۍ یو ښه پیل گڼل کېږي، پښتو سیند په خپل وخت کې د پښتو ژبې د یوه ډېر غني او مناسب قاموس په توگه د یادولو وړ دی [۲۱] د پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس د لومړي ټوک په مقدمه کې د شېرندل گردیوال په قلم د پښتو سیند په اړه لیکل شوي چې دا ((لومړی قاموس دی چې پښتو لغات یې په دري یو څه مفصل تشریح کړي، د پښتو سیند یو خصوصیت دا دی چې په ژبه کې یې د سپېڅلتوب، د موضوع په نظر کې نیولو سره، د ژبې اصلي لغات پلټلي، راټول کړي او خپاره کړي دي، بل خصوصیت یې دا دی چې د لغاتو حرکتونه یې تر یوې اندازې په تورو ښودلي دي) [۲۲]

**ډکشنري پښتو** (کتاب لغات پښتو به فارسي): لیکوال اوخطاط یې، پاینده محمد زهیر، خط یې نستعلیق، د مخونو شمېر یې ۱۲۱۱ دی، دا قاموس په مسکو کې د استاد بهروز په کتابتون کې شته، دا قاموس په ۱۳۱۷ لمریز سنبله کې لیکل شوی. په دې قاموس کې دپښتو شپاړس زره لغات راغلي او د هر پښتو لغت په مقابل کې یې پاړسي معنا کښل شوې ده، د کتاب په پیل کې د مؤلف یوه مقدمه هم راوړل شوې [۲۳]

**سپېڅلې پښتو:** دکتور عبدالحکیم هلالي لیکي چې: ((په ۱۹۴۰ م – ۱۳۱۹ لمریز کال کې کوچنی پښتو – دري قاموس چې (سپېڅلې پښتو) نومېږي په کندهار کې چاپ شوی دی، چې لیکونکي یې لعل محمد او عبدالحی حبیبي دي، په دې قاموس کې لس زره لغتونه راټول شوي)) دا قاموس ټول ۲٦۷ مخونه لري، د دې قاموس په پیل کې په دري ژبه د پښتو لغاتو ځانگړنې روښانه شوې دي، دا قاموس په خپل وخت کې له اړتیا سره سم د دري ژبو پښتو زده کوونکو لپاره لیکل شوی. اروانښاد رازمحمد وېښ د دې قاموس په اړه لیکي چې: ((د لعل محمد کاکړ په تتبع او د حبیبي په مقدمه په ۱۳۱۹هـ ش کې د ۲۷۲ صفحو په حجم او وړه قطع دکندهار په طلوع افغان مطبعه کې چاپ شوی) [۲٤]

**پښتو مصادر:** دا هم د وزير محمدگل خان اثر دی چې په ۱۳۱۷ لمريز کال کې چاپ شوی، د دې اثر په درېيمه برخه کې (د پښتو مصادر) ترسرليک لاندې ۱۵٦٦ پښتو مصدرونه راوړل شوي او د هر مصدر ترڅنگ يې د تشريحي قاموس په بڼه لغوي معنا او تشريح راوړې، سره له دې چې دا اثر موږ د مصدرونو په برخه کې پېژنو، خو دا چې يوه برخه يې قاموسي بڼه لري، ځکه يې په پښتو کې د قاموس ليکنې لومړنيو هڅو کې د يادونې وړ بولو [۲۵]

**لس زره لغتونه:** د محمد اعظم ايازي تأليف دی، چې د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۱۹لمريز کال کې له چاپه راووت، په دې قاموس کې لس زره لغات ځای شوي او ټول۷۹۲ مخونه لري، په دې قاموس کې د پښتو ژبې سوچه لغات په دري ژبه ژباړل شوي، چې په کې لومړی د پښتو د هر لغت دري تلفظ اوبيا يې معنا راوړل شوې ده [۲٦]

**د پښتو اصطلاحات او محاورې:** دا اثر په ۱۳۲۰ لمريز کال کې ليکل شوی او د پښتو ټولنې لخوا په وړه قطعه د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی، ليکوال او ټولونکی يې اروابښاد محمد گل نوري دی، دا قاموس ۳۹۲ مخونه لري او په کې د ځای شوو اصطلاحاتو او محاورو شمېر يې۱۸۴۷دی [۲۷] تر دې وروسته يو شمېر نور قاموسونه هم چاپ شول، لکه:

**پښتو قاموس:** دا قاموس په ۱۳۳۰- ۱۳۳۳ل کلونو کې د پښتو ټولنې د لغاتو مديريت له خوا چاپ شوی دی، چې په دواړو ټوکونو کې يې نږدې څلوېښت زره لغات ځای شوي، په دې کې دوه ډوله لغات راوړل شوي، دواړه ټوکونه ۹۹۵مخونه لري [۲۸]

**افغان قاموس:** ليکوال يې عبدالله افغاني نويس دی، په ۱۳۳۵ل کال کې په دوو ژبو (دري ـ پښتو)ليکل شوی قاموس دی، چې په دري ټوکو کې ليکل شوی، د دې قاموس دوه ټوکه په ورپسې کال کې چاپ شوي [۲۹]

**د افغانستان د ځينو ژبو او لهجو قاموس:** په اووه ژبو (پښتو، پاړسي، شغني، سنگليچي، واخي، اشکاشمي او منجي) د عبدالله بدخشي دا قاموس په ۱۹٦۰م ـ ۱۳۳۹ل کال کې د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی، په دې قاموس کې پښتو د لومړۍ ژبې په توگه راوړل شوې او په ترتيب سره نورې ژبې راوړل شوې دي [۳۰] تر دې وروسته په ۱۹٦۹م کال کې د څېړنپوه دوکتور دولت محمد لودين څو پرله پسې د اړتيا وړ قاموسونه: (د پښتو ژبې عمومي الفبايي احصايوي قاموس، د پښتو د اخباري خپرونو

احصايوي قاموس، د پښتو ژبې د هنري نثر احصايوي قاموس، د پښتو ژبې د علمي خپرونو احصايوي قاموس، د پښتو ژبې د اشعارو احصايوي قاموس، د پښتو ژبې د محاورې وينا احصايوي قاموس) وليکل شول، چې په را وروسته کې د افغانستان دعلومو اکاډمي له خوا خپاره شوي، همدا ډول په دغه وخت کې څلور نور قاموسونه وليکل شول، چې انګليسي په پښتو او پښتو په انګليسي لغات په کې معنا او کټکوري شوي دي، لکه د انګليسي او پښتو قاموس په ۱۳۴۹ل کال کې، انګليسي پښتو قاموس په ۱۹۵۷م- ۱۳۵۴ل کال کې، پښتو ـ انګليسي قاموس په ۱۳۵۸ل کال کې، روسي، پښتو ـ دري قاموس په ۱۳۵۸ل کال کې د کابل پوهنتون د پوهانو او شوروي پوهانو له خوا ليکل شوی، په دې کې لومړی قاموس د پوهنې وزارت له خوا خپور شوی. دا مهال زموږ ليکوالو د قاموس ليکنې په برخه کې پوره پرمختګ کړی و او د نورو نړيوالو ژبو په مرسته يې د قاموس ليکنې له نړيوالو ارونو سره سم يو شمېره غوره او معياري قاموسونه رامنځته کړل.

**پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس:** په پنځو ټوکونو کې د قاموس ليکنې په تشريحي ډول کې دا لومړی او لوی قاموس دی چې د پورته هغو نه وروسته ترتيبېږي، دا قاموس د افغانستان د علومو اکاډمۍ د يوې ډلې څېړونکو له خوا ليکل شوی، چې نږدې پنځوس زره لغات په کې را ټول شوي او په ۱۳۵۸ل کال کې د لوړو او مسلکي تحصيلاتو په مطبعه کې چاپ شوی دی. په دې قاموس کې چې((هر لغت لومړی په پښتو الفبې او بيا وروسته د تلفظ د کره توب لپاره په فونيمکه الفبې ليکل شوی دی، همدغسې د کلمو داخلي فشار ځايونه هم ښودل شوي دي، د ځينو لغاتو دپاره مختلف لهجوي تلفظونه او مترادفات راغلي دي او بيا ځينې لغتونه په لنډو لنډو جملو کې شرحه شوي دي، همدارنګه د يوې نيمې اصطلاح لپاره چې لازم ګڼل شوي دي، ترممکنه حده تشريح هم برابره شوې ده.)) [۳۱]په قاموس کې د کلمې فشار يا خج موضوع مهمه ده، چې دا کار له يوه لوري د لغت سم تلفظ او کلمه د معنا له کړکيچ نه ژغوري. په دې قاموس کې داسې لغات چې له اره عربي بڼه لري او په پښتو کې په عام ډول دود دي، په عام ولسي اخذ او تلفظ ليکل شوی، همدا ډول نور لغات په کې د پښتو مروج او د پخوانو متونو نه را اخيستل شوي دي، دا قاموس د تېرو ليکل شوو قاموسونو نيمګړتياوې په پام کې نيسي او تر ډېره پخوانو ستونزو ته ځواب

ویوونکی دی. دا قاموس په دې وروستیو کې (د افغانستان لپاره د ټولیزو رسنیو مرکز-میډوتیک) په څلورو ټوکونو او هم په پېښور کې د میهن خپرندویه ټولنې له خوا په درې ټوکونو کې خپور شوی دی. دا مهال ځینې نور واړه خو د منځپانګې له خوا مشرح قاموسونه هم ولیکل شول چې په دې لړ کې د (څېړنپوه دوکتور دولت محمد لودین د ښکارندوی د قصیدې احصایوي قاموس په روسي ژبه په ۱۳۶۰ل کال، د شیخ اسعد سوري احصایوي قاموس په ۱۳۶۰ل کال کې په روسي ژبه کوچنی قاموس دی، د پټې خزانې د اتو شاعرانو د شعرونو احصایوي قاموس ۱۳۵۹ل کال، د پټې خزانې د اشعارو لغوي قاموس په ۱۳۶۲ل کال او همدا ډول د پوهاند عبدالشکور رشاد دپټې خزانې فرهنګ لومړۍ برخه ۱۳۶۲ل کال کې، د دوست شینواري زړه پانګه په ۱۳۶۳ل کې) لیکل شوي او د وخت په خپرونو کې خپاره شوي دي.

**ظـفـراللغات:** په دې قاموس کې د پښتو لغات په اردو ژبه ژباړل شوي، دا قاموس شل زره لغات لري، چې متلونه، محاورات په کې هم شاملې دي، ((په دې قاموس کې ځینې لغات یوازې معنا او ځینې تشریح شوي، چې متلونه او اشعار هم ورسره راغلي دي.) [۳۲] د دې قاموس د (( لومړي ځل چاپ نېټه یې ۱۹۵۹م کال دی چې د پېښور په ښار کې د پنځوسو ټوکو په شمېر چاپ شوی دی) [۳۳] چې په کې لومړی پښتو لغت په خپله ژبه او بیا په اردو معنا شوی. همدا ډول تر دې وروسته په کوزه پښتونخوا کې هم قاموس لیکنې ته ډېره پاملرنه وشوه او د صاحبزاده حمیدالله له خوا په ۱۹۷۰م کال کې د پښتو محاورې په نوم یو کوچنی قاموس راټول شو، دا قاموس لومړی په ځایي مجلو کې خپور شو او بیا وروسته په ځانګړې بڼه هم چاپ شوو.

**پښتو ژبه (قاموس):** دا قاموس چې د پېښور پښتو اکاډمۍ په ځانګړې پاملرنه په ټوک وار ډول، له (الف) نه تر (ګ) تورو پورې په دیارلس ټوکونو کې خپور شوی، چې د چاپ د لړۍ پیل یې له ۱۹۷۰م کال نه شوی او تر ډېره موده یې هر ټوک یو یو کال وروسته له چاپه را ووته. (لومړی ټوک په ۱۹۷۰م کال د پنځوسوو نسخو په شمېر په پېښور کې چاپ شوی دی، د تألیف چارې یې د پردل خان خټک، مولوي محمد اسحاق صاحب او قاضي هدایت الله صاحب په معاونت ترسره کړې دي او مخکې له دوی سیدانور الحق د دغه قاموس زیات لغات جمع کړي وو) [۳۴] دا قاموس په ۱۹۷۰م کال کې پیل او تر ۲۰۱۵م کال پورې یې د ټوکونو د چاپ لړۍ روانه وه، خو تر دې

وروسته يې د نورو پاتې ټوکونو چاپ ودرېده. په دې لوی قاموس کې د هر لغت يا مطلقه معنا راوړل شوې او يا هم په ځينو ځايونو کې د اړتيا له مخې لغت په جملو کې کارول شوي دي، په ځينو ټوکونو کې يې د تېرو ټوکونو د لغاتو نورې لاسته راوړې تر چاپ وروسته لغات د ضميمې په ډول هم راوړي، همدا ډول ځينې ځايونه کوښښ شوی چې د لغت لهجوي حالت په پام کې ونيسي. د دې قاموس د هر لغت له پښتو معنا سره يې تلفظ او ادا کول هم شته، ځينې ضروري گرامري برخې يې هم روښانه شوې، د لغت رېښه هم په کې څرگنده ده، په دې معنا چې راوړل شوی او تشريح شوی لغت د پښتو خپل دی او که د بلې کومې ژبې نه را پور شوی. په ۲۰۱۸م کال کې د دې قاموس د پاتې تورو، له (ل ـ ی) پورې د ترتيب بهير پای ته ورسېد او بيا ځلي ټول قاموس د تېرو چاپ شوو دیارلس ټوکونو په يو ځای کېدو او د تېروتنو په اصلاح سره د پروفيسر ډاکټر نصرالله جان وزير په ځانگړې پاملرنه او اهتمام په يو لوی ټوک کې چاپ شوو، په دې قاموس کې د نوي قاموس ليکنې د ميتود له مخې ځينې سمونې هم شوي. تر دې وروسته په کوېټه کې د پښتني نومونو په نوم قاموس او همدارنگه په لر ـ بر کې د ځينو ديوانونو د لغاتو پانگې هم چاپ شوې چې دلته د ټولو يادول او پرې بحث کول د مقالې چوکاټ پراخوي، نو په همدې به بسنه وکړو.

## پايله

په دې مقاله کې د قاموس په معنا او مفهوم پوهېږو او هم په کې په څرگند ډول د قاموسونو په کارونه او ستونزو پوهېږو، دا مقاله د قاموس ارزښت او تاريخي بهير په گوته کوي. که څه هم د پښتو ژبې د قاموس ليکنې په برخه کې پيل ډېر لومړنی دی، خو د يو ښه پيل پيلامه يې گڼلی شو، دا پيل د بهرنيو پوهانو له خوا شوی، چې تر هر څه لومړی د پښتو ژبې لغات د نړۍ د ټولو ژبو په عمومي قاموس کې ځانگړی ځای پيدا کوي او په دې توگه زموږ ژبه د نړۍ د ژونديوو ژبو په کتار کې راځي. د وخت په تېرېدو د قاموس ليکنې او بډاينې دا بهير نور هم پرمخ ځي او په پرله پسې ډول د پښتو ژبې د لغاتو په زياتوالي او قاموسي ډولونو کې پرمختگ راځي، چې څه وخت وروسته دا برخه د لغاتو له پلوه ډېره پياوړې کېږي. د يوې پېړۍ مزل وروسته قاموس ليکنه نوي پرمختللي پړاو ته دننه کېږي ، دا مهال د بهرنيو ليکوالو ترڅنگ خپله د پښتنو پوهانو او څېړونکو هم دې تشې ته پام را اوړي او د تېرو هغو ټولې نيمگړتياوې

په پام کې نيول کېږي او يو څه پرمختللي قاموسونه را ميدان ته کېږي، سره له دې چې اوس پښتو ژبه د قاموس په برخه کې د نورو ژبو ترڅنګ سياله ده، خو دا لا هم بسنه نه کوي. همدا ډول د يوې نيمې پېړۍ وروسته د پښتو ژبې د لغاتو راټولولو ته ځانګړې پاملرنه کېږي او ډېر شتمن قاموسونه چاپېږي. د افغانستان علومو اکاډمي، د پېښور پښتو اکاډمی، د کويټې پښتو اکاډمی، يو شمېر بهر مېشتې فرهنګي او کلتوري ټولنې او بېلابېل ليکوال په دې هڅه کې دي، چې په پښتو ژبه کې لا غوره او ځواب ويوونکي قاموسونه رامنځته کړي. په دې مقاله کې د پښتو ژبې د قاموس ليکنې بهير په لنډ ډول، له اړتيا سره سم روښانه شوی، همدا ډول که يو لوستونکی غواړي چې د خپلې ژبنۍ څېړنې په برخه کې د قاموس ليکنې او پلټنې معلوماتو ته اړتيا لري، نو دا مقاله يې د قاموس په پېژندنې او تاريخي بهير په اړه يو څه مرسته او لارښوونه کولای شي.

## مأخذونه


۱. پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس، ميديوتيک(د افغانستان لپاره د ټوليزو رسنيو مرکز)دويم چاپ: کابل ، ۲۳۱۸مخ.

۲. عميد، حسن. فرهنګ فارسي عميد(رقعي)، چاپخانه سپهر، چاپ بيست هفتم:تهران، ۱۳۸۲سال هـ ق، ۹۳۳مخ.

۳. هلالي، دوکتور عبدالحکيم. پښتو قاموس ليکنه، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۵۴ لمريز کال، ۵مخ.

۴. ناصر، نصرالله. د پښتو قاموس ليکنې تاريخچه، (ماسټرۍ تيزس) ميرويس خپرندويه ټولنه: پېښور،۱۳۹۰ لمريز کال، ٦۰مخ.

۵. پښتو قاموس ليکنه، اووم مخ.

٦. را ورټي، د کپټن ايچ، جي. ډکشنري اف ده پښتو – پښتو لينګويج اف ده افګانس، ۱۸٦۰ م کال.

۷. بليو، هنري والټر اسسټن (سرجن بنيګال ارمي). ډکشنري اف ده پښتو- پښتو لينګويچ: لندن چاپ، مارچ ۱۸۷۰م کال.

. د پښتو قاموس ليکنې تاريخچه، ٦۴مخ.

۹. همدا اثر، ۱۰۰مخ.

۱۰. هماغه اثر، ۱۰۱ مخ.

۱۱. وېښ، رازمحمد. پښتو کتابونه، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۳۷لمریز کال ، ۱۱۵مخ.

۱۲. لودین، دولت محمد. قاموس پوهنه، (سریزه، تدوین، سمون او اهتمام، محمدداود عربزی، ختیځ ادبي بهیر:جلال کوټ، ۱۳۹۵لمریز کال، ٦۰مخ.

۱۳. پښتو کتابونه ۱۱۴- ۱۱۵مخونه او د پښتو قاموس لیکنې تاریخچه ، ۱۴۱مخ

۱۴. د پښتو قاموس لیکنې تاریخچه ۱۴۲مخ.

۱۵. پښتو کتابونه، ۱٦۴ مخ.

۱٦. د پښتو قاموس لیکنې تاریخچه، ۱۲۳مخ.

۱۷. پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس، میدیوتیک(د افغانستان لپاره د ټولیزو رسنیو مرکز)دویم چاپ: کابل، ۱۳۸۳ل/ ۲۰۰۵م کال، ۳٦۹مخ.

۱۸. قاصي خیرالله.کتاب خیرالغات ـ حصه اول (پښتو – اردو لغات)، چاپ ځای: لاهور ۱۹۰٦ م کال.

۱۹. پښتو څېړنې دویم ټوک، د دوکتور دولت محمد لودین مقاله، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، گوندي مطبعه: کابل،۱۳٦۷ش کابل.

۲۰. زاخېلی، سید راحت. کتاب افغاني (پښتو - اردو لغت)، چاپځای ... کال ....

۲۱. مومند، محمد گل خان. پښتو سیند ، دوه ټوکه، پښتو ټولنه: کابل د پوهنې وزارت مطبعه، ۱۳۱٦ لمریز کال.

. پښتو- پښتو تشریحي قاموس،(لومړی ټوک) (د شپږندل گردیوال سریزه)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه، ۱۳۵۸ لمریزکال، څلورم مخ.

۲۳. هېوادمل، زلمی. د پښتو د ادبي تاریخ خطي منابع، پښتو ټولنه، دژبو او ادبیاتو مرکز: کابل ، ۱۳٦٦ هـ ش کال، ۴۵مخ.

۲۴. پښتو کتابونه، ۷۰مخ.

۲۵.. پښتو څېړنې دویم ټوک، د دوکتور دولت محمد لودین مقاله.

۲٦. ایازي، محمد اعظم. لس زره پښتو لغتونه، پښتو ټولنه: کابل ،۱۳۲۰ لمریز کال.

۲۷. نوري، محمدګل. پښتو اصطلاحات او محاورې، (ليکنه او ټولونه)، پښتو ټولنه، عمومي مطبعه: کابل ۱۳۲۰ هـ ش کال.

۲۸ . قاموس پوهنه ۱۸مخ.

۲۹ . همدا اثر، ۱۸مخ.

۳۰ . همدا اثر، ۱۹مخ.

۳۱ . پښتو ـ پښتو تشريحي قاموس (لومړی ټوک) د شېرندل ګرديوال سريزه، پنځم مخ.

۳۲ . د پښتو قاموس ليکنې تاريخچه ۹۹مخ.

۳۳ . قاموس پوهنه ۳۹مخ.

۳٤ . همدا اثر، ۳۸مخ.

څېړندوی خالد تکل

# تصويري ژبه او پر مخاطب يې اغېزې

# Figurative language and its effects on the audience

**Assistant Prof. Khalid Takal**

## Abstract

What is an image letter, where it was created, for what purpose it was used, what does emoji mean, where, when and by whom they were created, what is the difference between these linguistic signs and symbols, what are the advantages and disadvantages of emoji, what are their effects on the audience, how and how many types can the audience tolerate? These are the debates that have been tried to be answered in this scientific-research article. Besides, why didn't the pictorial writing continue, what is the message of the reappearance of the pictorial letter or writing in the 20th century and how much have these signs affected our lives? These are also the debates that have been explored in this article.

## لنډيز

تصويري ليک کوم ليک دی، چېرته رامنځته شوی، د کومې موخې لپاره کارېده، ايموجي څه ته وايي، چېرته څه وخت او د چا له خوا رامنځته شول، له سېمبول سره د

دغو ژبنيو نخښو توپير په څه کې دی، د ايموجي ګڼې او زيانونه کوم دي، پر مخاطب يې اغېزې څه دي، مخاطب ترې څه ډول او څو ډوله برداشت کولای شي؟ دا هغه بحثونه دي چې په دې علمي ـ څېړنيزه مقاله کې ورته د ځواب موندلو هڅه شوې ده. ترڅنګ يې تصويري ليک ولې دوام ونه کړ، په شلمې پېړۍ کې د تصويري ليک بيا ظهور څه پېغام لري او دغو نخښو څومره زموږ پر ژوند اغېز کړی دی؟ دا هم هغه بحثونه دي چې په دغه مقاله کې څېړل شوي دي.

## سريزه

د دغې مقالې په پيل کې په مصر يا بن النهرين کې د تصويري ليک چې هيروګليف (هيروغليف) يې باله، د اړتيا په اړه خبرې راغلي دي، په چين کې له ايجاد شوي تصويري ليک سره يې اړيکې روښانه شوې دي، ورپسې د تصويري ليک پر جوړښت او په لومړيو کې د دغه ليک د جوړښت او د ليک لوري په اړه نظرونه را اخېستل شوي دي. د تصويري ليک د نه بقا پر لاملونو تر بحث وروسته، د ايموجيانو يا سټيکرونو په رامنځته کېدو، موخو، ځانګړتياوو، ودې او دا چې د څه لپاره ډېر کارول کېږي لنډکی بحث راغلی دی، تر دغو بحثونو وروسته پر مخاطب د سټيکرونو پر اغېزو او د مخاطب په برداشتونو د بحث ترڅنګ بېلګې هم را اخېستل شوي دي.

## د څېړنې ارزښت او اهميت

د دې علمي ـ څېړنيزې مقالې د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې تر اوسه په پښتو ژبه کې دغه مسايل په ژور او اکاډميک شکل يا د يوې علمي ـ څېړنيزې مقالې په چوکاټ کې نه دي څېړل شوي او يا هم زما له نظره تېر شوي نه دي. ښېګڼې او بد ګڼې يې نه دي بيان شوي، بلکې په پټو سترګو يې لوستې او نالوستې قشر کاروي، خو پر ارزښت او د سټيکرونو په اره معنا يا هېڅ نه پوهېږي او يا يې په دې اړه پوهه نيمګړې ده، په دې مقاله کې لږ تر لږه د ايموجيانو يا د تصويري ژبې په دې نوې بڼه او هم يې پر مخاطب د اغېزو په اړه نسبي ګټور او روښانه بحث شوی دی.

### د څېړنې موخه

د څېړنې موخه دا ده چې نوې تصويري ژبه وپېژندل شي، د کومو مفاهيمو د لېږد لپاره کارول کېږي، د احساساتو عيني او مجازي اظهار ترې څنګه څرګندېدلی شي.

ژبپوهان باید له دې نوې ژبې سره څه ډول چلند وکړي او اوسنۍ تصویري ژبه د کومو مفاهیمو او پیغامونو د لېږد لپاره ایجاد شوې ده.

## د څېړنې پوښتنې

- تصویري ژبه څه ته وایي؟
- ایا اوسني ایموجیان د مصر له هماغه تصویري لیک څخه را ټوکیدلي؟
- ایموجیان څه دي او پر مخاطب څه ډول اغېز ښندي؟
- ژبې او فرهنګ ته د ایموجیانو ګټې او زیانونه کوم دي؟

## د څېړنې میتود

په دغه علمي ـ څېړنیزې مقالې کې له تشریحي ـ تحلیلي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود څخه کار اخېستل شوی او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

د مصر تصویري لیک چې (هیروګلیف) باله شي، د لیک تر ټولو لرغونی ډول دی. «د لرغون پوهانو په اند لومړنیو انسانانو د خپلو کیسو، روایتونو او تاریخ اړوند خبرې او اسناد د لیک د انځوریزې یا تصویري بڼې په مټ خوندي کول.» (۱: ۱۹۷مخ)

د لیک (خط) د ایجاد په اړه ویل کېږي چې بشر خط د یوې اقتصادي اړتیا له مخې ایجاد کړ او له دغه کاره یې موخه دا وه چې بزګر او کروندګر د خط په وسیله خپله شتمني او اموال ثبت او محاسبه کړي. (۱: ۱۹۸ مخ)

د شتمنۍ تر ثبت وروسته انسان د خپلو افکارو او انګېرنو د تصویرولو لپاره د لیک دنیا ته مخه کړه، که څه هم تصویري لیک په لومړیو کې خپلې نیمګړتیاوې لرلې او انسان نه شو کولای چې د تصویر په ژبه خپل عواطف او احساسات څرګند کړي، خو د وخت په تېرېدو په تصویري لیک کې دا چاره هم ممکن شوه او د عواطفو د بیان لپاره ځینې نخښې او علامې وضعه شوې، چې د بېلګې په توګه، د سترګې داسې تصویر چې اوښکې ترې بهېږي، د خپګان او پرېشانۍ معنا او احساس لېږداوه. تصویري لیک د مصر مذهبي ډلو هم د خپلو مذهبي چارو لپاره کاروه، یونانیانو ته دا لیک له رمز او رازونو ډک ښکاره شو او دا لیک یې د هیروګلیف په نوم ونوماوه. په یوناني ژبه کې هیروګلیف د مقدسو نخښو نښانو لیک ته وایي، دا لیک په پاپیروس لیکل کېده او معمولاً به یې پیل د انسان یا

حيوان له تصويرولو کېده. د هېروگليف خط زياتره افقي شکل درلود او له ښي لوري چپ ته ليکل کېږي. (۴: ۹۲۸ مخ.)

تصويري ليک ورو ورو په بشري ټولنو کې خپرېده، له مصر يا بين النهرين وروسته يې لمن تر چين هم ورسېدله، خو دلته مهمه خبره دا ده چې څېړونکي په دې باور دي چې په چين کې د تصويري ليک ايجاد د بين النهرين له تصويري ليک څخه په اغېزمنتيا نه دی رامنځته شوی، بلکې چينايانو په مستقل ډول د حيواناتو په پوستکو ځينې انځورونه کښل او د تصويري ليک په پراختيا کې يې خپل رول لاره. ( ۴: ۹۲۹ مخ)

د تصويري ليک عمر لنډ و، ډېر ونه پاېيده، بشر د پرمختګ پر لور يو بل ستر ګام واخېست او هغه د حروفي يا الفبايي ليک ايجاد و، د ليک تر ايجاد وروسته بشر خپل افکار، ارزښتونه، انګېرنې او د بېلابېلو برخو علوم په کتابونو کې خوندي کړل، که څه هم د الفبايي ليک په راتګ سره د تصويري ليک بازار سوړ او ياهم مطلق او يا نسبي وتړل شو، خو په شلمې پېړۍ کې تصويري ليک په يوه بله بڼه او هغه هم د ټکنالوژۍ د معاصرو وسأيلو له لارې ظهور وکړ او په (۱۹۸۲) لمريز کال کې امريکايي اسکال فالمان په نوم يو چا په متن کې د کمپيوټر د کيبورډ له درې بټنو يا نخښو يو ترکيب [)-:] وکاراوه چې موخه يې ترې ايموجي يا سټيکر و او هغه وخت يې د اموتيکان په نوم يادول، شايد دی به هم دومره ژر نه پوهېده چې د اړيکو دا نخښې يا علامې دې د انساني اړيکو په برخه کې يو لوی او چټک رول ولوبوي، خو دا چاره عملي شوه او په اوسنۍ ډيجيټال نړۍ کې ايموجيان له يو خاص ارزښت څخه برخمن شول/دي. يو وخت ګومان دا و چې ايموجي د انګليسي ژبې له (Ican) او (emotion) له کلمو مشتق شوې کلمه ده، خو دا باور دقيق نه وو او په اصل کې د ايموجي ريښه په جاپانۍ ژبه کې را څرګنده شوه، په جاپاني کې (ای) د تصوير او (موجي) د کرکټر يا کرکټرونو معنا ښندي. (۵: صفحه ۴.)

ايموجيان په لومړي ځل په ۱۹۹۰ م کال جاپانيانو په ځينو جاپاني ګرځنده موبايلونو کې وکارول، وروسته په ۱۹۹۹م کال کې جاپاني شيګتاکا کوريتا (۱۷۶) ايموجي يا تصويري شکلونه خپاره کړل. دا تصويري شکلونه په ډېره چټکه بڼه په ټولنيزو رسنيو کې خپاره شول او اوس مهال په ټوله نړۍ کې په پراخه کچه کارول کېږي او خلک يې د خپلو احساساتو د بيان لپاره کاروي. (۵: صفحه ۷)

د تصویري ژبې دې نوې بڼې اوسمهال د نړۍ د انسانانو ترمنځ د یوې ژبې حیثیت غوره کړی دی او د ټولنیزو رسنیو کاروونکي یې هره ورځ د خپلو احساساتو او مفاهیمو د لېږد لپاره له یوه او بل سره تبادله کوي. د سټیکرونو اوسنی دقیق شمېر څرګند نه دی، خو که محاسبه شي، نو د زرګونو ایموجیانو په کچه او حد کې دي، دا ځکه چې اوسمهال په اوسنیو سمارټ موبایلونو او سافټویرونو کې د هرې ژبې او فرهنګ خلک د خپلو ارزښتو په چوکاټ کې ایموجیان چمتو کوي، چې غوره بېلګې یې اوسمهال په پښتو او عربي ژبه کې د سترې مه شي، سلام اچولو، د دعا کولو او نورو پیغامونو د لېږد لپاره په پراخه کچه کارېږي.

د یوې څېړنې له مخې د ایموجیانو یا سټیکرونو اغېزې دومره ژر او چټکې خپرې شوې چې په ۲۰۱۵ کال کې اکسفورډ قاموس دوه سټیکرونه چې یو یې د خندا ډکه څېره او بل هم د خپګان داسې سټیکر چې له سترګو په کې اوښکې بهېږي، د کال ډېرې کارېدونکې تصویري کلمې غوره کړې. ترڅنګ یې ګوګل او اپیل شرکتونه له ۲۰۱۴ کال راهیسې، د جولای ۱۷ مه د ایموجیانو د نړیوالې ورځې په توګه هم نمانځي. (۳: ویب)

یوه پوښتنه چې زموږ په ذهن کې د ایموجي په اړه پیدا کېږي هغه دا ده چې ایا ایموجیان د مضمون او پیغام د لېږد په برخه کې هغه وړتیا لري، کومه چې کلمې او ویینونه لري؟

د وروستیو څېړنو له مخې د دې پوښتنې ځواب منفي دی. د امریکا د مینا سوتیا ایالات پوهنتون د څېړنې په یوه پوښتنپاڼه کې د ایموجیانو یوه مجموعه تصویري کړه او بیا یې له خپلو استادانو او محصلانو څخه وغوښتل چې د دغو سټیکرونو په لیدلو خپل درک او فهم څرګند کړي. د ارزښت وړ خبره دلته دا وه چې دغو پوښتل شویو کسانو په ډېرو مواردو کې نه شوای کولای چې د سټیکرونو حالت تشخیص کړي چې ایا دا مثبت، منفي او یا هم احساساتي پیغام لېږدوي. (۳: ویب)

زما د مشاهدې او د ستیکرونو د کارونې له تجربې اړخه یوه مهمه مسئله دا هم ده چې په ټولو کیبورډنو کې د ستیکرونو جوړښت یو ډول نه دی، ښایي په ماهیت کې به یو شکل تصویروي، خو بیا هم د هماغه یو شکل په جوړښت کې ځینې داسې څه احساسولای شو چې د پیغام برخه یې ګونګه او کوروالی لري، دا چاره د مخاطب له برداشت سره هم اړیکه لرلی شي، خو په ټوله کې د ځینو سټیکرونو په جوړښت کې د ابهام شتوالی نه شو رد کولای. ایموجي تر ډېره د احساساتو د تصویرولو یا د یوې مسئلې په اړه خپل تأثر د تصویر په ژبه څرګندول دي چې دا په اوسنۍ ډیجیټال نړۍ کې عامه چاره ده او خلک یې په ټولنیزو

رسنيو کې هره ورځ عملي کوي، د بېلګې په توګه که وواېو چې تاسې به حتمن په فېسبوک، ټويټر، انسټاګرام، واټس اپ او نورو شبکو کې د يو چا د جنازې د اعلان يا د مرګ د خبر اورېدو پر مهال د خواخوږۍ او خپګان سټيکرونه کتلي يا به مو حتمن کارولي وي؛ ممکن ټلويزيون ته ناست يې يوه تفريحي خپرونه ګورې، خو ناڅاپه په فيسبوک کې د جنازې اعلان يا هم د يوې بلې داسې پېښې په اړه لولې چې تاسې پرې خپګان ښکاره کوئ، په سم لاسي توګه دغه پوسټ ته د خپګان سټيکر چې اوښکې ترې بهېږي ورکوئ، خو عملاً يا په فزيکي ډول تاسې يوه تفريحي خپرونه ګورئ او خوند ترې اخلئ، مګر برعکس کې په عملي توګه همدا پېښه په خپلو سترګو وګورئ، نو د خپګان احساس مو تر سټيکر په مراتبو ډېر او ان په څېره کې مو خپګان له ورايه حس کېږي، نو په ټوله کې ويلی شو چې که څه هم د ايموجيانو کارونه اوس زموږ ورځنيو چارو کې معمول او دخيله ده، خو د احساس په لېږد کې يې دا نيمګړتيا او ضعف شته چې يوازې مجازي حالت تصويروي او زموږ دروني خپګان نه شي تصويرولی.
يا که وواېو د سټيکرونو جوړښت داسې دی چې د هماغه پېښې په اړه يو تأثر تصويروي، خو د انسان د بدن حرکات، د څېرې ډول، دروني درد او نور هغه حالتونه نه شي تصويرولی، کوم چې د يوې پېښې په فزيکي واقع کېدو کې انسان حس کولای شي. د ايموجي په جوړښت کې مذهبي ازادي محدوده نه ده او هر څوک د هر مذهب پيرو کولای شي، د خپلو مذهبي ارزښتونو سېمبولونه جوړ او په سافټوير کې د انټرنيټ غېږې ته ورکړي. له شک پرته ايموجيانو په زياترو مواردو کې د انسانانو د اړيکو په برخه کې مثبت نقش لرلی دی، ورځنۍ محاورې يې اسانه کړې دي، خو د تصويري ژبې د دې نوې بڼې په هکله لا نورو څېړنو ته اړتيا ليدل کېږي چې څنګه کولای شو د ژبې په پرمختګ او د سټيکرونو د کارونې په برخه کې څه وکارو او څه وغورځوو.
بشر په خپله ماضي او حال کې انځورونه د افهام لپاره د ژبنيو نخښو يا علامو په ډول کاروي، چې خبره د تصوير شوه، نو پکار ده چې د حقيقي او مجازي تصوير يا د ادبي تصوير په برخه کې هم يو څه بحث وکړو. د مقالې اصلي بحث پر حقيقي تصويرونو دی، خو دا چې ژبه او ادبيات يو له بل سره غوټه دي، نو ښه ګڼم چې د تصوير د حقيقت ترڅنګ په مجاز يا ادبي تصوير کې هم يو لنډ بحث وکړم او هم يې له حقيقي تصوير سره اړيکه روښانه کړم. حقيقي تصوير تر ډېره د شي، شکل يا دال په اړه خبره کوي چې د

تصویر دا شکل له معنا (مدلول) سره نېغه اړیکه پالي، د بېلګې په توګه ګل، دنګه ونه، غر، سیند او نور، خو ادبي تصویر یا شاعرانه تصویرونه پر حقیقي معنا سربېره، زموږ ذهن ته مجازي یا د یو تصویر دویمه معنا تداعي کوي. په ادبیاتو کې تصویرونه د سېمبول، استعارې، تشبیه او په نورو نومونو یادېږي، خو په ژبپوهنه کې یوه او حقیقي معنا ښندي، البته ممکن یو څوک دا پوښتنه وکړي چې اوسني ایموجي یا سټیکرونه د مینې او هنر مالګه نه لري؟

دا باید څرګنده کړو چې له شک پرته ایموجي او سټیکرونه هم هنري ښکلا او ارزښت لري، چې ځینې سټیکرونه د مخاطب احساس پارولی شي، ځکه ایموجیان د احساساتو د لېږد نخښې یا علامې دي. «ځینې ادبپوهان وایي چې تر ټولو کوټلی او اثرناک تصویر له سېمبول سره تعلق لري. یو شی دی، خو ډېرو شیانو ته اشاره کوي، یو دال دی، څو مدلوله لري.» (۷: ۲۲۵ مخ.)

د سېمبول خبره یاده شوه، په ادبیاتو کې د شاعرانه سېمبول خبرې ډېرې اورو، په ادبي تصویر کې سېمبول پر یوې معنا سربېره نورې معناوې خپلوي، خو په ژبه کې بیا نخښه یوازې هماغه محسوسه معنا ښندي، که څه هم ایموجیان هم یوه خبره یا یو احساس یا یوه معنا د تصویر په بڼه لېږدوي او د متکلم یا لېږونکي موخه ممکن هماغه مشخصه معنا وي، خو دلته بیا د مخاطب برداشت هم د تأمل وړ دی، ځکه ښایي یو څوک له یو سټیکره یوه معنا واخلي، خو ممکن یو بل څوک ترې څو معناوې برداشت کړي. د سېمبول په اړه په کتابونو کې راغلي:« سېمبول (Symbol) یا سېمبل چې عربي انډول یې (علامت)، پارسي (نماد) او پښتو دا یې (پېلام) دي، په ټولیز ډول هغه څیز یا پدیده ده چې له ځان پرته د یوه بل څیز یا پدیدې څرګندوی اوسي. په ژبه او ادب او بیا شعر کې هغه ویی دی چې د آرې او ټاکلې معنا پر ځای یې یوه بله معنا را خپله کړې وي، لکه په اوسني شعر کې چې (لمر) څخه آزادي معنا اخېستل کېږي.» (۸: ۳۱ مخ.)

د سېمبول دا تعریف ادبي سېمبول معرفي کوي، خو ژبنی سېمبول بیا داسې نه دی، ژبنی سېمبول په ژبه کې لنډون ممکنوي او په لږو او لنډو خبرو کې ډېر او هر اړخیز پېغام او خبره وړاندې کوي. د ژبني سېمبول کمال همدا دی چې لوستونکی مستقیماً له معنا سره وصلوي، خو ادبي تصویر خیال او احساس پاروي او مخاطب د خیال نړۍ ته ور کاږي.

پر ادبي او ژبني ارزښت سربېره، سېمبول له اروايي اړخه هم د مطالعې او بحث وړ دی، د کارل گوستاويونگ له قوله د سېمبول د اروايي پېژند په اړه لولو:« هغه څه چې موږ سېمبول بولو، يوه اصطلاح يا نوم حتی يو تصوير دی، چې کېدای شي زموږ په ورځني ژوند کې د يوه مانوس شي ښکارندوی وي، خو له خپلې معمولې او ښکاره معنا څخه پرته، يوه تلويحي ځانگړې معنا هم ولري. سېمبول د يوه مبهم، ناپېژندل شوي يا له موږ څخه د کوم پټ څه نخښه ده... نو يوه کلمه يا شکل هغه مهال سېمبوليک گڼلای شو، چې له خپلې ښکاره او مخامخ معنا څخه پرته، په بل څه هم دلالت وکړي. سېمبول ناخوداگاهي اړخونه لري، چې هېڅکله په دقيقه توگه تعريف شوی نه دی.» (۸: ۴۰ مخ)

د سېمبول اروايي اړخ څېړل او سپړل يو جالب اروايي بحث دی چې جلا ليک، مقالې او ان رسالې ته اړتيا لري، خو په دې بايد اعتراف وکړو چې د اروايي سېمبولونو را سپړل د لاشعور سره اړيکه لري او له شک پرته د هر انسان لاشعور له بلها او بې شمېره تصويرونو، پېښو، سېمبولونو او مسأيلو ډک دی. کله چې يو شکل، نخښې يا سېمبول له خپل آر شکل پرته ځو نورې معناوې خپلې کړې، نو دا هره نخښه بېلابېل برداشتونه هم لري.

څرگنده خبره دا ده چې د ځينو سټيکرونو پيغام د مخاطب له برداشت سره نېغ په نېغه اړيکه لري، ښايي يو څوک له يوه سېمبوله څو معناوې واخلي، خو ممکن يو بل کس يوازې د هماغه رسم شوي يا تصوير شوي شکل حقيقي معنا درک کړي. د بېلگې په توگه ما ته يو ملگری د لاسونو لپه کولو سټيکر را لېږي چې ظاهراً د دعا معنا رسوي، خو زموږ په فرهنگ کې خو د ښې او بدې دعا خبره هم شته يا موږ که چا ته دعا کوو، هم لاسونه پورته کوو او که چا ته ښېراوې کوو هم لاسونه پورته کوو، نو دلته د مخاطب برداشت مهم دی او ترڅنگ يې د رالېږونکي احساس هم درک کولای شو چې له دغه سټيکره يې دلته موخه دعا ده که ښېرا؟ يا لاس پر سينه ايښودل د دغه سټيکر ظاهري معنا هم احترام يا درناوی يا د يو کار په مقابل کې د مننې په پار لاس پر سينه ايښودل دي، خو موږ ډېر کله د يو چا د بد کار يا رفتار لپاره هم لاس پر سينه ږدو او په دې طريقه د طنز په شکل کې د هغه د بد چلند يا رفتار غندنه کوو، خو ايموجي يا تصويري سېمبول دلته دا دويمه معنا په دقيقه توگه نه شي رسولی او بيا هم دلته د مخاطب د برداشت پورې خبره غوټه کېږي. د انسانانو ترمنځ گڼ احساسات مشترک دي، لکه: خندا، ژړا، غم، اندېښنه، درناوی، مينه، اخلاص، خاموش پاتې کېدل، ښکلول، حيرانتيا، سترگک وهل، د غوسې

 څرګندول، د حیرانتیا پر مهال خولې ته لاس نیول، بل ته ګوته نیول، د پیسو د نشته والي لپاره د لاس د ګوتو یوه پر بلې اړول، د سترګي مه شي په نیت د لاس اوړدول، له لرې سلام اچول، د لاس له ګوتو د زړه شکل جوړول چې د مینې اظهار دی، د چکچکو کول، د قوت نخښې په توګه د مټ را غبرګول، د توبې لپاره غوږونو ته لاسونه وړل، د لاس په وسیله د تندي نیول چې د سر دردی احساس انځوروي، همدارنګه د حیواناتو لسګونه انځورونه، د ونو بېلابېل شکلونه، د هېوادونو او ګوندونو بیرغونه، د لمر، وریځ، باران، د څښاک او مېوو ډولونه، په ورځنیو فعالیتونو او نورو برخو کې په زرګونو سټیکرونه اوسمهال د تصویري ژبې په توګه کارېږي چې د ډېرې کارونې عمده لامل یې دا دی چې ایموجیان دا ځواک لري چې د هرې ژبې پیغام ولېږدوي او په ټولو ژبو کې د کارونې وړ دي. ایموجیان ګټې او زیانونه دواړه لري، د احسان الله درمل له قوله په یو اثر کې لولو:« ځوان شاعران په فېسبوک کې د ښه شعر معیار ډېر لایکونه او کمنټونه ګڼي چې دا د شعر په تیوری بده اغېزه کوي او لوی شاعران زړه ماتي کوي. د ښه شعر معیار شعري لوازمات دي چې په فېسبوک کې د کمنټ او لایک له امله ډېر کم لیدل کېږي.» (٦: ١٠٢ مخ.)

د داکتر درمل دا اندېښنه مستقیماً د ایموجیانو له زیانونو سره ارتباط لري، ځکه ایموجي له مبصر څخه د تبصرې حق واخېست، لوستونکی یې لټ او تنبل کړ، له لوستونکي یې د ارزونې فکر لوټ کړ، ایموجي د شعر په اړه چې کوم معیارونه وضعه شوي، هغه تر خپلې اغېزې لاندې راوستل، د شعر شعري جوهر څرګند نه شو، شاعر ته د خپل قوت او ضعف ټکي مشخص نه شول او که د زیانونو همدا سوژه وغځوو، نو لا نور او ډېر تاوانونه یې بیانولی شو.

«د ایموجیانو او سټیکرونو پرمختګ د لیکنیزې ژبې د زوال او نابودی په معنا دی، په کومه ټولنه کې چې ایموجیانې او سټیکرونه ډېر کارول کېږي، د هغې ټولنې فرهنګ، کلتور، دیني ارزښتونه، عادات ،عنعنات او داسې نورې برخې هم د یو تصویر په بڼه خپرېږي. تصویر خپله د یو څه نمایش دی او د دې کار پایله به دا وي چې د یوې ټولنې ټول حقایق یوازې یوه نمایشي بڼه ولري او په دې بڼه به یوه درنه د قدر وړ او د پرمختللې ټولنې حقایق بـه پـه همدې نمایشـي تصویرونو خپل ارزښت وبایلي.» (۲: ویب)

د سټیکرونو یو زیان دا یاد شو چې حقایق د نمایش په توګه انځوروي، د دې خبرې د تایید ترڅنګ باید ووایم چې له شک پرته دا یو حقیقت دی چې سټیکرونه حقایق مسخه

کوي او ښه مثال یې زموږ په ورځنۍ محاوره او تبصرو کې لیدلی شو. ښایي ستاسې یو څوک یا یو عمل هېڅ خوښ نه وي، خو د یو چا د خوشحالولو لپاره د منښتې یو ایموجي کمینټ کوئ یا هم د تایید لپاره ورسره سر وښوروئ، دلته پر حقیقت پرده خوره شوه، یا د سلیقې له مخې او یا هم د مجبوریت له مخې، خو په ټوله کې حقیقت مسخه شو. که موږ غواړو او که نه، د ټکنالوژۍ اوسني چټک پرمختګ زموږ ژوند اغېزمن کړی دی، خو غوره او مهمه مسئله دا ده چې مثبت اړخونه خپل او د منفي هغوی د رد ترڅنګ، زیانونه یې هم د ټولنې نورو وګړو ته څرګند کړو.

د حقیقتونو نمایشي کولو یو بل مثال ته تم کېږو: زموږ په فرهنګ کې په کال کې دوه اخترونه د خوشالۍ مذهبي ورځې دي. زموږ پر ژوند د ټکنالوژۍ د وزرو تر خپرېدو په مخکې کلونو کې د دغو ورځو نمانځنه وګورئ او هم یې د ټکنالوژۍ په اوسني عصر کې او بیا دواړه سره پرتله هم کړئ! زه دا نه ردوم چې اوس په اخترونو کې دوستان له یو بل کره مبارکۍ ته نه ځي، خو دا هم باید ووایم چې د دوستانو په دغه راشه، ور شه باندې د ټکنالوژۍ اغېزې هم ښکاره دي. تر اختر وروسته به مو هرو مرو داسې خبرې اورېدلې وي چې په واټس اپ کې خو مې مبارکي در استولې وه، یا تاسې ته مې مسج کې مبارکي در لېږلې وه، خو اوس دې بیا هم اختر مبارک شه!

ښایي یو څوک ووایي چې دا خو د ټکنالوژۍ ګټه شوه، چې په یو مصروف وخت کې یې بیا هم فاصلې را لنډې کړې او د مبارکۍ احساسات سره شریک شول، له شک پرته په دغسې ګټو کې ګڼ زیانونه هم نغښتي دي، که فزیکي فاصلې لرې وي، خو دا د ټکنالوژۍ ګټه شوه، خو موږ او تاسې په لنډو فاصلو کې هم مشاهده کولای شو چې مبارکۍ تر واټس اپ، فېسبوک او نورو شبکو پورې محدودې شوې دي.

## پایله

د پورته بحث په پای کې دې پایلې ته رسېږو چې زموږ ټولنه یو دیني، مذهبي، محافظه کاره او وروسته پاتې ټولنه ده، نړۍ یو کلی دی او څه اصول چې د نړۍ په نورو کلیو او بانډو کې پلي کېږي او پلي شوي، موږ ترې مستثنی نه یوو او نه شو پاتې کېدای، ځکه که موږ وغواړو او که نه، د ټکنالوژۍ چټکې ودې زموږ ژوند تر خپل اغېز لاندې راوستی دی او لا یې هم راولي. تاسې به په دې وروستیو کې له رسنیو د مصنوعي ځیرکتیا د ودې خبرونه هرو مرو اورېدلي وي، تصویرونه او تصویري نخښې،

خو پرېږدئ، پرېږدئ، اوس د مصنوعي انسانانو خبره ده او آن ځينو هېوادونو خو د ټلويزيوني خبرونو د وياندويانو په توګه پر دندو ګومارلي دي. نړۍ تصويري شوې ده او لا هم پر دغه لوري چټکه روانه ده، نو موږ ته په کار دي چې د خپل فرهنګ، ژبې، ديني او مذهبي ارزښتونو د پاللو ترڅنګ د ټکنالوژۍ له چټک پرمختګ سره په معقول حد کې ځان عيار کړو. سټيکرونه ژبنۍ نخښې يا علامې دي او ورځ تر بلې يې انسانان د اړيکو او د احساساتو د شريکولو لپاره کاروي. غوره به دا وي چې دا کارونه په ډېره سنجيده توګه وشي، ګټې او زيانونه يې تشخيص شي، له موږ څخه بايد د فکر او تبصرې ځواک وانخلي، موږ بايد له مهمو مسأيلو سره سطحي او د ايموجيانو تر حده چلند او قضاوت ونه کړو.

## وړانديزونه

۱- ژبپوهان، ټولنپوهان او څېړونکي بايد په دې اړه لا ډېر ليکل وکړي، ګټې او زيانونه يې د مقالو، رسالو او کنفرانسونو له لارې بيان او د خلکو سره شريکې کړي.

۲- لوستی قشر، د نظر خاوندان او د نقادانه فکر څښتنان بايد ايموجيان او سټيکرونه په معقول حد کې وکاروي.

## مأخذونه


۱. احمدزی، سلطان. د ليک پيدايښت او تاريخچه، کابل مجله، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، ۵ او ٦ ګڼه، ۱۳۹۳ ل کال، ۱۹۷ مخ.

۲. امانزی اوری. ايموجي او سټيکرونه د تصويري ژبې د نوې بڼې په توګه، فېسبوک: https://www.facebook.com/wrymnzy

۳. حيدری، محسن. چگونه شکلک‌ها (اموجی‌ها)، زبان و ارتباطات انسانی را متحول کردند، انټرنيټي پاڼه، https://www.bbc.com/persian/science/۱۷/۷/۲۰۱٦، را اخېستنه [ ۱۴۰۲/۵/۵ ].

٤. خانلری، پرويز ناتل. خط و زبان، مجله سخن، دوره نهم، شماره ۱۰، ۱۳۳۷ کال، ۹۲۸ مخ.

۵. دهقان، عليرضا. مطالعه استيکرهای وايبر و نشانه شناسی ايديولوژی های آن، فصلنامه مطالعات رسانه های نوين، سال دوم، شماره هفتم، تهران، ايران، سال، ۱۳۹۵، صفحه ۴.

٦. ساحل، مطيع الله. پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، لايف ستار مطبعه: کابل، ۱۴۰۱ ل کال، ۱۰۲ مخ.

۷. غضنفر، اسدالله. منلی، نجيب، د ادبياتو دنيا، کابل، ۱۳۹۹ ل کال، ۲۲۵ مخ.

۸. لېوال، عبدالغفور. شعري سېمبولونه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، صدف مطبعه: کابل، ۱۳۹۵ ل کال، ۳۱ مخ.

پوهنمل شفیع الله حبیب

# د پوهاند فضل ولي ناګار شاعرانه موټيفونه

# Professor Fazal Wali Nagar's Poetic Motifs

**Assistant Prof. Shafiullah Habib**


## Abstract

The words and concepts that are repeated many times in the creations of a poet and writer and attract the attention of readers are called motifs. This repetition sometimes happens consciously and frequently unconsciously from writer. The first part of this article introduce literary term Motif and in second portion of this scientific article, explored Motifs that found in the poetry of Prof. Nagar through descriptive qualitative and analytical research. The Motifs are reported along with the related verses. After studying Prof. Nagar's poetry, it became clear that Pashtun pride, love for Ahlul Bayt, Jihad and revolution are the most prominent and recurring themes in his poems. Words related to these spiritual Motifs, such as Pashtun culture related terms, Ali, Fatima, Hassan, Husain, Kausar, Zulfiqar, Karbala, Daldal and Sayed ul – Shuhada.



## لنډيز

هغه وییونه او مفاهیم چې د یوه شاعر او لیکوال په آثارو کې ډېر تکرار شوي وي او د لوستونکو پام جلبوي، موټیف بلل کېږي. دغه تکرار کله شعوري هڅه وي او کله بیا د پنځوونکي له لاشعوره را پېښېږي. د دې مقالې لومړۍ برخه د موټيف پېژندنې ته

ځانګړې شوې او په دویمه برخه کې د توصیفي- تحلیلي میتود پر مټ د استاد ناګار په شاعرۍ کې موندل شوي موټیفونه له اړوند بیتونو سره یوځای ذکر شوي دي. د پوهاند ناګار د شاعرۍ له مطالعې وروسته څرګنده شوه، چې پښتني غرور، له اهل‌بیتو سره مینه، جهاد او انقلاب د نوموړي په اشعارو کې تر ټولو بارز او تکرار شوي موضوعات دي. د دغو معنوي موټیفونو اړوند وییونه؛ لکه پښتني عناصر، علي، فاطمه، حسن، حسین، کوثر، ذوالفقار، کربلا، دلدل، سیدالشهداء او داسې نور په اهل بیتو پورې اړوند توکي او پېښې همدارنګه جهاد، انقلاب، بیعت، توره... یې لفظي موټیفونه بللی شو.

## سریزه

موټیف په هنر او ادب کې یوه ډېره دود شوې کلمه ده، همدارنګه دغه کلمه په علم کې هم رواج شوې ده. د موټیف په اړه بحث هغه وخت راپورته کېدلی شي، چې کله موږ یو اثر د کره‌کتنې لپاره وړاندې کوو او هلته وینو چې په دې آثر کې تر ټولو بارزه موضوع، بارز کرکټر یا بارز الفاظ څه دي؟ له (بارز) څخه هدف (تکراري) دی؛ ځکه چې موټیف هم هغې موضوع یا الفاظو ته وایي، چې د یوه لیکوال یا شاعر په آثارو کې په خوداګاه یا ناخوداګاه (شعوري یا غیرشعوري) ډول سره په تکراري او له معمولي حده په ډېر ډول سره ذکر شوې وي. موټیف په کره‌کتنې کې د کره‌کتونکي لپاره یو ډېر ښه لارښود او ان د څراغ حیثیت لري، موټیف کره‌کتونکي ته د لیکوال او شاعر شخصـي حالت او د ژوند او تفکر طرز او طریقه ښیي او هم ورته دا ښیي، چې دی په ژوند کې له کومې پېښې څخه ډېر اغېزمن شوی دی؟ کومې پېښې د ده لاشعور او ناخوداګاه ته ځان رسولی دی او بیا یې په فن کې ځان ښودلی دی؟ او دومره غوټه خو چې یوه کره‌کتونکي ته په لاس ورشي، نو داسې ده لکه لارورکی انسان چې سمه لار ومومي. په پښتو ادبیاتو کې د موټیف په باب لکه څنګه چې باید وي، کار نه دی ترسره شوی. په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د توصیفي ـ تحلیلي میتود په واسطه د موټیف له پېژندنې وروسته د پوهاند ناګار په شاعرۍ کې یې بېلګې روښانه شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د یوه لیکوال او شاعر په آثارو کې د موټیف پلټل او تحلیل لوستونکو ته د نوموړي مفکوره څرګندوي؛ ځکه انسان هغه څه ډېر ذکر کوي او تکراروي، له څه چې ډېر

اغېزمن شوی وي. موتيف په معاصره کره‌کتنه او سبک‌پېژندنه کې مهم رول لري. د پښتو ادب په تيوريکو آثارو کې د موتيف په باب د کافي معلوماتو نشتون او د استاد ناګار په شاعرۍ کې يې بېلګې روښانول د مقالې ارزښت جوتوي.

## د څېړنې موخې

دغه څېړنيزه مقاله د موتيف ادبي اصطلاح د بشپړې پېژندنې او د پښتو ادب معاصرې دورې د يوه شاعر استاد فضل ولي ناګار په شاعرۍ کې د موتيفونو موندلو په موخه ترسره شوې ده.

## د څېړنې میتود

دغه مقاله د توصيفي ـ تحليلي ميتود پر بنسټ چمتو شوې ده. لومړی مو له معتبرو ماخذونو څخه د موتيف ادبي اصطلاح مختلف تعريفونه راوړي او د موتيف ډولونه مو روښانه کړي دي، بيا مو د «د ناګار شاعري» اثر ټول اشعار مطالعه کړي او د مقالې حجم په پام کې نيولو لپاره مو د هر موتيف لاندې محدود بيتونه د بېلګو په توګه ذکر کړي دي.

## د مقالې متن

### موتيف څه شی دی؟

د بشــــــري علومو يوه ځانګړنه دا ده، چې ډېر اصـطلاحات يې ټاکلي تعريفونه نه‌لري، او بيا يې که لري هم، خو ډېر زيات؛ يا هم دا ځانګړي اصــطلاحات د هر ليکوال، يـا هرې ټولنې او جغرافيې خلکو لـه لوري د ځـانګړي هـدف لپـاره اسـتعمالېږي، چې د اسـتعمال ځايونه يې بيا د دغو اصـطلاحاتو له کُلي او ماهيتي مفهوم سره توپير لري؛ مګر دوی د خپلو اهدافو سرته رسولو او خپلو افکارو څرګندولو لپاره اسـتخدام کړي وي او د بشــــــري علومو يوه ځانګړنه دا هم ده، چې دلته هر شـخص د خپلې نظريې خاوند دی او هيڅوک د خپلې نظريې پر بنســټ څوک ګرم نه‌شي ګڼلی. داسـې ډېر اصـطلاحات شـته دي، چې ډېر زيات او يا هم هېڅ تعريف نه‌لري؛ له دې ډلې څخه يو يې (موتيف) هم دی، چې ډېر زيات تعريفونه لري، زه يې دلته تر ټولو نامتو هغه رااخلم، چې د نړۍ معتبرو قاموسونو رااخيستي دي او تر موږه يې رار سولي دي؛ د موتيف مطالعې ته په غرب کې هغه وخت توجه ډېره شوه،

کله چې د شـلمې پېړۍ د ٦٠مو کلونو په پای کې سـټېت ټومپسـن( ) د فوکلوري ادبیاتو د دنننی موټیف(منځپانګې)( ) په نامه باندې یوه شـپږ ټوکیزه ډېکشـنري ولیکله؛ دغې ډېکشـنرۍ د نورو څېړونکو لپاره لاره هواره کړه، تر څو د موټیف نور ډولونه موږ ته راوښيي. (٧: ١١)

دویم څېړونکی، چې د موټیف د څېړنې لپاره یې خپلې مطالعې او لیکنې وقف کړې دي، هغه د جرمني الېزابېت فرنزېل( ) ده، چې دوه کتابونه یې لیکلي[٣] دي؛ د نړیوالو ادبیاتو منځپانګه( ) او د نړیوالو ادبیاتو موټیف( )،[٤]چې د څېړونکو د پام وړ وګرځېدل.

**د موټیف لغوي او اصطلاحي معنا**

د موټیف لغوي ریښه د لاتین له (Movere)، چې فعل دی او د همدغې ژبې له (Motivus) څخه، چې اسـم دی راوتلې ده او دواړه د حرکت ورکولو او په حرکت باندې د ټینګار په معنا دي؛ کار ته د ګومارلو او تشـویقولو په هدف باندې راغلی دی، چـې وروســـتـه بـیـا د انـګـلـیـــــســيـ ژبـې د مـوټـیـوېـټ یـا موټېوېشـن(Motivation/Motivate) بڼو ته هم اوښـتی دی او د لاتیني ژبې په همدې معنا پاتې شـوی دی؛ خو باید یوه مهمه خبره یاده کړو او هغه دا چې موټیف په کومه معنا باندې نن ورځ استعمالېږي، دا له فرانسوی ژبې څخه نورو ژبو ته نتوتی دی.(١۴: ٢۵)

د اکسـفورډ په ډېکشـنرۍ کې موټیف په څو برخو کې تشرـیح شـوی دی: د موټیف د اصـطلاح د تعریف لپاره یې موټیف ته له نورو هنرونو( انځورګرۍ، بت جوړونې، معمارۍ، ډېکورېشن . . .) سره تړاو ورکړی دی. په موسیقۍ کې هم په څو معناوو سره راغلی دی، پر دې سربېره په ګنډلو، اوبدلو او خیاطۍ کې هم کارېدلی دی. د موټیف په اړه د همدغې ډېکشـنرۍ د تعریف دویمه برخه ادبیاتو ته ځانګړې شوې ده.

---

١. Stith Thompson
٢. Motif – Index of folk – literature
٣. Elizabeth Frenzel
٤. Stoffe der Weltliteratur
٥. Motive der Weltliteratur

موټیف په انځورگرۍ، غالۍ اوبدنې، معمارۍ او دې ته ورته نورو هنرونو کې په دوو معناوو راغلی دی: یوه معنا یې د هنري اثر مرکزي موضوع ده، د ساري په توگه: د منظرې موټیف، بربادي، عشق . . . او بله معنا یې د هنرمند د اثر په هغو عناصرو باندې اطلاق کوي، چې د هنرمند په آثارو کې ډېر متمایز او د حس کېدلو وړ وي؛ لکه د درویش دُراني په شاعرۍ کې بلا، کونډه مور، څراغ او داسې نور . . .(۱۰: ۳۸)

په اسلامي معمارۍ کې هم د موټیف په اړه ویلی شو، گُنبدې، ځانگړې منارې . . . او په نقاشۍ کې یې په دېوالونو باندې رنگارنگ گلان د اسلامي معمارۍ او نقاشۍ موټیفونه یادولی شو؛ موږ ځکه دغو ته موټیفونه ویلی شو، چې په همدغو هنرونو کې دا شیان بارز او ډېر حس کېدونکي دي او دا شیان هغه عناصر دي، چې اسلامي هنر ورباندې پېژندل کېږي، همداسې په شعر او لیکوالۍ کې هم ده، هغه شي ته موږ موټیف وایو، چې د یوه شاعر په شعر کې تر ټولو زیات فوکس ورباندې کېږي او که لږ له مبالغې څخه کار واخلو؛ نو ښایي دا سې هم ورته وویلی شو، چې موټیف د یوه لیکوال د لیکنې د ثقل مرکز دی. د فلم جوړونې په هنر کې هم هغه څه ته، چې ډېر تکرارېږي او د اصلي کیسې د درک لپاره د هغه تکرار اړین وي، موټیف بلل کېږي؛ لکه د ځینو ډیالوگونو تکرار، د آوازونو، د موسیقۍ د ځینو برخو تکرار، همدا ډول د کرکټر د ځینو حرکتونو تکرار ته هم موټیف ویلی شو.(۵: ۲۴)

**په ادبیاتو کې موټیف څه ته وایي؟**

بېلابېلو ډیکشنریانو د ادبیاتو په دایره کې د موټیف بېلابېل تعریفونه کړي دي، چې ځینې یې دلته رااخلو؛ د کیوډین(۱) د ادبي اصطلاحاتو په ډیکشنرۍ کې راغلي دي: "په یوه ادبي اثر کې مسلطې او بارزې عقیدې ته او یا هم د اصلي معنا او منځپانگې یوې برخې ته موټیف وایي. دغه معنا ښایي د یو شخصیت، یوه انځور یا د یوې ژبنۍ اولگو له تکراره رازبېږېدلې وي." (۳: ۱۷)

د بالدیک(۲) د ادبي اصطلاحاتو په ډیکشنرۍ کې د موټیف په اړه راغلي دي: "موټیف هغه موقعیت، پېښې، باور، انځور او شخصیت ته وایي، چې په څو بېلابېلو ادبي آثارو کې وموندل شي. په اسطوروي یا فولکلوري آثارو کې چې هر عنصر په

۱. Cudden
۲. Baldick

استادانه شکل سره په عام مضمون کې کښل شوی وي، موټیف بلل کېږي . . . هر چېرته چې یو انځور، یوه پېښــه یا نور شــیان په معنا لرونکې بڼه باندې په یوه واحد اثر کې تکرار شي، لایټ موټیف ورته وایي." (۷: ۱۴)

د برنارد دوپرایز( ) په (د ادبي ډولونو اصــطلاحاتو ډیکشــنري)( ) کې د موټیف د ٢
تعریفولو لپاره څو نظریې وړاندې شــوې دي، چې په یوې نظریې کې د مضــمون یا اصلي مرکزي ټکي په معادل راغلی دی او په بلې نظریې کې د هغو اولګوي یا حس کېدونکو خبرو په معنا باندې راغلی دی، چې په یوه اثر کې په متحرک ډول باندې په حیرت انګېز شــکل سره زېږېدلې وي. د روایت پېژندنې په ډیکشــنري( ) کې هم دې خبرې ته اشــاره شــوې ده، چې موټیف په یوه مضــمون پورې مختص دی او کله چې یو موټیف په تکراري ډول سره په یوه اثر کې ذکر شي، لایټ موټیف یې بللی شو.(۲: ۳۷)

**په څېړنیزو ادبي آثارو کې د موټیف پېژند**

د مضـمون جوړونې ډولونه( ) په کتاب کې، چې د ژید، کامُو او سـارتر د آثارو په طبیعت او موټیف باندې غږ پدلی دی، موټیف څو اړخیزه معنا لري؛ کله موټیف د موضوع( ) په معنا کارېدلی دی، چې جزٔییات روښانوي؛ پر همدې اساس باندې دا موضــوع شــونې ده، چې د داســتان د اتل ټولنیزه طبقه، مذهب، کســب یا ټولنیزې اړیکې واوسي؛ لکه یو بزګر، سرتېری، باغي او یا بې‌باکه ځوان. ښایي د اتل یوه بارزه (غوره) ځانګړنه واوسي؛ لکه احساساتي، پلټونکی، کنجوس او داسې نور.

ښایي یوه پېښه یا هم د پېښېدلو ځای واوسي؛ لکه د سیسه، جنګ، د ورونو مړینه، سرسري مینه...

همدارنګه شــونې ده، چې دا موضــوع په یوه معین شــکل کې د پېښــو او یا هم شخصیتونو له ترکیبه رغېدلې وي؛ لکه ادیپوس( ) ٦

١. Bernard Marie Dupriez
٢. A Dictionary of Literary Devices
٣. A Dictionary of Narratology
٤. Types of Thematic Structure
٥. Topic
٦. Oedipus

دیان اوتینگ[۱] په‌خپل کتاب کې د مذهبي پدیدو په لټه پســـې راوتلی دی؛ خدای، پرښتې، په آسمان کې اوبه، د آسمان دروازې، دېو، اور، پرښتو ته نږدېوالی، په آسمانونو کې ښکلي غرونه او په دا ډول نورو مثالونو پسې تللی دی او دا شیان یې موټیف بللي دي. (۵: ۳۰)

د دغو ټولو تعریفونو څخه دا پایله اخیســتلی شـو، چې (په ادبیاتو کې) موټیف هغې اصـطلاح، لفظ یا معنا ته ویل کېږي، چې د یوه شـاعر یا لیکوال په آثارو کې تر نورو اصطلاحاتو، لفظونو او معناوو ډېره کارېدلې وي او کله چې دغه لفظ یا معنا لولو؛ نو دغه شاعر یا لیکوال زموږ ذهن ته راځي؛ په لنډه توګه موږ کولی شو، په ادبیاتو کې موټیف له درېیو اړخونو وڅېړو:

۱. دا موټیف په روایت پورې تړلی دی او دا نظریه د ســـټرکچرالېزم نظریه ده، دوی فکر کوي، چې د یوه روایت د منځپانګې تر ټولو وړوکی واحد نحوي واحد وبولو. بورېس توماشفسکي پر دې باور دی، چې هغه خیال چې منځپانګه یې بیانوي، هغه خیال دی، چې د یوه اثر لفظي مواد له یوه بله سره متحد کوي؛ یا په بله وینا، چې یو اثر د یوه کُل په توګه د یوې منځپانګې لرونکی دی او په همدې حال کې دا هم شونې ده، چې د اثر هره برخه بېله بېله منځپانګه ولري؛ که چېرته یو داستاني اثر له دغه اصله لاندې تجزیه کړو؛ نو تقسیم نه منونکو شیانو ته رسېږو؛ لکه (له ماسپښینه وروســته راغی.)؛ (هغه د منځني عمر مېرمنه وژني.)؛ (اتل مري.)؛ (لیک رانه‌غی.) . . . دا ټول په یوه داســـتاني روایت کې د کُلي روایت اجزاوې دي؛ په حقیقت کې د ټول روایت له ډلې څخه هره جمله ځان‌ته موټیف لري.

۲. دویم ډول موټیف ځانګړو تکرارو شویو عناصرو ته ا ستعمالېږي؛ لکه پېښې، غرونه، انځورونه، رنګ، فرعي پېښې، رواني حالات(لیونتوب، وېره، غم، خوښي . . . ) ښکاره او عمومي نښې (د سترګو رنګ، سره وېښتان . . . ) او نور هر هغه څه، چې په شخصیت پورې تړلي وي؛ لکه تکیه کلامونه، سلوک، د کالیو اغوستل، غږ، روحي چلند، د څېرې رنګ، د وېښتانو رنګ . . . خو په حقیقت کې دا ټول شیان چې د څه شي له امله په موټیف بانديې بدلېږي، هغه د دوی مکرر تکرار دی.

---

۱. Mary Dean- Otting

هره پېښــه پهځپل ځان کې موټيف نهدی؛ خو کله چې په مکرره توگه ذکر شي؛ نو د لوستونکي حساسيت راپاروي او پر دې يې پوهوي، چې د دغو الفاظو تر شا کيسه او روايت تکراري دی او دغه تکرارونه کره‌کتونکي او عام ليکوال ته ورای متن شـــيان ورښيي، چې د ليکوال د رښتونې ايډيا د معلومولو لپاره هم ښه وسيله ده.

۳. دربيم موټيف په يوه متن کې له بارزه او غالبه ايډيا او موضـــوع ده؛ هر ادبي متن له بېلابېلو منځپانگو څخه جوړ دی؛ د منځپانگې اصـــطلاح موږ د متن اصـــلي موضـــوع ته کارولی شـو، چې متن ته انسـجام وربښـــي او د متن دننه د پرتو عناصرو همغږي کوونکې وي؛ شـــونې ده، چې له دغې اصـــلي منځپانگې سره په متن کې ځينې نورې فرعي منځپانگې هم موجودې وي، چې له اصـلي منځپانگې سره اړيکه لري او ځينې شـايد داسـې وړې پېښـې هم پکې وي، چې له اصـلي منځپانگې سره هېڅ اړيکه ونه‌لري؛ هره هغه فرعي پېښــــه يا فرعي منځپانگه، چې په متن کې په غالب او بارز ډول ځان راڅرگندوي؛ موټيف بلل کېږي؛ هر هغه څه، چې د عنصرـ د بارزتابه او غلبې سبب کېږي، د عناصرو تکرار دی.(۸: ۴۱)

د موټيف د دويم او دربيم تعريف تر منځ گډه خبره د عناصرو تکرار او د ليکوال له ځانگړې ديدگاه څخه د متن اصلي مفکورې ته د لارښوونې نقش دی. په دويم تعريف کې خبره تر ډېره حده په لفظي تکرار باندې راڅرخېږي او په دې تعريف کې موټيف تر زياتې اندازې په لفظي او انځوريز تکرار بـــاندې اړ دی او په همدې دليل باندې د حساسيت راپارېدنه په دې ډول موټيف کې په لوستونکي پورې تړلې ده او تشخيص يې آسان دی؛ خو په دربيم تعريف کې موټيف په ايډيا او د متن په محتوا پورې مربوط دی او تشخيص يې هم فکر غواړي. موږ کولی شو، موټيف ته په موضوع کې د ادبياتو تکيه کلام هم ووايو.

**د اسـتاد فضل ولي ناگار شاعرانه موټيفونه**

د موټيف اصـــطلاح تر ډېره په ښـــکليو هنرونو پورې اړه لري او په ځانگړې توگه موږ په ادبياتو کې مطالعه کړه او ادبيات هم په بشـــري علومو کې مطالعه کېږي؛ نو دا ډېره گرانه وه، چې د موټيف لپاره يو واحد تعريف ومومو او يا يې په داسې او دومره ډولونو ووېشـــو، چې د ټولو څېړونکو اتفاق ورباندې راشي؛ خو له دې سره سره مو بيا هم د موټيف تعريف اسـان او سـاده کړ او په دوو سـترو ډولونو (لفظي او معنوي) مو

ووېشـه، چې د پوهاند ناګار په شـاعرۍ کې به يې له مثالونو سره وپېژنو؛ بايد يو ځل بيا په ډېرو روانو الفاظو کې ووايم، چې موټيف هغه لفظ يا هغې معنا ته وايي، چې د يوه ليکوال يا شاعر په آثارو کې د نورو الفاظو يا معناوو په پرتله ډېره تکرار شوې وي او د ليکوال د آثارو پرتله لـــه نورو ليکوالو او شاعرانو سره د دغې ځانګړنې له مخې هم کېږي؛ بيا همدا موټيف موږ په دوو سترو برخو وېشو، چې يو يې لفظي موټيف او بل يې معنوي موټيف دی.

**۱. لفظي موټيف**

د استاد ناګار په شاعرۍ کې داسې الفاظ شته دي، چې د نورو الفاظو په پرتله ډېر مکرر راغلي دي او که منځنې ډول ته يې واړوو؛ نو په هرې پاڼې کې يو ځل يا دوه ځله راغلي دي؛ په ادبياتو کې يوه کُلي قاعده دا ده، چې د الفاظو او معانيو ډېر تکرار د اثر او کلام ارزښــت کموي؛ خو ډېر داســې کلامونه او آثار شــته دي، چې په هغوی کې د الفاظو او معانيو تکرار لا ډېره ښــکلا رازېږولې وي. ځينې تکرارونه ښکلاوې راپاروي او موسيقيت زېږوي، چې هم په غوږونو ښه لګېږي او هم په ژبه ښه راځي، خو دلته له موټيف څخه دا تکرار هدف نه دی، چې موســيقيت زېږوي، بلکې هغه الفاظ ترې مراد دي، چې د شاعر له لاشعوره د هغه په شعر کې رازېږېدلي وي او د هغه شاعري پرې راڅرخېږي.(٦: ١٩)

دا چې پوهاند ناګار يو داسې شخصيت دی، چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم اهل بيتو ته په ځانګړي درنښــت قايل دی او زياته مينه ورسره لري؛ نو د ده شــاعري هم زياتره د اهل بيتو د مينې تر اغېز لاندې ويل شـــوې ده؛ په اهل بيتو پورې اړوند شيان د ده په شاعرۍ کې ډېر بارز (څرګند او ښکاره) دي؛ لکه علي، فاطمه، حسن، حسين، کوثر، ذوالفقار، کربلا، دلدل، سيدالشهداء او داسې نور په اهل بيتو پورې اړوند توکي او پېښې د ده د شاعرۍ موټيف دي او له دې تېره خو دا، چې دی خپله شاعري د حضرت علي (رضي‌الله عنه) له تورې (ذوالفقار) سره تشبيه کوي او وايي:

زما قلم دی ذوالفقار ضرب حيدر جوړوي
که ته مرحب د خيبرونو په دېـــوال وختې

په پا سني بيت کې ا ستاد ناګار د خپل قلم کار د ذوالفقار له ضرب سره تشبيه کړی دی او په عين حال کې د اهل بيتو يوې اړوندې پېښې ته هم اشاره ده؛ د خيبر

په غزا کې محمد صلی الله علیه وسلم وویل، چې سبا ته به زه بیرغ هغه چا ته ورکوم، چې الله او د هغه رسول یې خوشحاله کړي دي او د هغه په لاس به دا کلا فتحه کېږي.

په راتلونکې ورځ ټول په تلوسه کې وو، چې دا بختور سړی به څوک وي؟

محمد صلی الله علیه وسلم علي رضي الله عنه راوغوښت او بیرغ یې ورکړ، هغه پهخپله مبارکه ملا د خیبر د کلا دروازه پورته کړه او کلا یې فتحه کړه، بیا وروسته خلکو وغوښتل چې هغه دروازه پورته کړي؛ نو ډېر زیات (اووه، څلوېښت یا اویا) کسان په دې وتوانېدل، چې هغه دروازه له ځایه لرې کړي، دا د علي رضي الله عنه د ولا یت کرا مت و. دا جګړه، چې د مسلما نانو تر منځ د خیبر د جګړې په نا مه مشهوره ده؛ د هجرت په اووم کال باندې د یهودانو او مسلمانانو تر منځ پېښه شوه؛ مرحب د یهودانو یو مشر او ستر پهلوان و، چې د حضرت علي رضي الله عنه د ذوالفقار په ګوزار سره ووژل شو او خیبر فتحه شو. راځئ، د ناګار په شعرونو کې د اهل بیتو نورې اړوندې کلمې وپلټو؛

چې هر ضرب د ذوالفقار یې انقلاب دی
مرتضیٰ علي حیدر ابو تراب دی

باید یادونه وکړم، چې په دې برخې کې زموږ کار له معناوو سره نهدی، یواځې د لفظ له اړخه د پوهاند ناګار په شاعرۍ کې موټیف ښییو، چې په پورتني بیت کې هم د (د ذوالفقار ضرب، مرتضیٰ، علي، حیدر او ابوتراب) په موټیف باندې شمېرلی شو. بله مهمه خبره دا ده، چې باید ویې وایم او هغه دا چې موټیف د یوه بیت په کچه هم وي، د یوه غزل په کچه هم وي او د یوه اثر یا د یوه لیکوال د ټو آثارو په کچه باندې هم وي؛ داسې هم کېدلی شي، چې د یوې ادبي دورې د ادبي آثارو په کچه هم موټیف واوسي(۴: ۱۷) لکه د مثال په توګه د پښتو د معاصر ادب تاریخ د روښانتیا د پړاو د ادبي آثارو لفظي موټیف، چې آزادي، خپلواکي، مبارزه او دې ته ورته نور شیان وو.

نذرانه چې پیلامه یې اسماعیل و
د اسلام د ارتقا حسین تکمیل و

په پا سني بیت کې (حسین رضي‌الله عنه) د ا ستاد ناګار د شاعرۍ په کچ کې د لفظي موټیف په ډول بللی شـو، چې د ناګار په شـاعرۍ کې په ځلنده او د کمیت له لحاظ ډېر ذکر شوی دی او د همدغه تکرار له مخې دا نوم د ناګار په شاعرۍ کې په موټیف باندې تبدیل شوی دی.

فرات که واړه شي، کوثر د هر چا خپله برخه
شبیر وچ حلق د کربلا له ستر میدانه دروړي

په دې پاسني بیت کې هم (شبیر رضي‌الله عنه او کربلا) لفظي موټیفونه دي؛ باید ووایم، چې شبیر د رسول‌الله مبارک لمسي امام حسین ته کارېږي او دا له دې امله، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ علي رضي الله عنه ته وویل، چې ته ما ته داسې یې، لکه هارون علیه السلام چې موسیٰ علیه السلام ته و؛ خو په دومره توپیر، چې تر ما وروسته بل پیغمبر نه راځي؛ دا چې علي له هارون علیه‌السلام سره تشبېه شو؛ نو د هارون زامن هم شبیر او شبر نومېدل او د علي د زامنو، حسن او حسین نومونه هم د شبر او شبیر معنا ورکوي؛ په عبرانۍ ژبې کې شبر او شبیر د حسن او حسین په معنا باندې دي.

د کـــــربلا تږیو ته ګل راوړي د پرخو پیالې
د چا څه کار دی، چې کوثر به له زمزم ببلوي

په پا سني بیت کې هم د (کربلا) لفظ راغلی دی او موږ یې موټیف بولو؛ ځکه چې د ناګار په شاعرۍ کې ډېر زیات ذکر شوی دی او کله چې څوک د استاد ناګار شاعري لولي؛ نو د دغه لفظ او کلمې تکرار ته یې پام کېږي؛ د همدې تکرار له امله یې ځان په موټیفونو ورګډ کړی دی.

زرینې د خون نښې دي د شپې په سپېده داغ
پردېس د کربلا کره له کومـــــــه دی څراغ

پا سني بیت کې (کربلا) لفظ د موټیف په ډول راغلی دی او دا هغه کلمه ده، چې د ناګار په شـاعرۍ کې ډېره زیاته ذکر شـوې ده، باید یاده شي، چې دا لفظ به یو ځل بیا (د پوهاند ناګار په شاعرۍ کې معنوي موټیف) تر سرلیک لاندې مطالعه کړو.

نـاګاره! ذوالفقار په لاس حیدر را کې پیدا کړې
یو سر د ټولو سر لکه سپین غر را کې پیدا کړې

پاسنۍ مقطعې کې (ذوالفقار او حیدر) د لفظي موټیف په توګه باندې راغلي دي او دا موټیفونه د همدغه نظم په کچه هم راغلي دي؛ د اثر په کچه یې تکرار زیات دی؛ خو د دې نظم په کچه یې هم خپل د موټیف‌تابه دریځ په‌خپل تکرار او د ثقل مرکز په لرلو سره ســاتلی دی؛ خو دا د معنا له مخې د موټیف په ځېړنه کې راځي؛ ځکه یې موږ هم له توضیح او تشریح څخه تېرېږو.

بې وینو د حــسین نه‌لري بل ارمان یزید
رنګینه د شیطان ګناه پلمو کړه د توحید

د یوه لیکوال او شـاعر په آثارو کې موټیف پر دوو برخو وېشـلی شـو: یو منفي او بل مثبت؛ منفي موټیف هغه دی، چې لیکوال یا شـــاعر یې د غندنې او رټنې په پار باندې په‌خپل اثر کې په مکرر ډول ذکر کوي او مثبت موټیف هغه موټیف ته ویل کېږي، چې لیکوال یا شـاعر یې د فردي(شـعوري/لاشـعوري) علاقې له مخې په اثر کې ذکر کوي.( ۱۲: ۴۹) په پاســـني بیت کې (حســـین) مثبت او (یزید) منفي موټیفونه دي؛ دا هم د معنا له اړخه د موټیف په ځېړنې کې راځي؛ ځکه یې له توضیح نه تېرېږو؛ خو دومره باید ووایو، چې دا د لیکوال او شاعر شخصـــي لیدلوری دی، چې یو چا ته منفي او مثبت کرکټر ورکوي؛ په پاســـني بیت کې یزید منفي کرکټر لري؛ که نه یزید ښـــایي د یوه چا لپاره مثبت کرکټر ولري؛ ځکه لیدلوري سره توپیرونه لري.

کــربلا څه وه؟ انـــــتها د قربانۍ د خلیل
حسین د دغې کارنامې د ویاړ پرتم تکمیل

په پاسني بیت کې (کربلا او حسین) موټیفونه بللی شو او که چېرته یې د معنا له اړخه څېړو؛ نو دا هم د ناګار په شاعرۍ کې یوه بارزه موضـوع ده، چې د خدایي دین قربانۍ د ا سماعیل بن ابراهیم له قربانۍ راپیل او د حسین بن علي په قربانۍ یې پای ته رسـوي؛ دا مسـئله (د معنا له اړخه د ناګار په شـاعرۍ کې موټیف) کې د څېړل کېدو وړ ده.

ته شهید یې ته ولي ورور د حبیب یې
دې کــــې نشته زیات او کم ابو ترابه!

په پاسني بیت کې هم (ولي، د حبیب علیه‌السلام ورور او ابو تراب) لفظي موټیفونه دي، چې په مکرر ډول یې د استاد فضل‌ولي ناګار په شاعرۍ کې موندلی شو.

د استاد په شاعرۍ کې دا الفاظ او کلمې ډېرې زیاتې ذکر شوې دي، موږ چې هره پاڼه اړوو، نو له دغو نومونو او کلمو سره په‌کې مخ کېږو؛ دا چې د مقالې لمنه ډېره تنګه ده، نو له مثالونو راوړلو څخه یې تېرېږم، یواځې دا یو دوه مثالونه نور ذکر کووم؛

ستوري په افاق کې چې لا ځلند د توحید شولو
ګوره کربلا کې څوک حسین او څو یزید شولو

په دې بیت کې بیا هماغه د منفي او مثبت موټیف خبره ده، چې (یزید) په‌کې منفي او (حسین) په‌کې مثبت موټیف دی، (کربلا) هم مکاني موټیف دی، باید یاده شي، چې کله موږ کربلا د استاد په شـاعرۍ کې د لفظ له مخې په موټیف کې مطالعه کوو؛ نو مکاني موټیف یې بولو؛ خو که چېرته یې په معنوي موټیف کې مطالعه کوو؛ نو حادثوي یا تلمیحي موټیف یې بولو.

لاره د قاتل به مې وي تللې د یزید په کور
روح چـې د علي مرد میدان راسره وژړل

په پاسني بیت کې (یزید او علي) دواړه لفظي موټیفونه دي.

د دغومره مثالونو په راوړلو سره د ناګار په شاعرۍ کې د لفظي موټیف په څېړلو بسنه کوو او نېغ ځو د استاد په شاعرۍ کې معنوي موټیف څېړلو ته.

**۲. معنوي موټیف**

د ناګار په شاعرۍ کې مو د موټیف د موندلو په اوږدو کې لومړی لفظي موټیف وڅېړه؛ اوس وار ورسېد د استاد په شاعرۍ کې د معنوي موټیف څېړلو ته. باید یاده شي، چې د اســتاد ناګار په شــاعرۍ کې تر ټولو بارزې معانۍ درې دي، د ناګار د شاعرۍ معنوي لایټ موټیفونه درې موضوعات دي؛

۱. پښتني غرور(انا)
۲. له اهل‌بیتو سره مینه
۳. جهاد او انقلاب

د ناګار د شــاعرۍ دا درې ســترې منځپانګې، درون مایې او یا هم معنوي موټیفونه دي، چې وروسته یې بیا په لایټ موټیف کې هم تر څېړنې لاندې نیسو:

"ناګار" نه‌شو ورته ټيټ ښکلو خوښ نه کړ
چينارونه پيوند نــه‌اخــلي بادام کــې

پښتنو شاعرانو کې پوهاند ناګار دا سې يو شاعر دی، چې په دعوې سره يې د حمزه بابا ځای‌ناستی او پل‌يونی ګڼلی شو؛ د ده معنوي موټيفونه تر ډېره د حمزه بابا له معنوي موټيفونو سره ورته‌والی لري؛ ځکه چې دواړه د يوې عقيدې خاوندان دي، دواړه اهل تصـوف دي، دواړه بې‌کچې د اهل‌بيتو مينان دي او په اسـلامي فلسـفې باندې کلک شـــعر بلونکي دي. ناګار په پوره معنا حمزه پېژندونکی دی، له نږدې ورسره ناست دی او د هغه له شعرونو او مذهبي باورونو څخه اغېزمن شوی دی؛ نو له همدې امله يې په شعر کې(شعوراً يا لاشعوراً) هغه درون‌مايې برېښي، کومې چې د حمزه بابا په اشعارو کې څرګندې دي؛ د ناګار د پاسني بيت په لوستلو سره هرو مرو د سړي ذهن ته د حمزه بابا دا بيت ورځي؛

ما ټيټ ورته لېمه کړل، زما سر نه ټيټـــېده
شايد چې په الفت کې هم افغان پاتې کېدم

عشق يوه دا سې جذبه ده، چې د قوميت، نژاد او مذهب‌پرستۍ له قواعدو ډېره لرې ده، خو کله چې ســړی د حمزه او ناګار شــاعري لولي؛ نو دلته د عشــق په ډول يو باغي شــی هم د ځينو اصـولو تابع کېږي، چې هغه اصـول د پښــتونولۍ او افغانيت اصــول دي او زما په فکر، چې له پښــتانه پرته به د بل هېڅ قوم واله داســې نه وي ويلي، چې د ساري په توګه زه د پلانکي قوم واله يم او "ولې عشق ته سر ټيټ کړم؟" عشـق په پښـتني قواعدو کې سـاتل او ورسره پښـتني چلند کول د ناګار د شـاعرۍ معنوي موټيف دی، دی داســې نه‌دی، چې چورلټ له عشــقه انکاري دی؛ خو د پښتونولۍ په چوکاټ کې دا کار کوي. عشق ناپښتون او ناګار پښتون دی، د دواړو جوړ امد به ډېر سخت وي.

د همدغه پښتانه غرور يو څو نورې بېلګې هم ذکر کوو؛

دا خپل ملنګ ربه! په نورو کوڅو مه ګرځوه
غريب سړی يم، کبر نه‌کوم پښــتو راځـــــي

دلته ناګار په ډېر ښـکلي شـکل سره د تکبر او پښــتو تر منځ توپير ښـودلی دی، دی وايي، چې تکبر له پښتو يو بېل شی دی؛ دی ملنګ دی او د اصولو سره سم بايد په

کوڅو وگرځي؛ لکه دی چې په‌خپله هم وايي، چې غريب سړی يم، ملنګ يم، بايد په کوڅو مې وګرځوې؛ خو دلته زه يو معنويت لرم، چې هغه پښتو ده؛ نو د همدغې پښتو له امله ما پرديو اهل بالاوو ته مه اړ کوه او له خپله دره يو څه را کړه او د ده په فکر کبر هغه څه ته وايي، چې يو څوک غريب وي؛ خو بيا هم له دې سره سره وايي، چې غريب نه يم، ملنګ نه يم او په نورو کوڅو نه‌ګرځم؛ دی داسې غريب پښتون دی، چې خدای ته وايي، چې ما د نورو په کوڅو مه ګرځوه، له خپله دره يو څه را کړه، په عين حال کې دی له خپلې ملنګۍ څخه هم انکار نه‌کوي. په پاسني بيت کې هم د پښتني غرور موضوع راغلې ده، ناګار نه غواړي، چې له خدايه پرته د نورو په کوڅو کې خير ټول کړي او چا ته لاس ونيسي؛ ځکه چې دی له خپل پښتني غروره شرمېږي.

بل ځای فرمايي؛

زور يې چا سره هېڅ د پرتم او د جلال نه‌شتـه
دا هغه ملت دی، چې تاريخ کې يې زوال نه‌شته

(هغه ملت) يعنې پښتون افغان ملت؛ ناګار په دعوې سره وايي، چې دا ملت يو داسې ملت دی، چې څوک يې د شان او شوکت مقابله نه‌شي کولی، دا ملت د پښتونولۍ او مسلمانۍ يو دا سې ګډوله ترکيب په‌خپل روح کې لري، چې بل څوک يې نه‌لري او د دغه معنويت وجه ده، چې په تاريخ کې به تل د عروج په کرښو کې وي؛ دا ملت زوال نه‌منونکی دی؛ دا ملت نه پرځېږي. په دغه بيت کې هم ناګار د پښتني غرور يادونه کړې ده، چې د ده د شاعرۍ منځپانګه يا معنوي موټيف يې بللی شو. د ناګار د شاعرۍ بل معنوي موټيف له اهل‌بيتو سره مينه ده، چې د مثالونو لپاره يې څو بيتونه ذکر کوو؛

لا حاجت د وينو شته حسيني يون ته
چې بې آبه په کوڅو د کربلا شـو

دا خبره موږ ته ډېره ښه څرګنده ده، چې د پوهاند ناګار شاعري له اهل‌بيتو سره په مينه ډکه ده؛ له اهل‌بيتو سره مينې او د هغوی ذکر ته د ناګار بېل بېل غزلونه او نظمونه مختص شوي دي او دا د دې ښکارندويي کوي، چې ناګار د اهل رسالت د خاندان څومره خواخوږی دی؛ پاسني بيت کې يې د حسيني يون، د هغه يون چې

د حق لپاره پيل شوی دی، تکمېلېده غواړي او هم د دې خبرې يادونه کوي، چې راځئ د اهل‌بيتو سره د ترسره شوي ظلم بدله واخلئ، وينه تويه کړئ او کربلايي يون جاري وساتئ؛ کوم يون چې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د لمسـي د زامنو، وربېرونو او د ده په‌خپله وينه باندې پيل شو او د ده د کورنۍ او هل‌بيتو سره په ظلم باندې يې دوام موند.

په پا سني بيت کې ناګار له اهل‌بيتو سره پوره خواخوږي ښودلې ده او دا خواخوږي او مينه يواځې په دې بيت کې نه، بلکې د پوهاند ناګار په شاعرۍ کې په مکرر ډول ذکر شـــوې ده او له همدې امله يې ځان د معنوي موټيف مقام ته رســـولی دی؛ بل ځای وايي؛

سر دې شي غوڅ که د نېزې وي که د تورې په خوله

خو اطاعت د يزيديانو نامـــــــــنظور نـــــامقبول

د ناګار په پاسني بيت کې له اهل‌بيتو سره خواخوږي او د هغوی د ملاتړ نظريه په صافو او څرګندو لفظونو را ښکاربږي؛ د يزيد پر وړاندې د ناګار او د حسين نظريه يوه ده، ناګار هم وايي، چې بايد سر پرې شي؛ خو له يزيده سره بيعت ونه‌شي او حســـين هم سر پرې کړ؛ خو له يزيد سره يې بيعت ونه‌کړ؛ دا پېښه او دا ستاينه د ناګار د شاعرۍ په ډېرو زياتو قطعو کې راغلې ده او له همدې امله يې معنوي موټيف بللی شو.

دا چې پوهاند ناګار د روس د سره ښکېلاک په دوران کې د ځوانۍ د تودو ورځو شاعر او د روسي ښـــکېلاک يو ځوان مخالف و؛ نو په اشـــعارو کې يې هم د جهاد موضـــوعات خپاره دي، دی د قلم کار هم د تورې له کار سره تشبېه کوي او په دې خبرې ځان ته ډاډ ورکوي، چې که چېرته مې د تورې جهاد ونه‌کړ؛ خو د الفاظو جهاد مې ونه سپماوه؛

قلم توره ده، ترس مه‌کوه ناګــــاره!

دا هم حق د انقلاب و، چې ادا شو

د ناګار په شاعرۍ کې موږ له درېيو معنوي موټيفونو څخه يو (جهاد) بللی دی، چې په ډېرې پيمانې سره يې د ناګار په شاعرۍ کې ځان ځای کړی دی؛ موږ يې د نمونې لپاره يواځې يو څو بيتونه رااخلو؛

ویړ جهان مې له جهاده الهام اخلي
ما مه بولئ هېڅ کله چې اسیر یم

ناګار په افغاني جهاد باندې خورا مغرور برېښي او هغو خلکو ته (چې ویل یې، افغان مجاهدین د بل تر لاس لاندې فعالیت کوي.) په ځواب کې وایي، چې نوره نړۍ زموږ له جهاده الهامونه اخلي، موږ اسیران او غلامان مه بولئ؛ زموږ جهاد الهام بخشی جهاد دی؛ لکه څنګه چې سره روسیه په افغانستان کې ماته شوه؛ نو پخواني شوروي له روس- افغان جګړې څخه الهام واخیست او په پرله‌پسې ډول یې خپلواکۍ تر لاسه کړې؛ د ناګار اصل هدف هم همدا خبره ده.

دا کوم مسلم جګ شو په ننګ د افغاني کربلا
د پېغمبر د پت پګړۍ ګرځي راګرځي په‌کې

ناګار په دې عقیده باندې دی، چې د پېغمبر د اهل د کاروان ځارواني پښتون افغان قوم ته ورپاتې ده او په هر دور کې به یو (مسلم خراساني) راپاڅېږي، چې د اهل رسالت په ننګه به توره چلوي او جهاد به کوي، د رسول سنت به مړه کېدلو ته نه پرېږدي او له هغو خلکو سره به جهاد کوي، چې د رسول په اهل لعنت وایي او د کفري بیرغ حامي وي؛ ناګار د سره روسي ښکېلاک پر وړاندې جهاد د هماغه مسلم د ګوزارونو سلسله ګڼي او همهاغه جهادي جنبه ورکوي؛ د ده په اشعارو کې تل د افغان- روس جګړه د صدر ا سلام او تر هغه راوروسته څو پېړیو جګړو او جهادونو سره تشببه کېږي.

د پوهاند ناګار په شاعرۍ کې د جهاد او انقلاب موضوع ډېره تکراري او ښکاره ده، تر دې چې نوموړی پر دغه مفکوره ځان تر قیامته داغمن ګڼي.

ما بیعت له انقلابه سره کړی
تر قیامته به داغمن یم په دا تور

## پایله

موټیف یا تکرار پدونکي عناصر په یوه متن کې د محتوا په تحلیل سربېره، د پنځوونکي له مفکورې او احسا ساتو سره لو ستونکي ا شنا کوي او د لیکوال یا شاعر سبک له نورو بېلوي. موټیف له کره‌کتنې سره- سره په سبک‌پېژندنه کې هم مهم

رول لري. د مقالې په متن کې د موټيف مختلف تعريفونه وړاندې شــو، په لنډ ډول بايد ووايو: موټيف هغې اصــطلاح، لفظ او معنا ته ويل کېږي، چې د يوه شـــاعر يا ليکوال په آثارو کې تر نورو اصــطلاحاتو، لفظونو او معناوو ډېره کارېدلې وي او کله چې دغه لفظ يا معنا لولو؛ نو دغه شـــاعر يا ليکوال زموږ ذهن ته تداعي کېږي. موټيف کله د يوه بيت په کچه هم وي، د يوه غزل په کچه هم وي او د يوه اثر يا د يوه ليکوال يا شاعر د ټو آثارو په کچه هم وي؛ داسې هم کېدلی شي، چې د يوې ادبي دورې د ادبي آثارو په کچه هم موټيف واوسي؛ لکه د مثال په توګه د پښــتو د معاصر ادب تاريخ د روښـــانتيا د پړاو د ادبي آثارو لفظي موټيفونه، چې آزادي، خپلواکي، مبارزه او دې ته ورته نور شيان وو.

د پوهاند ناګار په شـاعرۍ کې ځېنې کلمې او مفاهيم په مکرر ډول راغلي دي او دغه تکرار يې په کلام کې يوې ځانګړې مفکورې ته ژمنتيا ښــيي. د حمزه بابا په وينا په شاعرۍ کې يې «مقصديت» محسوسېږي. د استاد ناګار شاعرانه موټيفونو پېژندل لوستونکو ته د نوموړي پر کلام د پوهېدنې لپاره د يوه لارښود حيثيت لري. د موټيف کارېدل کله شــعوري وي او کله ناشــعوري، د اســتعمال په دواړو ډولونو کې موټيف له يوه اړخه د پنځوونکي او اثر او له بله اړخه د لوســـتونکي او اثر تر منځ د يوې اړيکې رول لري. پنځوونکی د موټيف په واســـطه خپلو تاملاتو او تصـــوراتو ته عينيت ور بخښي او لوستونکی هم د همدې په واسطه د ليکوال يا شاعر له ذهنيت څخه خبرېږي. د اسـتاد ناګار په شـاعرۍ کې ګڼ لفظي او معنوي موټيفونه روښـانه شول، چې د نوموړي د سبک او مفکورې په پېژندنه کې مرسته کولی شي.

## وړانديز

موټيف د کره‌کتنې او سبک‌پېژندنې په برخه کې خورا مهم او کارېدونکی توکی دی، که په راتلونکي کې د علمي پروژو او تېزسونو په سطحه د لويو شاعرانو په ديوانونو کې په مستقله توګه او د پخوانيو او اوسنيو شاعرانو په کلامونو کې په پرتليزه توګه وڅېړل شي؛ د نوموړو له آثارو او متونو څخه په سمه پوهه او له مفکورو سره په بلدتيا کې به تر ډېره لوستونکو ته لاره هواره کړي.

## مأخذونه


۱.برحی، ولید. بکارگیری موتیف در اشعار نازک الملائکه، دانشگاه شهید چمران اهواز: خوزستان، ۱۴۰۰هـ.ش.

۲.بهلولی، هاجر محمودی. بررسی و تحلیل موتیف های اشعار نو نیما یوشیج، دانشگاه علامه طباطبایی: تهران، ۱۳۹۷هـ.ش.

۳.تقوی، محمد. ((موتیف چیست و چگونه شکل می‌گیرد؟))، فصلنامه‌ی تخصصی نقد ادبی، سال ۲، شماره ۸، ۱۳۸۸هـ.ش.

٤.توران پشتی، محیا ترابی. بررسی موتیف (بن‌مایه) در اشعار فاضل نظری، دانشگاه علامه طباطبایی: تهران، ۱۳۹۸هـ.ش.

۵.حمیدی، سحر. مطالعه‌ی تطبیقی موتیف در تصویر و لایت موتیف در موسیقی، دانشگاه ازاد اسلامی واحد تهران مرکزی: تهران، ۱۳۹۴هـ.ش.

٦.داغله، سکینه. بررسی بن‌مایه (موتیف) های شعری ادونیس، دانشگاه شهید مدنی آذربایجان: تبریز، ۱۳۹۳هـ.ش.

۷.دهقان، الهام و محمد تقوی. ((موتیف و گونه‌ها و کارکردهای آن در داستان‌های صادق هدایت)) فصلنامه علمی – پژوهشی نقد ادبی شماره ۱۳، ۱۳۹۰هـ.ش.

۸.رضایت، فهیمه. نقد و تحلیل موتیف در داستان‌های کوتاه گلی ترقی، دانشگاه پیام نور: اصفهان، ۱۳۹۸هـ.ش.

۹.سلیمانی، حمید نژاد. بررسی و مقایسه‌ی موتیف‌های غزلیات سعدی و غزلیات امیر خسرو دهلوی، دانشگاه علامه طباطبایی: تهران، ۱۳۹۵هـ.ش.

۱۰. صیدی، سودابه. بررسی موتیف‌های تصویری در غزل سعدی و حسین منزوی، دانشگاه ایلام: ایلام ، ۱۳۹۱هـ.ش.

۱۱. عبدی، صلاح الدین، نسرین عباسی. ((موتیف نهر (رود) در اشعار بدر شاکر سیاب))، نقد ادب معاصر عربی، شماره ۹، ۱۳۹۴هـ.ش.

۱۲. قهدریجانی، محسن شفیعی. فرهنگ موتیف‌های واژگانی غزلیات صائب تبریزی، دانشگاه تهران: تهران، ۱۳۹٦هـ.ش.
۱۳. ناګار، فضل ولي. د ناګار شاعري، د نجیب الله نایل په زیار، ناګار خپرندویه ټولنه: ننګرهار ۱۳۸۹ل کال.
۱٤. نوری‌پور، پریسا. تحلیل و بررسی موتیف‌های دیوان پروین اعتصامی، دانشگاه علامه طباطبایی: تهران، ۱۳۹۹هـ.ش.

خېړندویه سونیا صمیم هوتک

# د امان الله سیلاب ساپي د شاعرۍ منځپانګه

# The content of Amanullah Sellab Sapi's poetry

**Assistant Prof. Sonia Samim Hotak**

**Abstract**

Sellab Sapi was a talented, strong and famous poet and writer of the country with high thinking and sacred feeling. His name is bright and shining as an appreciative and emotional poet in the contemporary era of Pashto literature. He was the owner of a great literary, national and scientific personality and kept his poetry flag high. His poems are very interesting and have a special music. His literary and cultural personality has a special position in the field of poetry. Considering his personality and poetic characteristics, in this article we have divided the content of his poetry into five religious, national and patriotic, romantic, moral and critical parts and we have some discussion on them because of which on the one hand the content of his poetry will be revealed to the society, and on the other hand to a certain extent the right of Sellab's services to the Pashto language and literature will be paid.

**لنډیز**

سېلاب ساپی د هېواد د لوړ تفکر او سپېڅلي احساس لرونکی، با استعداده، پیاوړی او نامتو شاعر او لیکوال و. د ده نوم د پښتو ادبیاتو په معاصره دوره کې د یوه قدرمن او با

احساسه شاعر په توګه روښانه او ځلېدونکی دی. دی د یوه عالي ادبي، ملي او علمي شخصیت څښتن و او د خپل شعر او شاعرۍ بیرغ یې لوړ ساتلی و. د نومړي شعرونه ډېر په زړه پورې او یو ځانګړی موسیقیت لري. د شعر ویلو په ډګر کې د ده ادبي او فرهنګي شخصیت یو ځانګړی مقام لري. د ده د شخصیت او شعري ځانګړنو په پام کې نیولو سره مو په دې لیکنه کې د ده د شاعرۍ منځپانګه پر پنځو دیني، ملي او وطني، عشقي، اخلاقي او انتقادي برخو وېشلې او یو څه بحث مو پرې کړی چې له امله به یې ټولنې ته د ده د شاعرۍ منځپانګه جوته او له بل پلوه پښتو ژبې او ادب ته به د سېلاب د خدمتونو حق هم تر یوې کچې ادا شي.

## سریزه

په هغه مهال کې چې خبرونه، د سندرغاړو غږونه، د سازغږوونکو سازونه او نور ډول ډول پروګرامونه له یواځنۍ راډیو(راډیو کابل) پر څپو خپرېدل او د هېواد او نړۍ پر حالاتو زموږ د هېوادوالو د خبرېدنې، ساعتېرۍ، وخت تېرونې او د شعرونو او سندرو په اورېدنې سره د هغوی د ذوق د خړوبونې او د خفګان د هېرونې لامل کېده، د دې راډیو په مشهورو او په زړه پورو پروګرامونو کې د پښتو او پارسي د منځنۍ او معاصرو دورو د شاعرانو لکه مولانا، حافظ، سعدي، عشقري، استاد خلیلي، خوشحال خان خټک، رحمن بابا، استاد پژواک، الفت او نورو شاعرانو شعرونه وخت په وخت د بېلابېلو پروګرامونو له لارو د دکلمو او سندرو په بڼو خپرېدل، په دې لړۍ کې د امان الله سېلاب شاعري هم د همدې راډیو د څپو له لارې زموږ د هېوادوالو په زړونو او ذهنونو کې خپل ځای پیدا کړی او د هغه د پېژندګلوی لامل شوی و. که څه هم چې دی باید قاضي او یا مفتي شوی وای، خو هغه د راډیو له دفتر څخه د خپل شتون او د خپل تلپاتې شعرونو بیرغ اوچت کړ او خپلو هېوادوالو ته یې د مینې د سبق د ورکولو تر څنګ د آزادۍ، خپلواکۍ او د بل د حکم د نه منلو تلپاتی درس او سبق هم ورکړ چې له امله یې د ده نوم هم ژوندی پاتې شو. د سېلاب ادبي شخصیت د پښتو ادب په تاریخ کې روښانه، نه هېرېدونکی او نه ورکېدونکی دی. د ده په کلام کې دوستي، عشق او محبت، مینه او خلوص، وفا او صمیمیت، رښتیا او صداقت، ایمان او عقیده، جذابیت، ښایست، دروندوالی، سوز او درد پروت دی. دی د یوه ژور اغېز او دروند تأثیرخاوند شاعر دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې معاصر شاعر د شاعرۍ د منځپانګې د پوهېدنې له لارې د نوموړي په فکر پوهېدل او د ژوند په چارو کې د ده له شاعرۍ څخه د درسونو او عبرتونو د اخیستلو ترڅنګ د ښو او غوره کړنو تکرار او له ناسمو کړنو څخه لرې والی او نه تکرار؛ د مقالې مبرمیت دی.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې معاصر شاعر امان الله سیلاب ساپی وپېژندل شي او د شعر منځپانګه یې روښانه شي چې په کومو موضوعاتو یې شاعري کړې ده او د پښتو ادب په غنامندۍ کې د ده د شاعرۍ ځای په کومه کچه دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ امان الله سیلاب ساپی څوک دی؟

۲ـ د ساپي په شاعرۍ کې کومه برخه پیاوړې ده؟

۳ـ د امان الله سیلاب ساپي د شاعرۍ په منځپانګه کې کوم موضوعات شامل دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي ـ تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د مقالې متن

**د سېلاب ساپي پېژندنه**: امان الله سېلاب ساپی د وکیل نصرالله خان ساپي زوی او د مفتي عبدالغفور خان لمسی پر ۱۳۱۲ل. /۱۹۳۳ز. کال د ورې په میاشت کې د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ په غازي کلي کې وزېږېد. ده خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل کور او کلي کې وکړې او بیا د اخوند کلي په ښوونځي کې شامل شو. پر ۱۳۲۵ل. کال یې لومړنۍ زده کړې په دغه ښوونځي کې پای ته ورسولې. تر هغې وروسته یې شپږ کاله خصوصي زده کړې وکړې چې د فقهې اصول، تفسیر، حدیث، صرف، نحو، بدیع، بیان، قافیه، منطق او د حکمت کتابونه یې ولوستل. په ۱۳۳۱ل. کال په کابل کې د قاضیانو مدرسې په دویم ټولګي کې شامل شو، بیا د همدې مدرسې له درېیم ټولګي څخه د خپلې پوهې او استعداد له امله د عربي دارالعلوم نهم ټولګي ته ولاړ. د ۱۳۳۶ل. کال په لیندۍ کې یې د عربي دارالعلوم له دولسم ټولګي څخه د اعلی درجې بری لیک ترلاسه کړ.

**دندې:** په ۱۳۳٦ل. کال له عربي دارالعلوم څخه تر فراغت وروسته يې د هېواد په دولتي ادارو کې په کار پيل وکړ. د ده لومړنۍ دنده د ۱۳۳۸ل. کال په لينډۍ مياشت کې په عدليې وزارت کې وه چې د الفلاح مجلې مسؤوليت ورسپارل شو. په دغه وزارت کې تر څه وخت کار وروسته د ترانسپورټ رياست ته ولاړ او د تبليغاتو په مديريت کې يې د عمومي مديريت تر رتبې پورې کار وکړ. له دې رياست څخه د قبايلو د مستقل رياست مربوطاتو ته ولاړ او څه موده په دې رياست کې بوخت و. په ۱۳۳۹ل. کال په غويي مياشت کې د راډيو افغانستان د حفظ او مراقبت د مدير په توګه وټاکل شو او بيا د ژوند تر پايه په راډيو کې پاتې شو. په راډيو کې ده نه يواځې د حفظ او مراقبت مديريت سرپرستي کوله، بلکې دکلماتور او د پښتو ژبې وياند هم و، پر دې سربېره د پښتونستان پروګرام چې د شپې له ۷ څخه تر ۸ بجو پورې د راډيو پر څپو خپرېده، د دې پروګرام پروډيوسري او وياندويي هم د ده پر غاړه وه.

**ادبي ژوند:** که څه هم د ده شاعري له ۱۳۳۰ل. کال څخه پيل شوې وه، خو په عربي دارالعلوم کې يې د زده کړې په دوره کې ادبي استعداد غځونې وکړې. کله يې چې په کار پيل وکړ شعر يې د پوخوالي او هنري تابه پړاوونه ووهل او چې کله په راډيو افغانستان کې پر دنده وګومارل شو د افغانستان په فرهنګي حلقو کې د يوه غزلبول شاعر په توګه وپېژندل شو. په راډيو کې کار د راډيو افغانستان په ادبي پروګرامونو کې برخې اخيستنې او د موسيقۍ له څپو سره د خوږ ژبو هنرمندانو په غږونو کې د ده د غزلو او ليريکو شعرونو خپرېدو د افغانستان او ورسره د نورو پښتنو په ګېو پرګنېو او ولسونو کې د ده له پېژندګلوۍ او شهرت سره ډېره مرسته وکړه. سېلاب په هر شعري کالب، لکه: غزل، مثنوي، رباعي، چاربيته، مسمط او نورو کې خپله طبع آزمايي کړې ده، خو د غزل برخه يې د نورو شاعرانو په څېر درنه ده. په دې اړه نصرالله حافظ ليکي: «سېلاب د شعر او شاعرۍ په هر صنف کې خپله سرشاره او ښېرازه طبع ازمايلې ده چې په پوره بريالیتوب ور څخه وتلی دی.» (۵ : ۲۴ مخ) عبدالله بختانی په دې اړه وايي: «ښاعلی سېلاب په کلاسيکو فورمونو کې د معاصر او تېرو استادانو په لار روانېږي او په ولسي فورم کې زياتره ملنګ جان تر نظر لاندې لري». (۵ : ۱۵ مخ)

نوموړي خپل شعرونه د بېلابېلو بديعي ښکلاګانو لکه تلميح، طباق، تجاهل العارف، حسن مقطع، تکرار احسن، تضمين، تجنيس، ارسال المثل او نورو په کارونې سره ښايسته کړي دي. عبدالرؤف بېنوا يې په اړه ليکي: «سېلاب په خټه ساپی د پښتو ژبې زلمی ليکونکی او د شعر په ميدان کې ګړندی شاعر دی.» (۱ : ۷۱۴ مخ) عبدالرؤف بېنوا د سېلاب د شاعرۍ په اړه بل ځای ليکي: «ښاغلی سېلاب ښه سپېڅلی، روان او سليس شعر وايي. په شعر کې يې خوندور تشبيهات، نازک تخيلات او ادبي نزاکتونه په ماهرانه توګه ځای کړي دي چې ځای په ځای د پښتني ماحول د الهاماتو چاشني هم ورسره ګډوي. د ښاغلي سېلاب د شعرونو يو بل خصوصيت دا دی چې زياتره د پښتني موسيقۍ د لحنونو او آهنګونو سره سمون خوري؛ نو ځکه د پښتو سنرغاړي د ده شعرونه په شوق يادوي او په خوند يې وايي چې کله کله د کابل راډيو څخه د ټنګ ټکور سره اورېدل کېږي». (۱ : ۷۱۵ مخ) انجنير عبدالقادر مسعود د سېلاب د ادبي ژوند په اړه وايي: «سېلاب صاحب د شعر او شاعرۍ سره يوه ځانګړې مينه او علاقه درلوده او د ده د ژوند دايمي مصروفيت و. دی يو ستر ولسي شاعر و، د ده شعري کلام يوه خوږه ژبه لري، د ده خبرې د زړه خبرې دي.» (۹) نصرالله حافظ د سېلاب د ټولنيز شخصيت په اړه وايي: «سېلاب صاحب ډېر رښتينی مسلمان او په وطن مين سړی و. په خپلو دوستانو يې ډېره مهرباني کوله، په دېره او حجره کې يې لس پنځلس کټه پراته وو او په پراخه ټنده يې مېلمنو ته هرکلی وايه.» (۸)

**مړينه:** په ۱۳۵۷ز. کال کې د شپې تر بنديز وروسته د خلقيانو د يوې ډلې له خوا د ده د کوټې قفل مات کړای شو، کتابونه، کاغذونه او سامانونه يې وپلټل شول او څه يې چې خوښ وو له ځان سره يې يووړل. دی په دې شپه په بل ځای کې و او له پېښې څخه خبر نه و. په سبا يې چې د همدې کال د ليندۍ ۱٦ مه وه، دی خپلې کوټې ته روان و، غوښتل يې چې دندې ته د تګ لپاره تياری ونيسي مؤظفو کسانو ونيوه او د دهمزنګ زندان ته يې يوړه. سېلاب خو د آزادۍ غوښتنې او خوښونې په جرم زنداني شو، خو هلته يې هم له خپلې ارادې لاس وانخيست او د مبارزې احساس يې کمزوری نه شو او په زندان کې يې د بنديانو د روحي او عقيدتي پياوړتيا لپاره هغوی ذکر، درود او د قرآنکريم تلاوت ته رابلل. د استاد حبيب رفيع په وينا، زموږ شاعر له هغو شاعرانو څخه نه و چې د(وَاَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَالَا يَفْعَلُوْنَ) په لړۍ کې راشي،

بلکې د(اِلّا الّذِینَ اَمنُو وَ عَمِلُوا الصّلِحَتِ وَ ذَکَرُو اللهَ کَثِیرًا) په صف کې شمېر دی. (۲ : ۵۵ مخ) د ده په شعر کې هم مخکې له مخکې د داسې یو ناورین د راتګ انګازې اورېدل کېږي:

زانګو د غم په زنګېدو راغله

مانۍ د ژوند په کړېدو راغله

(۵ : ۴۴ مخ)

هغه د هېواد د ډېرو نورو نومیالیو په څېر په خپل هېواد کې د پردیو د حاکمیت منلو او زغملو ته تیار نه و، خو کله چې له بده مرغه زموږ په هېواد کې د پردیو حکمونه په چلېدو شول؛ نو سېلاب له مال، عیال او خپل سر نه هم تېر شو. د ده تر نیول کېدو دوه نیمې میاشتې مخکې د ده ورور عبدالستار هم نیول شوی و چې تر نن ورځې پورې ورک دی. په ۱۳٦۳ل. کال په کامه کې د دوی پر کور روسي الوتکو بمباري وکړه چې مور او پلار یې په کې شهیدان شول. د ده د کوټې شتمني خلقیانو یوړه او د کور شته یې هم د بمونو خوراک شول، بیا له هغه وروسته یې اولادونه له هېواده کډوال او د پېښور مسافر شول او په دې توګه یې ځان، مال او عیال ټول د آزادۍ په لاره کې قربان کړل.

سېلابه! اوس دې مینه، مینه ګڼم

چې دې په سر و مال لیلام وکړ

(۵ : ۱۱۴ مخ)

پنځه میاشتې یې د دهمزنګ په محبس کې تېرې کړې، تر دې وروسته یې بیا څوک په پته پوه نه شول او د ۱۳۵۸ل. /۱۹۷۹ز. کال په بهیر کې زموږ د زرګونو نورو هېوادوالو په څېر د کمونستانو له خوا شهید شو.

**الف) چاپ آثار:**

**د اوښکو سېلاب:** د سېلاب د شعرونو لومړۍ ټولګه ده چې د شپېتمو کلونو په دوران کې د سید جان ملال په زیار د راډیو د آرشیف، مجلو، اخبارونو او جریدو څخه راټول

شوي اشعار دي چې سریزه هم پرې سید جان ملال لیکلې. په ۱۳۶۷ل. کال کې د دوه زرو ټوکونو په شمېر د طبع او نشر د ریاست له خوا په کابل کې چاپ شوه. **د غیرت چیغه:** دا د سېلاب د ملي او حماسي اشعارو ټولگه ده چې د غیرت، آزادۍ او پښتونولۍ انگازې کوي. سریزه پرې پوهاند عبدالشکور رشاد، همېش خلیل او استاد حبیب الله رفیع لیکلې ده. په ۱۳۸۲ل. کال کې د پنځه زرو ټوکونو په شمېر چاپ شوه.

**ستا د سترگو بلا واخلم**: دا د عشقي شعرونو ټولگه ده چې عبدالله بختاني خدمتگار او نصرالله حافظ پرې سریزه لیکلې ده. په ۱۳۸۲ل. کال کې د امان الله سېلاب ساپي ادبي ټولنې له خوا پنځه زره ټوکه چاپ شوه.

**سپوږمۍ**: دا د پخوانیو او اوسنیو شاعرانو د هغو اشعارو مجموعه ده چې د سپوږمۍ په ستاینه کې ویل شوې، سېلاب راغونډ کړي او د مطبوعاتو د ریاست له خوا چاپ شوې ده.

**کنډولی**: منظوم اثر دی چې د ۱۳۳۸ل. کال د رحمن بابا مطبوعاتي جایزه یې هم خپله کړه او په دې وروستیو کلونو کې چاپ شوی دی. د یادولو وړ ده چې د زېري په جریدو او د هېواد په ورځپاڼو کې هم د ساپي شعرونه چاپ شوي دي. دغه راز د امان الله سېلاب ډېر شعرونه ډېرو سندرغاړو کمپوز کړي او د ټنگ ټکور په څپو کې یې ترې سندرې جوړې کړي چې د ملي راډیو په آرشیف کې خوندي دي. دا سندرغاړي استاد اولمیر، صادق فطرت ناشناس، محمد ایوب، طلا محمد، احمد ولي، نعمت الله، خدیجه(مېرمن پروین)، حفیظ الله خیال، ژیلا، مېرمن لیلا، شهلا، آزاده، گلشن، افسانه، رخشانه، استاد مهوش، ناهید، پښتون قمر، قمرگله، نغمه او یو شمېر نور دي.

**ب) ناچاپ آثار:**

د مینې نغمه،آشنا، خواږه شعرونه، شعري ټولگې، ادبي پاڼې او قصې منثور نا چاپ اثار دي. (۱ : ۷۱۵ مخ).

**د سېلاب ساپي د شاعرۍ منځپانگه:** سېلاب ساپی د شعر په اړه وايي: «د انسان د روح د تازه گۍ او خوشحالۍ، بلکې د وجود د راحت او مسرت لپاره شعر او شاعري ډېره د قدر او قیمت وړ ده. د شعر خوندوره زونگه او مزه داره نغمه د هر ذیروح په

حواسو او حرکاتو کې يو بل کيف پيدا کوي، بلکې ولاړ او بې قدرته اعصاب او اندامونه يې په حرکت راولي او په ويجاړو افکارو کې د تفريحي رڼا پلوشې خپروي او د عشق د سخت رنځور لپاره د ساعتېرۍ او غم غلطۍ يو مهم عامل ګڼل کېږي. د عاشقۍ، مينې او محبت په ښکلي ګلشن کې پوره او غوره اغېزه لري او د سخت او درونډ عشق لپاره ښه ملګرى او معاون بلل کېږي.» (٦ : ۴ مخ) نوموړي له خپل نظر سره سم شعر ويلى دى او د شعر په اړه يې چې کوم فکر او نظر درلود، د ژوند تر پايه ورته ژمن پاتې شوى دى. ژبه، خيال، فکر، احساس، موسيقي او آهنګ د شعر مهم توکي دي او کومه وينا يا ليکنه چې له دغو توکو جوړه وي شعر دى، خو هغه توکى چې شعر تلپاتى کوي، هغه مضمون يا موضوع ده. په هر هغه څه باندې چې غور او فکر کوو، هغه زموږ د شعر موضوع ده. کوم توکى چې د ادبي او هنري اثر عمر اوږدوي هغه فکر دى چې د موضوع په بڼه راڅرګندېږي. د هنري اثر وجود په مضمون يا موضوع باندې ودان دى، د هنر نور عناصر يې د پيغام ارايه کولو کې لاس کوي؛ نو څرګنده شوه چې د شعر په توکو کې موضوع يا مضمون بنسټيز توکى دى، که څه هم چې د موضوع ټاکنه او د موضوع د ارايې لپاره د مناسب فورم ټاکنه هم ډېره مهمه ده. د همدې وينا پر بنسټ د سېلاب شاعري د فورمونو په رنګارنګۍ کې منځپانګيزه رنګيني هم لري. د ده د شاعرۍ په بڼ کې هر ډول ګلونه شته او د هر چا د ذوق او خوښې مضمون په کې موندل کېږي. د نوموړي په هر اړخيزه شاعرۍ کې ديني، ملي او وطني، عشقي، اخلاقي، انتقادي او نور مضامين شته چې د هرې برخې ننداره به يې په لنډه توګه وکړو.

### ۱ـ ديني شاعري

ديني شعرونه او شاعري هغه شاعري ده چې شاعر په خپلو شعرونو کې د الله تعالى حمدونو او ستاينو، د مبارک پيامبر(ص) نعتونو، مناجاتو، ديني مسايلو، احکامو، وعظ او تبليغ ته ځاى ورکوي او د عرفان د پيروانو په اړه مسايل بيانوي. د سېلاب په شعرونو کې داسې اشعار هم تر سترګو کېږي چې ديني منځپانګه لري. د بېلګو په توګه: سېلاب له الله(ج) څخه د عرفان او د خپل خداى د پېژندنې په بڼ کې تېرېدل، د قمر په څېر د علم او فن په رڼا سمبالېدل، د نفس او شيطان د له منځه وړلو لپاره د قناعت سپر او خنجر ترلاسه کول او همدارنګه د خوږ نبي(ص) او د کوثر د حوض ليدنه غواړي.

لویه خدایه د عرفان په بڼ گذر را

ښه رڼا د علم و فن لکه قمر را

چې ظالم نفس او دښمن شیطان پرې مړ کړم

هغه ډال د قناعت هغه خنجر را

سوال همېشه کومه تاله ذوالجلاله

چې دیدار د خپل مختار مشک و عنبر را

چې د هجر لمبو سوی زړه مې روغ کړي

سره لبان د آشنا خوږ حوض کوثر را

(۵ : ۳۲ مخ)

سېلاب د اسلام د مبارک دین د پنځمې بناء(حج) د فریضې د اداء کولو پر مهال د حج د مراسمو د بیان په ترڅ کې د لوی الله(ج) دربار ته یې د قبلېدو لاسونه لپه کوي او د شعر په ښکلي ژبه عرض کوي:

اوښکې مې څاڅي له طائف ځنې میقات ته ځمه

خدایه قبول یې کړې ته

په ډېره مینه پاک حرم ته ملاقات ته ځمه

خدایه قبول یې کړې ته

نن د لکونو خلکو خوا کې شپه منی ته وړمه

گناه وژلی مړ زړگی مې مسیحا ته وړمه

کفن په غاړه له مکې نه عرفات ته ځمه

خدایه قبول یې کړې ته

(۵ : ۱٦۹ ـ ۱۷۰ مخونه)

## ۲ـ ملي او وطني شاعري

څرنگه چې له نامه څخه يې څرگندېږي، ملي او وطني شاعري هغه شاعري ده چې په هغه کې د وطن او خلکو په اړه بېلابېل مسايل بيان شي. د ټولنيز هويت پر وړاندې ځان پوهونه، په ټوليزو ارمانونو کې د نظر يووالی او د ټوليزو گټو او مصالحو د خوندي کولو لپاره له خپل هېواد او هېوادوالو سره وفادار پاتې کېدل او قرباني ته چمتو اوسېدل د ملي او وطني شاعرۍ موخه او مفهوم دی چې دا يو فطري غريزه ده او ټولنيز منطق يې هم مني. هغه شاعر چې د ملت د باورونو، ارمانونو او غوښتنو ربښتينی سمبول وي، تلپاتی کېږي. داسې شاعران د ملت ژبه وي او په خپل شعر کې د خلکو ټوليز شعارونه منعکسوي چې د دې شاعرانو په ډله کې سېلاب ساپي هم د ولاړېدو وياړ خپل کړی دی. پوهاند عبدالشکور رشاد د سېلاب د دې ډول شاعرۍ په اړه وايي:«د شهيد سېلاب ساپي هڅوونکې او د ننگه ډکه شاعري مې لوستې، زه چې ښه ورته ځير شوی يم په دغه شعرونو کې د غيرت ډولونه وهل کېږي او په نارو يې ناخرخ شوي پښتانه ځلمي رابلل کېږي چې د ننگ په اتڼ کې وغورځي او غوړې ځوښې وغورځوي. زموږ د پښتني قبيلو ځينې ځوانان چې اوس اتڼ کوي رنگه څپوټې(دسمالونه) په لاسونو کې غورځي راغورځي او د ښکلا د ستاينې نارې کوي، خو شهيد سېلاب ساپی سپېڅلي پښتانه ځلمي هغه اتڼ ته رابولي چې د ننگياليو ځلميو په ښيو لاسونو کې تېرې تورې او په کيڼو لاسونو کې کلک ډالونه وي او د لاسو د خرپولو(چک چکو) د تېرو تورو او کلکو ډالونو د سره نښتلو ازانگې يې د درنې پښتونخوا په غيرتمنه فضا کې شاوخوا ته خپرېږي او هغه د اتڼ نارې ووايي چې وينې په رگونو کې په ايشناو راولي او د پښتنو د يووالي پوړندو(خوړلڼ) ته د ننگ ببوزي وهي. زه د ارواښاد سېلاب ساپي دغه له ننگه ډکه شاعري د پښتنو لپاره د غيرت چيغه بولم، گوندې پښتانه شاه ځلمي دغې د غيرت چيغې ته لبيک ووايي او دغه د ننگ اتڼ ته په ډېر شوق راودانگي» (۴ : د سريزې ی مخ)

همېش خليل هم د سېلاب د دې ډول شاعرۍ په اړه ليکي:«ښاغلی امان الله سېلاب ساپی يو ملي شاعر دی چې د ملک او ملت د خوشاليو او سوکاليو په ارزو د وطن د

زلمیو جذبو ته د خپلو نغمو حرارت ورکوي. په آزادۍ دا مین شاعر د گردو پښتنو د اتحاد، يووالي او ښې ورځې د پاره په خپلو هلو ځلو د يو روشن فکره په حيث د خپل کردار له عمله پښتو ادب کې د خپل يو مقام خاوند دی. د ښاغلي سېلاب ټوله شاعري د پښتو، پښتونولۍ، له وزن سره د ننگ، پت، غيرت او محکومو ملتونو د پاره د آزادۍ پيغام دی. د هغه شاعري يو داسې جام دی چې د فني خوبيو او رنگينيو محتاج نه دی، بلکې د مقصديت په درنښت د ژوند او حيات له اوبو ډک دی. ډېر کم خلق وي چې د خپل گفتار سره د ضرورت په وخت کې د کردار فرض هم ترسره کړي او په هغو کې يو سېلاب ساپی هم دی چا چې د ملک او ملت د آزادۍ د تحفظ په خاطر د روسي جارحيت په مقابل کې د خپل غازيانه کردار په عمل د خپلو وينو په بدل د افغانانو او افغانستان د خپلواکۍ د پاره خپل ملي فرض ادا کړو او د يو نوبهار په خاطر يې د وطن په خاوره خپله وينه باران کړه». (۴ : د سريزې ط مخ)

سېلاب هغه زلمی افغان دی چې ځان د آزادۍ د لارې اتل گڼي، هغه هم داسې يو اتل چې څو څو ځله له دې آزموينې بريالی راوتلی دی. دغه اتل خپل سر او مال د هېواد له غرونو او پردي گلونه د هېواد له اغزيو قربانوي. خپل هېواد د تمدن او د عظمت زانگو، د ملتونو د نهضتونو او آزادۍ علمبردار گڼي، نوم او نښان يې لوړ غواړي او وايي:

زه د آزادۍ د لويې لارې قهرمان يمه
زه زلمی افغان يمه زه زلمی افغان يمه
څو وارې وتلی زه له دغه امتحان يمه
زه زلمی افغان يمه زه زلمی افغان يمه
سر او مال مې جار دی د وطن له غاړو غرونو نه
خپل اغزي مې خوښ دي د پردي باغ له گلونو نه
(۲ : ۵۵ مخ)

د سېلاب په شاعرۍ کې د آزادۍ او خپلواکۍ برخه هم درنه ده چې له بيت بيت څخه يې د آزادۍ او خپلواکۍ غږونه خيژي، کله هر افغان د آزادۍ په مينه مست گڼي چې له هر دولت څخه د آزادۍ دولت ورته غوره او منلی دی. بل ځای وايي چې

کله خلکو ته د آزادۍ پیغام راغی؛ نو د آزادۍ د هر گام لپاره ملتونه راپاڅېدل، که نړیوال یواځې له آزادۍ څخه قربانېږې، خو افغانان خپلواکۍ ته تل سر په تلي کې گرځوي. په بل بیت کې بیا دا دعا کوي چې هېڅوک دې د آزادۍ په ارمان پاتې نه شي او د افغان د آزادۍ بیرغ دې تل په دې نړۍ کې لوړ وي. له ده څخه به یې واورو:

افغان تل مست په مینه محبت د آزادۍ

له هر څه ورته غوره دی دولت د آزادۍ

د ژوند په لوړو ځوړو چې برى مومي ځي وړاندې

همدا یې گڼه نخښه، برکت د آزادۍ

(۲ : ۵۰ مخ)

بل ځای:

بشر ته چې نسیم راوړ پیغام د آزادۍ

اوچت شول ملتونه په هر گام د آزادۍ

نړۍ او نړیوال که آزادۍ نه قربانېږي

افغان سر په تلي وړي تل په نام د آزادۍ

(۲ : ۴۹ مخ)

## ۳ـ غنايي شاعري

غنايي یا مینه ییزه شاعري هغه ده چې فکر او محتوا یې پر مینې، محبت او عاطفي مسایلو ولاړه وي. د سېلاب د شاعرۍ دا برخه ډېره درنه او په زړه پورې ده چې لومړی به د ده د مینه ییزې شاعرۍ په اړه د نصرالله حافظ او د عبدالله بختاني خدمتگار نظریات راواخلو. نصرالله حافظ یې په اړه لیکي: «د ښاغلي سېلاب زیاتره شعرونه سندریز او د موسیقۍ په ټنگ ټکور برابر وو چې له دې کبله د کابل راډیو د هغه وخت هنرمندانو او سندرغاړو به وخت په وخت د سېلاب شعرونه د موسیقۍ په زیرو بم کې

په خپلو خوږو آوازونو کې ویل او تر کومه ځایه چې ماته معلومات دي د پنځه سوو شعرونو په شاوخوا کې به یې د بېلابېلو سندرغاړو په غږونو ثبت شوي وي چې په دغو اشعارو کې زیاته برخه د وطن ترانې، موسیقي شعرونه او نور عشقي شعرونه شامل وو چې تر اوسه د راډیو افغانستان په آرشیف کې خوندي دي.» (۵ : ۲۱ مخ) عبدالله بختانی د ده د مینه ییزې شاعرۍ په اړه لیکي: «د ښاغلي سېلاب د غزلو، سروکو، چاربیتو او هر راز شعر له هر بند څخه دا آواز خېژي چې(سوز د مینې مې قلم راپاروي) او لوستونکي ته دا انتباه ورکوي چې د مینې په سوز د هغه پاربدلی قلم د عشق او محبت د سوز او گداز قلم دی. د دې په خوا کې د هغه په ځینو غزلو کې د مهال او چاپېریال غږ او پیغام هم اوربدلی شو.» (۵ : ۱۳ مخ) دلته به د سېلاب د مینه ییزې شاعرۍ بېلگو ته وار ورکړو. د سېلاب ځینو مینه ییزو شعرونو خو نړیوال شهرت خپل کړی دی، لکه دي بېلگې:

ستا د سترگو بلا واخلم بیا دې سترگې ولې سرې دي
پام چې وار دې خطا نه شي ما منلې غرغرې دي
چې په ژرنده مې ځان وړه کړو نو ایله مې وصال بیا موند
د رنجو په نوم مې کړي ستا د سترگو ننداري دي
چې ارې ته مې سر ورکړو نو اوربل کې په خندا شوم
د ږومنځ په رنگ ښکل کړي زلفې ما خورې ورې دي
مبارک دې شه سېلابه! د وصال استازی راغی
د ربیار سره دې کړي آشنا نوې مشورې دي
(۵ : ۱۲۴ مخ)

سېلاب دا غزل د ۱۳۳۶ل. کال د تلې پر درېیمې نېټې ویلی او د لومړي ځل لپاره د کابل راډیو په پخوانۍ ستېډیو کې چې په پل باغ عمومي کې وه، د استاد اولمیر په خواږه آواز کې ثبت شو چې په رښتیا سره یاد شعر او سندره د دواړو په هنري ژوند

کې د پام وړ ټکی شو. دا شعر تر استاد اولمیر وروسته احمد ولي، مېرمن پرستو او فرهاد دریا هم ووایه. په هغه وخت کې چې د هر روښانفکره په خوله کې د ټولنې د پرمختګ خبرې وې، د غرونو د سرونو د کېږدیو لېوني شاعر په خپل شعر کې د عشق د تکامل د پوړۍ خبره کوله:

پوړۍ د تکامل ته چې شو عشق په لوړېدو

د نور ژوندون لانجه راته آسانه غوندې شوه

(۵ : ۱۵٦ مخ)

بله بېلګه:

د سېلاب زېرى یار له یوسه دا خبر پرې وکړه

رنګین شعرونه ستا د عشق د زمانې جوړوي

(۵ : ۷۹ مخ)

رښتیا چې سېلاب خپلې خبرې ته ژمن پاتې شو او د عشق د زمانې ډېر ښکلي او رنګین شعرونه یې وویل او ولیکل. د عشق او مینې په برخه کې له نورو کارونو او غمونو څخه بې پروا دی او یوائې وایي:

غیر له مینې غیر له عشقه محبته

نور غمونه نور دردونه دي عبث

غیر له شونډو غیر له زلفو خط و خاله

نور سیلونه شربتونه دي عبث

غیر له یاره له نګاره اې ریباره

دا ستا زېري پیغامونه دي عبث

(۵ : ۳۷ مخ)

چې د شوخو سترګو خيال مې زنګوي

که د تورو زلفو ټال مې زنګوي

مينې دومره اثر کړی چې پوه نه يم

خود به خود که انډيوال مې زنګوي

(۵ : ۱۴۱ مخ)

بله بېلګه:

د هر چا خوښه چې هر څه خوښوي

زما د مينې مشغولا خوښه ده

چې د ښو لاندې مې ځاري کله

ستا د نظر مې دغه غلا خوښه ده

(۳ : ۲۵ مخ)

بل ځای:

عشقه نامراده جګرخون دې کړمه زه

سوی لوغړن سر په زنګون دې کړمه زه

عشقه ستا سېلاب په سېلاب راوست د مستۍ سېلاب

دا خو دې لا بل دی چې پښتون دې کړمه زه

(۵ : ۱۴۳ مخ)

سېلاب په خپلې مینه ییزې شاعرۍ کې د مینې خوښۍ او ناخوښۍ یا په بله وینا وصال او خوشحالۍ، بېلتون، هجران او کړاوونو ته ځای ورکړی دی چې له هرې برخې څخه به یې ځینې بېلګې راواخلو او وبه ګورو چې نوموړي د مینې وصال او بېلتون په کوم انداز کې څرګند کړی دی. په مینه کې د وصال خوښي او د سېلاب شعري بېلګې:

بیا بلې خواته سجده کله کوي

چا چې سر کېښود په محراب د مینې

سېلابه تاج دې مبارک شه

سلام دې واخیستو جناب د مینې

(۳ : ۹ مخ)

### ۴ـ اخلاقي شاعري

اخلاقي شاعري هغه شاعري ده چې شاعر په خپلو شعرونو کې د يوې ټولنې د غړو د روزنې او سمې لارې ته د دوی د لارښوونې لپاره فکر او محتوا راوړي. په لنډه توګه ویلای شو چې شاعر په خپلو اخلاقي شعرونو باندې د ټولنې معنوي روزنه او پالنه کوي. دلته به د سېلاب د شاعرۍ ځینې اخلاقي بېلګې راواخلو: سېلاب خپلې ټولنې ته د ښې خوشبويۍ او ښې مېوې د ورکولو لپاره له خپل رب څخه غوره خیال او کمال غواړي او د داسې علم، پوهې، حلم، زغم او هنر غوښتونکی دی چې هېڅوک ترې ازار نه شي او د مینې د تخم د شیندلو لپاره له خدای(ج) د محبت په کرونده کې د بزګرۍ توان او ځواک غواړي او لیکي:

چې هم عطر هم مېوه ورکړمه بل ته

هغه خیال هغه کمال هغه شجر را

چې ازار مې مور او پلار له خوانه نه شي

داسې علم داسې حلم او هنر را

چې د مینې تخم وشیندم جهان کې

توان قدرت د محبت په کشت و کر را

(۵ : ۳۲ مخ)

نسیم د سبایي شه چې بوستان ته ورسې

پیشه کړه ځانته علم چې عرفان ته ورسې

مجنون غوندې ملنګ شه د خواږه آشنا په مینه

ریا نه معرا شه چې پېزوان ته ورسې

(۵ : ۸۷ مخ)

**۵ـ انتقادي شاعري**

انتقادي شاعري هغه ده چې شاعر په کې د وګړو د فردي او ټولنیز ژوند د سمون او اصلاح لپاره په فرد او ټولنه باندې نیوکې کوي. دا ډول نیوکې چې په شاعرانه کالب او انداز کې کېږي؛ نو له دې پرته چې پر لوستونکي او اورېدونکي باندې بده ولګي، د اصلاح او سمون درس ورکوي او د ژوند په هره برخه کې ورته د هغه د فکر او عمل سم او ناسم اړخونه جوتوي چې له امله یې خپل فردي او ټولنیز ژوند په داسې یو چوکاټ کې برابروي چې د انساني او اسلامي ژوند غوښتنه وي. همدا د شاعرانو او لیکوالو ډېره مهمه دنده ده چې فرد او ټولنې ته د خپلو لیکنو له لارې غوره ژوند او چاپېریال برابر کړي. سېلاب هم خپلې دې دندې ته متوجه شوی او د خپلو خلکو د بیدارۍ، یووالي، د نورو د ظلمونو او چپاوونو د نه منلو غږ کوي، تمدن او پرمختګ ته یې رابلي، داسې پرمختګ ته چې ځمکه لا څه چې نورو سیارو ته هم د هغوی پام واړوي او وایي:

څو به ویده او ناخبره له خپل ځانه اوسئ

څو به بېل بېل جلا جلا وروڼو روان اوسئ

(۹)

څو پورې به وي دا د غفلت او جهالت پردې

څو پورې به وي دا د سستۍ نقاهت پردې

څو به زموږ صبر او د نورو به ظلمونه وي

څو به مو په ورونو عزیزانو چپاوونه وي

څو به مو په کونډو رنډو داسې ناتارونه وي

څو به په غازیانو د بمونو بارانونه وي

نه شي قبلولی هېڅ مذهب او هېڅ قانون دغه

نه شي قبلولی هېڅ پښتون او هېڅ ژوندون دغه

(۱ : ۷۲۱ مخ)

دنیاوال لاړه په سپوږمۍ کې اتڼونه کوي

پښتون لا اوس هم تر غرمې پورې خوبونه کوي

(۳ : ۷۰ مخ)

## پایله

زموږ په ادب پاله ټولنه کې ډېر ادبي ستوري ځلېدلي دي چې نه یوازې زموږ خلک د دوی له خواږه کلام څخه برخمن شوي، بلکې د دوی ادبي او فرهنګي مقام او شهرت په نورو ټولنو کې هم د نامتو لیکوالانو او ادبپوهانو له خوا ستایل شوی دی. یو له دغو مبارزو، متفکرو، نوښتګرو او وتلو شخصیتونو څخه ارواښاد امان الله سېلاب ساپی دی چې یو درونـد، نامتو او د لوړو، سپېڅلو او پاکو صفتونو خاوند شاعر و. سېلاب په خپلو شعرونو کې زموږ د افغاني ټولنې او ولس غوښتنې او ناخوالې په ډېر عالي او انساني تفکر او سپېڅلو او پاکو احساساتو او عواطفو بیان کړې. ده په دې لاره کې ډېرې ستونزې، لوړې ژورې، ستومانتیاوې، ناخوالې، خوږې او ترخې لیدلي،

خو ده د علم، ادب او فرهنګ او د خپل علمي، ادبي او فرهنګي شخصیت لپاره هر اړخیزه مبارزه کړې ده، همدا وجه ده چې د ده ادبي او فرهنګي څېره د ستاینې او پاملرنې وړ ده؛ نو پر همدې بنسټ مو دا لنډه لیکنه پر دې نامتو شاعر او لیکوال وکړه تر څو مو د ده د نوم او یاد په ژوندي ساتلو کې تر خپلې وسې برخه اخیستې وي.

په دې لیکنه کې د سېلاب د عشقي یا مینه ییزې شاعرۍ له په زړه پورې برخې څخه د خوند اخیستلو تر څنګ، په شعري کالبونو کې د هغه پر دیني، ملي، وطني، اخلاقي او انتقادي فکر او نظر هم پوه شوو چې په فردي او ټولنیز ژوند کې یې د مؤثریت د لا څرګندېدلو او ګټې اخیستنې په هیله یم.

## وړاندیزونه

۱ـ دا چې د سېلاب ساپي شاعري په کتابي بڼو، مجلو او ورځپاڼو کې چاپ شوي او یا هم د ځینو هنرمندانو له خوا ویل شوي او په آرشیفونو کې خوندي دي، خو لاسرسی ورته ستونزمن دی؛ نو وړاندیز کوم چې د نوموړي ټوله شاعري دې راټوله او د کلیاتو په بڼه دې چاپ شي چې هم به په پښتو معاصر ادب کې غوره اضافه وشي او هم به هر څوک د خپلې خوښې ګل په یوه باغ کې ومومي.

۲ـ سېلاب د خپل رنګین شعر تر څنګ خوږ او روان نثر هم لیکه چې ډېرې مقالې، څېړنیز مضامین او ځینې افسانې یې د هېواد په مطبوعاتو کې چاپ شوي؛ نو وړاندیز کوم چې د نوموړي پر نثري لیکنو دې هم یوه لیکنه وشي.

## مأخذونه

۱ـ بېنوا، عبدالرؤف. اوسني لیکوال، دویم ټوک، لومړی چاپ، ۱۳۴۱ل. کال.

۲ـ رفیع، حبیب الله. زندان خوړلي ادیبان، قلم ټولنه، لومړی چاپ، ۱۳۸۵ل. کال.

۳ـ سېلاب، امان الله. د اوښکو سېلاب (د شعرونو لومړنۍ ټولګه)، دولتي مطبعه، مانوتایپ، ۱۳٦۷ل. کال

۴ـ سېلاب، امان الله. د غیرت چیغه، ۱۳۸۲ل. کال لومړی چاپ.

۵ـ سېلاب، امان الله. ستا د سترګو بلا واخلم، د امان الله سېلاب ساپي ادبي ټولنه، ۱۳۸۲ل. کال.

٦ـ سېلاب، امان الله. «شعر او شاعري یا رنګین ګلشن»، زېري جریده، دویمه دوره، دویم کال،٦٠ مه ګڼه، پښتو ټولنه، ۱۳۳۲ل. کال.

**انټرنټي مأخذونه**

۷ـ افغانستان فردا، مرکز مطالعات و تحقیقات تاریخی ـ جغرافیایی و مردم شناسی شاه محمود محمود، امان الله سیلاب صافي ۱۹۳۳ـ۱۹۷۹/ afghanistanefarda. blogfa.com

۸ـ د امان الله سېلاب ساپي د ادبي او فرهنګي شخصیت ارزونه، انجنیر عبدالقادر مسعود، archive.mashal.org

۹ـ د امان الله سېلاب ساپي شعرونه/https://m.youtube.com

**Published:** Afghanistan Science Academy

**Editor in Chief:** Professor M. Nabi Salahi
**Assistant:** Assistant Professor Khalid Takal

**Editorial Board:**
Professor Ph.D Sayed Nazim Sayedy
Professor Mohammad Asif Ahmadzai
Professor Ph.D. Abdul Zahir Shakib
Associate Professor Ph.D. Rafiullah Niazai

**Composed & Designed By:**

Kh. Takal

**Annual Subscription:**

Kabul: 960 Af.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60 $

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the Disciples and Students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.